# سيګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

د 2014 کال
جولای 30



## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار څارونکې ماموریت د قانون لخوا داسې تعریف شوې ده چې د هغو بسپنو ، پروګرامونو او عملیاتونو په

- د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي یا تخصیص شوي مقدارونو سره بسپنه شوي پروګرامونو او عملیاتو پورې اړوند پلټنې او تحقیقات پرمخ ویسي.
- د هغو وړاندیزونو او پالیسیو مشري او همغږي کول چې د پروګرامونو او عملیاتونو د اقتصاد، موثریت او ګټې زیاتولو لپاره په پام کې نیول کیږي، او په داسې پروګرامونو او عملیاتونو کې د پیسو ضایع کیدو، چل، او ناوړه کارونې موارد کشف کړي.
- داسې وسیلې چې د یادو پروګرامونو او عملیاتونو د نیمګړتیاو او ستونزو په اړه د بهرنیو او دفاعي چارو وزارتونه په بشپړ ډول خبرداره وساتل شي، او د اصلاحي کړنو ضرورت او پرمختګ ورته په ګوته کړي.

د افغانستان په بیارغونه کې هر هغه لوی قرارداد، مرسته، هوکړه لیک، یا د مرستې هر هغه میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شوو یا په هر ډول چمتو شوي پیسو په کارولو سره پلي کیږي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،" 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو محتویاتو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ عکس:**
یو ایتلافي سرتیری په کابل ولایت، افغانستان کې یوې درې ته ګوري. (د متحده ایالاتو د اردو عکس)

# د افغانستان بیا رغونې
# لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

زه خوشحال یم چې د سیګار 24 ام درې میاشتنی راپور په افغانستان کې د امریکا د بیا رغونې د هڅو په دریځ د امریکا کانګرس، او د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته وړاندې کوم.

زما په خورا وروستی سفر کې چې د جون په میاشت کې مې افغانستان ته درلود، په وار وار رایاد کړی شو چې د 104 ملیارد ډالرو بیارغونې هڅې بریا په افغانستان کې د ولسمشر حامد کرزي د واک په دیموکراتیک ډول ټاکل شوي نوماند ته په سوله ایز ډول لیږد وړتیا پورې تړلې دي. کله چې زه راورسیدم، افغانستان په همغه وخت کې د طالبانو د پراخه ګواښونو سره سره د ولسمشرۍ دوه نوماندانو اشرف غنی او عبدالله ترمنځ د دویم پړاو ټاکنې سرته رسولی وې. د لومړي ټاکنو برعکس، چې مخکښ نوماندانو یې پایلې منلې وی، د عبدالله کمپاین ډلې د دوهم پړاو پایلې رد او د افغان ټاکنو کمیسیون غړي یې په پراخه درغلۍ تورن کړل.

د عبدالله د پلویانو د موازي حکومت رامنځته کولو ګواښ سره، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیری د دواړه نوماندانو ترمنځ یو تړون وکړ چې له مخې یې د ټولو کارول شویو 8.1 ملیون رایو له سره څیړل او د ګټونکي نوماند تر اعلان کیدو وروسته د ملي وحدت حکومت په ګډه جوړول و. دغه څیړنې یا پلټنې لا هم دوام درلود کله چې دا راپور رسنیو ته ورکړل شو. لدې چې د حکومت مؤثریت او مشروعیت د بیارغونې بریا په ټاکلو کې یو کلیدي عنصر دی، نو سیګار په ګډه د نورو اجرایوي ځانګې ادارو سره به د ټاکنو د شخړې د حل کیدو څرنګوالی له نږدې څاري.

وروسته پدې ربع کې، ولسمشر اوباما وویل که چیرې راتلونکی افغان ولسمشر د متحده ایالاتو سره دوه اړخیز امنیتي تړون لاسلیک کړي نو په دسمبر کې د متحده ایالاتو محاربوي عملیاتو پای ته رسیدو وروسته به 9,800 امریکایی سرتیري په افغانستان کې پاتې شي، او تر د 2015 پای پورې به 4,900 ته راکم کړی شي. د 2016 ترپای پورې به دا شمیر د متحده ایالاتو په کابل سفارت کې یو کوچني نظامي شتون ته واړول شي.

لکه څنګه چې ما د خپل سفر پرمهال ولیدل، له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د خپلو نارینه و، ښځو او توکو را ایستلو هڅې لادمخه په لویه کچه جریان لري. په کندهار هوایی ډګر او د هلمند ولایت لیترنیک کیمپ کې، ما په لویه کچه تجهیزات ولیدل چې بیرته متحده ایالاتو ته راوړل کیدو لپاره چمتو کیدل. ما ولیدل چې ټرکونه او د ماین – ضد له کمین خوندي (MRAP) وسایط پرزې کیدل. هرڅه له فلزي پولونو نیولې تر د کنوس خیمو پوښونو پورې په بکسونو کې ځای پر ځای کیدل ترڅو بیرته کور ته ولیږدول شي یا وپلورل شي. دې بیرته تګ ته په تاریخ کې ترټولو لوی نظامي ټرانسپورټ شاهکار وویل شو. هغوی چې د دې کار په واک کې دي زموږ د ملت قدرداني ارزي.

د متحده ایالاتو د نظامي وتلو سره به، افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د افغانستان خوندي کولو مسؤل وي. د دې لپاره چې وټاکل شي ایا ANSF وړتیا لري چې خپلې وروستۍ نظامي بریاوې ټینګې او هیواد د بیاځل لپاره د تروریستي بریدونو ډګر ګرځیدو مخه ونیسي، سیګار د ANSF ظرفیتونو یوشمیر پلټنې پرمخ بیایی. د بیلګې په توګه، پدې ربع کې د سیګار یوې خپرې شوې پلټنې موندلې چې په لویه کچه د امنیتي اندیښنو له کبله د متحده ایالاتو یو قراردادي وړ نه و چې افغان ملي اردو (ANA) ته د ګرځنده ضربتي ځواک وسایطو کارولو ته اړین روزنه او ساتنه ورکړي. بلې پلټنې د متحده ایالاتو چمتو کړی شوي 465,000 سپکو وسلو لپاره د ANA د حساب ورکولو وړتیا په اړه اندیښنې راپورته کړې. سیګار د ANSF پرسونل معلوماتو، د ANA انجینرانو لیوا تجهیزاتو، د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې پولیسو مؤثریت، او د افغان هوایی ځواک لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ روانې پلټنې لري. سیګار پدې ربع کې د افغان سیمه ایز پولیسو پروګرام نوې

پلټنه هم اعلان کړه، کوم چې سیمه ایز افغانان روزي چې د بلواګرو او نورو غیرقانوني وسله وال ډلو پروړاندې له خپلو ټولنو دفاع وکړي.

سیګار د زده کړل شوي درسونو راپورونو نوي لړیو پیل هم کوي ترڅو په راتلونکې کې خورا ډیر لګښت لرونکي بیارغونې هڅې لپاره ترې ګټور لارښود واخیستل شي چې د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو ژمنتیا وی. زما له اندیښنو څخه یوه یې دا ده چې د متحده ایالاتو ادارې د دې ټاکلو لپاره ډیری وختونه د معیارونو نشتوالي سره مخ کیږي چې ایا د دوی پروژې او پروګرامونه په ټوله کې د متحده ایالاتو ستراتیژیک اهدافو لاسته راوړنې سره مرسته کوي او که نه. په مقابل کې یې،د سیګار زده کړل شوي درسونو راپورونه به وارزوي چې ترکوم حد پورې په افغانستان کې مصرفونو د متحده ایالاتو بیارغنیز اهداف بشپړ کړي او که نه. په افغانستان کې د متحده ایالاتو فنډ ورکړل شوي پروژو او پروګرامونو په بشپړ ډول نظارت کونکي او اختیار لرونکي څار ادارې په حیث، سیګار په یوه ځانګړي موقف کی دی چې د متحده ایالاتو لپاره پایلې ترسیم کړي ترڅو یې په راتلونکې کې د پراخه کچې پرمختیا او نظامي مرستې هڅو په پلانولو کې ملاحظه کړي. ډیری پوهان پدې موافق دي چې په راتلونکې کې دا ډول مرستندویه هڅې به په "بشپړ ډول د حکومت" لاره تعقیب کړي.

د دې راپور 1 برخه په یوې کلیدي مسأله غږیږي چې راتلونکی افغان حکومت ورسره مخ کیږي: د دې داخلي عوایدو او لګښتونو ترمنځ رامنځته کیدونکی څوملیارد-ډالري خلا ده، په ځانګړي ډول د اردو او ملي پولیسو لګښتونه. پدې کال کې، به ډونران د دې کمښت ډیری برخه وپوښي، مګر د افغانستان سره مرسته له 2010 کال راهیسې کمښت سره مخ ده، او تاریخ وړاندیز کوي چې دا به لانور په تیزۍ سره د متحده ایالاتو او ایتلاف سرتیرو وتلو وروسته راولویږي. د حکومتي بودیجې کمښت کولی شي مرکزي حکومت تخریب او په لوی لاس سیاسي ثبات ته زیان ورسوي. پدې ربع کې د افغان سیمه ایز پولیسو یوه واحد د دې لپاره له کابل څخه ختیځ لغمان او ننګرهار ته د بریښنا مزي پرې کړل چې د درې میاشتو تنخواه یې نه وه ورکړل شوې. دا د ناراحتۍ یوه نښه کیدی شي که چیرې افغان حکومت ونشي کولی چې معاشات ورکړي.

د هیواد پراخه ساحې —حتی لدې هم پراخه چې سیګار یې تیر کال وړاندوینه کړې وه— به ژر د متحده ایالاتو پرسونل له لاسرسۍ ووځي او لامل یې د بیسونو تړل او سرتیرو وتل دي. د سیګار د څار لاسرسي نوي نقشو رامنځته کولو پلان هغه سیمې ښیې په کومو کې چې اوس هم د متحده ایالاتو حکومت کارمندان شخصا کولی شي له ساحو لیدنه وکړي. بیاهم، موږ به د سټلایټ له لارې عکس اخیستو او افغانانو یا د دریم هیواد اتباع په ګمارلو سره ترڅو د ساحو څخه خپل د لید وړتیا ډیره کړو، د متحده ایالاتو بیارغنیزې هڅې څارلو ته به دوام ورکړو.

پدې ربع کې د سیګار خپاره شوي 30 پلټنو، تفتیشونو، ځانګړي پروژو او نور راپورونو د شاوخوا 18.2 ملیارد ډالرو په لګښت پروګرامونه او پروژې ارزولي دي. بدبختانه، ډیری و ضعیف پلان جوړونه، ناسم ودانول، میخانیکي تشې، او نامناسب څار رابرسیره کړی.

د بیلګې په توګه، د بغلان ولایت زندان یوه تفتیش رابرسیره کړي چې د 11.3 ملیون ډالرو لګښت ودانۍ د جدي تخریب له امله قوي ترمیم ته اړتیا لري. بل تفتیش موندلي چې که څه هم افغان او د متحده ایالاتو اردو پرسونل ته په شین ډنډ هوایی ډګر کې کورې ورکړل شوې دي، خو دوی ضایعات د دفاع وزارت مقرراتو څخه په سرغړونې سره په آزاده هوا کې سوزوي. دریم تفتیش موندلي چې د متحده ایالاتو فنډ ورکړل شوي د سړو خونه نه کارول کیږي. په مثبت اړخ، بلې پلټنې موندلي چې د بهرنیو چارو وزارت په پراخه کچه د سیګار وړاندیزونه پلي کړي، چې د ضایع کیدو خطر، درغلي او د بیارغونې بسپنو څخه اختلاص کم شوې.

سیګار پدې ربع کې درې مالي پلټنې هم بشپړې کړي چې څه دباندې 2.5 ملیون ډالر ترپوښتنې لاندې لګښتونه یې په نښه کړي. د سیګار مالي پلټنو تر نن نیټې پورې نږدې 78 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونه په نښه کړي دي. برخه 2 زموږ د موندنو او وړاندیزونو لنډیز وړاندې کوي.

کانګرس ته زما د وروستی راپور څخه تراوسه پورې سیګار 26 نوي تحقیقات پرانیستې او 46 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقیقاتو شمیر 318 ته رسیږي. د راپور ورکولو پدې وخت کې، د سیګار له روانو تحقیقونو څخه جرمي جریمې، بیرته تادیات، جریمې، او د امریکا حکومت لپاره د لګښتونو سپما نږدې 3.1 میلیونه امریکایي ډالر و. د سیګار تعلیق او مخنیوی پروګرام 16 افراد او 39 شرکتونه د تورونو پر بنسټ د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي دي. تورونه دا دي چې دوی د 180 ملیون ډالرو په ارزښت قراردادونو پراساس فعالیت کولو کې پاتې راغلي یا درغلي یې کړې.

پدې ربع کې زه باید یوځل بیا د تعلیق او مخنیوي پروګرام د متحده ایالاتو اردو پالیسیو په اړه پخپلو اندیښنو ټینګار وکړم. لکه څنګه چې ما زموږ تیرو پنځه درې میاشتني راپورونو کې په نښه کړي، د حکومت د قراردادونو لاسته راوړو څخه د بلواګرو ملاتړ کونکو تعلیق یا مخنیوی کې د اردو ردول ځکه چې هغه معلومات چې دا وړاندیزونه ملاتړ کوي محرم دي، نه یوازې دا چې په قانوني توګه غلط دي، بلکه د پالیسۍ او ملي امنیت اهدافو سره په ټکر کې دي. دا ستونزمن کار دی چې زموږ حکومت وکولی شي او کولی شي چې محرم معلومات په افغانستان کې د بلواګرو پورې اړوند افرادو نیولو، توقیف او حتی وژلو لپاره وکاروي، ولې ظاهرأ عین محرم معلومات نشي کارول کیدی چې د متحده ایالاتو حکومت سره د ورته افرادو د تړون او کار کولو حقونو مخنیوی وشي. زه پر دفاع وزیر او کانګریس ټینګار ته دوام ورکوم چې دا بې لارې کونکې پالیسي بدل او پرځای یې د اردو تعلیق او مخنیوی پروګرام کې صحیح قضاوت تحمیل کړي.

د افغانستان لپاره د لیږد دې ستونزمنه دوره کې، زما کارمندان او زه د کانګریس، پلي کونکي ادارو، او د څار نورو نهادونو سره کار کولو ته مختص پاتې کیږو ترڅو د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو د ماموریت اهداف بشپړ او د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو پانګه خوندي کړو.

په درناوي،



جان اف ساپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

**دا راپور د سيګار د څار فعاليت لنډيز کوي او د افغانستان بيارغونې هڅو درې لوی برخو کې له اپريل 1 څخه تر جون 30، 2014 پورې پرمختياو باندې تازه معلومات وړاندې کوي.* دا پدې هم خبرې کوي چې ايا بيارغونه پياوړې ده. د راپور پدې دوره کې، سيګار د پلټنې، تفتيشاتو، خبرداری ليکونو، او نورو مسايلو 30 راپورونه خپاره کړي چې پدې کې د افغان امنيتي ځواکونو جوړولو، د حکومتولی د ودې، او د ټولنيز او اقتصادي پراختيا په برخو کې د متحده ايالاتو هڅې يې ارزولې دي. دوی يو شمير ستونزې، پشمول د حساب ورکوونې نه شتون، د پلان جوړونې ناکامي، د ودانولو کمښتونه، او روغتيا او خونديتوب ته نور ګواښونه پيژندلي دي. د سيګار له روانو تحقيقونو څخه د پيسو پايلې له جنايی جريمو، جبرانونو، جريمو، د ترون خوندي شوي پيسو، او مدني ميشته کيدنې ترونونو څخه 3.1 مليون ډالر پايله شوې. د سيګار تحقيقونو په متحده ايالاتو کې د دوه نيونو، درې جنايی معلوماتو، درې مدافع موافقو، او دوه محکوميتونو پايلې هم درلودې. په افغانستان کې، يو تورن نيول شوی، درې افغانان د نظامي ودانيو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي، او د حکومت دوه قراردادیانو سره قراردادونه فسخه شوي. د سيګار تعليق او مخنيوی پروګرام 16 افراد او 39 شرکتونه د تورونو پر بنسټ د تعليق يا مخنيوي لپاره راجع کړي دي. تورونه دا دي چې دوی د 180 مليون ډالرو په ارزښت قراردادونو پراساس فعاليت کولو کې پاتې راغلي يا درغلي يې کړې.**

# د سيګار عمومي کتنه:

## پلټنې

سيګار درې د فعاليت پلټنې، درې مالي پلټنې درې تفتيشونه، او يو د خبرتيا ليک رامنځته کړي.

د **فعاليت پلټنو** موندلي:

- د بهرنيو چارو وزارت د سيګار پلټنې وړانديزونو نږدې 75% د وخت سره او په برياليۍ توګه پلي کړي چې د افغانستان بيارغونې بسپنو کې يې د درغلۍ، ضياع او اختلاس خطر راکم کړی.
- د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) ضعيف ثبت ساتنه د دفاع وزارت (DOD) د هغه وسلو د نظارت وړتيا محدودي چې ANSF ته ليږدول شوي.
- افغان ملي اردو (ANA) ممکن د ګرځنده ضربتي ځواک وسايطو (MSFV) تحکيم وړتيا ونلري چې ورته ورکړل شوي، او د DOD يو ترون کونکی نشي کولی چې د کاروونې او محافظت روزنې چمتو کولو د ترون وړتيا پوره کړي چاته چې د پروګرام برخې په حيث تاديه شوې وه.

**مالي پلټنو** د داخلي کنټرول کمښتونو او نافرمانۍ مسألو د پايلې په حيث څه دباندې 2.5 مليون ډالر (چې تر نن نيټې پورې مجموعه 78 مليون ډالر ته رسوي) ترپوښتنې لاندې لګښتونو کې پيژندلي. پدې عيبونو او د نافرمانۍ مسألو کې د نورو شيانو ترمنځ دا شامل و:

د سياليز داوطلبۍ طرزالعملونو په تعقيب کې پاتې راتلل، د لګښتونو ناسم ټاکل، د ملاتړي اسنادو نه شتون، د قراردادي عمومي ليجر بيلانس او بيلابيل ملاتړي اسنادو ترمنځ ناشرح شوي اختلافات، او د پلورونکي-تعليق او مخنيوی کتنو په لاره اچولو کې پاتې راتلل.

د متحده ايالاتو تمويل شوي ودانيو **تحقيق راپور** موندلي:

- د بغلان د 11.3 مليون ډالرو په لګښت زندان ډيری تخريب پراخه ترميم ته اړتيا لري.
- افغان ملي اردو په شين ډنډ هوای ډګر کې د DOD مقرراتو څخه په سرغړونې سره په آزادې هوا کې سون ځايونه کارولې، د دې پرځای چې هغه کورې وکاروي چې د امريکا د اردو د انجينرانو قل اردو لخوا ورته ورکړل شوې وې څکه چې د سوزولو لپاره دا سون ځايونه اسانه کاريدل.
- د 2.89 مليون ډالرو په ارزښت د ګرشک د ذخيرې وچه او سړه خونه تراوس پورې نه کاريدله.

د **پلټنې د خبرتيا ليک** اندېښنې راپورته کړې چې:

- DOD پلان لري افغان هوايی ځواک ته د C-130 الوتکې چمتو کړي چې ممکن اړتيا ورته نه وي.

## نوې پلټنه

پدې ربع کې سیګار د ګډ ځانګړي عملیاتو کاري ځواک-افغانستان (CJSOTF-A) د افغان سیمه ایز پولیسو (ALP) پروګرام پلي کولو ارزونې لپاره د فعالیت نوې پلټنه پیل کړې.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکوونې دې دورې پرمهال، د ځانګړو پروژو دفتر د ANA ودانیو کې کاریدونکي فوم انسولیشن سیسټمونو د محافظت او سپری یوه بیاکتنه خپره کړه. سربیره پردې، دفتر پدې مواردو لیکونه خپاره کړل:

- د IRD د محرمیت ترون
- د افغانستان د ملي پولیسو د ګرځنده پیسو پیلوټ پروګرام
- د سیګار سوبابین ګرویګنې ته د متحده ایلاتو د کرهنې وزارت ځواب
- د USAID فسخه شوي قراردادونه
- د ANP ګزمې کښتیو په اړه معلوماتو غوښتنې ته د افغان ملي پولیسو (ANP) او د ګډ امنیتي لیږد قومانده-افغانستان (CSTC-A) ځواب.
- د ملګرو ملتونو پراختیا پروګرام د افغانستان لپاره قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) څار
- د مسلکي خدمت شورا غړو اندونه او لیدنې
- د IRD د حقایقو راسپړنې محافظتونه
- د کوچنۍ سوداګرۍ د نوښت څیړنې مطالعه
- د DOD او USAID تمویل شوي سړکونو ساتنه
- د ANP ګزمې کښتیو ځای پر ځای کول
- د کندهار د پلین حل
- د بیارغونې پروګرام معلومات
- د .Ecolog Inc او Fluor Corporation د دریم هیواد اتباع په دندو ګمارل

## تحقیقات

د راپور ورکوونې دورې پرمهال، د سیګار روانو تحقیقاتو د متحده ایالاتو 500,000 ډالر خوندي کړي. جنایی جریمې، جبرانونه او جریمې د اضافي 600,000 ډالرو لامل شو، او دوه د مدني-جوړ جاړي تړونونه د 2 ملیون ډالرو ټوټل سره په ګده نهایی شو. تحقیقونو په متحده ایالاتو کې د دوه نیونو، درې جنایی معلوماتو، درې مدافع موافقو، او دوه محکومیتونو پایلې درلودې. په افغانستان کې، یو تورن نیول شوی، درې افغانان د نظامي ودانیو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي، او د حکومت دوه قراردادیانو سره قراردادونه فسخه شوي. سیګار 26 نوي تحقیقات پیل او 46 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقیقونو شمیر 318 ته رسیږي. سربیره پردې، د هغه شواهدو له مخې چې د سیګار د تحقیقونو په ترڅ کې په افغانستان او امریکا کې لاسته راغلي دي، سیګار د 16 کسانو او 39 شرکتونو نومونه د تعلیق او بندیز لپاره وړاندې کړل.

په مهمو تحقیقونو کې دغه شامل دي:

- له مدني جوړ جاړي څخه 2 ملیون ډالر
- د متحده ایالاتو یو قراردادي په درغلۍ ګرم شو
- د متحده ایالاتو د اردو یو پخوانی ظابط د تیلو غلا او رشوت اخیستنې په تور محکمه شو
- 14,500 ډالر په غیرقانوني پروسه کې کنګل شو
- دوه تورونه د پیسو منځلو لپاره
- د متحده ایالاتو د اردو یو ظابط د تیلو غلا په تور محکمه شو
- کارمندان د متحده ایالاتو په کابل سفارت کې له دندو وایستل شو
- د یوه افغان قراردادي نیول کیدل
- د ملي پولیسو د روزنې مرکز بشپړیدل

* د قانون سره سم، سیګار ممکن د 30 جون 2014 څخه وروسته د خپرولو نیټې پورې پیښدونکي محصولاتو او پیښو باندې هم راپور ورکړي.

# **منځپانګو** لست

## برخه 1




**1 د بیارغونې ثبات لاسته راوړنې**

3 آیا افغانستان کولی شي خپلې د بیارغونې لاسته راوړنې خوندي وساتي؟

4 د امنیت لګښتونه پرته له بهرنۍ اوږد مهاله مرستې ناپایدار دي

5 ثبات پرمختیا ګواښلې

6 ممکن د ډونرانو ملاتړ ضعیف شوی وي

8 ولې د افغانستان کورني عوایدو راټولول دومره ټیټ دي؟

10 څه باید وشي؟

11 یو VAT څه کوي؟

12 آیا VAT کولی شي افغان مالي ثبات تقویت کړي؟

13 نو بیا، لرې لید څه دی؟


## برخه 2




**15 د سیګار څارونکي فعالیتونه**

18 سیګار د USAID او بهرنیو چارو وزارت بیارغنیزو هڅو نظارت باندې تصدیق کوي

20 پلټنې

33 تفتیشونه

40 ځانګړې پروژې

49 تحقیقات

59 پدې ربع کې د سیګار نور څارنیز فعالیتونه

63 د سیګار بودیجه

63 د سیګار کارکوونکي


## برخه 3




**66 د بیارغونې نوي معلومات**

67 عمومي کتنه

70 د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته

73 د مرستو دریځ

87 امنیت

121 حکومتداري

151 اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

# برخه 4




## 189 د نورو ادارو نظارت

192 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

196 د نظارت روان فعالیتونه


## ضمیمې او پایلیکونه




208 ضمیمه الف: قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه

212 ضمیمه ب: U.S. فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره

214 ضمیمه ج: د سیګار لیکل شوي محصولات

220 ضمیمه د: د سیګار تحقیقات او د تماس شمیره

227 ضمیمه هـ: مخففات او لنډیزونه

234 پایلیکونه

”زه ډاډمن نه یم که چیرې موږ د 2014 په پای
کې ووځو، نو دا ځواکونه به پیاوړي وي.
دلته د ظرفیت یولړ د پام وړ تشې شتون
لري چې باید په نښه کړی شي ترڅو افغانان
د دې وړ شي چې هغه څه وکړي چې موږ
تراوسه د دوی لپاره کول.“

— جنرال جوزف ایف.ډانفورډ

سرچینه: د سنا د تایید اوریدا، د جولای 17، 2014.

# 1
# د بيارغونې
# ثبات لاسته
# راوړنې



# د ثبات منځپانګې


د امنیت لګښتونه پرته له بهرنۍ
اوږد مهاله مرستې ناپایدار دي 4

ثبات پرمختیا ګواښي 5

ممکن د ډونرانو ملاتړ ضعیف شوی وي 6

ولې د افغانستان کورني عوایدو
راټولول دومره ټیټ دي؟ 8

څه باید وشي؟ 10

یو VAT څه کوي؟ 11

آیا VAT کولی شي افغان مالي ثبات
تقویت کړي؟ 12

نو بیا، لرې لید څه دی؟ 13


**تصویر په تیره پاڼه کې**
د ننګرهار ولایت په یوه ښوونځي کې چوکۍ جوړې، خو هیڅ
کله ندي کارول شوي، د سوخت لرګی ترې جوړ شوي.
(د متحده ایالاتو د هوایی ځواک عکس)

# آیا افغانستان کولی شي خپلې د بیارغونې لاسته راوړنې خوندي وساتي؟

د بلواګرۍ او ولسمشریز لېږد سمدستي ننګونې هاخوا، د افغانستان نوی حکومت نورو کلکو ازموينو سره مخ کیږي: خود کفا کیدل.

د نړیوال بانک په وینا، د ژور فقر او کورنۍ جګړې څخه راوتو لپاره د ډونر مرسته شوي هڅو کې افغانستان کومک پورې د تراو له پلوه "نږدې بې ساری" دی.[1] متحده ایالات او نور نړیوال ډونران د افغان ملي بودیجې له 60% ډیر تمویلوي، په بیله بیا د بیارغونې بې حساب پروګرامونه او پروژې چې دامهال له مستقیم بودیجې پرته پرمخ بیول کیږي. د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د وتلو سره، د دې پروګرامونو او پروژو لپاره مسؤلیت افغان حکومت ته لیږدول کیږي. که څه هم ډونرانو د راتلونکو کلونو لپاره په پراخه کچه مرستې په پام کې نیولي، د دې وسعت ممکن د دوی د شتون کمیدو سره رالنډ کړی شي. په ورته وخت کې، د سرتیرو او نورو بهرني پرسونل وتل دمخه اقتصادي فعالیتونه ساړه کړي، چې دا د حکومت د عوایدو وده سستوي.

په دا ډول ترتیب کې، د افغانستان د مالیې وزارت وایی، "د مالي ثبات لاسته راوړل د افغان حکومت اساسي هدف دی."[2] د می 2014 د پیسو نړیوال صندوق (IMF) راپور موافق دی چې: "افغانستان د ډونر ملاتړ پورې د ځان تړلو کمښت لپاره اړتیا لري چې د مالي ثبات لپاره ګامونه پورته کړي."[3]

په 2013 کې، د افغان حکومت کورني عواید یوازې شاوخوا 2 ملیارد ډالر و، پداسې حال کې چې د بودیجې ټول مخارج یې 5.4 ملیارد ډالر و. د ډونر مرستو پاتې برخه وپوښله، چې د بودیجې 63% تمویل و. د افغانستان اوسنۍ بودیجه چې د 2014 په جنوري کې تصویب شوه، شاخوا 7.6 ملیارد ډالر ده، چې تمه کیږي شاوخوا 4.8 ملیارد ډالر، اوس هم د ټولټال بودیجې له 60% ډیر ډونر ورکړي.[4] په راتلونکي مخ کې شکل 1.1 د افغانستان ملي بودیجې ژمنتیاو پوښلو کې د ډونر مرستې ډیریدونکی اهمیت ښودل شوی.

د 2011 بن کنفرانس کې، نړیوالې ټولنې اعلام کړه چې په 2014 کې افغان په مشرۍ امنیتي لیږد په تعقیب به د "بدلون لسیزه" وي په کومه کې چې به افغانستان "د خپلو وګړو په خدمت کې د بشپړ کاري او باثبات دولت پیاړوي کولو به واسطه حاکمیت قوي کړي."[5]
په هرصورت، نړیوال بانک طرح وایي چې تر 2025 پورې به د افغان کورني خالص محصول (GDP) 20% سره برابر لویه "مالي تشه" به وي — د هغه تشې نږدې دوه برابره چې افغان حکومت د GDP کورني عاید برخه طرح کړې.[6]

**د بودیجې مستقیم او غیر مستقیم مرستې**

د متحده ایالاتو د افغان بیارغونې لپاره د 2014 مالي کال تخصیصات 7.5 ملیارد ډالر دي – چې اتفاقا د افغانستان د اوسنۍ ملي بودیجې 7.6 ملیارد ډالرو ته نږدې ورته دي. مګر د متحده ایالاتو د مرستې ډیری برخه، په بیله بیا د نورو نړیوالو ډونرانو ډیری مرسته، د هغه پروګرامونو او بسپنو له لارې ده چې د افغان بودیجې برخه ندي. د لانورو معلوماتو لپاره په 73 مخ د دې راپور د فنډ ورکولو بیاکتنه وګورئ.

شکل 1.1

**په افغان بودیجو کې کورني عواید او د ډونر مرستې**

د افغان GDP سلنې په توګه




یادونې: پدې چارټ کې د ډونر هغه مرستې ندي شامل چې له بودیجې بهر اجرا شوي، پدې معنی چې افغان حکومت ندي اداره کړي. ”GDP“ = کورنی خالص تولید.

سرچینه: د اسیا پراختیایی بانک، ”د اسیا پرمختیایی لرې لید 2014،“ اپریل 2014، مخ 156.

## د امنیت لګښتونه پرته له بهرنۍ اوږد مهاله مرستې ناپایدار دي

د متحده ایالاتو کانګریس له 104 ملیارد ډالرو ډیر د افغانستان بیارغونې لپاره مختص کړي؛ نورو ډونرانو له ټولې نړۍ هم په ملیاردونو نورې پیسې اعانه کړی. سیګار پایله کوي چې د 2014 پای پورې، به متحده ایالاتو د افغانستان بیارغونې لپاره د انفلاسیون (پرسوب) د تنظیم شرایطو سره د مارشال پلان لاندې دوهم نړیوال جنګ وروسته د 16 اروپای هیوادونو باندې مصرف شوي بسپنو څخه ډیرې ژمنه کړې وي، مهم ټکی یې په 5 مخ کې وګورئ.

د متحده ایالاتو د کمک هڅې حجم — له 2002 مالي کال راهیسې له مختص شوي 104 ملیارد ډالرو څخه نږدې 62 ملیارد ډالر — د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) رامنځته کیدو او ملاتړ باندې مصرف شوي.

د ANSF وسنی مجاز حد 352,000 دی. د دې د پیاوړي کولو لګښت کمولو لپاره، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) پلان لري چې تر 2017 پورې دا ځواک 228,500 ته راکم کړي، که چیرې امنیتي وضعیت اجازه ورکړي. د دې راکم شوي ځواک کلنی اټکل شوی لګښت 4.1 ملیارد ډالر دی. ناټو تمه لري چې د 2015 په پیل کې افغان حکومت لږترلږه د دې لګښت 500 ملیون ډالر په کلنۍ توګه مصرف کړي.

په هرصورت، د دفاع وزارت (DOD) خورا اخرنې پکار ګمارل شوي خپلواک ارزونو په وینا چې د بحري څیړنو لپاره مرکز (CNA) لخوا ترسره شوي، ”په 2015 – 2018 احتمالي امنیتي چاپیریال کې ANSF د 373,400 شاخوا ټولټال امنیتي پرسونل ته اړتیا لري.“[7] CNA خبرداری



**د سیګار 2013 یوې پلټنېموندلې** چې DOD پلان جوړاو چې د 771.8 ملیون ډالرو په ارزښت الوتکې واخلي، چې د دې Mi-17 چورلکو په څیر، افغانان یې نشي کارولی او ساتلی. د پلټنې راپور 13-13 وګورئ. (د جیروم ګیوهرینګ لخوا د سیګار عکس)

## د افغان فنډ ورکولو لګښتونه د مارشال پلان اصلي لګښت څخه ډېرېږي

د انفلاسیون لپاره تنظیم شوی، د افغانستان بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو مختصات د مارشال پلان ته ژمن شوي بسپنو ډېرشوي، د متحده ایالاتو مرستندویه پروګرام چې د 1948 او 1952 کلونو ترمنځ یې په ملیاردونو ډالر 16 اروپای هیوادونو ته د مرستې په حیث ورانديز کړل چې د دوهم نړیوال جنګ له ناخوالو بیرته راپورته شي.

د لیکونکي لپاره یې نومول شوی، د بهرنیو چارو وزیر او د اردو پخواني جنرال جورج سي. مارشال، پلان د "متحده ایالاتو بهرنی پالیسی کې یو له ترټولو خورا کامیابه پروژه" وبلله.[10] د کانګریس د څیړنې خدمت یو راپور وایی چې مارشال پلان په جون 1952 کې د مخارجو پای ته رسیدو مخکې مرسته لاسته راوړونکو ته شاوخوا 13.3 ملیارد ډالر ورکړي.[11] انګلستان یې ترټولو لوی لاسته راوړونکی و، چې 3.2 ملیارد ډالر ورکړل شوي.

دا د جزیی – ډالر مقدارونه د 2002 او 2014 مالي کلونو ترمنځ د افغانستان بیارغونې لپاره د کانګریس مختص شوي 104 ملیارد ډالرو څخه کم شوي لدې چې د انفلاسیون (پرسوب) اغیز یې له 1948 راهیسې تنظیم شوی.[12] پرتله کول یې تنظیم ته اړتیا لري: د مثال په توګه په 1950 کې یو ډالر په 2014 کې د 10 ډالرو د پیرود برابر و.

د متحده ایالاتو د سوداګرۍ وزارت د اقتصادي څیړنو دفتر لخوا د GDP د کال پای قیمت دیفلاټر تطبیق کول د دواړه مارشال پلان او افغان بیارغونې فنډ ورکولو جریان ته دا پایلې ورکوي: د افغان بیارغونې "اصلي" یا د انفلاسیون تنظیم سره اختصاصات له 109 ملیارد ډالر ډیر کیږي، د مارشال پلان لپاره تنظیم شوي ټولټال 103.4 ملیارد ډالرو پرورانديږي.[13] د سیګار پایلې هم ښیې چې انګلستان ته په مارشال پلان کې ورکړل شوي اصلي ارزښت – د نن ورځې په ډالر شاخوا 24.7 ملیارد ډالر – د هغه بسپنو څلورمې برخې لږ دی چې د 2014 مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بیارغونې لپاره مختص شوي.

یو حیاتي توپیر باید په نښه کړی شي: د افغان بیارغونې تمویل برخلاف، مارشال پلان د کوربه هیواد اردوګانو او ملي پولیسو جوړونې او پیاوړي کولو علاقه مند نه و. مګر د دوه کومک پروګرامونو د ریښتوني خواک تمویلولو پرتله کول په افغانستان کې د متحده ایالاتو مرستې هڅې اندازه روښانه کوي.

ورکوي چې "زموږ د ارزونو پر بنسټ له 373,000 څخه لږ اندازه ځواک به د افغانستان د بې ثباتې خطر ډېر او د متحده ایالاتو پالیسی هدف بریا احتمال به کم کړي."[8] CNA اټکل کوي چې 373,000 – قوي ANSF به هرکال د ثبات لپاره نږدې 6-5 ملیارد ډالر لګښت ولري.[9]

پدې کچه، که افغان حکومت حتی خپل ټول داخلي عواید د افغان اردو او پولیسو ثبات لپاره ډالی کړي، نو بیا به هم فقط د اړوند لګښتونو شاوخوا دریمه برخه ورکړی شي. ټول نور لګښتونه — هغه چې د ملکي کارمندانو او د سړکونو، ښوونځیو، روغتونونو، او نورو غیرنظامي زیربنا او پروګرامونو پرمخ وړو او ساتلو لپاره اړین دي — باید د نړیوالو ډونرانو لخوا ورکړل شی یا پریښودل شي، یوه غیرعاقلانه پریکړه که حتی ممکن هم وي.


**ANA** ممکند دې ورتیا ونلري چې د ګرځنده ضربتي ځواک وسایط چې ورته ورکړل شوي وساتي. د پلټنې راپور 14-85-AR وګورئ. (د زچ روسنفیلډ لخوا د سیګار عکس)

## ثبات پرمختیا ګواښې

دا د پوښتنې وړ ده چې ایا افغان حکومت کولی شي ډیری غیر امنیتي بیارغونې پروګرامونه ملاتړ کړي لکه د روغتیا، ښوونې، او اقتصادي پراختیا سیکتورونو کې. د ډیری پروژو لپاره رامنځته کړی شوي د برخو او سونتوکو اړتیاوې دي چې افغان حکومت یې نشي برابرولی او تخنیکي مهارتونه چې افغان وزارتونه یې نه لري. لدې کبله، د متحده ایالاتو جوړ شوي ښوونځې او روغتیایی ودانۍ ډیری وختونه په کارمندانو نه شي مجهز کیدی. لدې علاوه، ځینې ودانۍ خرابې شوې؛ نورې یې د دوی نومول شوي اهدافو لپاره ناخوندي، نامکمل، یا ناکافي دي.

سیګار تایید کړي چې DOD، د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID)، د بهرنیو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو نورو ادارو تل افغان ادارو سره مشوره نده کړې کله

چې يې پروګرامونه يا پروژې پلانولې يا د ثبات لپاره د دوی مالي او عملياتي ظرفيت.
د سيګار او نورو ادارو څار لکه څنګه چې د سيګار دې او مخکينيو درې مياشتني راپورونو
د "سيګار څار" او "د نورو ادارو څار" برخو کې شرح شوي، ډېرى مثالونه وړاندې کوي.

د غيرامنيتي بيارغونې پروګرامونو د ثبات څرنګوالي په اړه پوښتنه غړيدو مستحق
ده ځکه چې د ډونر په مرسته د افغانستان درند اتکا د هيواد لپاره لوی خطر له ځانه سره
لري. نړيوال بانک خبرداری ورکوي، "د پلان شوي کچو څخه د ډونر د مرستو هرډول کمول
د فقر کمولو، دندې رامنځته کولو، او خدمت وړاندې کولو کې به د پروګرامونو له لاسه
ورکولو پايله ولري."[14] په هرصورت، د افغان ژوند دې او نورو برخو کې وده، د بلواګرۍ
ضد ستراتيژۍ اصلي برخه ده چې په بديل توګه د لوی امنيتی ځواک لپاره د افغانستان اړتيا
کمولو هدف لري.

## ممکن د ډونرانو ملاتړ ضعيف شوی وي



**د غير امنيتي پروژو پياوړي کول،** لکه د DOD
دې تمويل شوي سړک په څير، کولی شي
د افغانستان د GDP تر 15% پورې لګښت ولري.
څانګړې پروژه SP-72-14 وګورئ. (د ايساف عکس)

په 2010-2011 کې د بيارغونې هڅو په څوکه کې، د نړيوال بانک ټولټال ملکي او امنيتي
اټکل شوی کومک د افغانستان GDP شاوخوا ته ورته ډېر و، چې ګټې يې چمتو کولې مګر
په ورته وخت کې يې جانبي عوارض درلودل لکه "فساد، د تحويلۍ پرې او موازي سيستمونه،
د مرستې ضعيف مؤثريت، او ضعيف حکومت."[15]

له هغې راهيسې مرسته راټيټه شوې، مګر نړيواله ټولنه چاچې په 2013 کال کې د هيواد
ملي بوديجې له 60% ډېره برخه ورپوښله اوس يې هم د هيواد د GDP تر 7.7% مساوي
"مالي تشه" ورپوښله.[16] په هرصورت، د بيارغونې ډېری هڅې "له بوديجې هاخوا" دي چې
د ډونر تمويل شوي پروګرامونه او پروژې وړاندې کوي چې افغان حکومت يې نه کنټرولوي
يا تمويل کوي.

لکه څنګه چې ډونران ژمن دي چې د افغان مرستې ډېری برخه د مستقيم بوديجې له
لارې يا په ساده ډول يې د افغان ترکنټرول لاندې پروژو ته وليږدول شي، په بوديجې فشار
به ډېر شي. IMF او نړيوال بانک په "محافظانه توګه" اټکل کوي چې د دا ډول ډونر – تحويل
شوي پانګې ذخيرې افغان ساتنه — سړکونه، ودانۍ، د منفعت زيربنا، تجهيزات، او داسې
نور — به د افغانستان د GDP تر 15% پورې لګښت ولري.[17] په افغان بوديجې د دا ډول
لګښتونو ملاتړ کول پرته د ډونر ملاتړ څخه به د GDP د حکومت عوايدو دوه چند برخه اړ
وي، يوه لويه ننګونه.

افغان حکومت د 2013 او 2020 کلونو ترمنځ په کلني ډول د پراختيا – مرستې 3.9 ملیارد
ډالر اټکل کړی.[18] په ډېری نړيوالو کنفرانسونو کې، متحده ايالاتو او نورو ډونرانو ژمنه کړې
چې تر د 2025 پورې د "بدلون لسيزې" په اوږدو کې به مرستې ته دوام ورکړي، په کوم وخت
کې چې تمه کيږي افغانستان له مالي پلوه خود کفا شي. په بدل کې افغانستان د ډونر نورې
مرستې لپاره د ټوکيو ځواړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ (TMAF) لاندې د يوه شرط په
حيث منل شوي معيار پوره کولو ژمنه کړې.

په هرصورت، د TMAF معیارونه د کاڼې کرښه نده. USAID سیگار ته پدې ربع کې خبر ورکړی چې د TMAF پراساس اړین د "سخت تحویل کیدونکي" پروړاندې د افغان ودې تازه کول په جنوري 2014 کې دریدلي دي. متحده ایالات او نړیوال شریکان یې د TMAF راتلونکي پلي کیدنې لپاره د اهدافو نوې لړۍ رامنځته کوي چې د ټاکنو وروسته نوې حکومت سره به پرې خبرې وشي. د USAID په وینا، د دې نوي اهدافو نهایی کولو پروسه به احتمالا د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس کې دوام وکړي چې په ازمایښتي توگه د نومبر لپاره په لندن او پیلي 2015 کې پلان شوی.[19]

حتی که افغانستان د کومک اوسني او راتلونکي معیارونه پوره کړي، نو نړیوال ژمنتیا په لازم ډول ندي تضمین. د نړیوال بانک او افغان مالیې وزارت لخوا یو گډ پریزنتیشن یاددښت کوي چې، "تجربه وړاندیز کوي چې د نړیوالو څواکونو وتل ملکي مرسته راکموي، د اقتصادي ودې، مالي ثبات او خدمت وړاندې کولو په مفهوم." [20] په کابل کې میشت د افغانستان څېړنې او تحلیل واحد د لویدیز څواکونو د وتلو وروسته د لانورې مرستې کمښت وړاندوینه کوي — د جانبي عوارضو پشمول "د پانگې وتل، د پانگوونې لپاره لوړ خطرات، او د اقتصادي ودې پرمخ وړونکو راپرځیدل لکه بیارغونه، لوژستیکونه، او ټرانسپورټیشن." [21]

په تاریخ ترسیم، د ستراتیژیک او نړیوالو مطالعو لپاره د مرکز ډاکټر انتوني کورډیسمن یو لړ سلایډونو ترتیب خپور کړی چې په شکل 1.2 کې یې لنډیز وړاندې شوی، چې په عراق (منفي 69%)، کوسو (منفي 52%)، هایټي (منفي 43%)، او بوسنیا (منفي 60%) کې د بهرني څواکونو کمیدو په تعقیب پراختیایي مرسته کې کموالی ښیې.[22]

شکل 1.2

**د سرتیرو کمیدو وروسته د نړیوالې مرستې کمښت**

د کمښتونو څخه وړاندې کال سره پرتله




سرچینه: انتوني کارډسمین، د نړیوال او ستراتیژیک مطالعاتو مرکز، "افغانانو ته د ټاکنو وروسته ننگونې لیږد: 2014–2015،" د سلایډ لړی، 5/18/2014، سلایډ 6.

د پرته له پام اعلامات، پریکړې او د مرستې مخارج په سیاسي او جیوسیاسي شرایطو کې د بدلون لپاره حساس دي. د مرستې ژمنې نورې نو د مرستې شرایطو معیارونو پوره کولو څخه د کاڼي کرښې ندي. لکه څنګه چې د سرتیرو وتل ګړندي کیږي، په ډونر هیوادونو کې عامه اند کولی شي قانون جوړونکي د مرستې بیرته پرې کیدو ملاحظه کولو ته وهڅوي. په متحده ایالاتو،[23] انګلستان،[24] او جرمني[25] کې سروې ګانو موندلي چې د افغانستان ماموریت او په عموم کې د پولو هاخوا مداخلو سره پراخه بی میلي یا د علاقې نه درلودل و. په هر حالت کې، د افغان مالي وزارت یو راپور په 2013 کې وایي چې "یوازې یو څو ډونران وړ دي چې تر 2017 او لدې هاخوا د مرستو د جریان وړاندوینه وکړي." "نور یې د هغوی کلني بودیجه ای پروسې متحمل دي او د دې وړ ندي چې په راتلونکي کې د دوی د مرستې د ټاکلو روښانه نښه چمتو کړي."[26]

ورکړل شوي احتمالات چې افغانستان به د ټوکیو کنفرانس مرستې د شرایطو معیارونو څخه د ځینې پوره کولو کې پاتې راشي یا ځینې لوی ډونران به د دوی پلانونه اصلاح کړي، یا دواړه، پوښتنه دا ده چې ایا افغانستان لدې ډیرڅه کولی شي چې د خپل عاید اړتیاوې پوره کړي.

## ولې د افغانستان کورني عوایدو راټولول دومره ټیټ دي؟

IMF پدې وروستیو کې په نښه کړي چې "افغانستان د نړۍ ترټولو ټیټ داخلي عاید راټولولو څخه یو دی، په 2006-13 کې د GDP شاوخوا 9 سلنې اوسط سره چې د ټیټ عاید هیوادونو شاوخوا 21 سره پرتله شوی." په دلایلو کې یې چې IMF ویلي، "د پیل یو خورا ټیټ ټکی، ټیټ اجابت، نوي مالیو سره مخالفت، او د مالیو محدود شوې لړۍ" شامل دي.[27]

د افغانستان د مالي هڅې ټیټه کچه یوه ستونزه ده. د اسیا پراختیایی بانک په وینا، په اسیا کې د پرمختیا په حال کې هیوادونو اوسط حکومتي عواید په وروستي کلونو کې د GDP نسبت 17.8% و د افغانستان د مالي هڅې تقریبا دوه برابره.[28] د لندن د اقتصاد ښوونځي اقتصاد پوهه اعتشام احمد پدې کال کې د پرمختګ په حال کې "24 هیوادونو ګروپ" ته یوه پاڼه وړاندې کړې چې پکې وایی هغه هیوادونه چې د GDP له 10% څخه ټیټ عواید راټولوي "به د زیربنا یا د برخو لپاره یې د لږترلږه عامه پانګوونې ته ممکن ناکافي سرچینې ولري، پشمول د ښوونې او R&D، په بیله بیا د عملیاتو او ساتنې لپاره."[29]

بې له شکه افغانستان په نړۍ کې یو له ترټولو غریب هیواد په حیث د ټیټ پیلي ټکي څخه پرمخ ځي. مګر مالي هڅه د تناسب مسله ده، نه مطلقات. تر 2012 پورې، CIA اټکل کړي و چې افغانستان GDP ته د مالیو او نورو عوایدو 207ام ټیټ نسبت درلود. د نړۍ د 2013 اوسط 30.3% و؛ د متحده ایالاتو فدرالي مالیه/GDP نسبت، د ټولنیز امنیت او ورته مالیو په حساب کولو سره، 22% و.[30]

مالیات د افغانستان په څیر هیواد کې یوه روښانه ننګونه ده، د یوه قوي مرکزي حکومت د سنت نه شتون سره، په لویه کچه کلیوال کاري ځواک، لوی غیررسمي اقتصاد، او د محدود ظرفیت لرونکي وزارتونه. بیاهم، د GDP ویل شوی کوچنۍ سهم د افغان کورني عوایدو لپاره ممکن پوښتنې راولاړې کړي چې ایا د هیواد مالي هڅه په کافي توګه قوي ده، او نورې "تشې،" چې IMF ایښي، له اوسني مالیاتي قوانینو څخه نومول شوې ګټې ته پرې کیږي.



**د سیګار 2014 یوې پلټنې** ډیری ننګونې موندلي چې د پولو تیریدو څخه د ګمرکاتو عواید په محدود کړي، لکه دا یو چې دلته لیدل شوی، د افغانستان لپاره د عاید یوه پیاوړې سرچینه. د پلټنې راپور 14-47-AR وګورئ. (د مارتین ویلسن لخوا د سیګار عکس)



**د ګردیز روغتون،** چې دلته د جوړیدو په حال کې ښودل شوی، د کارووني او ساتنې کلنی لګښت يې د افغان حکومت لخوا ټینګښت ته ډیر لوړ دی. د تفتیش راپور 14-6-IP او د پلټنې راپور 9-13 وګورئ. (د سیګار عکس د لیز پیډرسن په واسطه)

لکه څنګه چې DOD کانګریس ته راپور ورکړی، "فساد، د پروګرام غیرمؤثر نظارت کول، په ټولو کچو کې د بودیجې کمښت، د عاید رامنځته کولو ناتواني، او د عامه مالي مدیریت محدود ظرفیت د [افغان] ملي حکومت لپاره مداوم اپت دي." [31] د دې کریډیټ ته، د افغان مالیې وزارت ویب پاڼه پیژني چې دا ستونزې شتون لري: "د مهارت کچې ټیټې دي. د مالیی چارواکو سیستمیک فساد د مالیې راټلونکي ټولولو لپاره یو جدي ګواښ دی.... د مالیو اداره کولو لپاره میتودونه، سیستمونه او کاري طریقې ناکافي دي او د مدرن مالیی اداره کولو طریقې نه منعکس کوي.... د مالي قوانینو اجابت ټیټ دی." [32]

د افغانستان اقتصادي او نهادي ضعفونه هم د منځنی او اوږدې مودې لپاره ستونزې پرمخ وړدي. دا د حکومت هغه لرې لیدونه په شا تنبوي چې له مخې يې تر 2016 پورې د GDP %15 او 2025 پورې %19 کورني عواید د تولید ډیرولو د TMAF اهدافو پوره کول دي. نړیوال بانک وایی، "په عاید کې اوسنی کمښت نه یوازې اوږدمهاله مالي ثبات ته خطر دی بلکه د TMAF د اهدافو لاسته راوړو ته هم خطر پرمخ وړدي." [33] د TMAF اهدافو لاسته راوړو کې ناکامیدل کولی شي ډونر د مرستې پرې کولو ته منحرف کړي، چې نور هم د مالي ثبات ستونزه ژوره کوي.

## څه باید وشي؟

که چیرې افغانستان ونشي کولی نور د ایتلاف پرسونل شتون څخه اقتصادي انګیزه باندې تکیه وکړي او نشي کولی وګټي چې د ډونر مرسته به مناسب وي چې خپلې اړتیاوې ترې تمویل کړي او د بې له بودیجې ډیرې پروژې واخلي، نو څه کولی شي؟ د افغانستان لپاره د IMF د ماموریت مشر په مې 2014 کې واضح کړل چې د عوایدو ډیرولو لپاره د حکومت ستراتیژي څلور ستنې لري:[34]

- د مالیې پرمختللی اجابت
- د ورډیرشوي ارزښت مالیه (VAT) پلي کول
- د افغان کان کیندنې سیکتور ته وده ورکول
- د VAT برسیره نوي مالیو تحمیل کول

د مالیه پرمختللي کول یو وړ مقصد دی، مګر دا ډول هڅې به وخت ونیسي، او دا چې د مالیه اوسني افغان قوانین دا د GDP له 10% نه ټیټ راوړي، چې شاید یوازې په حاشیه ای ډول مالیي وزارت ته جریانات ډیر کړي.

افغانان د عاید رامنځته کولو لپاره په کان کیندنه پورې لوی امیدونه تړي، ځکه چې دلته ډیری لږ ښه بدیلونه ورته شتون لري. لکه څنګه چې نړیوال بانک افغانستان مشاهده کوي، "د ښوونې کچې خورا ټیټې دي او د تولید سیکتور لا د رامنځته کیدو په حال کې دی (د اندازې او ظرفیت له پلوه) ترڅو د ګام په ګام جوړښتي بدلون کلاسیک بیلګې تمه وشي په کوم کې چې طبیعي سرچینې پورې تړلی اقتصاد د واکنده تولید او خدماتو په واسطه متنوع او تولیدي اقتصاد ته اوړي."[35]

د کان کیندنې نوي قانون وضع کول د TMAF له کلیدي معیارونو څخه یو دی چې کولی شي افغانستان ته د نړیوال کومک راتلونکې کچې اغیزمنې کړي. افغان پارلمان پدې وروستیو کې د کان کیندنې نوی قانون تصویب کړ، خو وضع شوی ندی. په هرصورت، لکه څنګه چې دا مهال لیکل شوی دی، د نوموړي قانون توضیحات ممکن اوس هم پانګوونه وتروي او د نړیوال سوداګرۍ سازمان (WTO) معیارونه پوره نکړي — یو بل لوی مشکل ځکه چې WTO ته رسیدنه هم د افغانستان لپاره د TMAF یو معیار دی.[36]

حتی که نوی قانون پرځای وی، داسې بریښي چې د راتلونکي کلونو لپاره د کان کیندنې سیکتور ډیر لږ احتمال لري چې باثبات عواید رامنځته کړي. د کان کیندنې څخه د نړیوال بانک طرح شوي حکومتي عواید "په پیلي 2020 کې د GDP تر 2-4% رسیدلی شي."[37] په هرصورت که دا طرح عملي شي دا به بیا هم د افغانستان اوسنی یا راتلونکی د مستقیم بودیجې تشه ډکه نکړي.

د صادراتو نور امکانات لږ ژمن دی. په واقعیت کې د افغانستان صادرات د متحده ایالاتو د نظامي راتګ څخه مخکې په 2001 کې د 837 ملیون ډالر لوړوالي څخه په 2013 کې 414.5 ملیون ډالرو ته راټیټ شوی، نو د عاید احتمال یې هم لږ دی. اساسي صادرات یې غالۍ او قالینې، وچې میوې، او طبي بوټي دي.[38] CIA دې لیست کې اپیوم او قیمتي ډبرې هم شامل کړي.[39] مګر اپیوم او ورته توکي د قانوني اقتصاد برخه ندي، او قیمتي ډبرې په اسانۍ سره قاچاق کیږي، نو حکومتي عاید کې د دې توکو برخه محدوده ده.

د IMF ثبات لوړولو لیست کې د حکومتي عوایدو رامنځته کولو لپاره د لنډمهال لیدونو غوره توکي د ورډیرشوي ارزښت مالیه، یا VAT دی.

## يو VAT څه کوي؟

VAT، د متحده ايالاتو څخه بهر د مالياتو يو عام شکل، په لويه کچه د پلور مالياتو په څير کار کوي، چې د ماليه شوي توکي يا خدمت پيرودونکي باندې وي. دا د پلور مالياتو څخه پدې کې توپير کوي چې د توليد په هره مرحله کې پرې ماليه وضع کيږي.

د مثال په توګه، لکه څنګه چې په شکل 1.3 کې ښودل شوي، د تختو يو شرکت VAT د فرنيچر جوړونکي ته په خپل پلور کې وضع کوي، چې دا بيا VAT د فرنيچر پلورنځي باندې وضع کوي، چې دا بيا په نهايي مصرف کونکي دغه VAT وضع کوي. هرپلورونکی په پروسه کې خپل د VAT رسيد حکومت ته ارجاع کوي — منفي هغه VAT چې د په خپل پيرود ورکړی. پدې لاره کې، حکومت يوازې اقتصادي "ورډير شوی" ارزښت د دې سوداګرۍ پروسې په هره مرحله کې ماليه کوي.[40]

د ماليې ور ليږدونو لړۍ VAT ته لېترلږه د سنتي پلور ماليې باندې د حکومتي ليد پلوه، ګټور وي: دا په هره مرحله کې د ليږد يو ثبت رامنځته کوي، چې دا د هغه خلکو لپاره ستونزمن کوي چې مالياتو څخه سرغړوي.

په افغانستان کې د VAT رامنځته کول به نه يوازې د ماليه پاليسي کې لوی بدلون لپاره مهم وي، بلکه د لوی مقدار عايد قوي رامنځته کونکي په حيث: VAT د اروپايي ټولنې غړي هيوادونو نږدې دريمه برخه عوايد جوړوي، او د اروپای ټولنې يوازينی ترټولو لوی عايداتي سرچينه ده.[41]

افغان پارلمان د IMF سره، څوک چې د افغانستان لپاره د غزول شوي کريډيټ اسانتيا ساتي، په 2014 کې د VAT قانون معرفي کولو کې موافق دی.[42] د افغان پارلمان دواړه جرګو پدې پسرلي کې د VAT مسؤده تصويب کړه، مګر په نهايي راپور کې يوه ګډه مسؤده د ګډ کميسون ناستې ته په تمه ده چې توپيرونه يې سره جوړکړی شي.[43] IMF راپور ورکوي چې نوموړې مسؤده د مخالفت سره مخ ده، د نهايي تصويب نيټه يې معلوم نده، او پلي کول يې کيدی شي د تصويب څخه يو کال وروسته پورې وخت ونيسي.[44]

شکل 1.3

**د ارزښت وراضافه شوي ماليه څنګه کار کوي**




يادداښت: VAT %10 د توضيح اهدافو لپاره په غاړه اخلي.

سرچينه: د GAO شهادت GAO-11-867T، ارزښت وراضافه شوی ماليه: د متحده ايالاتو لپاره احتمالي درسونه د نورو هيوادونو له تجربو څخه، 7/26/2011، مخ 3.

په هرصورت، که چیرې افغانستان د VAT په رامنځته کولو کې بریالی کیږي، بیلابیل دامونه کولی شي چې د کابل عوایدو په ټیټ سهم پایله شي له هغه څه چې طرح شوي.

## آیا VAT کولی شي افغان مالي ثبات تقویت کړي؟

افغان مالیه وزارت د VAT لپاره لوړې تمې لري. د دې د لومړۍ ربع اخرنی راپور د VAT مالیه کمپیوټري ماډل پایلې وړاندې کړي: "د قیمت په کلي کچه د جزیی ډیروالي له امله به ټولټال د عاید ټولولو کې 23% او خالص داخلي تولید کې تر 1.3% ډیروالی راشي."[45]

دا په حقیقت کې د کابل عایداتو د پام وړ تقویت وي، په هرحال خپلې اوسنۍ بودیجه کې د مالي تشې ډکولو لپاره که حتی دا د کان کیندنې عاید – تمې سره هم یوکړی شي، نو کافي به نه وي. په هرصورت هغه نور هیوادونه چې VAT تجربه کوي، ډیری دلایل رابرسیره کوي، چې ولې به ریښتونې پروسه د حکومت امید او کمپیوټري ماډل طرحې څخه ټیټه وي.

اروپای کمیسون په نښه کوي چې غړي هیوادونه د VAT عواید راټولوي "له تیوریکي پلوه ټاکل شوي عاید څخه ډیر ټیټ" د پراخه معافیتونو، د نرخونو هدف شوی کموالي له امله، او "په مالیه ټولونې کې لوی تشه" (مثلا درغلي او له مالیه ورکولو ډډه).[46] بی له شکه چې افغان حکومت کولی شي د معافیتونو په ورکولو د VAT ضعیف کولو او پیچلي کولو انتخاب ونکړي، مگر دا انتخاب کولی شي د هلې ځلې د نهادونو ازارولو سره ولري، پشمول د قطعی شویو گټو.

اجابت یې ننگونه کیدی شي. په متحده ایالاتو کې، د حکومت حساب ورکوونې دفتر (GAO) کانگریس ته وویل چې د VAT په ستونزو کې نادرست سوداگري شاملیدی شي چې VAT راټول او بیا ورک شي، هغه شرکتونه چې د VAT ارجاع کولو څخه مخکې ناکامیږي، هغه سوداگر چې د VAT له لګښت څخه خلاص نقدي قیمت او پلور لږ راپور کوي، هغه خلک چې د VAT جعلي رسیدونه رامنځته کوي ترڅو یې بیرته لاسته راوړي، او سوداگر چې د ټیټ VAT ورکولو لپاره رده بندي غلط راپور کوي.[47]

د اروپای اتحادیې غړي د VAT اداره کولو کې اوږدې تجربې درلودو سره بیا هم د دې په راټولولو کې ستونزې لري.[48] دوی یوازې ندي. د پرمختګ په حال کې هیوادونه لکه هند، بنګله دیش، ازبکستان، او نیپال څوک چې VAT کاروي د لا لوی ننګونو سره مخ دي. بنګله دیش هلې ځلې کړي چې د خپل اقتصاد لوی غیر رسمي سیکتور باندې مالیه وضع کړي.[49] پاکستان د معافیت له حده ډیرې ستونزې لري او د جعلي رسیدونو لخوا ملاتړ کیدونکي غوښتنې بیاورکوي.[50] افغانستان چیرې چې، بریښنا،کمپیوټرې او سواد لانور هم په ټیټه کچه دي، به د دې اجابت په پلي کولو کې لاډیر مشکل ولري.

د نړیوالې پراختیا لپاره د انګلستان اداره (DFID) د نږدې £20 ملیون پاونډ په ارزښت مالیه اداره کولو پروژې یوې برخې په حیث د VAT لپاره د افغانستان چمتو کیدو سره کومک کاوه. د دې د پروژې خورا اخرني کلنۍ بیاکتنه کې، DFID وایی "به د نوي عاید جریان معرفي کول وړاندې کړي مګر ممکن د درغلۍ نوي خطرات هم معرفي کړي،" او د "کاروونې، اجابت او مخابراتو په برخه کې یوشمیر د پام وړ ننګونې" وړاندوینه کوي چې که افغانستان VAT پلي کړي.[51]

## نو بيا، لرې ليد څه دی؟



**ولسمشر کرزي او فغان قانون جوړونکوهلې**
ځلې کړي چې د ډونرانو مرستې معيارونه پوره کړې پداسې حال کې چې د کورني عوايدو د لوړوالي په لټه کې دي. (د اروپا آزاده راډيو/ د آزادی راډيو عکس)

د افغانستان مالي ثبات د بيلابيل لاملونو اغيزمن کيدی شي پشمول د اقتصادي ودې، قانوني او تنظيمي کاري چوکاټ، د بلواگرۍ موده او اغيز، د بهرني ډونرانو لخوا د مرستې پريکړې، وزارتونو ظرفيت، د غيرقانوني اقتصاد پروړاندې پرمختګ، او د مالياتي قوانينو سره د ښاريانو اجابت.

په هرصورت د دې لاملونو ترپايه شتون، اجماع يا کلي نظر چې د DFID نتيجه ګيري کې دی "افغانستان د مالي ثبات لاسته راوړو څخه ډيری کلونه لرې دی"[52] او د IMF اند دا دی چې مالي ثبات "اضافي اصلاحاتو ته اړتيا لري او ممکن له يوې لسيزې ډير وخت ونيسي."[53]

بدبختانه، وخت او د ډونر معيارونه پر افغانستان فشار راوړي. DOD راپور ورکوي چې په "2021 پورې تمه کيږي کورني عوايد يوازې د طرح شوي مخارجو 35 سلنه وپوښي. د عايدو کمښت به افغانستان د هغه عامه خدماتو وړاندې کولو په برخه کې انتخاب کولو کې مشکل رامنځته کړي چې دا يې وړاندې کوي، د امنيت، روغتيا او ښوونې خدمات، زيربنا پروژې او ساتنو لپاره د لګښتونو بيلانس کول."[54] شديد کمول يا په ناسمه د کمولو ډيرولو بيلانس کولی شي د اقتصادي ودې، حکومت مشروعيت، او د بلواګرۍ ضد هڅو لپاره ناخوښې پايلې ولري.

د افغانستان اوسني اقتصادي او سياسي فشارونو، مالي ننګونو، او د ډونر راتلونکې مرستې د سکوپ او مدت په اړه بې اطميناني په ملاحظه کولو سره، د امريکا قانون جوړونکي او پاليسي جوړونکي ممکن وغواړي چې د مناسب ګامونو اخيستل ملاحظه کړي ترڅو شريک نهادونه لکه د بهرنيو چارو وزارت، DOD، او USAID ډاډمن شي:

- له نږدې د نورو ډونرانو سره ښکيل شي چې د همغږي شوي هڅې اهميت باندې تاکيد او د مرستو جريان کې د لوی يا جدي بدلونونو مخه ونيسي
- د پيسو مينځلو، فساد، ګمرکي عوايدو انحراف، او نورو "تشو" مخنيوي لپاره هڅو کې د افغان حکومت ملاتړ ډير کړي
- د افغان اقتصادي پرمختيا ارتقا لپاره د مشورتي خدماتو ډيرول ترڅو هغه مالي سستي لرې چې د نړيوال شتون کمښت په واسطه رامنځته شوې
- د افغانستان هڅو چې خپل ضعيف سوداګريز چاپيريال ته پرمختګ ورکولو لپاره ګامونه واخلي[55]
- افغان وزارتونو ته د سناريو ماډل کولو، پروګرام لومړيتوب، او د ترياج تخنيکونو باندې د تخنيکي مشورې ورکول ترڅو په کمښتونو له پوهې سره او سيستماتيک پريکړې کولو کې دوی ته مرستندويه وي که چيرې کورني عايد او د ډونر مرستې د پلان شوي مخارجو پوښلو لپاره په مزمن ډول راولويږي

لدې ګامونو يو يې هم د کانګريس لخوا نوی لوی تخصيصاتو ته اړتيا نلري. مګر دوی کولی شي چې د پام وړ سهم ورکړي که دوی د راتلونکي افغان حکومت عوايدو راپورته کولو سره مرسته کوي، د هغه ګامونو سره د خپل ماليه اساس پراخول ترڅو لوړ شخصي عايد او سوداګريزې ګټې په خوځښت کړي. د افغان زيربنا پانګوونې او عامه خدماتو لپاره د پياوړي سهم جريان ډيرول — او د مرستې کمښت ځرنګوالي په صورت کې د ښې پريکړې کولو ظرفيت رامنځته کول — به د اوږدمهاله بيارغونې هڅې لاسته راوړنو خوندي کولو لپاره مهم اعانې وي.

”د [افغانستان څخه]، د متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونو د وتلو سره سره دلته زموږ دنده له پای ته رسیدو خورا لرې ده. په پایپ لاین کې چې تراوسه مصرف شوي ندي ولې نږدې 18 ملیارد ډالر ورته مختص شوي، او د راتلونکو کلونو لپاره په کلني ډول شاید نور له 6 څخه تر 10 ملیارد ډالر ژمنه شوي، نو پدې سره د افغانستان بیارغونه اوس هم باید د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو او پالیسي جوړونکو پورې اړوند وي.“

— ځانګړی عمومي مفتش جان اف. ساپکو

سرچینه: د منځني ختیځ او شمالي افریقا فرعي کمیټې، بهرنیو چارو کمیټې پروړاندې شهادت، د 2014 کال د جون 10.

# 2 سیگار نظارت



# د سیګار نظارت منځپانګې


| | |
|---|---|
| سیګار د USAID او بهرنیو چارو وزارت بیارغنیزو هڅو نظارت باندې تصدیق کوي | 18 |
| پلټنې | 20 |
| تفتیشونه | 33 |
| ځانګړې پروژې | 40 |
| تحقیقات | 49 |
| پدې ربع کې د سیګار نور څارنیز فعالیتونه | 59 |
| د سیګار بودیجه | 63 |
| د سیګار کارکوونکي | 63 |


**تصویر په تیره پاڼه کې**
کوره (تنرونه) د شین ډنډ هوای ډګر کې د سرخلاص سوزونکو اړخ
ته بی کاره پراته دي. د تفتیش راپور IP-81-14 وګورئ. (د جان دیتنګر
لخوا د سیګار تصویر)

## ورکړې شوې رسمي ويناوې

- بيانيه 14-65-TY: په افغانستان کې د USAID او بهرنيو چارو وزارت بيارغونيزو هڅو څار.

## د پلټنې خبرتيا ليک

- د پلټنې خبرتيا ليک 14-80-AL: د افغان هوايي ځواک C-130 الوتکه

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 14-83-AR: د بهرنيو چارو وزارت ته د سيګار د وراندیزونو دريز
- پلټنه 14-84-AR: د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وسلو حساب ورکوونه
- پلټنه 14-85-AR: افغان ګرځنده ضربتي ځواک وسايط

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-74-FA: د پراختيا الټرناټيوز شرکت په واسطه پيښ شوي لګښت پلټنه
- مالي پلټنه 14-75-FA: د شيمونيک انټرنيشنل په واسطه پيښ شوي لګښت پلټنه
- مالي پلټنه 14-76-FA: د تيترا ټيک DPK په واسطه پيښ شوي لګښت پلټنه

## بشپړ شوي تفتيشونه

- تفتيش 14-62-IP: د بغلان محبس: د 11.3 مليون ډالرو په ارزښت ودانۍ سخت تخريب شوې حالت پراخه ترميمي عمل ته اړتيا لري
- تفتيش 14-81-IP: د شين ډنډ هوايي ډګر: په سرخلاصي ژور خاينو کې د سوزولو کار د دفاع وزارت مقرراتو څخه سرغړونه ده
- تفتيش 14-82-IP: د ګرشک سړه او وچه ذخيره ای خونه: داسې بريښنې چې د وادولو کيفيت يې ښه وي، مګر نومړې ودانۍ تر نن نيټې پورې نده کارول شوې

## د ځانګړې پروژې بشپړ شوې محصولات

- ځانګړې پروژه 14-54-SP: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې وسايط (کښتنی)
- ځانګړې پروژه 14-55-SP: د پوښتنې مکتوب: د نړيوالې هوساينې او پراختيا د محرميت تړون
- ځانګړې پروژه 14-56-SP: د خبرداری ليک: د IRD محرميت تړون په اړه USAID ته خبرداری ورکول

په راتلونکې پاڼه کې دوام لري

# د سيګار څارونکي فعاليتونه

پدې ربع کې سيګار 30 پلټنې، تفتيشونه، د خبرتيا ليکونه او نور راپورونه خپاره کړل چې د 18.2 مليارد ډالرو په ارزښت پروګرامونه يې وڅارل.

د فعاليت يوه پلټنه مشخص کوي چې د بهرنيو چارو وزارت د سيګار د پلټنې نږدې 75% وړانديزونه په وخت سره او بريالی طريقه پلي کړي، چې د افغان بيارغونې فنډونو د درغلۍ، ضياع او اختلاص خطر کموي. د فعاليت دوهمې پلټنې موندلې چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) ضعيف ريکارډ ساتنې د دفاع وزارت (DOD) د وسلو نظارت وړتيا محدوده کړې وروسته له هغې چې ANSF ته ورکړل شي. د فعاليت بلې پلټنې موندلې چې ممکن افغان ملي اردو (ANA) د ګرځنده ضربتي ځواک وسايطو (MSFV) د ساتنې وړتيا ونلري چې ورته ورکړل شوي، او دا چې د امنيت محدود ملاتړ د DOD قراردادي له محافظت او روزنې وړاندې کولو مخه ونيوله چې پروګرام برخې په حيث ورکړه ورته شوې وه. پدې ربع کې، د سيګار مالي پلټنې د داخلي کنټرول عيبونو او ناجابتي مسلو د پايلې په حيث 2.5 مليون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونه پيژندلي. ترنن نيټې پورې د سيګار مالي پلټنو له 78 مليون ډالرو څخه ډير تريوښتنې لاندې لګښت کې پيژندلي او 190,000 ډالر په غيرليږدول شوې ګټه کې په وده شوې فدرال بسپنو.

يوه تفتيش د سيګار د تفتيش خبرتيا يو ليک تعقيب کړ چې په تيرې ربع کې د بغلان محبس وادنولو په اړه ليکلی و، او په نښه کړې يې دي چې د 11.3 مليون ډالرو په ارزښت ودانۍ د جدي تخريب له امله پراخه ترميمي کړنو ته اړتيا لري. دوهم تفتيش و موندل چې د متحده ايالاتو ځواکونو – افغانستان (USFOR-A) لخوا کارول شوې کورې په شين ډنډ هوای ډګر کې جوړې او په سمه توګه وليږدول شوې، مګر ميخانيکي مسايل د دې لامل شو چې دغه کورې په خورا ټيټ ظرفيت کار وکړي، چې دا د سرخلاصې هوا ژورو سوزونکو لامل شو. دريم تفتيش ټاکلي چې په ګريشک کې د سړې او وچې خونې ودانۍ کيفيت ښه بريښي، خو دا چې نومړې ودانۍ ترنن نيټې نده کارول شوې.

د سيګار د ځانګړې پروژو دفتر د ANA وادنيو کې کارول شوې د سپرې فوم انسوليشن سيستمونو د خونديتوب يوه بياکتنه خپره کړه. ځانګړې پروژو ډيرې ليکونه د ليږد ګډ امنيتي قوماندې – افغانستان (CSTC-A)، USFOR-A، نړيواله هوساينه او پراختيا (IRD)، د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره (USAID)، د متحده ايالاتو نيوي (بحرې)، د افغانستان بيارغونه کې دخيل ډيرى اجراييوي وزارتونو او ادارو، د مسلکي خدماتو شورا، د دفاع قراردادیانو، د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت (USDA)، او DOD ته هم ليکلي. د پوښتنې دا مکتوبونه په پراخه اندازه موضوعات پوښي، پشمول د ډاډمن نړونونو، ګرځنده پيسې، سوبابين پروګرام، ردشوي قراردادونه،

### د ځانګړې پروژې بشپړ شوي محصولات (دوام لري)

- ځانګړې پروژه SP-14-57: د پوښتنې مکتوب: د LOTFA UNDP ځار
- ځانګړې پروژه SP-14-58: د پوښتنې مکتوب: د مسلکي خدماتو شورا
- ځانګړې پروژه SP-14-60: د پوښتنې مکتوب: د IRD د حقایقو راسپړلو محافظت خواب
- ځانګړې پروژه SP-14-61: د معلوماتو مکتوب: د ANP د ګرځنده پیسو پیلوټ پروګرام ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-63: د پوښتنې مکتوب: د SBIR مطالعه
- ځانګړې پروژه SP-14-64: د پوښتنې مکتوب: د USAID تمویل شوي سړکونو ساتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-66: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې کښتیو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-67: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې کښتیو ځای په ځای کول
- ځانګړې پروژه SP-14-68: د پوښتنې مکتوب: د کندهار د پلین حل
- ځانګړې پروژه SP-14-69: د پوښتنې مکتوب: د سویابین پوښتنې ته د USDA ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-70: د پوښتنې مکتوب: د افغان کار لپاره د دریم هیواد اتباع په کارګمارنې قرارداد
- ځانګړې پروژه SP-14-71: د پوښتنې مکتوب: د بیارغونې پروګرام معلوماتو لپاره غوښتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-72: د پوښتنې مکتوب: د DOD تمویل شوي سړکونو ساتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-73: د پوښتنې مکتوب: د USAID ردشوي قراردادونه
- ځانګړې پروژه SP-14-77: بیاکتنه: د ANA وداني کې د سپرې فوم انسولیشن خوندیتوب
- ځانګړې پروژه SP-14-78: د پوښتنې مکتوب: د افغان کار لپاره د دریم هیواد اتباع په کارګمارنې قرارداد

په ودانۍ کارول شوي سپرې فوم خوندیتوب، د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) چې د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشاتو ورکولو لپاره کارول شوی، د ANP ګزمې وسایط، د قراردادي پېژندل شوي غوره کړنې، د حقایقو راسپړلو محافظتونه، د کوچنۍ سوداګرۍ یو تړون چې د بیارغونې پریکړې کولو سره مرستې لپاره ګارل شوی، د افغان سړکونو ساتنه، د کندهار د بریښنا تولید پلانونه، د متحده ایالاتو ورته ادارو په واسطه بیارغونې تمویل باندې د معلوماتو لپاره غوښتنه، او د انساني قاچاق تورونو په اړه پوښتنه.

د راپور ورکوونې دورې په جریان کې، جرمي جریمې، جبرانونه، جریمې، مدني استوګنې، او او د سیګار روان تحقیق څخه متحده ایالاتو ته سپمول شوي پیسو مقدار شاوخوا 3 ملیون ډالر و. د سیګار تحقیقونو په متحده ایالاتو کې د دوه نیونو، درې جنایی معلوماتو، درې مدافع موافقو، او دوه محکومیتونو پایلې هم درلودې. په افغانستان کې، یو تورن نیول شوی، درې افغانان د نظامي ودانیو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي، او د حکومت دوه قراردادیانو سره قراردادونه فسخه شوي. د سیګار تعلیق او مخنیوی پروګرام 16 افراد او 39 شرکتونه د تورونو پر بنسټ د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي دي. تورونه دا دي چې دوی د 180 ملیون ډالرو په ارزښت قراردادونو پراساس فعالیت کولو کې پاتې راغلي یا درغلي یې کړې.

## سیګار د USAID او بهرنیو چارو وزارت بیارغنیزو هڅو نظارت باندې تصدیق کوي

ځانګړی عمومي پلټونکی جان ایف. ساپکو له GAO څخه د چارلس مایکل جانسن جی آر. سره یوځای د 2014 د جون په 10 د پارلمان د مځنې ختیځ او شمالي افریقا فرعي کمیټې او د بهرنیو چارو کمیټې پروړاندې په افغانستان کې د USAID او بهرنیو چارو وزارت بیارغونیزو هڅو باندې وینا کوي. تر دې نیټې پورې د افغان بیارغونې لپاره مختص شوي شاوخوا 103.17 ملیارد ډالرو څخه، 17.53 ملیارد ډالر د USAID ته او 4.42 ملیارد ډالر د بهرنیو چارو وزارت ته ټاکل شوي. د 2014 د مارچ تر 31 پورې د متحده ایالاتو په واسطه بیارغونې بسپنو کې مصرف ته پاتې مختص شوي 18 ملیارد ډالرو کې هم نږدې 7 ملیارد ډالر د بهرنیو چارو وزارت او USAID له لارې دي.

سوپکو فرعي کیمټې ته وویل چې په افغانستان کې د ځار کم شوی لاسرسي د بیارغونې بسپنې خطر کې اچوي. سیګار اټکل کوي چې د 2014 دسمبر پورې به د هیواد له 20% څخه لږه برخه د متحده ایالاتو د ځار ملکي پرسونل ته د لاسرسي وړ وي، له 2009 راپدیخوا د 50% څخه ډېر کموالی. دا حیاتي کار دی چې ترنن نیټې پورې د متحده ایالاتو لخوا شوي تاریخي پانګوونې او نور په ملیاردونو چې باید په بیارغونه کې مصرف شي، محافظت لپاره د نظارت چمتو کولو دوام ته یوه لار ومومو.

سوپکو په افغانستان کې د USAID او بهرنیو چارو وزارت د بیارغونیزو هڅو پروړاندې د "لوړ خطر پنځه ساحې" په ګوته کړې: ثبات، فسا، د تریاکو ضد، د مستقیم بودیجې مرسته، او د قرارداد مدیریت او نظارت.

## ورکړ شوې رسمي ویناوې

- بیانیه 14-65-TY: په افغانستان کې د USAID او بهرنیو چارو وزارت بیارغونیزو هڅو ثار.

لومړی ننګونه، ثبات دې حقیقت ته راجع کیږي چې افغان حکومت په اسانۍ نشي کولی هغه مالي او عملیاتي بار باثبات کړي چې بیارغونې ورپه برخه کړی. هره نوې پراختیای پروژه چې USAID یا د بهرنیو چارو وزارت یې فنډ ورکوي د عملیاتو او ساتنې لګښتونه یې ډیریږي، چې دا د افغانستان عملیاتي بودیجې باندې فشار اچوي. د مثال په توګه، سیګار راپور ورکړی چې USAID یو روغتون جوړ کړی چې کلنې عملیاتي لګښتونه به یې د 611,000 ډالرو څخه 1.1–2.1 ملیون ډالرو ته وخیژي، او بل چې کلنې عملیاتي لګښتونه به یې له 98,000 ډالرو څخه 587,000 ډالرو ته وخیژي. دا هغه مخارج دي چې د افغانستان عامې روغتیا وزارت یې احتمالا نشي پوښلی، او دا چې نه USAID او نه هم افغان حکومت د دې پوښلو لپاره بسپنې ټاکلي.

دوهم، اوږدمهال او رایج فساد کولی شي د مداوم بهرنۍ مرستې او پراختیا او اصلاحاتو لپاره د افغان حکومت لرې لیدونه تباه کړي چې د حکومت خودکفا کیدو لپاره اړین دي. پدې وروستیو کې، جنرال جان آلن فساد د افغانستان راتلونکې لپاره خورا لوی ګواښ وپیژند، چې له طالبانو پورته درجه بندي یې ورکړې، پداسې حال کې چې د فساد سره مبارزې د متحده ایالاتو هیڅ جامع ستراتیژي یا لارښودږ شتون نلري. پردې برسیره، افغانستان د 177 هیوادونو په مینځ کې د فساد لپاره د سومالیا او شمالي کوریا سره په ګډه ترټولو اخرې درجه خپله کړې، او افغان ښاریان پخپله فساد د جدي ننګونې په توګه ګڼي. پراخه فساد د USAID او بهرنیو چارو وزارت لخوا پرمخ تلونکي کلیدي مرستندویه پروګرامونه خرابوي. د مثال په توګه، سیګار په یوه وروستي راپور کې په نښه کړي چې فساد د ګمرکاتو پروسس ټولو کچو باندې اغیز کوي او د افغان ګمرکاتو عوایدو ډیرولو پرورانډې ترټولو لوی خنډ دی. په حقیقت کې، د USAID چارواکي ګڼي چې د فساد لرې کول یا دپام وړ کمول کولی شي مرکزي حکومت ته ګمرکي عواید دوه چنده کړي. پراخه راپورونه شتون لري چې د د افغان ګمرکاتو هغه چارواکي تښتول کیږي یا بیرول کیږي چې د متحده ایالاتو مشاورینو ته غوږ نیسي څوک چې دوی ته ښیې په سمه توګه ګمرکي محصول راټول کړي.

دریم، د مخدره توکو ډیریدونکي کښت او قاچاق د افغانستان په بیارغونه کې د متحده ایالاتو او نړیوال ډونرانو ټوله پانګوونه د خطر سره مخ کوي. افغان بزګران نن ورځ له هرکله ډیر اپیوم کرهي او په 2013 کې د دغه اپیوم او مشتقاتو ارزښت 3 ملیارد ډالر اټکل شوی و، یا د افغانستان GDP د 15% سره مساوي، چې له 2012 کال څخه د پام وړ ډیروالی وړاندې کوي. د تریاکو سوداګرې د فساد زیرمه کولو په واسطه افغان مالي سیکتور زهرجن کوي او د افغان دولت مشروعیت تړپوښتنې لاندې راولي. سیګار د خپلو دې اندیښنو بیانولو ته دوام ورکوي چې د متحده ایالاتو د تریاکو ضد هڅو لپاره مهم پروګرامونو محدود پرمختګ کړی او ممکن چې پیاوړي نه وي. تیر د پلټنې راپورونو د بهرنیو چارو وزارت د تریاکو ضد عدلي مرکز ودانول او اداره کول ارزولي و، چې د څنډول شوي ودانولو او ضعیف پلانولو له امله مشکل سره مخ و چې د ټیټې کچې توقیف او له ظرفیت ډیروالي ته ورسید د دې پرځای چې لوړرتبه کسان یې توقیف کړي وی. سیګار د افغانستان د تریاکو پرورانډې مبارزې پولیسو او د USAID د کندهار زون خواړو پروګرام پراختیا ارزولو ته دوام ورکوي، چې دا دواړه د تریاکو سوداګرې هدف ګرځوي.

ځلورم، د متحده ایالاتو دا پریکړه چې ډیری فنډونه د افغان حکومت نهادونو له لارې مصرف کړي، د بیارغونې فنډونو د ضیاع، درغلۍ او اختلاس خطر ډیروي. له 2002 راهیسې، متحده ایالاتو نږدې 9 ملیارد ډالر د مستقیم بودیجې له لارې چمتو کړي، پشمول د 5.4 ملیارد ډالرو چې افغان وزارتونو او نهادونو ته یې ورکړي. په ورته توګه، سیګار له اوږدې مودې اندیښنه لري چې د متحده ایالاتو اداري د دې وړ دي ترڅو د مستقیم بودیجې له لارې چمتو شوي دغه فنډونو محافظت وکړي. د مثال په توګه، سیګار افغانستان ته د USAID د معاش ملاتړ ارزولو پلټنې راپورونه خپاره کړي، په بیله بیا د USAID د افغان حکومت ادارو د ظرفیت ارزونه د متحده ایالاتو وزارتونو ته مستقیم چمتو شوي فنډونو اداره کولو او محاسبه کولو لپاره.

په نهایت کې، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سیاسي، امنیتي، بشردوستانه او پراختیایی اهدافو لاسته راوړو لپاره د بیارغونې قراردادونو مؤثره نظارت حیاتي دی. پداسې حال کې چې د قراردادونو هیڅ مرکزي ډیټابیس شتون نلري او دا ستونزمن کار دی چې منل شوي دقیق مقدار اټکل وشي، د سیګار ابتدایی کار ښیې چې د متحده ایالاتو ادارو د افغان بیارغونې هڅو لپاره له 2002 مالي کال (FY) راهیسې تر 2013 مالي کال پورې په قراردادونو، بلاعوضه مرستو او همغږي تړونونو نږدې 37 ملیارد ډالر ژمن کړي. د دې بسپنو د محافظت لپاره، سیګار د بهرنیو چارو وزارت د ودانیزو پروژو تفتیشونه پرمخ وړي لکه په پروان ولایت کې د محکمې خونه او د بغلان محبس، او موندلي یې دي چې قراردادیان د اړتیاو اجابت نه کوي، چې دا د ودانیز او جوړښتي عیبونو لامل شوي، او دا چې د قراردادي افسر نمایندګان میاشتني بیاکتنې سرته نه رسوي یا اړین راپورونه نه سپاري. د نظارت چمتو کولو نور پیچلي هڅې په افغانستان کې د "نظارت پوکنیو" په نوم یاد شوي ساحو بهر بیارغونیزو پروژو ته ډیر کم شوي لاسرسی دی. دا د بیارغونې بسپنو کې په ملیاردونه د درغلۍ، ضیاع او اختلاس خطر سره مخامخ کوي.

## پلټنې

سیګار د افغانستان د بیارغونې اړوند پروګرامونو او پروژو د فعالیت پلټنې، تفتیشونه او مالي پلټنې ترسره کوي. کانګریس ته د خپل اخرني راپور راهیسې، سیګار درې د فعالیت پلټنې، درې تفتیشونه، درې مالي پلټنې راپورونه او یو د پلټنې خبرتیا لیک خپاره کړي. پدې ربع کې سیګار د فعالیت یوه نوې پلټنه هم پیل کړه چې د فعالیت روانو پلټنو شمیر یې 15 ته رسي. د فعالیت پلټنې خپور شوي راپورونو د ANSF ته ورکړل شوي وسلو خوندیتوب او محاسبې لپاره د DOD وړتیا بیاکتلې؛ د قرارداد فعالیت، د حکومت نظارت، او د ANA د ګرځنده ضربتي ځواک وسایطو اداره کول، او د بهرنیو چارو وزارت کې د پلټنې وراندیز د ریزولیشن لاسرسي لپاره د نظارت پروسه. د فعالیت پلټنو ټولټال شپږ وړاندیزونه کړي او تفتیشونو ټولټال اوه وړاندیزونه. مالي پلټنو د داخلي کنټرول عیبونو او ناجابتي مسلو د پایلې په حیث 2.5 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونه پیژندلي.

**د فعالیت پلټنې:** د تاییدو شویو معیارونو په وړاندې په پوره اندازه او د مناسبو شواهدو د ارزونو په اساس ډاډ یا پایلې وړاندې کوي. د فعالیت پلټنې عیني تحلیل وړاندې کوي تر څو اړونده اداره او مسول کسان د نتایجو څخه یې د خپل پروګرام د کړنو په وده او د لګښتونو په کمولو کې استفاده وکړي، او مسولو کسانو ته د اصلاحي ګام پورته کول اسانه کوي تر څو د عامه حساب ورکونې جوګه شي. د فعالیت پلټنې عموماً د حکومت د پلټنې منل شویو سټندردونو (GAGAS) او د اعتبار او اغیز عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) د عمومي مفتش د فیدرال دفترونو کیفیت سټندردونو په اساس ترسره کیږي.

**تفتیشونه:** د ډیزاین، تطبیقولو ،او/یا د اداري عملیاتو پایلې، پروګرامونو، یا پالیسیو، سیستماتیک او خپلواکه ارزونه ده. سیګار د تفتیش او ارزونې لپاره د CIGIE کیفیت معیارونو سره په مطابقت کې تفتیشونه پرمخ وړي، ترڅو په ټول افغانستان کې د ودانیو او زیربنا ساختماني چارو باندې کانګریس او خلکو ته معلومات چمتو کړي؛ او په مجموع کې یوه ارزونه چمتو کړي چې وټاکي ایا ودانۍ د قرارداد سره سمې جوړې، نومول شوي مقصد لپاره کارول کیږي او ایا ساتل کیږي.

**مالي پلټنې:** پدې اړه خپلواک ارزونه وړاندې کوي او مناسب ډاډ چې ایا د نهاد راپور ورکړ شوي وضعیت، پایلې او د سرچینو کارول د پیژندل شوي معیار سره په مطابقت کې وړاندې شوي که نه. سیګار د GAGAS په اساس پلټنې ترسره کوي، چې پدې کې د د پلټنې د سټندرد په اړه د تجربه لرونکو عامه محاسبینو امریکایي انستیتوت راپورونه او په GAGAS نورې برابرې شوې اړتیاوې شامل دي. سیګار د خپلواکو عامه محاسبینو (IPA) مالي پلټنو ارزونه هم کوي. کله چې یو IPA کومه مالي پلټنه ترسره کوي، سیګار د منطقي کړنلارو په مرسته د هغې موافقه له GAGAS سره ارزوي، البته دا کار دIPA د کار څخه د استفادې د حدودو او دا چې سیګار نوموړې اداري ته خومره مسولیت سپارلې دی، په نظر کې نیولو سره ترسره کیږي.

## د پلټنې خبرداری لیک

- د پلټنې خبرتیا لیک AL-80-14: د افغان هوای ځواک C-130 الوتکه

## د خبرتیا لیک

افغانستان د لیږد په منځ کې، د متحده ایالاتو اردو او ملکي چارواکو له سیګار څخه غوښتي چې بې له ځنډ معلومات ورته چمتو کړي ترڅو له ضیاع مخنیوی وشي او د متحده ایالاتو د بیارغونیزو پروګرامونو مؤثریت ډیر شي. د سیګار له اصلي اهدافو یو یې د پلي کونکو ادارو او کانګریس ته د تعقیب وړ معلوماتو چمتو کول دي پداسې حال کې چې د توپیر راوستو لپاره اوس هم وخت شتون لري. د دغه هدف لاسته راوړو لپاره، سیګار بې له ځنډ څخه د اندیښنو په نښه کولو ته د خبرداري لیکونه استوي پداسې حال کې چې پلي کونکي ادارې اوس هم د عمل کولو وړتیا لري. د راپور ورکوونې دې دورې په جریان کې، سیګار یو د خبرداري لیک استولی چې پکې افغان هوایی ځواک (AAF) ته د C-130 باروړونکي الوتکو د چمتو کولو لپاره د DOD پلانونو په اړه اندیښنه ښودلې.

## د پلټنې خبرداري لیک AL-80-14: د افغان هوایی ځواک C-130 الوتکه

د 2014 د جولای په 10، سیګار د دفاع وزیر او په افغانستان کې د متحده ایالاتو مشر نظامي چارواکي خبرکړل چې دا AAF ته د C-130 باروړونکي الوتکو د چمتو کولو لپاره د DOD پلانونو په اړه اندیښنه لري. د سیګار د پلان لومړنۍ بیاکتنه ښیې چې د دغه الوتکو ټولو ته یې شاید اړتیا نه وي، او اوس لاس په عمل کیدل کولی شي ډیر مخارج خوندي کړي.

د سیګار د AAF لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ پلټنې په جریان کې چې د اضافي تجهیزاتو لپاره د دې د ظرفیت ټاکلو په موخه و، اداره د C-130 پروګرام په اړه اندیښمنه شوه. لومړی، سیګار ونشو کولی چې مشخص کړي ولې DOD، AAF ته د منځني باروړونکو الوتکو چمتو کولو لپاره، پریکړه کړې چې څلور C-130s چمتو کړي د دې پرځای چې د مختلف



**ځانګړي عمومي پلټونکي سوپکو** او د سیګار کارمندانو کابل نړیوال هوای ډګر کې د ناټو هوایی روزنیز قومانده - افغانستان غړو سره وکتل. (د ګریګ بوور لخوا د سیګار تصویر)

کمیت یا ډول الوتکې وی. که څه هم د څلور C-130s پیرودلو پریکړه د 2013 په جنوري کې شوې وه، د AAF اړتیاوې له 2010 مارچ راهیسې نده تازه شوې. دوهم، دا مهال په افغانستان کې موجود د دوه AAF C-130s لپاره سیګار د الوتنو معلومات څیړلي او موندلي یې دي چې دا پوره نه کارول کیږي، کوم چې د دې په اړه پوښتنې راولاړوي ایا رښتیا هم اضافي الوتکو ته اړتیا شته. په نهایت کې، تیره میاشت له افغانستان څخه د ځانګړي عمومي پلټونکي سوپکو د لیدنې پرمهال، هغه دا مهال په انبار کې موجود دوه C-130s الوتکو لپاره د روزنې، سپیرپارټ او ساتنې پورې اړوند ستونزو ملاتړ په اړه پوهه ترلاسه کړه.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو تمویل شوي زیربنا او تجهیزاتو د تحکیم پورې اړوند مسلې نوې ندي. په هرصورت، د C-130s سره فرصت شتون لري چې ډاډ ترلاسه شي افغانان د هغه څه ملاتړ کولو وړ دي چې دمخه متحده ایالاتو دوی ته ورکړي مخکې لدې چې اضافي الوتکې چمتو شي.

په ورته ډول، د خبرتیا دې لیک کې، سیګار وړاندیز کړی چې DOD ترهغې د اضافي C-130s تحویلي ترهغې وځنډوي چې د AAF د منځنې بار وړونکو اړتیا او په انبار کې موجود دا مهال C-130s بشپړ کاروونې وړتیا یې بیاوکتل شي. که چیرې د DOD بیاکتنه ښیې چې اضافي C-130s لازم ندي، نو DOD نباید دا چمتو کړي. حتی د یو C-130s حذف کول تر 2017 پورې تر 40.5 ملیون ډالر سپمولی شي.

د خبرتیا دې لیک پایلې په حیث، د سنا د تخصیصاتو کمیټې د 2015 مالي کال دفاع تخصیصاتو قانون کې یوه ماده شامله کړې چې DOD منع کوي ترهغې پورې د 2015 مالي کال فنډونو په کارولو سره ANSF ته C-130s ونه لیږي چې د کانګریس دفاع کمیټې ته د AAF اړتیاو یوه بیاکتنه چمتو کړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، مخ 62 وګورئ.

## د فعالیت د پلټنو راپورونه خپاره شوي

پدې ربع کې، سیګار د فعالیت پلټنو درې راپورونه بشپړ کړي چې د بهرنیو چارو وزارت د سیګار د پلټنې وړاندیزونو حلونه، ANSF ته د DOD د وسلو ورکولو پروګرامونه او د ANA MSFV پروګرام بیاکتنه یې کړې.

### پلټنه 14-83-AR: د بهرنیو چارو وزارت

**د سیګار د پلټنې او تفتیش راپور ټولو وړاندیزونو نږدې 75% یې پلي شوي.**

سیګار دا پلټنه پیل کړې چې (1) د ټولو هغه وړاندیزونو دریځ وپیژني او وارزوي چې بهرنیو چارو وزارت ته شوي، د سیګار د فعالیت ټولو پلټنو، مالي پلټنو او تفتیشونو پیل راهیسې؛ او (2) د خلاصو وړاندیزونو لپاره د بهرنیو چارو وزارت لخوا اخیستل شوي یا پلان شوي ګامونو بیاکتنه وکړي.

د دې اهدافو بشپړولو لپاره، سیګار بهرنیو چارو وزارت ته په 2008 کې له خپل رامنځته کیدو څخه تر د 2014 مارچ 31 پورې ټول سرته رسولي 111 وړاندیزونه پیژندلي او ارزولي، او د خلاصو، تړل شویو او پلي شویو، او تړل شویو چې پلي شوي نه وي، وړاندیزونو مشخص کولو لپاره څیړنې سرته ورسولې.

سیګار هر راپور د پراښه سیکټور، وړاندیز شوي عمل او ټاکل شوي محصول په واسطه کټګوري کړ. په نهایت کې، سیګار هغه اسناد وارزول چې د بهرنیو چارو وزارت د هر وړاندیز

### د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 14-83-AR: د بهرنیو چارو وزارت: د سیګار د پلټنې او تفتیش راپور ټولو وړاندیزونو نږدې 75% یې پلي شوي.
- پلټنه 14-84-AR: افغان ملي امنیتي ځواکونه: د وسلو حساب ورکوونې ودې لپاره کړنو ته اړتیا ده
- پلټنه 14-85-AR: د افغان ګرځنده ضربتي ځواک وسایط: قراردادي اړتیاوې پوره کړي، مګر د اوږدې مودې کاروونه او ساتنه یوې اندیښنې په توګه پاتې دي

لپاره چمتو کړي ترڅو د ټاکل کیدو وړ مالي ګټې له سپمول شوي لګښت یا بیالاسته راغلي فنډونو څخه مشخص کړي.

سیګار د بهرنیو چارو وزارت ته په 2008 کې د رامنځته کیدو څخه تر د 2014 مارچ پورې 111 وړاندیزونه کړي او له دغو وړاندیزونو 83 یې — شاوخوا 75% پلي شوي و. د پلي شوي وړاندیزونو نږدې نیمایی یې د افغان حکومتدارۍ پرمختګ یا د قانون حاکمیت وده او د فساد ضد هڅو ته ډیزاین شوي و. برسیره پردې، ځینو ښودلي چې:

- د ټولو وړاندیزونه شاخوا دوه پر دریې یې د دې لپاره ټاکل شوې و چې له لاندې دریې پایلو څخه یوه ولري: (1) د بهرنیو چارو وزارت ګمارنه، نظارت، او د قراردادونو یا مرستو مدیریت ته وده ورکړي؛ (2) د بهرنیو چارو وزارت سره مرسته وکړي چې د افغان حکومت ظرفیت رامنځته او پیاوړی یې کړي؛ یا (3) د مستقیم مرستو د حساب ورکوونې څخه ډاډ ترلاسه شي.
- نږدې نیمایی وړاندیز کړی چې د بهرنیو چارو وزارت د نومول شوي پایلو لاسته راوړو لپاره یا خو (1) موجوده طرزالعملونه، پالیسیانې، یا نور لارښود رامنځته، او تعقیب کړي؛ یا (2) یو پلان یا ستراتیژي ته وده ورکړي یا پلي کړي.

د بهرنیو چارو وزارت د دغه وړاندیزونو په وخت سره پلي کولو په افغانستان کې د بیارغونې فعالیتونو کې د ضیاع، درغلۍ او اختلاس پروړاندې قوي خوندیتوبونو پایله درلوده. د پلي شوي وړاندیزونو څخه، دوه یې د ټولټال 103 ملیون ډالرو په غوره کارونه پایله شوې. څلور نور وړاندیزونو له 6.6 ملیون ډالرو څخه ډیرو بیاسپمولو یا بیرته لاسته راوړو پایله درلوده.

نور 24 د ډیرې دلایلو لپاره تړل شوي و:

- دیارلس وړاندیزونه د دې لپاره تړل شوي و چې سیګار د اضافي پلټنې کار پرمخ وړه پلان کړي و چې کولی شو دغه وړاندیزونه لغوه کړي.
- څلور یې د دې لپاره تړل شوي و چې د بهرنیو چارو وزارت یې پروړاندې په وخت سره ګامونه پورته کولو کې پاتې راغی. د سیګار په اند، که د بهرنیو چارو وزارت په وخت سره ګام اخیستی وی نو افغان ټاکنو پرمخ وړو کې پرمختګ رامنځته کیدی شو، او د افغان کارګمارنې ارتقا په واسطه د ترهګرۍ ضد نوښتونو ملاتړ کول.
- څلور وړاندیزونه د دې لپاره تړل شوي و که څه هم وزارت دغه وړاندیزونه بشپړ نه و پلي کړي خو د دوی نومول شوي هدف په نښه کولو سره یې یوڅه ګامونه اخیستي و.
- دوه وړاندیزونه د دې لپاره تړل شوي و چې دغه وړاندیزونه ډیرې ادارو ته پشمول د بهرنیو چارو وزارت شوي و، خو نورو ادارو د دغه وزارت پرځای پلي کړي و.
- یو وړاندیز د دې لپاره تړل شوی و چې د بهرنیو چارو وزارت ورسره موافقه نه وه کړې او هیڅ ګام یې نه و اخیستی.

له 111 وړاندیزونو څخه څلور یې خلاص پاتې دي. د 2014 د جولای پورې، لدغې څخه درې وړاندیزونه د شپږ میاشتو لپاره او یو وړاندیز د یو کال لپاره خلاص ول.

سیګار کوم وړاندیز ندی کړی.



**کرات شوي وسلې** په کابل کې د ANA مرکزي ډیپو کې ذخیره شوي. د پلټنې راپور 14-84-AR وګورئ. (د سارا کیني لخوا د سیګار تصویر)

## پلټنه 14-84-AR: افغان ملي امنیتي ځواکونه

### د وسلو حساب ورکوونې ته وده ورکولو لپاره د ګامونو اخیستو ته اړتیا ده

DOD د ANA او ANP د روزلو او تجهیز نړیوالو هڅو برخې په حیث ANSF ته وسلې ورکوي. DOD له 2004 کال راهیسې ANSF ته د 626 ملیون ډالرو په ارزښت څه دبره 747,000 وسلې او مرستندویه تجهیزات چمتو کړي. پدې شمیرو کې څه دباندې 465,000 سپکې وسلې شامل دي – لکه تفنچې، مشینداري، ګرنیډ لانچر، او لنډې ټوپکې. CSTC-A د DOD لومړنی برخه ده چې ANSF ته د وسلو تحویلۍ او لیږد څارلو لپاره مسؤل دی. دا د دغه وسلو لاسته راوړو لپاره د دفاع امنیت همغږۍ اداري (DSCA) سره کار کوي. د 2010 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون 1225 (NDAA) فصل، Pub. L. No. 111-84، له DOD څخه غواړي چې افغانستان او پاکستان ته لیږدول شوي دفاعي اسبابو د راجستر کولو او نظارت کولو لپاره یو پروګرام پلي کړي. DOD وروسته لدې هم د دغه وسلو د حساب ورکوونې د څار لپاره مسؤل دی چې ANSF ته انتقال شي.

دا پلټنه ANSF ته چمتو شوي سپکو وسلو د حساب او محافظت لپاره د DOD اخیستل شوي ګامونو باندې تمرکز کوي. په ځانګړي ډول، د سیګار اهداف و چې (1) د وسلو لپاره حساب ته کنټرولونه وارزوي مخکې لدې چې DOD یې ANSF ته ولیږدوي، (2) د وسلو لپاره حساب ته کنټرولونه وارزوي وروسته لدې چې DOD یې ANSF ته ولیږدوي، او (3) هغه کچه وټاکي چې د DOD چمتو کړی شوي وسلې د ANSF اوسنۍ اړتیاوې منعکس کړي او د ANSF پرسونل کې بدلونونه.

DOD د ANSF لپاره پیرودل شوي وسلو باندې معلومات د معلوماتو دوه ابتدایی سیسټمونو کې ساتي: د امنیت د همغږۍ معلوماتو پورټال (SCIP) او د معتبر لوژستیکي څار عملیاتي تایید ډیټابیس (OVERLORD). SCIP د DOD پرسونل لخوا د متحده ایالاتو څخه د وسلو وړلو تعقیب لپاره کارول کیږي، پداسې حال کې چې OVERLORD په افغانستان کې د وسلو لاسته راوړو تعقیب لپاره کارول کیږي. خطاګانې او توپیرونه ډیری وختونه رامنځته کیږي ځکه چې دا دواړه سیستمونه یو بل سره لینک ندي او اړتیا ده چې معلومات په لاسي ډول دننه کړی شي. کله چې سیګار په دواړه سیستمونو کې معلومات پرتله کړل، دې موندل چې دغه ډیټابیسونه تل ورته نه و؛ ځینې ثبتونه دوځلي او ځینې بشپړ نه و. لاندې لیست شوي توپیرونه د DOD خپل د داخلي عملیاتي طرزالعملونو او حساب ورکوونې سره مطابقت نه درلودو مثالونه ښیې، او د معلوماتو له لاسه ورکول کیدی شي د وسلو موندلو د ناتوانۍ پایله ولري. په ځانګړي توګه سیګار وموندل چې:

- په OVERLORD کې ثبت شوي ټولټال 474,823 سیریل لمبرو څخه، 43% یا 203,888 وسلو معلومات ورک و او/یا دوه ځلې و.
- 24,520 سیریل لمبرې په OVERLORD او 22,806 سیریل لمبرې په SCIP کې دوه یا درې ځله تکرار شوې وې، پدې معنی چې د بار شوي او لاسته راوړل شوي وسلو دوه ځلي ثبتونه شتون لري.
- OVERLORD، 50,304 سیریل لمبرې د هیڅ بارولو یا لاسته راوړو معلوماتو پرته لري، او SCIP، 59,938 سیریل لمبرې د هیڅ بارولو یا لاسته راوړو معلوماتو پرته لري.

پداسې حال کې چې DOD د ANSF ته پیرودل شوي او لیږدول شویو وسلو د حساب لپاره SCIP او OVERLORD کاروي، ANA د وسلو تعقیب لپاره یو اوتومات د انبار مدیریت سیستم چې د مرکزي انبار مدیریت سیستم (CoreIMS) په نوم یادیږي، کاروي. په هرصورت، د CSTC-A امنیتي مرستې دفتر (SAO) چارواکو په نښه کړي چې په CoreIMS کې موجود معلومات نامکمل دي او د درست معلوماتو لپاره پرې تکیه نشي کیدلی. SAO CSTC-A چارواکو پایله کړې چې د دې لامل تریوې کچې پورې دا دی چې ANA سیستم ته په درستۍ معلومات نه دننه کوي. د DOD عمومي پلټونکي په واسطه د 2008 یو راپور هم د ANA د ثبت ساتنې پروسې پشمول د CoreIMS په اړه اندیښنې راپورته کړې. لکه څنګه چې د ANP ته وسلې چمتو شوي، د دوی د محاسبې او حساب کولو لپاره هیڅ معیاري یا اوتومات سیستم شتون نه لري. پرځای یې، ANP ګډ چاپي اسناد، لاسي ثبتونه، او د مایکروسافټ ایکسل سپریډشیټونه د انبار ثبتونو ساتلو لپاره کاروي.

د ANSF په واسطه کارول شوي انبار بیلابیل سیستمونو او چاپي زیرمو کې د وسلو معلوماتو د درستۍ ازمولو لپاره، سیګار په افغانستان کې د ANSF څلور ډیپوګانو او زیرمه کولو ودانیو کې د انبار فزیکي ازمول پرمخ ویوړل. که څه هم پدغه ځاینو کې ازمول د ډیری دلایلو لپاره ننګونکي و، پشمول د انبار معلوماتو نشتون، سیګار تریوحد پورې وړ و چې پدغه ساحو کې ساتل شوي معلوماتو معتبریت وارزوي.

- د ANA مرکزي ډیپو کې، سیګار وموندل چې 551 وسلې افغان انبار ثبت کې مستند شوې وې، چې د "ملکیت کتاب" په نوم یادیده د انبار د فزیکي حساب سره یې ورته وال نه درلود.
- د ANP په 22 بنکر ډیپو کې د ANP لپاره ملي ډیپو سیګار ونه توانید چې یو بشپړ جامع انبار ازمول پرمخ ویسي؛ په هرصورت، د سیګار محدود شوي ازموني د ذخیرې هردرلودونکي کې د وسلو مقدارونه تایید کړي، او سیګار په هغه وسلو کې هیڅ توپیر ونه لید چې د تفتیش وړ یې و.
- د ANA د کندهار سیمه ایز نظامي روزنیز مرکز کې، سیګار ونه توانید چې د انبار بشپړ ثبت ترلاسه کړي، کوم چې د وسلو درست او معتبر حساب ورکوونې ډاډ محدودوي.
- د افغان عامه نظم لومړي ګارنیزون ودانۍ کې، سیګار وتوانید چې د انبار یوازې محدود فزیکي تفتیش سرته ورسوي ځکه چې د انبار هیڅ لیست شتون نه درلود. د محدود شوي وسلو تفتیش کې هیڅ توپیرونه په نښه نه شول.

د ANA او ANP دا ضعیف ثبت ساتنه د DOD وړتیا محدودوي چې ANSF ته لیږد وروسته وسلې نظارت کړي، لکه څنګه چې د 2010 مالي کال لپاره NDAA اړتیا ده.

متحده ایالات او ایتلافي ملګري ANSF ته د هغه مقدار او نوع مطابق وسلې چمتو کوي چې تشکیل کې پرې موافقه شوې وي — تشکیل د افغان حکومت د ANSF اړتیاو رسمي لیست دی. تشکیل د وخت په تیریدو سره بدل شوی، چې د ځینې وسلو وړتیا یې ډیره شوې او ځینو کموه شوه. سیګار موندلي چې د 2013 نومبر پورې، ANA او ANP ته چمتو کړی شوي له 112,000 ډیرې وسلې د اوسني تشکیل اړتیاو څخه تیری کوي. په ځینې حالتونو کې،

ډيرې وسلې چمتو شوي ځکه چې د ANSF اړتياو بدلون موندلی. د مثال په توګه، ANA له خپلې اړتيا 83,184 ډير AK-47s (کلاشيکوف) لري ځکه چې د 2010 څخه مخکې DOD دواړه د ناټو معياري وسلې لکه M-16s او غير معياري وسلې لکه AK-47s ورکړي. له 2010 وروسته، DOD او افغان دفاع وزارت وټکاله چې بين عملياتي او لوژستيک ورتيا بايد وده وموميي که چيرې ANA يوازې د ناټو معياري وسلې کاروي. وروسته، اړتيا بدله شوه. په هرصورت، د غيرمعياري وسلو راټولولو او له منځه وړو لپاره هيڅ ليد رامنځته نشو، لکه AK-47s، چې نور ورته اړتيا نه وه. د DOD چاروا‌کو سيګار ته وويل چې دوی دامهال واک نلري چې هغه وسلې بيرته راټولې يا حذف کړي چې دمخه ANSF ته ورکړل شوي.

دا مساله به مرکب شي ځکه چې پلان دی د ANSF پرسونل شمير په راتلونکي کلونو کې کم کړی شي. د دې وسلو حساب او په درستۍ سره حذف کولو ته د افغان حکومت وړتيا باندې باور پرته، سيګار انديښنه لري چې دا د ترهګرو لاسته لويدی شي چې افغان ملکيانو او ANSF ته اضافي خطر رامنځته کوي.

د ANSF لپاره پيرودل شوي او ورته ليږدول شوي وسلو د محاسبه کولو لپاره، سيګار وړانديز کوي چې د CSTC–A عمومي قومانده د DSCA رييس سره په همغږۍ (1) د OVERLORD او SCIP بشپړ سمون يا تلفيق وکړي او د شپږو مياشتو په موده کې په دواړه سيستمونو کې د معلوماتو پيژندل شوي هرډول خطاوې سمې کړي. سيګار دا وړانديز هم کوي چې د CSTC–A عمومي قومانده (2) د ANSF سره ANSF ته ليږدول شويو وسلو 100% انبار چيک بشپړولو لپاره کار وکړي، او (3) وټاکي چې کوم ګامونه د متحده ايالاتو او ايتلاف چمتو شوي وسلو بيا لاسته راوړو يا له منځه وړو لپاره پورته کيدی شي چې په ګده متحده ايالاتو او افغان حکومتونو افغان تشکيل کې ښودل شوي اوسني اړتيا څخه تيری وي، او يو پلان رامنځته کړي چې په راتلونکي کې د سپکو وسلو احتمالي ډيروالی په نښه کړي که چيرې د ANSF ځواک شمير کم کړی شي.

## پلټنه 14-85-AR: افغان ګرځنده ضربتي ځواک وسايط

### قراردادي اړتياوې پوره کړي، مګر د اوږدې مودې کاروونه او ساتنه د يوې انديښنې په توګه پرځای پاتې دي

د ANA مؤثريت ته وده ورکولو لپاره، د ناټو روزنيز ماموريت – افغانستان (NTM-A)/ CSTC-A پريکړه وکړه چې ANA بايد يو ګرځنده ضربتي ځواک (MSF) ولري چې يو ميکانيزه شوی پلي ځواک چمتو کړي چې په چټکتيا سره د منسجم ضربتي ځواک، محافظت او محرک ملاتړ سره د خپريدو وړ وي. د دې اړتيا پوره کولو لپاره، د اردو قرارداد کولو قومانده – وارين (ACC-WRN) ټيکسټرون مرين او لينډ سيسټم (ټيکسټرون)، يوه امريکايي شرکت ته دوه قراردادونه ورکړل. د دې قراردادونو ژمنې د 634 ګرځنده ضربتي ځواک وسايطو (MSFV)، سپيرپارټ، ساتنې او روزنې لپاره 661.3 مليون ډالر ټولټال شوې. MSF دوه ليواګانې لري — لومړۍ ليوا په کابل کې څلور کنډکونه لري — کنډک د ANA يو واحد دی چې د متحده ايالاتو بټالين سره په اندازه کې ورته دی — او دوهمه ليوا په کندهار کې درې کنډکونه لري.

د دې پلټنې هدف و چې (1) وټاکي ترکوم وسعت پورې ټيکسټرون د ANA MSFVs لپاره د ساحې مرسته رامنځته، وړاندې او چمتو کړې؛ (2) د ANA لپاره د MSFVs پيرود،



**ګرځنده ضربتي ځواک وسایط** د ANA زره دار ځانګې ښوونځي کې ساتل کیږي. د پلټنې راپور 14-85-AR وګورئ. (د زیچ روزنفلډ لخوا د سیګار تصویر)

تحویلۍ، روزنه او ساتنه کې د متحده ایالاتو حکومت د څار مؤثریت وارزوي؛ او (3) هغه کچه وټاکي چې ANA څومره ظرفیت لري د MSFVs اوسني او پلان شوي ګړند وکاروي او ساتنه یې وکړي.

ټیکسټرون 634 MSFVs تولید او د قرارداد اړتیاو سره سم یې د کابل زره دار ځانګې ښوونځي کې افغان MSF ته پیلي کاروونې او ساتنې روزنه چمتو کړې. سیګار موندلي چې دا ټول وسایط په درستۍ سره مستند او DOD ته لیږدول شوي. سربیره پردې، د 2014 د مارچ 25 پورې DOD، 419 MSFVs افغان ملي اردو ته لیږدولي او د پاتې 215 لپاره حساب کولی شوي، چې په نهایت کې به د دې 204 افغان ملي اردو ته ولیږدول شي او پاتې 11 به DOD د امتحاني وسایطو په توګه ځان سره وساتي. ټیکسټرون د قرارداد نورې اړتیاوې هم پوره کړي لکه افغانستان ته د رارسیدو پرمهال د MSFVs لاسته راوړل او تفتیش کول؛ د پیلي سپیرپارټ، اسبابو، تجهیزاتو او وسلو نصب چمتو کول؛ او د وسایطو د ساتنې روزنه.

په هرصورت، ټیکسټرون تل د دې وړتیا نه درلوده چې MSF ته د ساحې روزنې او ساتنې خدمات چمتو کړي د کوم لپاره چې ورته پیسې ورکړل کیدې. دا اساسا د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک (ایساف) د ګډې قوماندې محدود شمیر پرسونل له امله و چې د ترون په حیث ویل شوي امنیت چمتو کولو لپاره ګمارل شوي و. سربیره پردې، که څه هم ټولو خپرو څلور کنډکونو د دوی د 60 ورځو د وسایط سپیر پارټ پیلي تحویلي لاسته راوړې، یوازې د MSF یو کنډک چې دوهمې لیوا کې ګمارل شوی د خپل یوکلن جامع سپیرپارټ تحویلي لاسته راوړي چې د لیوا په کچه ساتل شوي. د قرارداد تمویل کې کمښتونو له امله، ACC-WRN د دغه پارټ غوښتل ځنډولي — پشمول د بیاځای په ځای کولو انجنو او د ډرایو شافټونو — کوم چې د تولید او وړاندې کولو لپاره شاوخوا یو کال وخت نیسي. د مثال په توګه، د یوې پایلې په حیث، په دوهمه لیوا کې ګمارل شوی د MSF بل کنډک د پیلي 60 ورځو تحویلۍ وروسته د نهه میاشتو لپاره هیڅ سپیرپارټ نه درلود چې د ایتلاف او قراردادي ملاتړ لاسته راوړ. د ایتلاف مشاورینو په نښه کړې

چې د سپیرپارټ نه شتون د MSF د کنډک د ماموریتونو پرمخ وړو وړتیا ثابت زوال پایله درلوده. سیګار د MSFV عملیاتي چمتووالي کچه باندې د معلوماتو غوښتنه کړې، مګر دا معلومات د لیواګانو، کنډکونو یا NTM-A په واسطه ندي ساتل شوي.

سیګار دا هم موندلې چې DOD د MSF په لیواګانو او کنډکونو کې د ټیکسټرون فعالیتونو محدود څار سرته رسولی. ACC-WRN په افغانستان کې د ټیکسټرون فعالیت د څارلو او نظارت لپاره د قراردادي افسر یو نماینده (COR) ګمارلی. په هرصورت، COR تل په فزیکي توګه افغانستان کې میشته نه و، چې دې کار د ټیکسټرون کار مشاهده کولو لپاره د MSF لیواګانو او کنډکونو لیدو لپاره د COR وړتیا محدودوله. اضافتا، د ایتلاف تاکتیکي وسایطو لپاره د محصول مدیر — یو د متحده ایالاتو د پرسونل لاسته راوړو نظامي ډله چې د تاکتیکي وسلو د ټولې مودې مدیریت لپاره مسؤل ده — د ټیکسټرون فعالیت د څار او نظارت لپاره د COR مرستې ته یو همکار ګمارلی. دغه همکار د 2014 په جنوري کې کابل، افغانستان ته راورسید، مګر تر د 2014 اپریل پورې وړ نه و چې له کابل بهر ساحو ته لاسرسی ولري. د مثال په توګه، همکار په ډېرې موقو کې هڅه وکړه چې په کندهار کې د 2 MSF مې لیوا ته سفر وکړي، مګر الوتنې تل د نامعلوم دلایلو لپاره رد وې. د NTM-A چارواکو په وینا، د څار پرسونل په ندرت سره د کابل هاخوا ساحې تفتیشونه سرته رسولي، حتی که کنډکونه نورو ولایاتو کې هم میشته کړی شوي وي لکه زابل او هلمند. د 2014 د اپریل په 22، ACC-WRN راپور ورکړل چې COR کابل ته ګمارل شوی و. که څه هم دا په کابل کې د فعالیتونو څار چمتو کوي، دا ډاډ نه ورکوي چې یو څوک به له کابل څخه بهر د MSF په لیواګانو او کنډکونو کې د ټیکسټرون فعالیتونو څارنه وکړي.

که څه هم ANA د خپل MSFVs اکثریت لاسته راوړي، د دوی په خپلواک ډول کاروونې او ساتنې لپاره د ANA وړتیا د روزنې او سپیرپارټ ستونزو له امله اغیزمنه شوې. هر کاروونکی غړی د کابل زره دار څانګې ښوونځي کې د MSFV ابتدایی کاروونې د اته اونیو روزنه لاسته راوړي، خو له درې پوستونو ډرایور، ټوپک لرونکي یا د وسایط قوماندان څخه یوازې یوه کې. د پایلې په حیث، که چیرې MSFV د هر دلیل لپاره د کاروونې یو غړی له لاسه ورکړي، وسایط ممکن د خپل بشپړ پوټانسیل (قوت) کار ونکړي تر دې چې بیا دغه غړي ځای ناستی راوړل شي. ایتلافي مشاورینو په نښه کړي چې د کاروونې غړو ځای پر ځای کول په نورمال توګه د ساحې واحدونو څخه سرته رسي او ځواک ته پرته د MSFV کوم ډول تجربې څخه راځي. پداسې حال کې چې کابل ته نږدې د MSF میشته لیواګانې او کنډکونه زره دار ښوونځي ته ځای ناستي لیږلی شي، له کابل بهر هغو ته دا لږ د عملي کیدو وړ دی. د کندهار 3 MSF ام کنډک کې ایتلافي مشاورینو په نښه کړي چې د بې تجربه ځای ناستیو لاسته راوړل په کنډک کې د ماموریت – ټیټې وړتیا میزان لري. د یوې پایلې په حیث، مشاورینو د مسلې په نښه کولو لپاره یو روزنیز پروګرام رامنځته کړی دی، مګر نور کنډکونه ورته پروګرام نلري.

په نهایت کې، د ANA لوژستیکي سیستمونو په کارولو سره د سپیرپارټ توضیع کې مشکلات د MSFVs تحکیم لپاره د ANA وړتیا په اړه اندیښنې راپورته کوي. د ACC-WRN سره د دې د تړون د برخې په توګه، ټیکسټرون د MSFV سپیرپارټ افغانستان ته د رارسیدو سره ترتیب او انبار کوي مخکې لدې چې ANA ته ولیږدول شي. ټیکسټرون د ANA سره د MSF لیواګانو ته د پرزو یا پارټ لیږلو کې مرسته کوي، کوم چې بیا په خپل وار سره مسؤل

دي چې دغه پرزې اړوند کنډکونو ته توضیح کړي. په افغانستان کې د ایتلاف پرسونل مداوم
کمښت پدې معنی دی چې نه خو به ایتلافي ځواکونه او نه هم ټیکسټرون سرچینې ولري
چې MSF ته د لوژستیکي خدماتو ملاتړ چمتو کولو ته دوام ورکړي چې تر نن نیټې پورې
پرې تکیه کړې. پرځای یې MSF به د سپیرپارټ غوښتلو او لاته راوړو لپاره د ANA لوژستیکي
سیستم باندې تکیه وکړي، د کوم په اړه چې سیګار او نور څارګرو ادارو مخکې راپور ورکړی
و چې تشې لري. د مثال په توګه، سیګار د 2013 په اکتوبر کې د وسایطو سپیرپارټ اداره کولو
لپاره د ANA محدودې وړتیا راپور ورکړی و.

د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې ټیکسټرون په مناسب ډول د MSFV قراردادونو پلې
کول ملاتړ کړي او دا چې د قرارداد مناسب څار سرته رسیدلی، سیګار وړاندیز کوي چې
د ACC-WRN اجرایوي رییس په ګډه د ایساف ګډې قوماندې قوماندان سره، (1) د MSF
لیواګانو او کنډکونو کې د قراردادي ملاتړ لپاره اړتیاو بیاکتنه وکړي، د شته امنیتي ملاتړ
کچې په پام کې نیولو سره، او د څار لپاره په واقعیت ولاړو وړتیاو انعکاس ته قرارداد
اصلاح کړي، او وټاکي چې د ساتنې او روزنې سم څار پرمخ وړو لپاره کومو کړنو ته اړتیا
لیدل کیږي؛ او (2) د څار مسؤلیتونه هغه حکومتي پرسونل ته وټاکي چې د ټیکسټرون
سره یوځای په لیواګانو او کنډکونو کې کار کوي او دوی باید د قرارداد کولو افسر نماینده
ته راپور ورکړي. د MSF عملیاتو اوږدمهال ثبات د ودې لپاره سیګار وړاندیز کوي چې د
NTM-A عمومي قومانده، (3) د ANA سره یوځای د زره دار ځانګې ښوونځي وروسته
عملیاتو روزنې لپاره کار وکړي.

د سیګار د سپارښتنو دریځ لپاره 40 پاڼه وګورئ.

## پدې ربعه کې نوې اعلان شوې پلټنې

پدې ربع کې سیګار یوه د فعالیت پلټنه پیل کړې چې دا به د DOD د افغان سیمه ایز پولیسو
پروګرام مؤثریت، ثبات او نظارت وارزوي.

**د کړنو نوې پلټنه**

- د DOD د افغان سیمه ایز پولیسو پروګرام

## د DOD د افغان سیمه ایز پولیسو پروګرام

دا پلټنه به د ځانګړي عملیاتو ګډ کاري ځواک – افغانستان (CJSOTF-A) د افغان سیمه
ایز پولیسو (ALP) پروګرام پلې کولو باندې تمرکز وکړي، کوم چې په کلیوالو سیمو کې د
سیمه ایز افغانانو روزلو په واسطه د سیمه ایزې حکومتدارۍ پیاوړې کولو لپاره نومول شوي
ترڅو دوی له خپلو ټولنو د ترهګرو او نور غیرقانوني وسله والو ډلو پروړاندې دفاع وکړي.
CJSOTF-A د ALP پروګرام پلان جوړولو او اجرا لپاره مسؤل دی، او ALP ته نظارت،
تدریس او روزنه چمتو کوي. ALP په 2010 کې رامنځته او د کورنیو چارو وزارت (MOI)
لاندې تنظیم شو، چې د 2014 مارچ پورې یې 24,647 ګمارل شوي افسران درلودل او تمه
کیږي چې د 2014 دسمبر پورې 30,000 افسرانو ته ورسي. ALP د ASFF له لارې تمویل
کیږي، او د 2014 مارچ پورې، DOD ورته 196 ملیون ډالر منلي او مصرف کړي. DOD اټکل
کوي چې کله د ALP شمیر 30,000 افسرانو ته ورسیږي نو د ALP پروګرام ثبات به په کال
کې 121 ملیون ډالر لګښت ولري.

په ځانګړي ډول د دې پلټنې په ترڅ کې، سیګار پلان لري چې (1) هغه کچه وټاکي ترکومې
چې ALP خپل اهداف ترلاسه کوي، (2) د MOI د نغدي سرچینو اداره کولو ظرفیت وارزوي

او د ALP افسرانو ته خپرول يې وڅاري، او (3) وپېژني چې CJSOTF-A او MOI د 2014 څخه وروسته د ALP پروګرام نظارت او ثبات څنګه پلان کړی، کله چې د متحده ایالاتو ځواکونو شمیر به کم کړی شي.

## مالي پلټنې

سیګار په 2012 کې د مالي پلټنو پروګرام وروسته لدې پیل کړ کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او نغدو پیسو چې د بهرنیو عملیاتو ملاتړ لپاره ورکول کېږي د نظارت د واټونو او د تحمیل شوي لګښتونو پلټنې په اړه اندیښنه وښودله. سیګار په سیالی کې د محاسبې خپلواک شرکتونه غوره کړي ترڅو مالي پلټنې ترسره کړي او دا وګوري چې د پلټنې کار د امریکا حکومت ستندردونو په اساس ترسره شوي. مالي پلټنې د عمومي پلټونکي له ټولنې همغږې کېږي ترڅو د مالي پلټنو پوښښ زیات شي او دوه ځلي کار مخنیوی وشي.

پدې ربع کې، سیګار د افغانستان بیاودانولو ته د متحده ایالاتو تمویل شوي قراردادونو درې مالي پلټنې سرته ورسولې. د سیګار مالي پلټنو پروګرام د څه دبره 2.2 ملیارد ډالرو په پلټنیز لګښت ټولټال 25 مالي پلټنې بشپړې کړي او د پلټنیز لګښتونو له 3.6 ملیارد ډالرو څخه په ډېر ارزښت 40 نورې رواني مالي پلټنې لري، لکه څنګه چې په جدول 2.1 کې ښودل شوی. دا پلټنې مرسته کوي چې د متحده ایالاتو حکومت او مالیه ورکونکي مناسب ډاډ ترلاسه کړي چې دې ګمارنو باندې مصرف شوي بسپنې د نومول شوي هدف لپاره کارول شوي. پلټنې هغه مخارج ترپوښتنې لاندې راولي چې د بررسۍ کېدو نه وي یا په قوي توګه مجاز ونلري.

سیګار د هرې مالي پلټنې راپور هغه تمویل کونکي ادارې ته تکثیر کوي چې یاده ګمارنه (ګمارنې) يې کړې وي. تمویل کونکې اداره مسؤل ده چې د پلټنې موندنو راپور کې پیژندل شوي تر پوښتنې لاندې مقدارونو باندې نهایی پریکړه وکړي. د پروګرام له پیل راهیسې، سیګار مالي پلټنو نږدې 78 ملیون ډالر ترپوښتنې لاندې لګښتونو کې پیژندلي دي، لکه څنګه چې په جدول 2.2 کې ښودل شوي، او 191,638 ډالر په غیر ارجاعي ګټې کې د وده شوي فدرالي فنډونو باندې. کله چې تمویل کونکي اداره ټاکي چې ترپوښتنې لاندې مقدار غیرمجاز دی، نو نوموړې اداره يې د راټولولو لپاره یو بیل تکثیر کوي. ترنن نیټې پورې ادارو ترپوښتنې لاندې مقدارونو کې له 4.1 ملیون ډالرو څخه ډېرو بیرته لاسته راوړو ته د 14 بشپړ شوي پلټنو لپاره د راټولولو بیلونه تکثیر کړي. دا د تمویل کونکي ادارو لپاره وخت ته اړتیا لري چې په پام سره د پلټنې موندنې ملاحظه کړي، نو د سیګار خپرو شویو ډېری مالي پلټنو لپاره د نهایی پریکړو کول لا پاتې دی. د سیګار مالي پلټنو پلټل کېدونکو او تمویل کونکو ادارو ته هم 109 د اجابت موندنې او 117 د داخلي کنټرول موندنې پیژندلي او خبرې يې پرې کړي.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- پدې د اند بیانول چې ایا د ګمارنې لپاره د ځانګړي هدف مالي بیان په منصفانه ډول وړاندې کېږي، د ټولو موادو په پام کې نیولو سره، لاسته راغلي عواید، پیښ شوي لګښتونه، د متحده ایالاتو حکومت لخوا غیرمستقیم پیرودل شوي توکي، او د ګمارنې شرایطو سره په مطابقت کې د پلټل شوي دورې لپاره بیلانس او د محاسبې عموما منل شوي اصول یا د محاسبې نور جامع اساسات.

جدول 2.1

| **د سیګار د مالي پلټنې پوښښ** (په میلیارد ډالر) | |
|---|---|
| 25 بشپړې شوې پلټنې | $2.2 |
| 40 رواني پلټنې | 3.6 |
| **ټولټال** | **$5.8** |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې. په پوښښ کې هغه د پلټنې ور مصارف شامل دي چې په افغانستان کې د امریکا د بیارغونیزو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقو له لارې مصرف شوي دي.

سرچینه: د سیګار پلټنو ریاست.

**تر پوښتنې لاندې مقدارونه:** په وده شوي فدرالي فنډونو کې د احتمالا غیرمجاز ترپوښتنې لاندې لګښتونو او نالیرل شوي ګټو مجموعه.

**ترپوښتنې لاندې لګښتونه:** هغه لګښتونه چې غیرمجاز بېژندل شوی. د تر پوښتنې لاندې لګښتونو دوه ډولونه د نه منلو وړ لګښتونه (د قانون، مقرراتو، قرارداد، مرستې، همغږې تړون رغړونه وغیره یا د فنډونو غیر لازم او نامناسب مصرف او ناملاتړ شوي لګښتونه (هغه چې د مناسب اسنادو په واسطه نه ملاتړ کېږي یا د پلټنې پرمهال سم تصدیقونه) دي.

**د راټولول لپاره بیل:** یوه پوروړي ته د ټاکلي مقدار لپاره د لیک یا فارم لیرل، پشمول د ګټې، اداري لګښتونو، او ځنډ جریمې که د پلې کېدو وړ وي.

**د ځانګړي هدف مالي بیان:** یو مالي بیان چې لاسته راوړل شوي ټول عواید، پیښ شوي لګښتونه، او کوم ډول پاتې بیلانس پکې د ورکړل شوي مودې په جریان کې د ورکړل شوي ګمارنې لپاره شامل وی.

- تر پلټنې لاندې بنسټ د قرارداد په اړه د کورنیو کنټرولونو ارزونه ترسره شي او په پوره توګه پوهه ترلاسه شي؛ د کنټرول خطر ارزونه وشي؛ د مهمو نیمګړتیاوو په اړه پشمول د موادو کورني کنټرول نیمګړتیاوي وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- آزموینې ترسره شي ترڅو دا وکتل شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ د موادو په اساس، د قرارداد اړتیاوو او اړوندو قوانینو او مقرراتو اطاعت کړی؛ او د قرارداد له شرطونو او اړوندو قوانینو او مقرراتو سره د موادو نه اطاعت وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- وکتل شي او راپور ورکړ شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ په مناسبه توګه د سمون ګامونه اخیستې ترڅو د تیرو کاروونو موندنو او سپارښتنو لپاره د حل لار پیدا شي.

د دې دریو میاشتنی راپور په ج ضمیمه کې د بشپړ شوي، نوي، او روانو مالي پلټنو لست موندلی شی.

جدول 2.2

**د سیګار مالي پلټنو کې تر پوښتنې لاندې راوستل شوي مجموعي لګښتونه** (ملیون ډالر)

| ډول | |
|---|---|
| د نه منلو وړ | $14.2 |
| ناملاتړ شوي | 63.4 |
| **ټولټال** | **$77.6** |

یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

سرچینه: د سیګار پلټنو ریاست.

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-74-FA: د USAID د افغانستان کوچني – او منځني کچې شرکت پراختیا پروګرام او د افغانستان د ثبات نوښت پروګرام: د پراختیا الټرناټیوز شرکت په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه
- مالي پلټنه 14-75-FA: د USAID د کرهنې استحکام ګړندی کړی پروګرام او د افغانستان د ثبات نوښت: د شیمونیک انټرنیشنل په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه
- مالي پلټنه 14-76-FA: د USAID د افغانستان د قانون حاکمیت ثبات – رسمي برخه: د تیترا ټیک DPK په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه

## مالي پلټنې خپرې شوي

پدې ربع کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا لخوا تمویل شویو د دریو اړخیزو موافقو دوي مالي پلټنې بشپړې کړې. دې مالي پلټنو څه دبره 2.5 ملیون ډالر د داخلي کنټرول عیبونو او ناتاجبت مسلو د پایلې په توګه، تریوښتنې لاندې لګښتونو کې وپیژندل. پدې عیبونو او د نافرمانۍ مسألو کې د نورو شیانو ترمنځ دا شامل و: د سپالیز داوطلبۍ طرزالعملونو په تعقیب کې پاتې راتلل، د لګښتونو ناسم ټاکل، د ملاتړې اسنادو نه شتون، د قراردادي عمومي لیدر بیلانس او بیلابیل ملاتړې اسنادو ترمنځ ناشرح شوي اختلافات، او د پلورونکي – تعلیق او مخنیوی کتنو په لاره اچولو کې پاتې راتلل.

### مالي پلټنه 14-74-FA: د USAID د افغانستان کوچني – او منځني کچې شرکت پراختیا پروګرام او د افغانستان د ثبات نوښت پروګرام: د پراختیا الټرناټیوز شرکت په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه

USAID د پراختیا الټرناټیوز شرکت سره قراردادونه وکړل. د USAID د دوه پروګرامونو ملاتړ ته (DAI) د افغانستان کوچني – او منځني کچې شرکت پراختیا (ASMED) پروګرام او د افغانستان د ثبات نوښت (ASI). ASMED د دې لپاره ډیزاین شوی و چې د سیمه ایز سوداګرۍ زیربنا د پراختیا ملاتړ په توګه د دا ډول فعالیتونو تمویل په واسطه په افغانستان کې د سوداګرۍ رامنځته کولو او پرمخ وړو ته غیر حکومتي موانع لرې کړي. ASI د دې لپاره ډیزاین شوی و چې د ټولنې – پرمختګ کوچني پروژو له لارې د ټولنو او افغان حکومت ترمنځ باور رامنځته کړي. د سیګار پلټنې د ASMED لپاره له 2006 د اکتوبر 26 څخه د 2012 نومبر 30 پورې دوره او 113,387,067 ډالر مخارج او د ASI لپاره له 2011 نومبر 1 څخه تر د 2012 د سپتمبر 25 پورې دوره او 31,269,391 ډالر مخارج پوښلي.

کیرني او شرکت .P.C (کیرني) مالي راپور ورکوونې برخه کې د DAI داخلي کنټرول دوه مهم ضعفونه پیژندلي او د ګمارنې شرایطو او پلي شوي قوانینو او مقرراتو سره د DAI پنځه مورد غیر اجابت. ضعفونو او نااجابتۍ دا پایله درلوده چې کیرني 455,883 ډالر په ناملاتړ شوي لګښتنو کې تر پوښتنې لاندې راولي. کیرني د نه منلو وړ کوم لګښتونه ندي پیژندلي.

د پلټنې ورکړل شوي پایلو سره، سیګار وړاندیز کوي چې د افغانستان لپاره د USAID ماموریت رییس او د لیږد نوښتونو دفتر سرپرست رییس په ګډه کار وکړي ترڅو:

- په راپور کې پیژندل شوي غیرملاتړي لګښتونو 455,883 ډالرو د جاوز وړتیا وټاکي او که مناسب وي بیرته یې لاسته راوړي.
- DAI ته مشوره ورکړي چې د راپور دوه داخلي کنټرول موندنې په نښه کړي.
- DAI ته مشوره ورکړي چې د راپور پنځه د غیراجابت موندنې په نښه کړي.

## مالي پلټنه 14-75-FA: د USAID د کرهنې استحکام ګړندی کړی پروګرام او د افغانستان د ثبات نوښت: د شیمونیک انټرنیشنل په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه

USAID شیمونیک انټرنیشنل ته یو قرارداد ورکړ. (شیمونیک) د کرهنې استحکام ګړندی شوي پروګرام (ASAP) پلي کول. نوموړی پروګرام غوښتل چې کلیوال افغانانو لپاره په کرهنه کې اقتصادي فرصتونه برابر کړي. USAID د افغانستان ثبات نوښت (ASI) ملاتړ لپاره هم شیمونیک ته یو قرارداد ورکړ ترڅو د ټولنې – پرمختګ کوچني پروژو له لارې د ټولنو او افغان حکومت ترمنځ باور او اعتماد رامنځته کړی. د سیګار پلټنې د ASAP لپاره له 2006 د نومبر 22 څخه د 2011 اکتوبر 30 پورې دوره او 132,818,195 ډالر مخارج او د ASI لپاره له 2009 جون 26 څخه تر د 2012 د جون 25 پورې دوره او 119,549,834 ډالر مخارج پوښلي او د کیرني په واسطه سرته رسیدلې.

کیرني د داخلي کنټرول درې ضعفونه او د ګمارنې شرایطو او پلي شوي قوانینو او مقرراتو سره د شیمونیک پنځه مورد غیر اجابت پیژندلي. د داخلي کنټرول دې ضعفونو او د غیراجابت پایلې دا وې چې کیرني 2,032,485 ډالر لګښتونه تر پوښتنې لاندې راولي، پشمول د 2,032,312 ډالر په غیرملاتړ شوي لګښتونو کې او 173 ډالر په غیرمجاز لګښتونو کې.

د پلټنې د پایلو په اساس، سیګار سپارښته کوي چې په افغانستان کې د USAID ماموریت رییس:

- د 2,032,485 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- شیمونیک ته مشوره ورکړي چې د راپور درې داخلي کنټرول موندنې په نښه کړي.
- شیمونیک ته مشوره ورکړي چې د راپور پنځه د غیراجابت موندنې په نښه کړي.




**د ASAP USAID پروګرام** افغانستان ته د دې لومړي دریځ میو هنري پروسس کولو اسانتیا ورکړې. الي پلټنه 14-75-FA وګورئ. (د USAID تصویر)

### مالي پلټنه 14-76-FA: د USAID د افغانستان د قانون حاکمیت ثبات – رسمي برخه: د تیترا ټیک DPK په واسطه پیښ شوي لګښت پلټنه

د 2010 د می په 19، USAID تیترا ټیک DPK (Tt DPK) ته د قانون حاکمیت ثبات پروګرام – رسمي برخې (RLS-F) پلي کولو لپاره کاري امر صادر کړ. RLS-F غوښتل چې د رسمي قضایی سیکتور ظرفیت رامنځته کړي اساسا د قضا او حقوقو ښوونځي او د عامه قانون پوهې راپورته کولو او د افغانستان ښاریانو هڅول ترڅو خپلې شخړې د افغان حکومت قضایی سیستم له لارې د دوی حقونو ته لاسرسي په واسطه حل کړي. د سیګار پلټنې د RLS-F کاري امر له 2010 د می 19 څخه تر 2012 د جولای 15 پورې 30,619,409 ډالرو مخارج بیاکتلي.

کروی هارویت (Crowe Horwath) LLP په RLS-F کې دخیل د Tt DPK په واسطه پیښ شوي لګښتونو خپلې پلټنې کې دوه د داخلي کنټرول ضعفونه او دوه د غیراجابت موارد پیژندلي. د دغه ضعفونو او غیراجابتي مواردو پایلې په حیث، چې دوه موندنو کې ګډ و، کروی هارویت د فرعي قراردادي غیرمستقیم لګښت تاریخ تیر نرخونو کارولو پورې تړلي غیر مجاز لګښتونو کې 39,327 ډالر ترپوښتنې لاندې راوستل. غیرمجاز لګښتونه ترپوښتنې لاندې لګښتونه دي ځکه چې دا د قرارداد، نافذ قوانینو یا مقرراتو په واسطه منع کړی شوي وی.

د پلټنې د پایلو په اساس، سیګار سپارښته کوي چې په افغانستان کې د USAID ماموریت رییس:

- د39,327 ډالرو په اړه چې په راپور کې غیرمجاز ګڼل شوي پریکړه او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
- له Tt DPK څخه د ورکړې وړ 50,449 ډالر بیرته USAID ته ورټولول.
- Tt DPK ته مشوره ورکړي چې د راپور دوه داخلي کنټرول موندنې په نښه کړي.
- Tt DPK ته مشوره ورکړي چې د راپور دوه د غیراجابت موندنې په نښه کړي.

## تفتیشونه

سیګار پدې ربعه کې د تفتیشاتو درې راپورونه خپاره کړل. یوه راپور د تفتیش خبرتیا یو لیک تعقیب کړی چې سیګار د بغلان ولایت محبس ودانۍ په اړه په تیره ربع کې لیکلی و، او مشخص یې کړه چې د 11.3 ملیون ډالرو په ارزښت نوموړې ودانۍ د ډېر تخریب له امله پراخه ترمیمي کړنو ته اړتیا لری. دوهم تفتیش مشخص کړي چې د USFOR-A کارول شوي کورې په شین ډنډ هوایی ډګر کې جوړې او په درستۍ سره لیږدول شوې وې، مګر میخانیکي مسایل د دظ لامل شو چې دغه کورې په ډېر ټیټ ظرفیت کار وکړي، چې دا په سرخلاصي ژورو کې د ضایعاتو سوزیدو لامل شو. دریم تفتیش موندلي چې په ګرشک کې د سرې او وچې ذخیرې خونې د ودانولو کیفیت ښه بریښي، خو دا چې نوموړې خونه ترنن نیټې نده کارول شوې.

## بشپړ شوې تفتيشونه

- تفتيش 14-62-IP: د بغلان محبس: د 11.3 مليون ډالرو په ارزښت ودانۍ سخت تخريب شوی حالت پراخه ترميمي عمل ته اړتيا لري
- تفتيش 14-81-IP: د شين ډنډ هوايي ډګر: په سرخلاصي ژور ځاينو کې د سوزولو کار د دفاع وزارت مقرراتو څخه سرغړونه ده
- تفتيش 14-82-IP: د ګرشک سړه او وچه ذخيره ای خونه: داسې بريښي چې د ودانولو کيفيت يې ښه وي، مګر نوموړې ودانۍ تر نن نيټې پورې نده کارول شوې

## د تفتيشاتو راپورونه خپاره شول

### تفتيش 14-62-IP: د بغلان محبس

**د 11.3مليون ډالرو په ارزښت ودانۍ ډېر تخريب په پراخه کچه ترميمي کړنو ته اړتيا لري**

د 2010 د سپتمبر په 28 د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال ترياکو او قانون پلي کولو بيورو (INL) عمران هولډينګ ګروپ (OHG)، يوه افغاني شرکت ته يو قرارداد ورکړ چې د 495 – زندانيانو ظرفيت يو محبس په بغلان ولايت کې جوړ کړي. OHG د بغلان محبس ودانول د 2012 د نومبر په 8 بشپړ کړل. د دې تفتيش لپاره، سيګار د (1) INL د ودانولو مديريت او څار ارزولی، او (2) دا يې ارزولي چې ايا نوموړې ودانۍ لکه څنګه چې نومول شوې وه کارول شوې او ساتل شوې ده.

وروسته لدې چې د بغلان محبس ودانول بشپړ شو، د ودانۍ ناسته د جدي جوړښتي تخريب لامل شوه په شمول د پراخه درزونو په درې تعميرونو کې. د پايلې په توګه يې يو تعمير راولويد. دوه نور تعميرونه يې هم د راوليدو په حال کې ديوالونه او کريک شوي جوړښتي بيمونه او ستنې لري، او ممکن له سره جوړيدو ته اړتيا ولري. INL او قراردادي يې OHG چې يو افغانی شرکت دی، د ودانۍ د کښيناستو علت باندې موافق ندي او د تعميرونو ترميم او دغه ترميمونو د لګښت مسؤليت د OHG په غاړه اخيستو په اړه مزاکرات کې پاتې دی.

پدې سره، دواړه خواوې موافق دي چې OHG د قرارداد ټولې اړتياوې په بشپړ ډول ندي پوره کړي. د مثال په توګه، OHG ونشو کولی چې د خوړونو اوبو د مديريت اړين سيستم جوړ کړي او د ټيټې درجې نلدوانۍ توکي يې کاروي چې د INL لخوا منع کړی شوي و. OHG د خپلو بيل شوي رسيدونو څخه د 10% کمولو کې هم پاتې راغی چې د قرارداد په واسطه اړتيا په توګه تضميني فنډ رامنځته کړي. دا د 807,254 ډالرو کمښت لامل شو چې بايد د قرارداد لانجې په پيښه کې د INL خونديتوب لپاره ساتل شوې وی.

د ودانولو ډېری نواقص ممکن د پروژې اصلي COR په واسطه له درغلۍ ډکو کړنو پايله وي د سفارت يو مځکينی کارمند — او د امکان تر حد پورې د OHG پرسونل. سيګار دا مهال يوه ابتدايي ګرويګنه پرمخ وړي ترڅو مشخص کړي چې ايا د OHG يا سفارت کوم چارواکي پدې ويل شوي فعاليتونو کې شريک و. په 2013 کې، د قرارداد کولو افسر او INL يو نوی COR او مشر انجينر د بغلان محبس لپاره وګمارل. INL په ساحه کې د ستونزو سمولو لپاره هم ګامونه پورته کړل، لکه د خوړونو د اوبو له لاسه تللي مديريت سيستم. دا مثبت ګامونه دي، مګر سيګار اوس هم د ناپيژندل شوي ودانيز نقص په اړه اندېښمن دی، چې د جوړښتونو د ستنو ملاتړ ترمنځ د غيرتحکميي خښتو ديوالونو کاروونه ده چې دا په قرارداد کې ويل شوي د نړيوال ودانۍ کوډ (IBC) معيارونو څخه سرغړونه ده. د امريکا کانکريټو انستيټيوټ منولونه، چې د IBC لخوا ماخذ شوي، په مرتعش زون کې د غير تحکيمي ديوالونو جوړولو اجازه نه ورکوي، چيرې چې د دا ډول ديوالونو راوليدو امکان وی. د متحده ايالاتو د جيولوژيکي سروی معلوماتو په وينا، د بغلان محبس د افغانستان په کچه دوهم لوړ د زلزلې خطر سره مخ زون کې موقعيت لري.

په اپريل کې، سيګار د بهرنيو چارو وزير او افغانستان ته د متحده ايالاتو سفير لدې ستونزې خبر کړل او وړانديز يې وکړ چې INL په بغلان کې دغه جوړښتونه بيرته د ستيل – تحکيم بنا



**ودانۍ 17،** د بغلان محبس درې ترټولو جدي زيانمن شوي جوړښتونو څخه يوه د خونديتوب اندېښنو له امله تخريب کړی شوه. د تفتيش راپور IP-62-14 وګورئ. (د INL تصوير)

سره جوړ کړي. په ځواب کې، INL عکسونه وړاندې کړل چې ويل يې دا ښيې چې نوموړې ودانۍ د تحکيمي بنا په کارولو سره جوړې شوي. په مقابل کې، دغه عکسونه ښيې چې په بغلان کې کانکريټي ستنې سمې نوې جوړې شوي او، لدې علاوه د تخريب ميتود يې خوندي نه و. په ستنو کې د کانکريټ ځای پرځای کولو لپاره کارول شوي ميتودونه او مواد په کانکريټ

کې د تشو لامل شوي چې دا تحکيمي سټيل يا سيخان رابرسيره کوي، چې دا په جدي توګه د ستنې کلکوالي کې سازش کوي. پردې علاوه، د ودانۍ درونډ کانکريټي بام پرځای پاتې و، پداسې حال کې چې د خښتو ديوالونو هغه برخې چې د بام ملاتړ کې مرسته کوي حذف شوې وې. INL سيګار خبر کړ چې نيت يې کړی په بغلان کې دغه جوړښتونه د اصلي ډيزاين ځانګړتياو سره په مطابقت کې له سره جوړې کړي. په هرصورت، د سيګار په اند، د بغلان محبس بياجوړولو کې د تحکيمي بنا کارولو ته د INL ظاهري مقاومت دواړه زندانيانو او د کارګرو خونديتوب خطر سره مخ کوي. د پراخه جوړښتي تخريب سربيره، محبس کارول کيږي.

علاوه لدې، دغه محبس چې په اصل کې د 495 زندانيانو لپاره ډيزاين شوی و، پکې ډير نفوس ځای پرځای شوی، چې د INL يوه اوسني راپور له مخې 777 نفر پکې دي. محبس د ساتنې دوه لوی ستونزو سره هم مخ دی، چې دواړه INL او د قراردادي چارواکي يې د افغان حکومت ضعيف او غيرموجود ساتنې ته نسبت ورکوي. لومړی، دواړه ډزلي جنراتورونه چې د دې لپاره وو چې د محبس د بريښنا انحصاري سرچينه وي، کار نه کوي. د پايلې په حيث يې زندان د خوړا کوچني ظرفيت جنراتور څخه بريښنا اخلي چې د نړيوال سره صليب مرستې سره د 2012 په جولای کې پيرودل شوی و. دوهم، د زندان فاضلاب (چټلو اوبو) سيستم له خاورو سره بند شوي. INL کار کوي چې دا ستونزې د هيواد په کچه محبس کاروونې او ساتنې پروګرام د فنډ لپاره مرستې په واسطه په ګوته کړي چې دا به د بغلان محبس پشمول ټوله سيمه کې د ودانيو لپاره د بريښناکارکونکو، نلدوانانو، ګل کارانو، رنګمالانو، او نجارانو ګرځنده د ساتنې ټيمونه وروزي.

ترڅو د زنداني خونديتوب او امنيت ډاډمن شي او د دې ډاډ لاسته راوړل چې د متحده ايالاتو حکومت د دې د قرارداد ډالرو لپاره ترټولو لوی ارزښت لاسته راوړي، سيګار وړانديز کوي چې د بهرنيو چارو وزير INL ته لارښود وکړي چې (1) OHG ته د رسيد لګښتونو کې ورکړل شوي 807,254 ډالر بيرته جبران کړي چې د قرارداد لانجې په صورت کې بايد د INL ساتنې په تړاو ګرځول شوي وی، (2) دا اړتيا چې د بغلان محبس کې هردول بياودانول د سټيل تحکيمي بنا ديوالونو په پام کې نيولو سره د IBC او امريکا کانکريټ انستيټيوټ اړتياوې پوره کړي، (3) د قرارداد لاندې جوړ شوي نور تعميرونو جوړښتي کفايت وټاکي او د نامناسب موندل شوي جوړښتونو ترميم يا بدلون لپاره کار وکړي، او (4) له قراردادي وغواړي چې د INL منل شوی تخريب خوندي پلان تعقيب کړي.

## تفتيش 14-81-IP: د شين ډنډ هوايي ډګر

### د سرخلاصي ژورو سون ځايونه د دفاع وزارت اړتيا څخه سرغړونه ده

د 2011 په مې کې، USACE د 4.4 مليون ډالرو يو قرارداد ورکړ چې د جامد فضلاتو مديريت اسانتياوې جوې کړي، پشمول دوه کورو (تنرونو) په شين ډنډ کې، په غربي افغانستان کې د هرات په ولايت کې ميشته د ايتلافي ځواکونو يو مرکز چې شاوخوا 4,000 د متحده ايالاتو او افغان اردو پرسونل او قراردادیان پکې ميشته دي. د قرارداد د ورکولو په وخت کې، شين ډنډ هوايي ډګر د خپلو جامد فضلاتو د دفع لپاره سرخلاصي سون ځايونه کارول. د USFOR-A کارول شوي دوه کورو سربيره، د 2009 په سپتمبر کې، USACE د 11 مليون ډالرو په ارزښت افغان اردو لخوا د استعمال لپاره په بيلابيل بيسونو کې د کورو قرارداد ورکړ. د شين ډنډ هوايي ډګر لدې افغان کارول شوي کورو څخه دوه درلودې، کومې چې افغان اردو ته د 2012 په اګست کې چمتو شوې وې او لګښت يې شاوخوا 755,000 ډالر و.

د دې تفتيش لپاره، سيګار ارزوي چې ايا (1) د کورو جوړول د قرارداد اړتياو او د جوړلو نافذ معيارونو سره په مطابقت کې بشپړ شوي، (2) کورې او ملاتړي ودانۍ د نومول شوي کار لپاره کارول کيدې او ساتل کيدې، او (3) دا چې د جامد فضلاتو د دفع لپاره د سرخلاصي سون ځای کاروونه د پلي کيدو وړ اړتياو سره مطابقت لري.

سيګار موندلي چې د USFOR-A کارول شوي دوه کورې په شين ډنډ هوايي ډګر کې عموما د قرارداد ځانګړتياو سره په مطابقت کې جوړې شوې او بيس ته د کاريدو وړ وضعيت سره د 2012 په جون کې ليږدول شوي وې. نور، د متحده ايالاتو فنډ ورکړل شوي دوه کورې د 2012 په اګست کې افغان اردو د کاريدو په تړاو پرته له کوم پام وړ ستونزې ليږدول شوي.

په هرصورت، د USFOR-A په 2012 دسمبر کې بشپړ شوي راپور موندلي چې د USFOR-A کارول شوي کورې د ميخانيکي ستونزو له کبله په خورا ټيټ ظرفيت کې کارول کيږي او دا چې د متحده ايالاتو يوازې 35% جامد فضولات دلته سوزول کيده او پاتې برخه يې افغان سرخلاصي سون ځای کې سوځول کيدل. پداسې حال کې چې دا کورې د 2013 په جنورۍ کې د تضمين لاندې ترميم شوې، د دې ترميم وروسته هم د متحده ايالاتو توليد شوي جامد فضلات افغان سرخلاصي سون ځای ته ليږدول کيدل. USFOR-A د دغه کورو د بشپړ

کاروونې وړ کيدو وروسته هم د افغان کاريدونکي سرخلاصي سون ځای کارولو دوام لپاره تاييد نه وړاندې کوي. اضافتا، د USFOR-A د 2013 می يوې ارزونې مونډلي چې افغان کارول کيدونکې کورې د کارول کيدو وړ وضعيت کې وې او افغانان ورته روزل شوي و او د دوی د کورو کارولو لپاره يې درست تجهيزات درلودل؛ په هرصورت افغانان دغه نه کاروي ځکه چې سرخلاص سون ځای کارول لدې ارزان پريوځي.

د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې (CENTCOM) اړتياو سره چې سر خلاصي سون ځای کاروونې لپاره بديل وموندل شي، USFOR-A تر د 2013 د جون پورې خپل جامد فضلات سرخلاصي سون ځای ته ليږل، او افغان اردو د USFOR-A فضلاتو دفع لپاره د 2013 تر اکتوبر پورې د سون ځاينو کارولو ته دوام ورکړ. په 2011 او 2012 کې خپرې شوي د چاپيريال سروی ګانو ښودلي چې جامد فضلات لکه بيټرۍ او پلاستيکونه ته د "پوښلي فضلات" په حيث رجوع کيږي، او په سرخلاصي سون ځای کې يې دفع کول منع دي چې دا د شين ډنډ سرخلاصي سون ځای ته ليږدول شوي. علاوه لدې، د 2010 مالي کال لپاره د NDAA په تعقيب، د سرخلاصي سون ځای کارول منع دي غير لدې که د دفاع وزير وټاکي چې د دفع هيڅ بل ميتود د عملي کيدو وړ ندی. د دفاع وزير هم اړ دی چې د دا ډول پريکړې څخه کانګريس خبر کړي. د شواهدو شتون سربيره چې په شين ډنډ هوايی ډګر کې پوښلي فضلات سرخلاصي سون ځای کې دفع شوي، نه CENTCOM او نه هم USFOR-A د دې فضلاتو د دفع لپاره د سون ځای کارول تاييد کړي، نه يې دي مشخص کړي چې د سون ځآی کارولو بديل شتون نلري، يا اړينه کانګريسي خبرتيا يې کړي وي.



د شين ډنډ هوای ډګر کې د جامد فضلاتو دفع کولو لپاره **سرخلاصی سون ځای** کارول شوی.
د تفتيش راپور IP-81-14 وګورئ. (د جان ډيټينګر لخوا د سيګار تصوير)

سیګار وړاندیز کړی چې د CENTCOM قوماندان د CENTCOM اړوند واحدونو ته لارښود وکړي چې پوښتنې پرمخ ویسي او سیګار ته په 90 ورځو کې راپور ورکړي له (1) مشخص کړي چې ولې د متحده ایالاتو اردو په شین ډنډ هوایی ډګر کې جامد فضلات د پنځه میاشتو راهیسې وروسته لدې هم سرخلاصي سون ځای ته لیږي چې د USFOR-A کورې په بشپړ ډول د کاریدو وړ شوي او (2) مشخص کړي چې ولې منع کړی شوي "پوښلي" فضلات له 2011 جنوري راهیسې په شین ډنډ هوای ډګر سرخلاصي سون ځای کې سوزول کیږي، او ولې DOD د 2010 NDAA د 317 فصل په اساس کانګریس لدې ندی خبر کړی.

د دې پوښتنو برخې په حیث، CENTCOM باید مشخص کړي چې کوم چارواکي د متحده ایالاتو ځواکونو لخوا تولید شوي جامد فضلاتو په سرخلاصي سون ځای کې سوزولو پریکړې لپاره مسؤل دي حتی وروسته لدې چې کورې په بشپړ ډول د کاریدو وړ شوې او کانګریس یې د قانون اړتیا او DODI 4715.19 سره سم لدې ندی خبر کړی. CENTCOM دا هم باید وپیژني چې د دغه چارواکو د مسؤل ګرځولو لپاره کوم ګامونه به واخیستل شي.

## تفتیش IP-82-14: د ګرشک سړه او وچه ذخیره ای خونه

### داسې بریښي چې د ودانولو کیفیت یې ښه وي، مګر نوموړې ودانی تر نن نیټې پورې نده کارول شوې

په 2010 کې، د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په هلمند ولایت کې د ذخیره ای کاټن فابریکې ساحې جوړول تصویب کړل چې د افغان سوداګرۍ او صنایع وزارت (MOCI) ملکیت دی. پدغه ساحه کې، TFBSO پریکړه وکړه چې د 2.89 ملیون ډالرو په ارزښت د ګرشک سړه او وچه ذخیره ای خونه جوړه کړي پدې تکل چې دا په ولایت کې د کرهنیزې پراختیا لپاره وکارول شي. نوموړې پروژه به د سیمه ایز محصول ذخیره کولو لپاره جلا ساړه او وچ ذخیره ای ګودامونه جوړ کړي، د ترتیب او بسته بندۍ لپاره به یې ځای چمتو او د ټرکونو لپاره به د ټرانزیټ ټکي په حیث وکارول شي.

لدې چې په اصل کې مهالویش شوې وه د TFBSO کارونه د 2011 د سپمتر په 30 ودرول شي، TFBSO د جوړولو قرارداد د ورکولو لپاره مسؤلیت د متحده ایالاتو د اردو انجینرانو قل اردو (USACE) ته ورکړ او د پروژې د څار مسؤلیت یې د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک سیمه ایزې قوماندې – سویل لویدیز (RC-SW) ته ولیږداو. د 2011 د سپتمبر په 7، USACE د دغه ودانۍ ډیزاین، جوړولو او تجهیز قرارداد یوه افغاني شرکت ته ورکړ.

د TFBSO پیلي پلان د دوه سړو – ذخیرو ګودامونه د دوه وچو – ذخیرو ګودامونو لپاره د قرارداد اختیار و. په هرصورت، د محدود فنډ له امله، نهایی ډیزاین او سوړ – ذخیرې ګودام او یو وچ – ذخیرې ګودام ته بدل شو. په قرارداد کې د دوه جوړښتونو تخریب هم شامل و؛ د سړک پراختیاوې؛ په ساحه کې د عالي بریښنا تولید چمتو کول، د بریښنا د توضیع سیستم، او د اوبو نوی څاه؛ او له ساحې د ماینونو او ناچاودیدلي توکو پاکول. ودانول د 2013 په می کې بشپړ شول، او USACE بشپړ شوي ودانۍ تصدیق کړه. دغه وداني د 2013 په سپتمبر کې افغان حکومت ته ولیږدول شوه. بشپړه شوې ودانۍ شاوخوا 10,000 فټ مربع سړه ذخیره او 13,000 فټ مربع وچه ذخیره چمتو کوي.



په ګرېشک کې **یخه – ذخیره ای خونه** کې د شیلوېنګ او یخولو تجهیزات شامل کړی شوي. (د RC-SW تصویر) د تفتیش راپور 14-82-IP وګورئ.

د دې تفتیش لپاره، سیګار ارزولې چې ایا (1) د ودانولو چارې یې د قرارداد اړتیاو او پلې کیدو وړ ودانیز معیارونو سره په مطابقت کې بشپړې شوي، او (2) دغه ودانۍ لکه څنګه چې ټاکل شوې وه کارول کیږي او ساتل کیږي.

د امنیتي اندیښنو له امله، سیګار وړ نه و چې په ساحه کې موجود تفتیش سرته ورسوي او د همدې لپاره وړ نه و چې مشخص کړي ایا پروژې د قرارداد اړتیاوې په بشپړ ډول پوره کړي. د اداري چاروکو سره مرکو او د قرارداد او مدیریت اسنادو مکمل بیاکتنې پراساس، سیګار ټاکې چې د ګرشک سړه او وچه ذخیره ای خونه داسې بریښي چې ښه ودانه شوي وي. په هرصورت، نوموړې پروژه د قرارداد په واسطه بشپړیدو لپاره اړینې نیټې څخه 243 ورځې وروسته بشپړه شوې وه.

د قراردادي فعالیت د متحرک کولو لپاره، USACE قراردادي ته 26 لیکونه واستول، چې ډیری یې د قراردي فعالیت کې مهالویش او ځنډ په اړه اندیښنو بیانولو لپاره و. په یوځای کې، USACE د ډیفالټ لپاره د قرارداد پای ته رسول ملاحظه کړل، مګر پرځای یې د 223,317 ډالرو التزامي زیانونه وارزول ترڅو قراردادي باندې فشار وساتي چې پروژه بشپړه کړي. د USACE اسنادو په وینا، USACE وړ و چې د ودانولو چارو څار ته د پروژې برخې لپاره په ساحه کې د ځایی – ملي کیفیت اطمینان مفتش ولري. سربیره پردې، د USACE انجینرانو او کیفیت ډاډ پرسونل د ودانولو پرمهال له ساحې 23 لیدنې سرته رسولې.

که څه هم داسې بریښي چې ودانۍ ښه جوړه شوې وي، د 2014 په اپریل کې، د TFBSO، RC-SW، او MOCI چاروکو موږ ته وویل چې د ګرشک سړه او وچه ذخیره ای خونه هیڅ کله نده کارول شوې او محافظت یې نه کیده. TFBSO هغه څه لاسته ندي راوړي چې دې سیګار ته د پروژې کلیدي بریا ورته ویلې وه د یوې افغان سوداګرۍ په واسطه د ودانۍ کارول، محافظت او کنټرول. په هرصورت، ترهغې پورې قوي پانګوال نه وپیژندل شوی چې TFBSO دا پروژه تصویب او بیا USACE قرارداد ورکړ او، وروسته بیا پانګوال د ګرشک په ساحه خپلې سوداګرۍ پراخولو کې پاتې راغی. د TFBSO چاروکو موږ ته وویل چې ډیری نورو افغان پانګوالو پدې ودانۍ کې علاقه ښودله. په هرصورت، هیڅ کله نهایی تړون ته ندي رسیدلي. د TFBSO چاروکو په وینا، پانګوالو دوی ته ویلي چې د ملکیت اجاره کولو څخه مخکې د ولسوالۍ ولسوال له پانګوالو او د ودانولو قراردادي څخه د پیسو غوښتنه کوي. د MOCI چاروکي تاییدوي چې ودانۍ اوس هم نه کارول کیږي، مګر په نښه کړي یې دي چې په ودانۍ کې ځینې سوداګرۍ علاقه ښیې. بدبختانه، د 2014 د اپریل پورې، MOCI کومه داسې سوداګري په نښه کړې نده چې غواړي نوموړې ودانۍ اجاره کړي. د MOCI معین سیګار ته وویل چې وزارت د ودانۍ په اجاره ورکولو لپاره د خصوصي سیکتور پانګوالو لټون ته دوام ورکوي.

د TFBSO پانګوونې راتلونکي پروژو په بریا سره سوداګریز کولول لپاره د زده کړی شوي درس په حیث، سیګار وړاندیز کړی چې د پالیسۍ لپاره د دفاع سرپرست وزیر TFBSO ته لارښود وکړي چې ډاډ ترلاسه کړي مخکې لدې چې د هرډول راتلونکي پانګوونې پروژې تصویبوي، وړ پانګوال شتون لري چې علاقه لري د جوړو شویو ودانیو محافظت لپاره دغه

ملکیت په غاړه او مسؤلیت یې ومنې؛ یا د پانګوالو په نه شتون کې، MOCI غواړي او وړتیا یې لري چې دا ډول مسؤلیتونه پخپله په غاړه واخلي.

## د سیګار سپارښتنو دریځ

د 1978 عمومي پلټونکي قانون، له سیګار څخه غواړي ترڅو د خپلو سپارښتنو دریځ په اړه راپور ورکړي. پدې ربع کې، سیګار د پلټنې دوه راپورونو کې موجود اوه وړاندیزونه تړلي دي. لدې وړاندیزونو یو یې د غیرمجاز یا ناملاتړ شوي قرارداد لګښت په حیث د متحده ایالاتو حکومت لخوا ورکړل شوي 311,887 ډالرو بیرته لاسته راوړو پایله درلوده. (مالي پلټنه 14-34-FA)

د 2009 کال څخه د 2014 کال تر جون پورې، سیګار د 134 پلټنو، خبرداری لیکونو، او تفتیشاتو راپورونه خپاره کړي او د فنډ بیرته اخیستنې، د ادارو د څارنې د ودې، او د پروګرامونو د موثریت زیاتولو لپاره یې 420 سپارښتنې کړي دي. سیګار د دې وړاندیزونو نږدې 80% تړلي دي. عموماً د سپارښتنو تړل د سیګار په ارزونې دا معنی لري چې پلټل شوې اداره یا سپارښتنه تطبیق کړې یا یې په مناسبه توګه ستونزه حل کړې. په ځینو قضیو کې، یوه تړل شوې سپارښتنه د پلټنې په راتلونکو کارونه کې کتل کیږي.

د 1978 عمومي پلټونکي قانون، لکه څرنګه چې تعدیل شوی، دا غوښتنه هم کوي ترڅو سیګار د تیر راپور مهمو سپارښتنو په اړه راپور ورکړي چې په اړه یې د سمون ګامونه ندې اخیستل شوي. پدې ربع کې، سیګار پروړاندیزونو د ادارې فعالیتونو نظارت ته په 29 پلټنو او پنځه تفتیش راپورونو کې دوام ورکړ. لکه څنګه چې مخکې راپور ورکړل شوی، د وړاندیزونو سره یوه پلټنه باید تر 12 میاشتې دوام وکړي چیرې چې اداره اوس هم باید د سمون عمل پلان تولید کړي چې سیګار باور لري دا کار به پیژندل شوي ستونزه حل کړی. په هرصورت، د یوې ادارې جواب پدې وروستیو کې لاسته راغلی و او د سیګار په واسطه بیاکتل کیده. وړاندیز د پلټنې راپور 4-13 څخه دی، افغان ملي اردو: د وسایطو، جنراتورونو او بریښنا تولیدونکو لپاره سون توکو باندې کنټرول پیاوړتیا ته اړتیا لري ترڅو له درغلی، ضیاع او اختلاس مخیوی وشي. د 2013 په جنوري کې خپور شوی، راپور د ANP وسایطو لپاره د پطرولو، تیلو او غوړ لپاره د غوښتنې، لاسته راوړو او ورکړې پروسه ترپوښتنې لاندې راوستې. اضافتا، څلور د پلټنې له 12 میاشتو زاړه راپورونه شتون لري چیرې چې سیګار اړوند ادارو ته انتظار باسي د دوی موافق شوي سمون کړنې بشپړې کړي.

سیګار پدې وروستیو کې په دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID کې د ادارې ریزولوشن پروسې پلټنې پیل کړي. دا پلټنې پدغه ادارو کې سرته رسیدونکي پلټنې ریزولیشن لپاره د دریځ او څار پروسه ازموي. پدې ربع کې، سیګار د بهرنیو چارو وزارت لپاره نهایی راپور تکثیر کړ. په نورو دوه ادارو کې سرته رسیدلي کار لپاره د راپور تکثیر کولو وروسته پدې کال کې تمه کیږي.

## ځانګړې پروژې

د عمومي پلټونکي د ځانګړې پروژو دفتر د پیښیدونکي مسلو ازمولو او فدرالي ادارو او کانګریس ته د ګړندي، تعقیب وړ راپورونو وړاندې کولو لپاره رامنځته کړی شوی و. دا ډله بیلابیلې ارزونې کوي او د افغانستان د بیارغونې په ټولو برخو کې راپورونه جوړوي. په دې

ځانګه کې پلټونکي، تحلیل کونکي، محققین، قانونپوهان، د اړوند مسایل ماهرین، او نور متخصصین راټول شوي او کولی شي د رابرسیره کیدونکي مسایلو او پوښتنو په مقابل کې بیړنی او په ګډه سره د حل لارې ومومي.

د راپور ورکوونې دې دورې په جریان کې، د سیګار ځانګړې پروژو دفتر د ANA په ودانیو کې کارول شوي سپری فوم ایزولیشن سیستمونو د خوندیتوب یوه بیاکتنه خپره کړه. ځانګړې پروژو ډیری لیکونه هم CSTC-A، USFOR-A، متحده ایالاتو نوي، د مسلکي خدماتو شورا، USAID، IRD، د دفاع قراردادیانو، USDA، DOD، او د متحده ایالاتو حکومت ډیری نورو ادارو ته لیکلي دي. د پوښتنو دا لیکونه په پراخه کچه موضوعات پوښي، پشمول د ډاډمنو ترونونو، ګرځنده پیسي، سویابین پروګرام، رد شوي ترونونه، په ودانۍ کې کارول شوي سپری فوم خوندیتوب، د ANP ورکړې لپاره کارول شوي LOTFA پیسي، د قراردادي پیژندل شوي غوره لارې، د حقیقت رابرسیره کولو خوندیتوبونه، د ANP ګزمې وسایط، یوه ګمارنه چې د بیارغونې پریکړو لارې مطالعه کړي، د افغان سړکونو ساتنه، د کندهار د بریښنا تولید پلانونه، د متحده ایالاتو کوچني ادارو په واسطه د بیارغونې تمویل معلوماتو لپاره غوښتنه، او د بشري قاچاق تورونه.

## ځانګړي بشپړې شوي پروژې

دا مهال ځانګړي پروژې پروژو بشپړیدل ملاحظه کوي او پدې مسلو کوم اضافي کار د سرته رسولو وړاندوینه نه کوي.

### د معلوماتو مکتوب SP-14-55: د نړیوالې هوساینې او پراختیا د باور وړتیا ترون

د 2014 د می 5، سیګار IRD ته د باور وړتیا ترونونو کارونو په اړه جدي اندیښنې بیانول وکېل ترڅو د IRD د ادارو یا کوم حکومتي چاروکو د تمویل په اړه حساس ویناو څخه د کارمندانو مخنیو وکړي. لدې چې IRD له USAID څخه د مالیه ورکونکو ملیونونه ډالر لاسته راوړي، د دې پرمخ وړلو سیګار خاصتا، د روڼتیا او حکومت څارنې لپاره د IRD ژمنې په اړه اندیښمن کړ. سیګار غوښتنه وکړه چې IRD د محرمیت ترونونو اړوند اوسني او تیرو کړنو په اړه معلومات چمتو کړي. (د اړوند پوښتنې لپاره "رواني ځانګړي پروژې،" د معلوماتو مکتوب SP-14-60 وګورئ.)

### خبرداری لیک SP-14-56: د IRD باور وړتیا ترون په اړه USAID ته خبرداری ورکول

د 2014 د می 5، سیګار USAID ته ولیکل، اداري ته یې د تورونو په اړه چې د واشنیګټن پوسټ په یوه مقاله کې خپاره شوي و خبرداری ورکړ چې IRD هڅه کړې محرم ترونونه وکړي ترڅو کارمندان له حساس بیاناتو منع کړی شي. سیګار وړاندیز کړی چې USAID په افغانستان کې ټول قراردادونه، تعاوني ترون او د مرستو لاسته راوړونکي خبر کړي چې سیګار به د حقایقو رابرسیره کولو حقونو محدودیت ونه زغمي. لدې علاوه، سیګار وړاندیز کړی چې د USAID راتلونکي ترونونه دا مقررات ولري چې فدرالي فنډ لاسته راوړونکي د محرم ترونونو کارولو څخه منع کړي چې دوی پرې د متحده ایالاتو حکومت چاروکو په اړه غړیدو څخه کارمندان منع کوي.

> **د ځانګړې پروژې بشپړ شوي محصولات**
>
> - ځانګړې پروژه SP-14-55: د پوښتنې مکتوب: د نړیوالې هوساینې او پراختیا د محرمیت ترون
> - ځانګړې پروژه SP-14-56: د خبرداری لیک: د IRD محرمیت ترون په اړه USAID ته خبرداری ورکول
> - ځانګړې پروژه SP-14-61: د پوښتنې مکتوب: د ANP د ګرځنده پیسو پیلوټ پروګرام ځواب
> - ځانګړې پروژه SP-14-69: د پوښتنې مکتوب: د سویابین پوښتنې ته د USAID ځواب
> - ځانګړې پروژه SP-14-73: د پوښتنې مکتوب: د USAID ردشوي قراردادونه
> - ځانګړې پروژه SP-14-77: بیاکتنه: د ANA ودانیو کې د سپری فوم انسولیشن خوندیتوب

## د معلوماتو مکتوب SP-14-61: د ANP د ګرځنده پیسو پیلوټ پروګرام ځواب

په تیره ربع کې، سیګار د CSTC-A جنرالانو ته ولیکل چې د MOI د پیلوټ پروګرام دریځ په اړه پوښتنې وکړي چې د یوه بریښنایی لیږد له لارې د ANP پرسونل ته په مستقیم ډول د معاشاتو ورکړې ته د "ګرځنده پیسو" کارونه کوي. دا معاشات LOTFA ته د مستقیم مرستې له لارې د متحده ایالاتو ماله ورکونکو پیسو په واسطه تمویل کیږي. د 2014 د می په 3، CSTC-A د سیګار اصلي معلوماتو لیک ته ځواب ورکړ.

د 2014 د می په 28، سیګار بیا CSTC-A ته د ګرځنده پیسو پیلوټ پروګرام په اړه ولیکل، د CSTC-A دې اټکل په اړه اندیښنې په بیانولو سره چې 18% د ANP معاشات په نغدي ډول مستقیما د ANP کارمندانو ته ورکول کیږي. لدې مستقیم نغدي ورکړو له نمیایی ډیر یې د سم لاسته راوړونکي څخه منحرف کیږي، چې تر 45.5 ملیون ډالرو پورې د معاشاتو په ورکړه کې په 2014 مالي کال کې د انحراف خطر سره مخ کوي. سیګار د دې ډاډ ورکولو پراهمیت ټینګار وکړ چې د صادق، معتبر او ثبات لرونکي پولیس ځواک رامنځته کولو لپاره د ANP د کارمندانو بشپړ معاشات د دوی ترلاسو ورسیږي. دا تر یو حد پورې سرته رسیدی شي، د په اصطلاح "باوري اجنټ" سیسټم په کارولو د لږې تکیه کولو سره چې د ANP کارمندانو ته معاشات ورکړي.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-69: د سویابین پوښتنې ته د USDA ځواب

په تیر ربع کې سیګار د متحده ایالاتو د کرهنې وزارت (USDA) ته د افغانستان نوښت کې کرهنیز نویتوب (SARAI) لپاره د سویابین په اړه د معلوماتو یو مکتوب واستاو. د 2014 په می، د سیګار ځانګړي پروژو د USDA ځواب ترلاسه کړ. د غوښتل شوي موادو بیاکتنې پرمهال، د سیګار ځانګړي پروژې لاندې اندیښنې په نښه کړې:

- د سویابین د محصول کچې تر د تمه شوي کچو حد پورې نه وې، چې د نوښت برخې په حیث د سویابین فابریکې ثبات له خطر سره مخ کوي.
- د پروژې پلي کونکی، د امریکا سویابین اسوسیشن (ASA) د وړاندیز کولو او پروژې پیلولو دمخه د امکان شتون او ارزښت زنجیر مطالعه نه وه ترسره کړې.
- د 2005 او 2008 ترمنځ د انګلستان نړیوالې پراختیا اداري لپاره پرمخ وړل شوي ساینسي څیړنې پایله کړي چې سویابین د افغانستان شمال کې د اوضاع او کښت ته مناسب نه و، چیرې چې دا پروګرام پلي شوی.
- د دمخه پلان جوړولو او څیړنې نه شتون سربیره، او د هغه شواهدو سربیره چې ممکن د پروګرام بریا شکمنه کړي، USAID د ASA ته د SARAI لپاره د پلور توکو، ټرانسپورټیشن او اداري تمویل لپاره 34.4 ملیون ډالر تمویل کړي.



په افغانستان کې **د USDA د سویابین پروګرام** په سیګار کې اندیښنې راولاړې کړې. ځانګړې پروژه SP-14-69 وګورئ. (د سمیث اندیرسن لخوا د سیګار تصویر)

د اندیښنې دې مواردو د پیژندنې په تعقیب، سیګار د کرهنې وزیر ته یو لیک ولیږله، چې وړاندیز یې پکې کړی و وزیر د هرډول راتلونکي پانګوونې څخه مخکې د پروژې جامع څیړنه پلي کړي او دمخه پیژندل شوي عیبونو او ننګونو په نښه کولو لپاره یو پلان رامنځته کړي.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-73: د USAID ردشوي قراردادونه

سیګار د 2014 د جولای په 1، USAID ته ولیکل چې له 2008 راهیسې په افغانستان کې د USAID ترړل شوي 19 قراردادونو په اړه مخکیني دوه د معلوماتو مکتوبونو ته د USAID د ځوابونو بیاکتنې وروسته رامنځته شوي ابتدایی مشاهدات ورسره شریک کړي. د سیګار د تحقیقاتو او پلټنو ریاستونه به د USAID په واسطه چمتو کړی شوي جامع معلوماتو لانورې څیړنې سرته ورسوي.

## بیاکتنه SP-14-77: د ANA ودانیو کې د سپری فوم د نصب خوندیتوب

د 2013 په اپریل کې، سیګار د سپری پولیوارتین فوم د نصب سیستمونو فرعي معیار په اړه د خوندیتوب اندیښنې راپورته کړې چې د ANA لپاره د USACE جوړې شوي آرک – سپین نوع ودانیو کې کارول شوي. اندیښنه د هغه ورونو له امله وهځول شوه چې د انسولیشن سیستمونو په کارولو سره دوه د جوړیدو په حال کې ودانۍ تخریب شوې چې د ودانولو نړیوال کوډ (IBC) معیارونو سره یې مطابقت نه درلود. USACE سیګار ته ځواب ورکړ او وې ویل چې دا اداره به د غیر اجابتي سیستمونو نصب کول ودروي او په دواړه بشپړ شوي او راتلونکي ودانیو کې به د IBC معیارونو سره مطابقت د ډاډ لپاره سمونکي ګامونه وپیژني. لدې سم وروسته، سیګار یوه بیاکتنه پیل کړه چې مشخص کړي ولې د USACE قراردادیانو په لومړي ځل غیر اجابتي سیستمونه نصب کړي، د ترمیم لګښت یې او ایا د USACE هڅې به د IBC بشپړ اجابت ډاډ ورکړي.

د 2014 د جولای په 9 سیګار د خپلې بیاکتنې پایلو راپور ورکړ. سیګار وموندل چې د 1.57 ملیارد ډالرو پروګرام نږدې 2,000 جوړې شوي ودانیو څخه 1,600 یې د IBC معیارونه



**د کوډ اجابت نه کونکي کې اور** د ANA یو ټولګی په 30 دقیقو کې له تخریب کړ. ځانګړې پروژه SP-14-77 وګورئ. (د USACE تصویر)

نه پوره کوي او د دغه معیارونو پوره کولو ته د ترمیمي هڅو لګښت یې تر 50–60 ملیون ډالر کیدی شي. اضافتا، د USACE ډاډګیرنې سربیره چې دوی به د غیر اجابتي سیسټمونو نصبول ودروي، د 2014 په جنوري کې د لوړپوړي چارواکي لخوا تکثیر شوي یو د پوهې لیک دغه نمایشات لغوه کړي چې د ANA لپاره د ودانولو ډېر مرحلو کې یې په 285 ودانیو کې د غیراجابتي موادو کارونې اجازه ورکړې. USACE خبرداری ورکړی چې ودانۍ "د اور پرمهال ډیریدونکی" خطر لري مګر ادعا یې کړې چې د ANA عملیاتي اړتیاو په پالیسۍ کې بدلون تایید کړی. USACE د ودانۍ کاروونکو فزیکي وضعیت باندې هم تکیه کوي، وایي چې "د دې ودانیو کاروونکي نفوس ځوان، فټ افغان سرتیري او ګمارل شوي دي چې د رامنځته کیدونکي اوضاع پرمهال ګړندي وتنې ورتیا لري." د USACE په وینا، په اغیزمن شوي ودانیو کې 83 بارکونه، څلور روغتیایی کلینیکونه، او دوه د اور وژنې سټیشونه شامل دی.

پردې علاوه، USACE د خپل قرارداد اړتیاو په پلي کولو کې ناکام شو ځکه چې د قراردادي ودانولو تصویب شوي پروپوزل سره ګمارل شوی پرسونل په پوره اندازه د آرک – سپین ودانیزو یا IBC معیارونو سره بلد نه و. USACE د هغه پروپوزلو په اړه غوښتنو کې، چې قراردادیانو ته یې ورکړي هم نابشپړ شوي معلومات چمتو کړي؛ د یوه بهرني ساختماني – انجینري پایله شوي اړتیاو د 58 څخه 31 یې له لاسه وتلي. پردې علاوه، USACE د قراردادیانو په واسطه د استعمال لپاره وړاندیز شوي فرعي معیار محصولاتو پیژندنه او ردولو کې پاتې راغلی.

سیګار نتیجه ګیري کړې چې د ټولو ودانیو د خوندیتوب او معیارونو سره مطابقت ته راوړلو لپاره د سمدستي ګامونو اخیستل لازمي و یا دا چې وشودل شي د خطرناک اوضاع ترمیم لپاره کوم اعمال باید ترسره شي؛ ANA د خطر ډکو ودانیو څخه خبروي؛ او د 2014 د جنوري پوهې لیک باطلوي؛ او داخلي طرزالعملونه بیاګوري چې USACE د قرارداد اړتیاو ته رسوي چې د پلي کیدو وړ یې نه و.

## روانې ځانګړې پروژې

دا مهال د ځانګړي پروژو دفتر نه ملاحظه کوي چې دا پوښتنې بشپړې شي. ځانګړي پروژې د غوښتل شوي معلوماتو ته ځوابونو لپاره انتظار باسي، یا هغه معلوماتو د څیړنې پروسه پرمخ بیایی چې دمخه یې لاسته راوړي.

### د معلوماتو مکتوب 14-54-SP: د ANP ګزمې کښتۍ

د 2014 د اپریل په 24، سیګار د CSTC-A عمومي قوماندې ته د ASFF بسپنو باندې د ANP لپاره د 3 ملیون ډالرو په ارزښت پیرودل شوي ګزمې وسایطو په اړه معلوماتو غوښتنې لپاره ولیکل. CSTC-A غوښتنه وکړه چې د متحده ایالاتو نوي دا د ګزمې وسایط په 2010 کې پیرودلي، مګر په 2011 کې د نوي وسایط لپاره اړتیا رد کړې. ځکه چې د بسپنو 80% یې مصرف شوې، قرارداد تر بشپړیدا پورې جواز درلود. د ګزمې دغه وسایط دامهال د ویرژینا په پارکټاون کې پراته دي ځکه چې دا د درې کالو لپاره و.

سیګار غوښتنه کړې چې CSTC-A د ANSF موجود کښتیو او وبو وسایطو ماموریت په اړه معلومات ورکړي، د پیرود پروسه چې CSTC-A پرمخ وړې د پیرود لپاره د پیلي تایید دلیل پکې شامل دی په بیله بیا د دې د ردولو لپاره، د ګزمې کښتیو ذخیره او ساتنې لپاره

لګښت او په راتلونکي کې د دغه کښتیو د دفع یا کاروونې پلان. (د اړوند پوښتنو لپاره "رواني څانګړي پروژې،" د معلوماتو مکتوب SP-14-66 او SP-14-67 وګورئ.)

د ANP ګزمې کښتیو په اړه د سیګار څانګړي پروژې پوښتنې لیکونو یوې پایلې په حیث، د 2015 مالي کال د دفاع تخصیصاتو قانون کورنۍ نسخه کې یوه ماده شامل کړی شوې چې DOD د د 2015 مالي کال فنډونو په کارولو سره د ګزمې دغه کښتیو له ساتنې منع کوي چې د ANP لپاره پیرودل شوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، ، مخ وګورئ 63.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-57: د LOTFA UNDP خار

د 2014 د فبروری په 19، سیګار CSTC-A او NTM-A ته لیکلي ترڅو پدې اړه اندیښنه وښيي چې کیدای شي امریکا به له پوهیدلو پرته مرسته کوي او د افغانستان ملي پولیسو هغو کارکوونکو ته به معاشونه ورکوي چې شتون نلري. د سیګار 2011 پلټنې یوه راپور د UNDP لخوا د LOTFA اداره کولو په اړه هم پوښتنې راولاړې کړې، چې دا د ANP د معاشاتو ورکړې لپاره کارول شوی. LOTFA ته تر نن نیټې پورې اعانې ټولټال 3.72 ملیارد ډالر شوي چې پدې کې د متحده ایالاتو 1.52 ملیارد ډالر اعانې دي. CSTC-A وروسته د 2014 د مارچ په 7 د سیګار لیک ته ځواب ورکړ، چې پکې افغان امنیتي وزارتونو ته د مستقیم اعانو اړوند احتمالي ضرر لیدنې پیژندل شوي او د دا ډول خطر کمولو لپاره د دوی له اړخه اخیستل شوي ګامونو په نښه کول. پداسې حال کې چې د ډیرښه سرته رسول یې پیژندلي، CSTC-A د سمون کړنې برجسته کړې پشمول د نوي پلټنو هڅو رامنځته کول او د 54,000 نادرست پرسونل پیژند شمیرې (ID) د LOTFA له ډیټابیس څخه حذف کول چې د ANP د معاشاتو ورکړې اداره کولو لپاره کارول شوي.

سیګار د 2014 د می په 13 د LOTFA د مالي مدیریت خپله د معلوماتو پوښتنه، د UNDP اداره کونکي ته په یوه لیک کې وغږول. سیګار خپل لیک د ANP د تقاعد او پینش مقاصدو لپاره د MOI لخوا د پولیسو معاشاتو څخه فرضي کمښتونو په واسطه رامنځته شوي بسپنو ناسم احتمالي کاروونې باندې متمرکز کړی. د 2014 د جون په 6 د UNDP ځواب کې، یې خپل دریځ په ګوته کړی چې دوی د ځانګړي معاشاتو کمولو یا د ANP لوړ رتبه چاروکو ته احتمالا له حد ډیر پرداخت چې پداسې بست کار کوي چې ټیټې درجې ته اړتیا وه، LOTFA یې نه څارې. سیګار د LOTFA مخارجو اداره کونکي میکانیزمونو د کنټرول نظارت ته وده ورکولو لپاره راتلونکي مرحلې څیړي.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-58: د مسلکي خدماتو شورا

د 2014 په می 13، په 2014 فبروري کې غږو ته د ځانګړي عمومي پلټونکي وینا په تعقیب سیګار د مسلکي خدماتو شورا (PSC) ته ولیکل. د دې په لیک کې، سیګار د PSC غږو څخه د لید او د مشاهداتو غوښتنه وکړه: هغه فاکتورونه چې د پروګرامونو او پروژو لوی یا کوچنۍ برياوې بنه کوی، په افغانستان کې د کار کولو پرمهال د هیواد دننه ننګونې، فدرالي مسلې چې د پروګرامونو مانع کیږي، او د فدرالي نهادونو ښکیلتیا کې هرډول وړاندیز شوي پرمختګونه، فعل او انفعال، مدیریت، او د قراردادیانو څار په افغانستان کې. د PSC د غړو لخوا لید او مشاهدتونه به د سیګار سره مرسته وکړي چې پخپل کار تمرکز وکړي کله چې په افغانستان کې له 2014 وروسته د قراردادیانو لپاره د دوی د ماموریت پرمخ وړل لانور ننګونکي شي.

### د ځانګړي روانو پروژو محصولات

- ځانګړې پروژه SP-14-54: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې کښتی
- ځانګړې پروژه SP-14-57: د پوښتنې مکتوب: د LOTFA UNDP خار
- ځانګړې پروژه SP-14-58: د پوښتنې مکتوب: د مسلکي خدماتو شورا
- ځانګړې پروژه SP-14-60: د پوښتنې مکتوب: د IRD د حقایقو راسپړلو خوندیتوب ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-63: د پوښتنې مکتوب: د SBIR مطالعه
- ځانګړې پروژه SP-14-64: د پوښتنې مکتوب: د USAID تمویل شوي سړکونو ساتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-66: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې کښتیو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-67: د پوښتنې مکتوب: د ANP ګزمې کښتیو څار پر څار کول
- ځانګړې پروژه SP-14-68: د پوښتنې مکتوب: د کندهار د پلین حل
- ځانګړې پروژه SP-14-70: د پوښتنې مکتوب: د افغان کار لپاره د دریم هیواد اتباع په کارګمارنې قرارداد اړتیا
- ځانګړې پروژه SP-14-71: د پوښتنې مکتوب: د بیارغونې پروګرام معلوماتو لپاره غوښتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-72: د پوښتنې مکتوب: د DOD تمویل شوي سړکونو ساتنه
- ځانګړې پروژه SP-14-78: د پوښتنې مکتوب: د افغان کار لپاره د دریم هیواد اتباع په کارګمارنې قرارداد اړتیا

## د معلوماتو مکتوب SP-60-14: د IRD د حقایقو راسپړلو محافظت ځواب

د 2014 د مې په 19، IRD د سیګار د 2014 د مې په 5 کې د شرکت محرمیت پالیسۍ په اړه لیک ته ځواب ورکړ. په ځواب کې سیګار بیرته IRD ته د 2014 د مې په 20 د دغه بیان سره نارضایتي ښودل ولیکل چې پکې و IRD او سیګار د تیرو کارمندانو د جلاکولو تړونونو د محرمیت مقرراتو په اړه "یوې پوهې" ته سره ورسي. سیګار خپله اندیښنه وښودله چې IRD اوسني او پخواني کارمندان د فدرال د حقایقو رابرسیره کولو قوانینو پراساس د خپلو حقونو تعقیب څخه ناهیلي کولو ته دوام ورکوي. سیګار غوښتنه وکړه چې IRD د جلاکولو تړونونو کاپیانې، د هغه 49 کارمندانو د اړیکې معلومات چې د جلاکولو تړونونه یې د محرمیت مقررو سره لاسلیک کړي، او د IRD د اړیکو، مرستو او د متحده ایالاتو حکومتي ادارو سره د تعاوني تړونونو یو لیست په کومو کې چې لدغه 49 کارمندانو څخه یو یې هم دخیل و چمتو کړي. IRD غوښتل شوي معلومات چمتو کړي او سیګار د دغه معلوماتو د بیاکتنې په حال کې دی چې پدې ځواب کې دی.

## د معلوماتو مکتوب SP-63-14: د SBIR مطالعه

سیګار د 2014 د جون په 5 د دفاع وزارت د څیړنې او انجینرۍ لپاره مرستیال دفتر ته د معلوماتو غوښتنې لپاره ولیکل چې د "ضعیف سیګنالي چاپیریالونو کې د قراینو پورې اړوند ټولنیز کلتوري دلیل" تر سرلیک لاندې مطالعه په اړه اندیښنه وه، کومه چې د کوچني سوداګرۍ نوښتونو څیړنې (SBIR) ګمارنې په واسطه تمویل شوې. د نوموړې مطالعې هدف د "علاقې وړ ساحو کې وړاندیز شوي نظامي کړنو د بریا وړاندوینه کولو او د هغه فعالیتونو لپاره دمخه خبرتیاوې او اخطارونو رامنځته کول چې د دښمن ځوابونو لپاره پرمخ تلونکي، د جګړې پیښیدو او د تروریزم لپاره د ساتونکي مځکو" لپاره د "اوتومات پریکړه کولو توکی" رامنځته کول و. سیګار د DOD څخه لاسته راغلي معلومات بیاګوري او د بیارغونې پریکړه کولو باندې یې احتمالي اغیزې.

## د معلوماتو مکتوب SP-64-14: د USAID تمویل شوي سړکونو ساتنه



**د متحده ایالاتو ډیری تمویل شوي سړکونه،** لکه د دې یوه په څیر له ګردیز څخه خوست ته، ممکن ثابت نه وي. ځانګړې پروژه SP-64-14 وګورئ. (د USAID تصویر)

سیګار د 2014 د جون په 6 نیټه USAID ته یو لیک واستاو چې پکې دا اندیښنه بیان شوې چې ممکن د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د سړک پروژې ملاتړ کړي چې د نامناسب ساتنې له امله ثبات ونلري. لیک د لویس برګر ګروپ/بلیک او ویچ (BV/LBG) سره د USAID د قرارداد په اړه معلومات غوښتي، یو ګډه تصدي چې چې د افغان حکومت د ارګانیک سړک ساتنې ظرفیت رامنځته کړي، د USAID د سړک ساتنې پروګرامونو تمویل او د موجود سړکونو ساتنې او نوي سړکونو جوړولو لپاره موجود پلانونه. USAID ځواب ورکړی چې په BV/LBG قرارداد کې رامنځته کړی شوی د افغان سړک ساتنې واحد اوس هم فعال و، ولې دا یوازې په ولایتي سړکونو تمرکز کوي. USAID په نښه کړې چې دې د نړیوال بانک او نورو نړیوالو ملګرو لخوا پرمخ تلونکي پروګرامونه ملاتړ کول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې افغان حکومت د متحده ایالاتو او نورو نړیوال ډونرانو لخوا جوړ شوي سړکونو ساتنې لپاره ظرفیت او فنډونه لري. سیګار د USAID چمتو کړی شوي ځواب او معلومات بیاګوري.

## د معلوماتو مکتوب 14-66-SP: د ANP ګزمې کښتیو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب

CSTC-A د 14-54-SP معلوماتو مکتوب ته ځواب ورکړی، پکې ویلي يې دي چې دوی نشي کولی د ANP ګزمې کښتیو تایید یا رد ثبتونه ومومي. د 2014 کال د جون په 6، سیګار بیا USFOR-A او CSTC-A ته د ANP لپاره د ګزمې کښتیو پیرود 3 ملیون ډالرو په اړه ولیکل. سیګار اندیښنه څرګنده کړې چې CSTC-A ور نه و د ګزمې کښتیو په اړه د سیګار اصلي پوښتنو لوی برخې ته ځواب ورکړي، او په نښه کړې يې دي چې د CSTC-A د ثبت نشتون دا د سیګار لپاره ستونزمن کوي چې د پیرود او رد پریکړو تاریخچه مشخص کړي. سیګار د دې غوښتنه هم کړې چې CSTC-A د دې د بیاکتنې هیئت پریکړو توضیحي محاسبه وړاندې کړي چې د افغانستان لپاره د ګزمې کښتۍ معتبر اړتیاوې نه پوره کوي. CSTC-A دوهم لیک ته ځواب ورکړی او په غاړه یې اخیستي چې د ANP ګزمې کښتیو لپاره د اړتیاو تایید او رد پورې اړوند اسنادو موندلو تحقیق پرمخ ویسي.

## د معلوماتو مکتوب 14-67-SP: د ANP ګزمې کښتیو ځای په ځای کول

سیګار د متحده ایالاتو د نوی وزیر ته د ANP ګزمې کښتیو په اړه چې د ویرژینا یارک ټاون کې ذخیره شوي، د 2014 د جون په 6 د معلوماتو غوښتنې لپاره د معلوماتو مکتوب واستاو. د سیګار لیک له نوی غواړي چې د ګزمې کښتیو دفع کولو، د ذخیره کولو لګښت او د ذخیره کولو لګښت لپاره تمویل کونکې سرچینې لپاره خپل پلانونه تشریح کړي.

د معلوماتو دې لیک په تعقیب د سیګار څانګړې پروژې پرسونل په ذخیره کې د کښتیو تفتیش لپاره د بحري تحویلۍ مرکز – چیتام انیکس ته سفر وکړ. د سیګار پرسونل وموندل چې کښتۍ د بحري تحویلۍ مرکز په ساحه کې باروړونکي کانتینرونو کې ذخیره دي. د سیګار پرسونل خبر کړی شوي و چې کښتۍ د هغه وخت پای ته نږدې کیدو کې دي چې پرمهال يې باید سرویس شي ترڅو له فعالیت څخه يې ډاډمن شو او دا چې د بار وړونکي کانتینرو ترمنځ ډیره تودوخه او رطوبت د ذخیره کولو مناسب اوضاع نه و. د سیګار پرسونل د نوي وزارت دفتر یو نماینده د ذخیره کولو اوضاع په اړه د خپلو اندیښنو څخه خبر کړ. سیګار د دې کښتیو ځای په ځای کولو ته د نوي سرته رسونکو کړنو ته انتظار باسي.

## د معلوماتو مکتوب 14-68-SP: د کندهار د پلین حل

د 2014 کال د جون په 10، سیګار د بهرنیو وزارت، DOD، ایساف، او USAID ته ولیکل چې د دسمبر 2014 وروسته په کندهار کې د بریښنا چمتو کولو لپاره د متحده ایالاتو حکومت پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړي. دامهال د کندهار بریښنا اړتیاو پوره کولو کې مرستې لپاره دوه لوی جنراتورونه 10 میګاواټ بریښنا تولیدوي. د دې جنراتورونو لپاره سون توکي به د دسمبر 2014 پورې DOD چمتو کوی. د 2015 په جنورې کې پیلیدونکی دواړه د سون توکو مقدار چې DOD يې وړاندې کوي او د سبسیډې نرخ به کم کړی شي تر هغه وخته چې پروګرام د 2015 په سپتمبر کې بشپړ ودرول شي. ټاکل شوې چې د دغه کمښت پوره کولو لپاره د 2015 وروستیو څخه تر د 2018 پورې د متحده ایالاتو حکومت ډیری بریښنایی پروژې وکارول شي. په هرصورت، دا به د سبسیډې شوي سون توکو پای او د بریښنا رسوونې پروژو



د ANP استعمال لپاره ټاکل شوي **ګزمې کښتۍ** د ویرژینا په یارک ټاون کې د ذخیره کولو یوه ودانۍ کې بې کاره پرتې دي. څانګړې پروژې 14-54-SP، 14-66-SP، او 14-67-SP وګورئ. (د نیکول سټوچ لخوا د سیګار تصویر)

بشپړېدو ترمنځ وخت کې د پام وړ تشه پرېږدي. سیګار اندېښنه لري چې پلان شوې "پلین حل پلین حل ته" یو د افغان مشرۍ هایبراېډ پروګرام چې کندهار ولایت ته به د دغه وخت په جریان کې د سرچینو جوړښت څخه برېښنا ورکوي ټینګ مهالویش لري، او لوړ لګښتونه اټکل وړاندې کوي چې دا به کندهار ته د برېښنا خدمت خطر سره مخ کړي، پدې سره تیرو څو کلونو کې د ترهګرۍ ضد او اقتصادي لاسته راوړنې خطر سره مخ کیږي. DOD او USAID یو ګډ ځواب وړاندې کړی چې په کندهار کې د مداوم برېښنا رسولو لپاره وړاندیز شویو پلانونو خورا ډېر توضیحات پکې شامل دي. دا ځواب د سیګار کارمندانو لخوا د بیاکتنې او څېړل کیدو په حال کې دی.

## د معلوماتو مکتوب SP-71-14: د بیارغونې پروګرام معلوماتو لپاره غوښتنه

د 2014 کال د جون په 26، سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو حکومت د بیارغونې هڅو پرمخ وړونکي ادارو ته په 2013 کې لیږل شوي د معلوماتو لیک په تعقیب ډېری اجرایوي وزارتونو او ادارو ته د معلوماتو غوښتنې مکتوب واستاوه. پداسې حال کې چې د بهرنیو چارو وزارت، DOD، او USAID په 2013 کې ځواب ورکړی، ډېری د کوچني نقش لرونکو ادارو ځواب ندی ورکړی. سګار لدغه ادارو چې مخکې یې ځواب نه و ورکړی غوښتنه کړې چې په افغانستان کې د بیارغونې ټولو بشپړ شویو، روانو او پلان شویو پروژو باندې جامع معلومات چمتو کړي. سیګار غوښتنه هغه ادارو ته هم غزولې چې په لومړۍ غوښتنه کې شامل نه و ترڅو ډاډمن شي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیارغونې ټولو پروګرامونو باندې جامع معلومات لاسته راوړي. د پوښتنې مکتوب کې غوښتل شوي معلوماتو کې د پروګرام نوم او شرح، پلورونکی یا پلي کونکی ملګری، د قرارداد پیژندونکی او د قانوني اسبابو نوع، د پروژې ټول اټکل شوی لګښت، د پیل او پای نیټه، د تمویل سرچینه او موقعیت شامل دي. سیګار به دا ځوابونه وڅېړي او کتګوري به یې کړي چې کله یې لاسته راوړل.

## د معلوماتو مکتوب SP-72-14: د DOD تمویل شوي سړکونو ساتنه

سیګار د 2014 د جون په 26 په افغانستان کې د سړکونو جوړولو او ساتنې پورې اړوند DOD ته یو اضافي لیک واستاوه. دې لیک د DOD لخوا تمویل شوي د سړک پروژو لپاره د بیارغونې ټولټال لګښت معلومات غوښتلي؛ د سړک جوړونې روانو او پلان شوي پروژو په اړه پوښتنې راولاړې کړې؛ او پوښتنه یې کړې چې ایا د دې پروژو ساتنه وړاندوینه او تمویل شوې. سیګار د دې سړکونو ساتنې لپاره د افغان حکومت اوسني ظرفیت او په افغانستان کې د سړک شبکو ساتنې لپاره د راتلونکې ممکن تمویل سرچینو په اړه هم معلومات غوښتلي.

DOD د سیګار خبرولو په واسطه ځواب ورکړی چې د قوماندان بیړني غبرګون فنډ (CERP) څه دبره 159 ملیون ډالرو په ارزښت شاوخوا 252 د ټرانسپورټیشن – رغونې پروژو لپاره فنډ چمتو کړی او د افغانستان زیربنا صندوق (AIF) بیا ترتیب سره د سړک جوړونې لپاره 67.6 ملیون ډالر چمتو کړي. دې د 34.6 ملیون ډالرو په لګښت د AIF درې د جوړېدو په جریان کې پروژو پورې اړوند هم توضیحات وړاندې کړل، د CERP یو ترمیمي پروژه چې بشپړېدو ته نږدې ده او لګښت یې 4.9 ملیون ډالر دی، او دا معلومات چې "اوسمهال د CERP یا AIF راتلونکي سړکونو پلان شتون" نلري.

DOD دا هم ويلي چې د CERP او AIF ټولې پروژې د افغان ولايتي حکومتونو او/يا د افغانستان د عامه چارو او کار وزارت (MOPW) څخه د ثابت ساتلو لاسليک شوي ټرونونو ته اړتيا لري مخکې لدې چې د سړک جوړونې په پروژه کار پيل شي. سربيره پردې، DOD تاييدوي چې نه CERP او نه هم AIF د ساتنې يا محافظت پروژو لپاره فنډ نه ورکوي او په نښه کړې يې دي چې MOPW ته يوه کلنۍ بوديجه چمتو کړې شوې او د پروژې ډيزاين، سروې، د سړکونو بيارغونې او احيا، د سړک ساتنې، د خصوصي سيکتور/سړک جوړونې شرکتونو سره د سړک جوړونې لپاره قرارداد کولو، د ريل خطونو نظارت او پلان جوړولو، او د سړکونو او پلونو ترميم لپاره مسؤل دی.

## د معلوماتو مکتوبونه SP-14-70 او SP-14-78: د افغان کار لپاره د دريم هيواد اتباع د قراردادي اړتيا

له بشري قاچاق نوښت د موندنو کاروونه د سيګار تحقيقاتو ځانګړي اجنټانو په واسطه په افغانستان کې د متحده ايالاتو نظامي بيسونو کې پيل شوې، ځانګړي پروژو په ايلي نويز کې د راک ټاپو ارسنال کې د LOGCAP قرارداد کولو چارواکو او د دوی نظامي سرپرستانو سره ډيری مرکې سرته رسولي. دغه مرکې په بيسونو کې په کار ګمارل شوي بهرني کارمندانو په کار ګمارنه او د دوی سره چلند باندې متمرکز وې. ځانګړې پروژو وروسته د معلوماتو ډيری ليکونه تکثير کړل چې د بهرني کارکوونکو په کارګمارنې تجربو او پاليسو د مستند کولو او د بشري قاچاق فدرال قوانينو ته د قرارداديانو ليواليتيا غوښتنه کوي. د ځانګړې پروژو کارمندانو د DOD د انساني قاچاق سره مبارزې کاري ځواک سره هم مشوره کړې، څوک چې د انساني قاچاق مقرراتو او پلي کولو جلا بياکتنه پرمخ وړي. دا پوښتنه روانه ده او ممکن چې وغزول شي.

د 2014 د جون په 13 او د جولای په 9، سيګار دوه قراردادیانو ته وليکل چې انديښنه بيان يې کړې چې د شرکتونو په کار ګمارونکي ممکن د متحده ايالاتو اردو بيسونو کې د کار لپاره د دريم هيواد اتباع ناسم او غولونکي کار ګمارنه کې بوخت وي، پدې شکل چې غوښتونکي کار ګمارونکو ته لوی مقدار فيسونه ورکوي. يوه قراردادي سيګار ته معلومات چمتو کړل چې ښودل يې له 2,400 څخه ډير د دريم هيواد اتباع څوک چې د پرايم قراردادي لپاره کار کوي د ګمارېدنې فيسونه ورکړي. پردې سربيره، د سيګار ځانګړي اجنټانو د نورو ناسم کار ګمارنې تجربو په تورونو هم معلومات راټول کړي په بيله بيا د متحده ايالاتو نظامي بيسونو کې د تور له مخې د دريم هيواد اتباع کارکوونکو سره ناوړه چلند.

## تحقيقات

د راپور ورکوونې دورې په جريان کې، د سيګار روانو تحقيقاتو څخه د پيسو اړوند پايلې ټولټال 3.1 مليون ډالر شوې. جرمي جريمې، جبرانونه او جريمې 600,000 ډالر، د قرارداد خوندي شوي پيسې مجموعه 500,000 ډالر او دوه د ملکي جوړجاړې ټرونونو د 2 مليون ډالر ټولټال شو. تحقيقونو په متحده ايالاتو کې د دوه نيونو، درې جنايي معلوماتو، درې مدافع موافقو، او دوه محکوميتونو پايلې درلودې. په افغانستان کې، يو تورن نيول شوی، درې افغانان د نظامي ودانيو ته ننوتلو څخه منع کړی شوي، او د حکومت دوه قراردادیانو سره قراردادونه فسخه شوي. سيګار 26 نوي تحقيقونه پيل کړي او 46 يې تړلي، چې لدغو سره د ټولو روانو

**د قرارداد پيسې محافظت شوي:** د سيګار فعاليت پراساس قراردادیانو ته د مختص شوي بيارغونې فنډونه ندي منل شوي.

**جرمي معلومات:** د لوی هييت برخه اخيستنې پرته د عامه وکيل په واسطه رامنځته کړی شوي ليکلی تور. د يوه معلوماتو کړنه د مدافع پروړاندې لګول شوي حکم د ځرنګوالي په اړه د هغه خبرول دي او هغه مقرره چې دا دولې محکوميت پکې وي نو پدې سره هغه کولی شي چې محکمې ته چمتو او د ورته ګناه لپاره بيا محکمه کيدو څخه مخنيوی وکړي.

سرچينې: د سيګار د تحقيقاتو رياست؛ د تور قانون قاموس.

شکل 2.1

**د سیګار تحقیقات: د 2014 کال د جون تر 30 پورې خلاص تحقیقونو شمیر**

**ټولټال:** 318




سرچینه: د سیګار د تحقیقونو ریاست، 7/8/2014.

تحقیقونو شمیره 318 ته رسیږي، لکه څرنګه چې په 2.1 شکل کې ښودل شوي. د سیګار تعلیق او مخنیوي پروګرام 16 افراد او 39 قراردادیان د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي. د دغه 55 قرارداد کونکو څخه، 39 کسان او 12 شرکتونه د چل ول او بد چلندۍ د تورونو په اساس چې د 180,179,563 ډالرو په ارزښت یې په قراردادونو کې د ځان څخه ښودلي، مخنیونې ته راجع شوي دي.

## د متحده ایالاتو پخواني قراردادي کارمند د درغلۍ سکیم کې ګرم وګڼل شو

د 2014 د مې په 23 د فلوریډا منځنۍ ولسوالۍ کې آلن سیمونس، د PAE Inc متحده ایالاتو قراردادي یو زوړ کارکونکی، د متحده ایالاتو حکومت سره د درغلۍ توطیه کې ګناهکار وپیژندل شو. سیمونس په افغانستان کې د PAE لپاره د روزنې پروګرام کوردیناتور یا همغږي کونکي په توګه کار کاوه. PAE د بهرنیو چارو وزارت سره افغان سمون افسرانو ته د روزنې او یونیفارم چمتو کولو قرارداد درلود. سیمونس په PAE کې د نورو سره د همغږۍ لپاره مسؤل و چې د څومره او څه ډول یونیفارم فرمایش ورکړل شي چې د روزنې بشپړیدیو پرمهال افغان سمون افسرانو ته چمتو شي.

سیمونس او نورو یو شرکت رامنځته کړ، امینزیان لوژستیکي خدمات (امینزیان) ترڅو د فرعي قراردادي په حیث PAE ته یونیفارم وړاندې کړي. امینزیان PAE ته غلط او درغلیز رسیدونه سپارل چې د هغه اجناسو لپاره ورکړه ترلاسه کړي چې هیڅ کله یې نه و چمتو کړي. وروسته لدې چې امینزیان ته تادیه وشوه، سیمونس او د هغه شریک توطیه کونکو ګټې تقسیم کړې. د متحده ایالاتو حکومت د غلطو رسیدونو ورکړې څخه 120,000 ډالرو دبره زیان سره مخ شو.

## له تحقیقاتو څخه د ملکي جوړجاړی 1.25 ملیون ډالر

د 2014 د مې په 6، د افغان امریکا اردو باروړلو خدمات (AAA) د ملکي جوړجاړی یوه تړون ته ننوتل چیرې چې AAA باید د بریښنایي فنډونو لیږد په واسطه متحده ایالاتو ته 1,250,000 ډالر ورکړي. د جوړجاړی تړون د سیګار جرمي تحقیقاتو نهای محصول په نښه کوي چې د متحده ایالاتو اردو بریدمل کریستوفر ویور، د متحده ایالاتو اردو پخوانی مسلکي سټیفني (شانکیل) چاربونو، او د فلور کارپوریشن پخواني کارمند، جوناتن هایټور پکې دخیل و.

AAA د متحده ایالاتو اردو سره د کوربه ملت باروړلو (HNT) قرارداد ته ننوت ترڅو په ټول افغانستان کې ځای پر ځای د وچو توکو او سون توکو حمل خدمات چمتو کړي. د AAA پروړاندې ملکي ادعاوې د مخکښ عملیاتو بیس (FOB) فینټي پورې اړوند HNT قرارداد پراساس د AAA په واسطه چمتو کړی شوي خدماتو څخه راپورته شوي. په ادعاو کې د سون توکو بار وړنې لپاره د 55 غلط او جعلي ټرانسپورټیشن – حرکت غوښتنې سپارنه شامل دي چې د 2010 سپتمبر څخه د 2010 دسمبر پورې دورې په جریان کې د FOB فینټې څخه غلاشوي او/یا دا چې بل FOBs ته د AAA د کارمندانو لخوا هیڅ کله ندي تحویل شوي. د جوړجاړی تړون د قضایی دعوې مخنیوي ته د AAA سازش وړاندې کوي او قبولیت نه وړاندې کوي.

## د امریکا د پوځ یو پخوانی ظابط د تیلو غلا او رشوت اخیستنې په تور محکمه شو

د 2014 د اپریل په 9، د شمالي کارولینا ختیځې ولسوالۍ کې، جیمز ایډوارډ ټراویس د 60 میاشتو په بند فدرالي حبس محکوم او د 422,302 ډالرو د جبران ورکړې امر ورته وشو. د سزا بشپړیدو وروسته، ټراویس باید دري کاله په نظر بندۍ کې تیر کړي.

تحقیق موندلي چې د ګمارنې په جریان کې ټراویس، یو لومړی بریدمل، د شرنه په FOB کې د ورکړې اجنټ او قرارداد کولو افسر نماینده ډبل رول درلود. د 2012 د جنوري 3 او د 2012 د اکتوبر 4 ترمنځ ټراویس د ډیری قراردادیانو څخه 211,890 ډالر د رشوت په توګه منلي. سربیره پردې هغه د حکومت پورې اړوند تیلو غلا په یوه طرح کې دخیل و چې مجموعه یې له 400,000 ډالرو ډیریدله.

## 14,500 ډالر په غیرقانوني پروسه کې کنګل شو

د DynCorp نړیوال د قرارداد یو کارکونکي، سیمویل موتوري، سیګار او نړیوال نظامي پولیس (IMP) افسرانو پروړاندې اقرار وکړ چې هڅه یې کړې 12,500 ډالر د متحده ایالاتو حکومت غلاشوي لپ ټاپونو او نورو موادو کې پټ په DHL باروړنه کې له کندهار هوای ډګر (KAF) څخه کینیا ته قاچاق کړي چیرې چې هغه اوسیږي. تحقیق رابرسیره کړي چې دغه پیسې د رشوت وې چې موتوري افغان اتباع څخه د DynCorp's KAF ذخیرې ودانۍ څخه د متحده ایالاتو څه دباندې 200 ډرمونه موټر او ضیاع تیلو په غلا او پلور کې اسانتیاو برابرولو لپاره اخیستې وې. موتوري دا اعتراف هم وکړ چې هغه د ورته طرحې څخه لاسته راوړي غیرقانوني 2,000 اضافي ډالر په خپله خونه کې لري چې IMP موندلي. IMP د سیګار دې تحقیق په تعقیب ټولټال 14,500 ډالر غیر قانوني پیسې د شواهدو له مخې کنګل کړې. موتوري سمدستي د DynCorp نړیوال څخه منفک او له KAF وایستل شو. د 2014 د فبروري په 17، په KAF کې قوماندان موتوري ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو بیسونو څخه په ناټاکل شوي توګه منع کولو خبرداری تکثیر کړ.

د 2014 د اپریل په 23، د IMP برخې د متحده ایالاتو د اردو مقرراتو تعقیب ته د سیګار لپاره په شواهدو کې نیول شوي 14,500 ډالر راښکاره، او د KAF مالي مرکز ته یې ګنګل شوې پیسه بیرته وګرځوله. نوموړې پیسې د متحده ایالاتو د اردو حسابونو ته د دفاع مالي او محاسبې خدمت کې د نهایی بیامصرف لپاره د متحده ایالاتو حکومت ته امانت شوې.

## تحقیقاتو د پیسو مینځلو طرحې لپاره دوه محکومیتونو پایلې درلودې

د 2014 د می په 15، د ټینسي په ختیځې ولسوالۍ کې، جیمز سي. پیټمن د پیسو مینځلو لپاره د یوحساب جرمي معلوماتو اعتراف وکړ. د 2014 د می په 28، جیمي واین ډینیس د پیسو مینځلو تکل ته د توطیې لپاره د یو حساب جرمي معلوماتو اعتراف وکړ. دواړه تورن د شخصي تعهدنامې قید مدت محکمه کیدو باندې خوشې شول.

د پیټم او ډینیس تحقیقاتو د بګرام هوای ډګر بشردوستانه کومک یارډ پورې تړلي د حکومت قراردادونو لپاره ورکړه کې د افغان قرارداد کونکو د متحده ایالاتو اردو پرسونل ته د رشوت ورکړې باندې تمرکز کړی، کوم چې د افغان وګړو لپاره بشردوستانه مرسته کې د لوی مقدار کالو، خواړو، ښوونځي اسبابو، او نظامي واحدونو کې موجود توکو لپاره د ذخیرې په حیث کار کوی.

پیټم او ډینیس به د 2014 په سپتمبر کې محکمه شی.

## د متحده ایالاتو د اردو بریدمل د تیلو غلا طرح کې محکمه شو

د 2014 د می په 22، د کینټوکي په لویدیزې ولسوالۍ کې، د متحده ایالاتو د اردو بریدمل البرټ کیلي III د 18 میاشتو په حبس او درې کالو د نظارت لاندې خوشې کیدو باندې محکوم شو. هغه ته امر وشو چې 100,000 ډالر جبران کړي.

تحقیق رابرسیره کړي چې د 2011 نومبر څخه د 2012 تر جنوري پورې کیلي د FOB سالیرنو څخه نورو موقعیتونو ته د سون توکو تحویلۍ ټرکونو انحراف اجازه ورکړې وه چیرې چې ټرکونه خالي او تیل یې غلاشوي. د انحرافونو پټولو لپاره، کیلي غلط تصدیق وړاندې کړی چې منحرف شوي سون توکي په حقیقت کې په FOB سالیرنو کې تحویل او خالي شوي. د سون توکو په غلا کې د مرستې په بدل کې کیلي شاوخوا 57,000 ډالر د افغان باروړلو شرکت څخه د شاوخوا 25,000 بوشکو تیلو منحرف کولو لپاره ترلاسه کړي. د حکومت لپاره ټولې ورکې پیسې نږدې 100,000 امریکایي ډالر وو.

## د متحده ایالاتو کابل سفارت کې د کار کونکي دنده پای ته رسول شوې

د 2014 په جون کې، د متحده ایالاتو د کابل سفارت د سیګار، د بهرنیو چارو وزارت OIG او DCIS په واسطه یوه تحقیق له امله په سفارت کې یو ځایی ګمارل شوي کارمند دنده پای ته رسولې. تحقیق هغه مهال پیل شول چې معلومات ترلاسه شول چې عبدل مسعود ولیزاده، د متحده ایالاتو د اردو، د سطحې ګمارنې او توضیع قوماندې (SDDC) د عمومي خدماتو دفتر (GSO) د باروړلو او ګمرکاتو همکار په اسلام قلا کې د ایراني پولې له لارې افغانستان ته راتلونکي متحده ایالاتو کارګو د مالیې معافیت لپاره د نادرست دیپلوماتیک یاددښتونو خوندي کولو په بدل کې له قراردادیانو رشوت ترلاسه کاوه. اضافي معلوماتو ناپیژندل شوي ځایی کارمندان په نښه کړي چې د کابل سفارت کې د متحده ایالاتو اردو، SDDC، GSO لپاره کار کوي د دیپلوماتیک یاددښتونو تصدیق ځنډولی ترڅو د مالیې معافیت پروسې "تسریع" کې د متحده ایالاتو لپاره کارګو راوړونکي قراردادیانو څخه تادیات ترلاسه کړی.

د دواړه خواو رضایتي نظارت منل شوي هڅو کې د ولیزاده ثبت سرته ورسید چې پکې دا ورسره موافقه کوي چې یوه پټ اجنټ ته چې ځان یې قراردادي معرفي کړی د هغه محصولاتو واردولو کې مرسته وکړي چې په ایران کې تولید شوي. نوموړی پټ اجنټ ولیزاده ته وایی چې دا د ایراني موادو پیرود ته ګمارل شوی ځکه چې خورا ارزان او له ایران څخه د باورولو بیه یې هم ټیټه ده. د متحده ایالاتو د فدرالي مقرراتو قانون د ایران له لارې تولید شوي محصولات یا راوړلو ممانعت یې کوي. د متحده ایالاتو قراردادیان په ایران کې تولید شوي یا د ایران له لارې راوړل شوي محصولاتو څخه منع کړی شوي حتی که دوی پوهه شي چې خورا لوی ګټه هم لري.

د 2014 د جون په 12، د پېټ اجنټ سره د وليزاده پروړاندې د تليفون اړيکو شواهد لاسته راوړو وروسته، سيګار او د بهرنيو چارو وزارت OIG د وليزاده سره مرکه وکړه. د مرکې پای ته رسيدو سره، دوی د متحده ايالاتو کابل سفارت له بشري سرچينو وغوښتل، چې د وليزاده دنده د سيمه ايز امنيتي افسر همکار په حيث پای ته ورسوي او هغه د تل لپاره له سفارت څخه لرې کړي.

## د سيګار تحقيق څخه 575,000 ډالر ملکي جوړجاړی

يو تحقيق د 2011 په می کې پرانيستل شوی و، د هغه شکايت پراساس چې يوه امريکايی شرکت ريکون انټرنيشنل ، LLC باندې تور لګول شوی و چې د اضافي لګښت رسيدونه يې سپارلي او د USACE په واسطه ورکړل شوي د 11.5 مليون ډالرو په ارزښت قرارداد کې له ايراني ساختماني توکو کار اخيستی. تحقيقي څيړنې په قرارداد کې راوړل شوي د ايراني ساختماني توکو دقيق مقدار يا شواهدو پيژندو کې پاتې راغلې. په هرصورت، دغه مسله جرمي وګڼل شوه، او ريکون انټرنيشنل موافقت وکړ چې د متحده ايالاتو حکومت ته 575,000 ډالر ورکړي ترڅو دغه ملکي قضيه حل شی.

## د ملي پوليسو روزنې مرکز بشپړيدو کې د سيګار ګټورتوب

د 2012 په می کې، د قرارداد کولو سيمه ايز مرکز (RCC) شنک، د افغانستان لوګر ولايت کې FOB شنک، د قسمت الله نصرت ساختماني شرکت (QNCC) ته د 455,000 ډالرو يو قرارداد ورکړ چې د افغانستان وردګ ولايت کې د څلور تعميرونو يو د ښښتو ودانۍ جوړه کړي، چې دا د ملي بوليسو د روزنې مرکز يوه برخه وه. د 2013 په فبروري کې، RCC شنک خبر کړی شو چې نوموړې ودانۍ راوليدله.

کله چې د يوه تفتيش په ترڅ کې وموندل شول چې دغه ودانۍ د قرارداد کاري مقررو سره په مطابقت کې نه وه جوړه شوې، نو RCC شنک له سيګار څخه د مرستې غوښتنه وکړه. د 2013 له فبروري څخه تر د 2014 مارچ وروستيو پورې، د سيګار يوه ځانګړي اجنټ د QNCC او RCC شنک سره کار وکړ (او په نهايت کې RCC بګرام د RCC شنک تړل کيدو وروسته پروژه پرغاړه واخيستله) چې ډاډ ترلاسه کړي QNCC پر ودانۍ د تضمين کار بشپړ کړی ترڅو دا د قرارداد مقرراتو تر معيارونو راورسوي. د تضمين ټول کارونه يې فقط د بام بيا کانکريت کولو پرته بشپړ شوي و. RCC بګرام په نښه کړي چې د افغانستان حکومت لپاره د دوام وړ او کاري روزنې مرکز چمتو کولو کې د سيګار هڅې ګټورې وې. د تضمين کار اټکل شوی ارزښت 400,000 ډالر دی، لکه څنګه چې د RCC بګرام په واسطه د 2014 په اپريل کې تاييد شوی.

## د افغان قراردادي نيول

د 2014 اپريل په 2، ANP د افغان لوی څارنوالۍ دفتر لخوا د نيول کيدو جلب تکثير په تعقيب په مزار شريف کې د افغانستان د کرهنيزې ودې کريډيټ پروګرام (ACE) کارمند عبدالخليل قادري ونيو. د قادري نيونه د سيګار/USAID-OIG ګډو تحقيقاتو کې د موندنو څخه رامنځته شوي اختلاس تورونو پربنسټ ونيول شو.

په 2010 کې، ACE د افغان حکومت د کرهنیزې پراختیا صندوق (ADF) رامنځته کولو او اداره کولو کې مرستې په هدف کار کول پیل کړل، چې د افغانستان اسلامي جمهوری حکومت ته د USAID بلاعوضه مرستې لخوا تمویل کیده. DAI، د USAID یو قراردادي چې بیتیسدا، ماریالینډ کې میشته دی، د ACE پروګرام پلي کونکی ملګری و. دغه بلاعوضه مرستو د هیواد په اوږدو کې د ADF سره افغان کوچني سوداګریز بزګرو او افغان کرهنیز سوداګریو ته کرهنیز پورونه چمتو کوي. د 2012 په اګست کې، ACE قادري، یو افغان تبع په کار وګماره، چې د ACE کریډیټ اداري محاسب په توګه کار وکړي. د قادري به دندو کې شامل و چې د افغانستان نړیوال بانک (AIB) د "فنډ لیږد غوښتنلیک فارم" د پور منل شوي غوښتونکي او ACE ترمنځ د ACE پور ترون کاپي په کابل کې د AIB څانګې ته ویسي، نو د ACE's ADF پور منل شوی افغان لاسته راوړونکی به وکولی شي چې د AIB بریښنایی لیږد له لارې له ACE څخه د پور مقدار لاسته راوړي.

د 2013 په جنوري کې، ACE یوه افغان کرهنیز شرکت ته د ADF د 28,560,000 افغانیو (539,173 ډالر) پور تصویب کړ. وروسته لدې چې د 2013 په اپریل کې د ADF پور تصویب شو، ACE افغان کرهنیز شرکت ته د AIB له لارې پیسې لیږلې. پرځای یې، قادري یو جعلي شرکت جوړ او د دې لامل شو چې ACE پیسې هغې ته ولیږي. په ورته ورځ، قادري د خپل جعلي شرکت حساب څخه 28,560,000 افغانۍ وایستلې او ترهغه وخت پورې تښتیدلی و چې سیګار او USAID-OIG هغه په مزار شریف کې وموند. تر د محکمه کیدو پورې، قادري په کابل کې یوه د سمون ودانۍ کې تر بند لاندې پاتې دی.

## تعلیق او بندیز

پدې ربع کې د سیګار تعلیقونو او بندیز پروګرام 16 انفرادي کسان او 39 شرکتونه تعلیق یا بندیز ته د هغو شواهدو په اساس راجع کړي چې سیګار په افغانستان او امریکا کې د تحقیقونو ترسره کولو برخې په ترځ کې ټول کړي دي. د دغه 55 قرارداد کونکو څخه، 39 کسان او 12 شرکتونه د چل ول او بد چلندۍ د تورونو په اساس چې د 180,179,563 ډالرو په ارزښت یې په قراردادونو کې د ځان څخه ښودلي، مخنیونې ته راجع شوي دي. د دې کسانو په راجع کولو سره د هغه کسانو او شرکتونو شمیر چې د سیګار لخوا د 2008 کال څخه راهیسې راجع شوي دي 490 ته رسیږي- پدې کې 248 کسان او 242 شرکتونه شامل دي، لکه څنګه چې په 2.2 شکل کې ښودل شوې دي.

د 2014 د جون تر 30 پورې، افغانستان کې د درغلی، فساد او ضعیف فعالیت په نښه کولو لپاره د سیګار د تعلیق او مخنیوی کارونه د افرادو او شرکتونو د 73 تعلیقونو او 195 نهایی شوي مخنیوي پایلې درلودې چې د متحده ایالاتو تمویل شوي بیارغونې پروژو کې ښکیل و. اوو اضافي انفرادي کسانو او شرکتونو له قرارداد کولو څخه د منع کیدلو لپاره د امریکا له حکومت سره د اداري اطاعت موافقې کړي دي.

تعلیقونه او مخنیوی یو مهم وسیله ده چې ډاډ ترلاسه شي اداري فقط مسؤل نهادونو ته قراردادونه ورکوي او د ناسم کار له امله شرکتونه یا افراد د فدرال قراردادونو یا مرستې لاسته راوړو څخه ویستل کیږي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې د امریکا د بیړني قرارداد کولو چاپیریال پالیسی په وړاندې د دریو ننګونو لپاره حل لار پیدا کوي: د چټک عمل اړتیا، په افغان وګړو او شرکتونو باندې د امریکا محدود قانوني صلاحیت، او د ارزونې

شکل 2.2

**د سیګار تحقیقات: د تعلیق او مخنیوی لپاره مجموعي ارجاع ګانې،**
**Q3 FY 2014–Q2 FY 2011**




سرچینه: د سیګار تحقیقونو ریاست، 7/3/2014.

هغې ننګونې چې له ډېرو فرعي قراردادیانو څخه کار اخیستل کیږي. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څېړنیزو شتمنیو ابتکاري کارونې له لارې هڅه کوي څو د دې ننګونو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي.

سیګار د هغه بشپړ شوي تحقیقاتو پربنسټ د تعلیقونو او مخنیوی لپاره رجعت کوي چې سیګار پکې برخه اخیستې وي. په اکثرو پیښو کې، سیګار خپله مراجعه هغه وخت وړاندې کوي چې قرارداد کونکی دفتر د تور د څارنوالي تعقیب یا اصلاحي ګام لپاره کوم اقدام ونکړي، بناء د سیګار دغه کار د قرارداد کونکی د بدچلندۍ د بررسي لپاره لومړی غبرګون دی. ادارو ته راجع کولو کې، سیګار د اداري په واسطه د تعلیق یا مخنیوی پریکړې لپاره اساسات چمتو کوي په بیله بیا د یوې اداري لپاره اړین ملاتړي اسناد ترڅو هغه پریکړه ملاتړ کړي چې د قراردادي په واسطه ونګول شي. په افغانستان کې د قرارداد کولو چاپیریال دخالت نوع او د قراردادي د ناسم کار او/یا ضعیف فعالیت موجود شواهدو پر بنسټ، سیګار ډېری وختونه لازم ګڼلي چې افراد یا شرکتونه په ډېری حالتونو کې د اداري تعلیق او مخنیوي چاروا کو په واسطه ملاحظه کیدو ته راجع کړي.

په تعلیق او مخنیوی د سیګار ډېریدونکی تاکید د دې حقیقت په واسطه لانور برجسته کیږي چې 490 ارجاع ګانې یې د تعلیق او مخنیوی لپاره درلودې چې ترنن نیټې د اداري په واسطه ترسره شوي، 461 یې د 2011 دوهم ربع راپدیخوا شوي. د 2014 له اپریل څخه د وړاندې 12 میاشتو په ترڅ کې، د سیګار د تعلیق او بندیز هڅې د اداري د تعلیق او بندیز د چاروا کو د عملي ګامونو سبب شوي ترڅو 155 انفرادي کسان او شرکتونه د امریکا

له حکومت سره له قرارداد کولو څخه منع کړي. په دې دوره کې د سیګار مراجعې د 728,846,004 ډالرو په ارزښت د بیارغونیزو قراردادونو د غلا، درغلۍ، نیمګړې کړنې، د جنګیالیو سره مالي مرستې، او ناسمه ادارې په تورونو ترسره شوي دي.

## په پروان کې د عدلي مرکز د محکمې خونې جوړولو په بشپړیدو کې پاتې راتلو په تړاو د 14 شرکتونو او افرادو مخنیوی

د تیر ربع په جریان کې، د سیګار د تحقیق کونکو هڅې او د دې د تعلیق او مخنیوی پروګرام د CLC ساختماني شرکت مخنیوي کې پایله شوې، د دې مالکان بریډلي روډن او مسیح الدین محمد، په بیله بیا 11 اړوند شرکتونه او افراد د بګرام هوای ډګر کې د پروان عدلي مرکز (JCIP) محکمې خونې جوړولو کې د دوی پاتې راتلو پر بنسټ مخنیوی شوي. په ځانګړې توګه CLC، روډن او محمد د مناسب ډیزاین جوړونه کې پاتې راغلل، چې د JCIP محکمې خونې د جوړولو پروژې په درستۍ اداره کولو د وړتیا نه درلودو ګواهي ورکوي. سربیره پردې، دوی د اساسي ازمونو پرمخ وړو کې پاتې راغلل چې د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره لازمي و چې د JCIP محکمې خونه د جوړښت له پلوه سمه ده او دا چې کانکریټي تهداب او ستنې یې د قرارداد کې موجود حد اقل معیارونو سره مطابقت لري. د CLC، روډن او محمد په واسطه د نه منلو وړ فعالیت دا بیلګه د حکومت دې پریکړه کې پایله شوه چې نوموړی قرارداد د 2013 د اکتوبر په 3 د عیب لپاره فسخ کړي. سربیره پردې، د سیګار تحقیق ټاکلې چې د 2012 نومبر په جریان کې، CLC، روډن او محمد پداسې طرح کې ښکیل و چې حکومت ته په یوه هڅه کې تقلبي اسناد چمتو او وسپاري ترڅو د خپلې ناکامۍ پټولو لپاره جیوتخنیکي تحقیق، د کانکریټ او ریبار کلکوالي ازمونې، او د خاورې تراکم ازمونې سرته ورسوي چې د JCIP محکمې خونې قرارداد لپاره اړین دي. د دې حقایقو پربنسټ، د 2014 د جون په 12، د اردو د تعلیق او مخنیوی چارواکي د سیګار د مخنیوی وړاندیز سره موافقت وکړ چې د ټولو ډلو د درې کالو لپاره ممانعت پایله یې درلوده، چې د 2017 د جون 12 کې پای ته رسي.

## له FOB فینټي څخه د سون توکو 90 ټانکرو غلا کې محکوم شوي څلور پخواني سرتیرو مخنیوی

د 2014 د جون په 10 او 16، کریستوفر ویور، جوناتن هایټور، سټیفني چاربونو، او بلا کیون عبدالله د اردو ریاست لخوا د 2010 جنوري او جون ترمنځ FOB فینټي څخه د سون توکو غلا لپاره جرمي محکومیت پربنسټ منع کړی شو. په ځانګړې توګه، کله چې ویور، هایټور، چاربونو او عبدالله په افغانستان کې ګمارل شوي و، په یوې داسې طرح کې ښکیل و چې د قانوني سون توکو ټرانسپورټیشن لپاره اړتیا دبره او پورته د تیل ټانکرو غوښتنه کوله، جعلي اسناد یې رامنځته کړي و چې د سون توکو ټرانسپورټیشن ماموریتونه یې ملاتړ کول او د نغدو پیسو په بدل کې یې د FOB فینټي څخه د غلا شوي تیلو درلودونکي ټانکرو ایستلو کې مرسته کوله.

دې طرحې په پای کې د FOB فینټي څخه د شاوخوا 90 تیل ټانکرو غلا پایله درلوده، چې ارزښت یې تر 1,575,000 ډالرو رسیده. د دې حقایقو پربنسټ، ویور، هایټور او چاربونو د کولوراډو ولسوالۍ لپاره د متحده ایالاتو ولسوالۍ محکمه کې د توطیه او رشوت اعتراف وکړ. عبدالله د کینټوکي لویدیزې ولسوالۍ لپاره د متحده ایالاتو ولسوالۍ محکمه کې د توطیه او رشوت اعتراف وکړ. په تعقیب یې، ویور د 37 میاشتو په حبس محکوم شو، هایټور د 27 میاشتو په حبس محکوم شو، چاربونو د87 میاشتو په حبس محکوم شو، او عبدالله د 12 میاشتو په حبس محکوم شو. ټولو ته امر وشو چې حکومت ته په ګډه 1,691,250 ډالر جبران کړي. د دې محکومیتونو پربنسټ، د 2014 د جون په 10، ویور د 80 میاشتو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2019 د نومبر په 28 پای ته رسي؛ هایټور د 72 میاشتو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2019 د جنوري په 28 پای ته رسي؛ او چاربونو د120 میاشتو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2024 د می په 3 پای ته رسي. د 2014 د جون په 16، عبدالله 46 میاشتو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2018 د مارچ په 13 پای ته رسي. د مخنیو مودو کې هغه وخت شامل دی چې هر یو مخکې د حکومت سره قرارداد کولو څخه تعلیق شوي و او د دوی د حبس یاده دوره هم پکې محاسبه کیږي.

## په کندهار هوایی ډګر کې د غلط ادعاو او بیاناتو لپاره د ساختماني شرکت او نهه افرادو مخنیوی

د 2014 د جون په 5، د کلرک لوژستیکي خدماتو شرکت په بیله بیا د دې دوه مالکان او اوه نور کارمندان د اردو په واسطه د غلط ادعاو او بیاناتو تورونو پراساس منع کړی شوي و چې کندهار هوایی ډګر افغانستان کې د هوایی ډګر روښانه کولو بریښنایی کار لپاره قراردادونو په پام کې نیولو سره رامنځته شوي. د سیګار د تحقیق پایلې په حیث، د کلرک لوژستیکي خدماتو شرکت مالکانو ومنل چې دوی په درغلۍ سره ادعا کړې چې دوی د متحده ایالاتو یو ښاري په کار ګمارلی و، چې د ماسټر الیکټریشین تصدیق یې درلود، پداسې حال کې چې شرکت دغه کار یوه افغاني فرعي قرارداد ته ورکړی و یا د درست سند لرونکي الیکټریشن کارولو پرځای یې د دریم هیواد اتباع کاروي و. سربیره پردې، د کلرک لوژستیکي خدماتو شرکت د هغه مقرراتو پوره کولو کې پاتې راغی چې د شخصي حساب ورکوونې او بیدجنګ، غیرتاکتیکي وسایطو راجستریشن، او د چاپیریال او ځمکې خوندیتوب طرزالعملونو پورې اړوند و، چې د 2013 جولای په 30 د ایساف ودانیو قوماندان په واسطه د کندهار هوایی ډګر څخه د نوموړي شرکت حذف کولو کې پایله شو. د مخنیوی لپاره د سیګار تحقیق او ارجاع پر بنسټ، ټولې ډلې د حکومت سره قرارداد کولو د څلور کلونو او پنځه میاشتو مودې لپاره منع شوي چې د 2018 د نومبر په 14 پای ته رسي.

### د ولایتي بیارغونې ټیم غړو ته رشوت او په کونړ ولایت کې د راولیدلي دوه پلونو ضعیف جوړونې لپاره د افغان قراردادیانو مخنیوی

د 2014 د جون په 5، رینبو ساختماني شرکت، د عبدالحق بنسټ، حسن سردار، او ودیر عبدالله متین ملاخیل د اردو په واسطه د 2009 اکتوبر او نومبر ترمنځ د کونړ ولایت بیارغونې ټیم (PRT) په واسطه د قراردادونو ورکولو لپاره په بدل کې د رشوت هڅو پربنسټ منع کړی شوي. په ځانګړي توګه، سردار، د شرکت له مالکانو څخه یو، چې د شاوخوا 8,000,000 ډالرو په ارزښت درې قراردادونو د لاسته راوړو چې د زیړي بابا او پشد پلونو جوړول او د اسمار او نیشګام ترمنځ سړک لوړول و، ټول په کونړ ولایت کې، لپاره په بدل کې د شاوخوا 627,000 ډالرو په ارزښت نغدي، الماسو او نورو توکو وړاندیز کړی و.

وروسته د سیګار په واسطه تحقیق مشخص کړه چې دواړه پلونه په 2010 کې د عبدالحق بنسټ په قراردادونو کې د ضعیف ډیزاین او دویم لاس موادو کارولو له امله راولیدلي. سربیره پردې، د سیګار د تحقیق یوې پایلې په حیث، چې FBI، او DCIS د تادیه هغه وړاندیزونو کې پرمخ ویوړل چې د سردار، تورن سیدهارت هانډا، او د کونړ PRT بخوانی غړی په واسطه و، وروسته د رشوت او پوډرو توضیع توطیه کې په تور د ویرژینا په آرلینګټون کې ونیول شول کله چې هغه هڅه وکړه د 500,000 ډالرو تادیه د دغه طرحې برخې په حیث لاسته راوړي.

د 2011 د سپتمبر په 24، هانډا د جرمي معلوماتو دواړه برخو اعتراف وکړ او د 120 میاشتو په بند او 315,000 ډالرو جبران باندې محکوم شو. رینبو ساختماني شرکت، د عبدالحق بنسټ، سردار او ملاخیل ټول د پنځه کالو مودې لپاره منع کړی شول چې د 2018 د سپتمبر په 29 پای ته رسي. هانډا مخکې د 12 کالو او درې میاشتې مودې لپاره د 2012 جولای په 27 منع کړی شوی و، چې د 2024 سپتمبر په 21 پای ته رسي. د منع کولو دورې که هغه وخت شامل دی چې مخکې د حکومت سره قرارداد کولو څخه تعلیق شوي و او د هانډا د حبس دوره.

### د لاکشور ټیلټیسټ کارپوریشن مخنیوي لپاره راجع کول

د 2014 د می په 2، شپږ شرکتونه چې لاکشور ټیلټیسټ کارپوریشن جوړوي، د شیکاګو ایلي نویز یو ساختماني قراردادې، د دیلاور ایالت کې د څېرکي 7 راپرزیدو لپاره دوسیه کړ. سیګار وړاندیز کړی چې د متحده ایالاتو اردو پاتې 26 شرکتونه، تابع شرکتونه او ګډې پانګوونې تعلیق او منع کړي، چې لاکشور ټیلټیسټ پورې تړلي دي.

د راپرزیدو څخ مخکې، لاکشور ټیلټیسټ په افغانستان کې له 2009 می راهیسې د ساختماني قراردادونو لاسته راوړو کې په فعال توګه بوخت و. پدغه وخت کې، دې شرکت د اردو او هوایی ځواک څخه د 78,824,694 په ارزښت ډیری قراردادونه لاسته راوړل چې د افغان ملي دفاع پوهنتون، د ګډو خدماتو اکاډمي، د حقوق ځانګې ښوونځی، او د ANA لپاره د مذهبي او کلتوري چارو ښوونځي جوړول و. لاکشور ټیلټیسټ په لغمان ولایت کې د ANA قرارګاهونو جوړولو لپاره هم قراردادونه ترلاسه کړل، په بیله بیا غزني، خاص کونړ،

او نورو موقعیتونو کې د ANA ودانۍ. دې شرکت د نړۍ په اوږدو کې په 12 هیوادونو کې 40 دفترو ساحې درلودې چې د 32 اړوند شرکتونو، تابع شرکتونو او ګدو پانګوونو لخوا ساتل کیده، د 2012 په جریان کې د دواړه کورني او بهرني قراردادونو څخه په عوایدو کې د شاوخوا 537.5 ملیون ډالرو لاسته راوړو سره.

سیګار وروسته لدې د لاکشور ټیلټیسټ تحقیق پیل کړ چې په تیرو 18 میاشتو کې د شرکت فرعي قراردادیانو څخه 15 شکایات ترلاسه کړل چې ادعا یې کوله د شاوخوا 50,894,436 ډالرو په مجموعي لګښت توکو او خدماتو په ورکړه کې پاتې راغلی. سیګار دا هم زده کړل چې د راپرزیدو په تعقیب یې، شرکت هیڅ ګامونه پورته نه کړل چې په افغانستان کې خپل عملیات په سمه توګه جوړ کړي یا داسې هڅه کول چې ډاډ ترلاسه شي کارمندان یې بیرته متحده ایالاتو ته راوړل شوي، چې په اغیزمن ډول دوی د دوی ګمارل شوي موقعیتونو کې پریږدي. د دې تورونو پر بنسټ، سیګار لاکشور ټیلټیسټ او د دې ټول مربوطه شرکتونه د مخنیوی لپاره راجع کړي ترڅو په افغانستان او نورو موقعیتونو کې چیرې چې لاکشور ټیلټیسټ فعالیت کوي د متحده ایالاتو حکومت نور زیانمن کیدو مخه ونیول شي او

## پدې ربع کې د سیګار نور څارنیز فعالیتونه

### سیګار د منځني ختیځ انسټیټیوټ پروړاندې او کنفرانس کې د زده کړل شوي درسونو په اړه غږیږي

د راپور ورکوونې دې دورې په جریان کې ځانګړی عمومي پلټونکی سوپکو د منځني ختیځ انسټیټیوټ او د جګړې ساحو مؤثره پراختیا کانفرانس کې د افغانستان بیارغونې هڅو څخه زده شوي درسونو خبرې وکړې. د جګړې ساحو مؤثره پراختیا کانفرانس کې سوپکو کلیدي وینا کونکی و، او د ځانګړي عمومي پلټونکي معاون جیني الویس په نازک او جګړه ځپلي چاپیریالونو ارتباط ورکونکي څیړنې او پالیسۍ په اړه وغږید.

سوپکو په دواړه غونډو کې برخه اخیستونکو ته وویل چې په افغانستان کې ماموریت د پای ته رسیدو څخه خورا لرې دی، د متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونو وتو سربیره. په حقیقت کې، نږدې 18 ملیارد ډالر د بیارغونې هڅو لپاره مختص شوي خو تراوسه ندي مصرف شوي، او نور له 6 څخه تر 10 ملیارد ډالرو پورې به په کلني ډول د راتلونکي کلونو لپاره ژمنه شی، چې اوس هم افغانستان د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو او پالیسي جوړونکو پورې خورا اړوند کوي.

د 12 کالو بیارغونې هڅو کې راټول کړی شوي ډیری درسونو څخه، سوپکو څلور برجسته کړل چې د لیږد دې کال جریان پورې په ځانګړي توګه اړوند دي:

1. د هیواد د هغه مرستې ثابت ساتلو وړتیا باید ملاحظه شي چې موږ یې ورته چمتو کوو.
2. په جګړې سیمه کې بیارغونه اصلا له خطر ډکه ده. دا خطر باید په درستۍ سره کم کړی شی، په لویه کچه د بریدګر مدیریت او څار له لارې.
3. د بیارغونې ټولو هڅو کې باید اهداف یې روښانه شوي وي او د دغه اهدافو پروړاندې پرمختګ سنجولو لپاره سمې لارې.

4. د هیواد اوږدمهال اقتصادي خودکفایي یا ځان بسیا څخه ډاډ ترلاسه کول باید ملاحظه شي نو دا چې دا به بهرنۍ مرستې پورې تړلی پاتې نشی.

عمومي پلټونکي هر درس تشریح کړ، او د سیګار له کار څخه یې مثالونه وړاندې کړل که چیرې د مالیه ورکونکو فنډونه صحیح ونه کارول شي نو څه به پیښ شي یا پروګرامونه په درستۍ سره پلان، پلي او نظارت نشي. د سیګار او نورو څارګرو ادارو له کار څخه دا حکایتونه په روښانه توګه ښیې چې د متحده ایالاتو حکومت کولی شي او باید غوره دنده ترسره کړي.

سوپکو د سیګار تکراریدونکی خبرداری تکرار کړ چې وخت او سرچینې دواړه په افغانستان کې نادرکه کیدونکي دي، او دا چې د بیارغونې پروګرامونه باید د امکان تر حد پورې ښه وي ترڅو د افغانستان وګړو لپاره او د متحده ایالاتو بهرنیو ګټو لپاره اوږدمهاله ګټې او ګټورتوب څخه ډاډ ترلاسه شي. پردې سربیره، دا مهم دي چې دغه درسونه نه باید یوازې د افغانستان بیارغونې هڅو کې ملاحظه شي، په بیله بیا د متحده ایالاتو فنډونو د مصرف نظارت لانور قوي کولو لپاره.

## سیګار او USIP ګډ راپور تکثیر کوي

په فبروري کې، سیګار د "ناخوندي چاپیریالونو کې نظارت او مدیریت" باندې د متحده ایالاتو د سولط انستیتیوټ سره (USIP) نړیواله راټولیدا درلودله. په افغانستان کې له ښو کارونو څخه کار اخیستل. دغه راټولیدا د متحده ایالاتو حکومتي ادارو، نړیوال ډونرانو، مفکرینو او نورو لپاره د دې مفهوم درلود چې په ناخوندي چاپیریالونو کې د مؤثره پروژې مدیریت او څار پرمخ وړو لپاره غوره کړنو، تخنیکونه او ټیکنالوژیانو په اړه وغږیږي.

پدې ربع کې، سیګار او USIP افغانستان ته د ناخوندي چاپیریال کې نظارت او مدیریت لپاره غوره کړنو پلي کولو باندې یو راپور خپور کړ. نوموړی راپور د راټولیدا خبرې اترې هم لنډیز کوي او د برخه اخیستونکو مشاهدات وړاندې کوي. د راټولیدا خبرې موضوعات پوښي پشمول د نوي ننګونو چې بیارغونې ته د لیږد له امله مخ کیږي، د مدیریت او نظارت په اړه زده شوي درسونه او پرمخ تلونکي وړاندیزونه.

## د سیګار کار د 2015 مالي کال قانون کې د ځانګړي مادو لامل شو

### د سنا مسلح خدماتو کمیټې د سیګار څار لاسرسي نقشو پراساس ماده

د سیګار د څار لاسرسي نقشو په واسطه راپورته شوي مسلو پر بنسټ، چې د 2013 اکتوبر کې کانګریس ته درې میاشتني راپور کې برجسته شوي، د سنا مسلح خدماتو کمیټې برخه 1226 د 2015 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ قانون (NDAA) کې شامل کړې. 1226 برخه DOD په افغانستان کې د بیارغونې او زیربنا پروژو لپاره د 2015 مالي کال فنډ منلو یا مصرف کولو څخه منع کوي که چیرې د متحده ایالاتو د اردو یا ملکي پرسونل چې د دغه پروګرام یا پروژې د نظارت مسؤل او خوندي لاسرسی ورته ونلري. دا برخه DOD ته اجازه ورکوي چې

لدغه محدودیت تیر شي که چیرې مشخص کړي چې نوموړی پروګرام یا پروژه په روښانه توګه د متحده ایالاتو ګټو یا ستراتیژک اهدافو سره مرستندویه دی؛ دا چې افغان حکومت د پروګرام یا پروژې غوښتنه کړې یا اړتیا یې بیان کړې؛ دا چې پروګرام یا پروژه د افغان حکومت او بل کوم پلي کونکي ادارو یا نړیوال ډونرانو سره همغږې شوې؛ دا چې امنیتي اوضاع د پروګرام یا پروژې مؤثر پلي کیدو اجازه ورکړي؛ دا چې پروګرام یا پروژه کې د فساد، درغلی، ضیاع او اختلاس موندلو، مانع کیدو او کمولو خوندیتوبه شامل شوي؛ دا چې د پروګرام یا پروژې پای ته رسیدو په تعقیب د ثبات لپاره یې مناسب ترتیبات نیول شوي، پشمول د ثبات لپاره د تمویل او تخنیکي مرستې ترتیباتو؛ او دا چې د پروګرام یا پروژې د پرمختګ او مؤثریت سنجولو لپاره بامفهوم معیارونه رامنځته شوي. دا قانون د ټولې سنا په واسطه ملاحظه کیدو په حال کې و کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورکړل شو.

## د پارلیمان مسلح خدماتو کمیټې د سیګار کار پراساس په NDAA کې ډیری مادې شامل کړې

د پارلیمان مسلح خدماتو کمیټې د سیګار کار پراساس په NDAA 2015 مالي کال کورنۍ نسخه کې ډیری مادې شامل کړې. دغه مسؤده پارلیمان د 2014 په می کې تصویب کړه، پشمول د لاندې اړتیاو:

- برخه 312 غواړي چې محاربوي قوماندانان په شپږمیاشتني توګه تایید کوي چې پوښلي فضلات د FY 2010 NDAA د 317 برخې پالیسۍ څخه په سرغړونه کې د دوی ساحه کې په سرخلاصي سون ځای کې ندي دفع شوي. دا ماده په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي ودانیو کې د سرخلاصي سون ځای او جامد فضلاتو کورو کارونې پورې اړوند د سیګار روان او بشپړ شوي تحقیق پراساس دي.
- 1220B برخه DOD منع کوي چې په افغانستان کې د 500,000 ډالرو څخه ډیر رغونیزې پروژې باندې د 2015 مالي کال فنډونه ژمن یا مصرف نکړي چې د متحده ایالاتو حکومت واکنده ملکي پرسونل یا نومول شوی نمایندګان یې ونشي پلټلی او فزیکي تفتیش یې ونشي کړی، د منل شوي پلټنې لارښوونو سره په مطابقت کې. برخه نور وایی چې DOD ممکن کولی شي دغه محدودیت مات کړي که چیرې دا کانګریس ته یو پلان وسپاري چې ښیې څنګه به دا د فنډ کارول نظارت کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دا د نومول شوي هدف لپاره کارول کیږي او د درغلی، ضیاع او اختلاس مخه یې ونیول شی. دا برخه په افغانستان کې د متحده ایالاتو تمویل شوي زیربنا پروژو باندې د سیګار راپور ورکوونې پراساس ده، په بیله بیا د ادارې کار په افغانستان کې د څار لاسرسي ننګونې په ګوته کوي.

پردې برسیره، د NDAA FY 2015 لپاره خپل کیمټې راپور کې، د پارلیمان مسلح خدماتو کمیټې د دفاع وزیر لاندې لاسته راوړنې، ټیکنالوژۍ او لوژستیک باندې د مسلح خدماتو کمیټې ته لنډیز وړاندې کولو لارښوونه وکړه چې د 2015 د مارچ 2 وروسته نه وي، په احتمالي عملیاتو کې فضلاتو پورې اړوند دفع میتودونو څخه زده کړل شوي درسونو کې، او د فضلاتو د دفع ټیکنالوژیو د وزارت ارزونې تازه حالات، د دې پشمول چې غواړي کافي،

معتبر او د ګمارنې وړ ظرفیت چمتو کړي چې برېښنايي او رغونیزو معیارونو پورې تړلي دي چې د متحده ایالاتو پرسونل د ژوند، خوندیتوب، او روغتیا ډاډ ورانديې کوي. دا د جامد فضلاتو کورو باندې د سیګار روان او بشپړ شوي تفتیش کار د اغیز بل مثال دی.

NDAA FY 2015 کورنۍ نسخې لپاره د کمیټې راپور د DOD عمومي پلټونکي ته هم لارښوونه کوي چې د افغان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مالي مدیریت او خطراتو جامع ارزونه پرمخ ویسي. راپور وايي،"کمیټه باور لري چې افغان MOD او MOI ته د مالي مدیریت ظرفیت ارزونه به افغانستان ته د متحده ایالاتو مستقیم مرستې خوندیتوب ته وده ورکړي ترڅو ANSF تمویل او تجهیز او ډاډ ترلاسه شي چې فنډ د ټاکل شوي مقصد لپاره کارول کیږي." دا عمومي پلټونکي ته نوره لارښوونه کوي چې د افغان مالیې وزارت ظرفیت او خطرات وارزوي، ترهغه حد پورې چې د وزارت فنډونو خوندیتوب لپاره ارزونه پکار وي او د متحده ایالاتو حکومت نورو ادارو لخوا پرمخ تلونکي هڅې دوه ګونې نشي. راپور دا هم غواړي چې عمومي پلټونکی د 2014 د دسمبر تر 31 پورې د پارلیمان او سنا مسلح خدماتو کمیټو ته د ارزونو پایلو باندې راپور چمتو کړي. د MOI او MOD ته چمتو کړی شوي مستقیم بودیجو فنډونو په پام کې نیولو سره د راپور ژبه د سیګار ځانګړې پروژې راپور (SP-14-12) پرېښنسټ وه.

## د سنا د تخصیصاتو کمیټه د سیګار C-130 خبرتیا لیک پر اساس د 2015 مالي کال دفاع تخصیصاتو قانون کې ماده شاملوي

د 2015 مالي کال دفاع تخصیصاتو قانون د سنا نسخه کې، لکه څنګه چې د جولای په 17 نیټه د بشپړ سنا تخصیصاتو کمیټې په واسطه راپور ورکړ شوی، DOD د 2015 مالي کال فنډونو څخه د ANSF یا AAF ته د اضافي C-130 کارګو الوتکو لیږد لپاره کارولو څخه تر هغې پورې منع کوي چې دا د کانګریس دفاع کمیټو ته د AAF منځني باروړونکو الوتکو اړتیاو په اړه بیاکتنه چمتو کړي. ماده نور هم وايي چې دا ډول بیاکتنه باید په انبار کې موجود د منځني بار الوتکو کاروونې او ساتنې ته د AAF وړتیا وپیژني او غوره بدیل لاره، که چیرې لازم وي چې د AAF اوسني منځني بار وړونکي الوتکې ظرفیت ته اضافي ملاتړ چمتو شی. دا ماده د سیګار پلټنې خبرتیا یوه لیک په ځواب کې لیکل شوې وه چې دې AAF ته د اضافي C-130 الوتکو چمتو کولو په اړه اندیښنې راپورته کړې وې. سیګار د خبرتیا په لیک کې وړاندیز کړی و چې DOD د AAF منځني بار الوتکې اړتیاو بیاکتنه سرته ورسوي او د اضافي C-130 تحویلي وځنډوي. د خبرتیا لیک دا هم ویلي چې که چیرې د DOD بیاکتنه په نښه کړي چې اضافي C-130 لازمي ندي نو دا باید دوی ته چمتو نشي.

## د 2015 مالي کال لپاره د دفاع تخصیصاتو قانون د سیګار ځانګړې پروژې پراساس ماده شاملوي

د FY 2015 لپاره د دفاع تخصیصاتو قانون کورنۍ نسخې 10015 برخه، لکه څنګه چې د 2014 د جون په 20 د پارلیمان لخوا تصویب شو، د DOD د ANP لپاره پیرودل شوي ګزمې کښتیو ذخیره کولو ته د FY 2015 فنډ کارولو څخه منع کوي. دا ماده د نوی وزارت او CSTC-A ته د سیګار ځانګړې پروژې معلوماتو مکتوبونو پراساس ده. په دغه لیکونو د اضافي معلوماتو لپاره، د دې برخې 44–47 مخونه وګورئ.

## د سیګار بودیجه

د 2014 مالي کال لپاره له کانګرس څخه د ګډو تخصیصونو په قانون کې سیګار د 49.65 میلیونو امریکایی ډالرو بودجه لاسته راوړي. بودجه د سیګار د نظارت فعالیتونو او د سیګار د پنځو ریاستونو کارونو ملاتړ کوي: (1) پلټنې او تفتیشات، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقیقات، (4) مدیریت او ملاتړ، او (5) څیړنې او تحلیل.

## د سیګار کارکوونکي

د سیګار ټولټال کارمندان د دې راپور ورکوونې پرمهال 198 فدرالي کارمندان دي. د دې ربع په پای کې، سیګار 31 کارمندان د متحده ایالاتو کابل سفارت او اته کارمندان د افغانستان په نورو موقعیتونو کې د متحده ایالاتو سفارت څخه بهر درلودل: کندهار هوای ډګر، د بګرام هوایی ډګر او مزار شریف. سیګار په کابل کې د خپل پلټنو او څیړنو سره د مرستې لپاره دوه ځایي افغان استخدام کړی دی. سربیره پردې، سیګار خپل کار د ایالت اړخ کارمندانو سره هم ملاتړ کوي چې په افغانستان کې د لنډې مودې دندې لپاره ګمارل کیږي.

پدې ربع کې سیګار په افغانستان کې ټولټال د 416 ورځو لپاره 24 کارمندان په لنډمهال دندو درلودل. دا د تیر راپور ورکوونې دورې څخه ډیروالی ښیې، کله چې 14 کارمندان په لنډمهاله دندې د 252 ورځو لپاره و.

”د افغانستان خلک اوس دا فرصت لري
ترڅو پر هغو پرمختګونو باندې زیات کړې
چې لاسته راغلي، ترڅو یوې زیاتې خوندي،
لا نورې سوکالې، او لا نورې سولیزې راتلونکې
ته ورسیږي. ولسمشر اوباما په ښکاره توګه
دا ویلي، لکه څرنګه چې د افغانستان
خلک دا کار ترسره کوي، امریکا به له
هغوی سره ودریږي.“

— د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري

سرچینه: د امریکا بهرنیو چارو وزارت، څرګندونې، د 2014 د مې 27

# 3 د بيارغونې نوي معلومات



# د بیارغونې نوي معلوماتو منځپانګې


| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | **67** |
| **د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته** | **70** |
| **د مرستو دریځ** | **72** |
| **امنیت** | **86** |
| **حکومتداري** | **120** |
| **اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا** | **150** |


**عکس په تیر مخ کې**
د دویم پړاو ټولټاکنو نا څرګنده پایلو د حل لپاره د پلان له اعلانولو وروسته،
د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري، د ولسمشرۍ له نوماندانو، غني،
په مرکز کې، او عبدالله، ښئ لورې ته، سره. (د بهرنیو چارو وزارت عکس)

# د بیارغونې نوي معلومات

## عمومي کتنه

لاندې برخه د امریکا د مرستو دریځ لنډیز وړاندې کوي او هغه پرمختګونه تشریح کوي چې سیګار پدې ربع کې، د افغانستان د بیارغونې هڅو د امنیت، حکومتولۍ، او اقتصادي او ټولنیزې پراختیا په سکتورونو کې لیدلي.

د 2014 د متحدو تخصیصونو قانون، په 2014 مالي کال کې د افغانستان د مرستې او بیارغونې لپاره اضافي 7.5 ملیارده امریکایي ډالر برابر کړي، او لدې سره له 2002 مالي کال څخه ټول زیاتیدونکي تخصیصونه نږدې 104.1 ملیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلي. د 2014 د جون په 26، ولسمشر اوباما د 2015 مالي کال لپاره د امریکا دفاع او کورنیو چارو وزارتونو په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو (OCO) د بودجې نوي غوښتنه کانګرس ته وړاندې کړله. د OCO د نوي غوښتنې اضافه کول د 2015 مالي کال لپاره د بیارغونې د اوو مهمو مرستو ټولي غوښتل شوي پیسې 5.8 ملیاردو امریکایي ډالرو ته رسوي، او د 2014 مالي کال له تخصیص شوي مرستو څخه 9% کموالی ښيي.

د امریکا دفاع وزارت په 2015 مالي کال کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) لپاره د 4.11 ملیاردو امریکایي ډالرو غوښتنه کړې. د دغې مرستې ډیره برخه د افغانستان د ملي اردو د 195,000 او د افغانستان د ملي پولیسو د 157,000 او د 30,000 محلي پولیسو د ساتنې لپاره ده. دا غوښتنه د ایتلاف د مشاورینو لپاره ده ترڅو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د وړتیا پر کمزوریو باندې کار وکړي، او لوژستیک او روغتیا ته وده ورکړي، او د چاودیدونکو توکو سیستمونو مخه ونیسي؛ او د افغانستان هوایي ځواک لپاره د هوایي ملاتړ سپکي الوتکې او د روزنې لپاره اساسي الوتکې واخلي.

د امریکا دفاع وزارت د افغانستان د زیربنا د وجهي صندق (AIF) لپاره نور د مرستو غوښتنه نه کوي، او د هغه پیسې چې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو کاري ځواک (TFBSO) او د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) لپاره یې غوښتنه شوې تر ډیرې کچې کمې شوي. AIF په 2011 مالي کال کې جوړ شوی ترڅو د لوړ لمریتوب او ډیري اندازې زیربنا پروژې تمویل کړي. د امریکا دفاع وزارت او د امریکا بهرنیو چارو وزارتونه د دغو لویو پروژو په ترسره کولو کې له ننګونو سره مخامخ شوي. د AIF له 21% څخه کمه مرسته، د تخصیص شوي 1.3 ملیاردو امریکایي ډالرو 274 میلیونه امریکایي ډالر، د دې وجهي صندق له پیل څخه توزیع شوي دي، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.0 کې ښودل شوي. تر دې نیټې، د مرستو ډیری توزیع شوې برخه، د کندهار ښار د بریښنا د جنراتورونو د ډیزل تیلو د اخیستلو لپاره توزیع شوې.

د دې راپور ورکولو په وخت کې، د 2014 د جون په 14، افغانستان د اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د ولسمشرۍ دویم پړاو ټولټاکنې ترسره کړې. دې پړاو له لمړي پړاو سره توپیر درلود، په لمړي پړاو کې مخکښو نوماندانو تر ډیرې کچې پایلې ومنلې، په دویم پړاو کې د

جدول 3.0

**د AIF تحصیص شوي او توزیع شوي مجموعي پیسې** (میلیونونو ډالر)

| | **تخصیص شوي** | **توزیع شوې** |
|---|---|---|
| د امریکا دفاع وزارت | 1,223 ډالر | 274 ډالر |
| USAID | 101 | 0 |
| **ټول** | **1,324 ډالر** | **274 ډالر** |
| **د توزیع لپاره پاتې دي** | | **973 ډالر** |

یاددښتونه: شمیرې جمع شوي دي. د 2011 مالي کال لپاره د AIF 101 میلیونه امریکایي ډالره د USAID د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق ته لیږل شوي ترڅو د AIF پروژې تطبیق کړي. په پاته شوي پیسو کې 77 میلیونه امریکایي ډالر شامل دي چې له مکلف کیدلو وړاندې یې نیټه پای ته رسیدلې.

سرچینې: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا دفاع وزارت ځواب، 7/22/2014، 7/18/2014 او 7/17/2014؛ د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID ځواب، 7/10/2014. د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د DFAS ځواب، 7/17/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014.

عبدالله کمپاین د رای ورکوونکو له شمیرې سره مخالفت وښود او د افغانستان د ټولټاکنو کمیسون یې په ډېر تقلب تورن کړ. د جولای په 7، د ټولټاکنو خپلواک کمیسون (IEC) لمړنی پایلې اعلان کړې او پدې پایلو کې اشرف غني د رایو 56.4% او عبدالله 43.6% وړې وې. د IEC په وینا، په دویم پړاو کې 8.1 میلیونه رای یې کارول شوې، او په لمړی کې له اټکل شوې اوو میلیونو څخه تر یو میلیونو ډیرې وې، او دا شمیره د لمړي پړاو له تایید شوې شمیرې څخه 1.5 میلیونه رای یې ډیرې وې. د جولای په 12، د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري، له دواړو نوماندانو عبدالله او غني سره، د دواړو کمپاینونو ترمنځ د جنجال د حل لپاره د موافقې شرطونه اعلان کړل. پدې شرطونو کې د دویم پړاو د هرې کارول شوې رای تفتیش او د دواړو نوماندانو ترمنځ موافقه ترڅو د ملي وحدت حکومت وروسته لدې جوړ کړي کله چې ګټونکی معلوم شي، شامل و.

د 2014 د مې په 27، ولسمشر اوباما اعلان وکړ چې امریکا به په 2014 کې په افغانستان کې د محاربې خپل ماموریت پای ته ورسوي. د 2015 په پیل کې، د امریکا ځواکونو شمیر له نږدې 32,000 څخه نږدې 9,800 ته را کم شي، او په 2015 کې به نور هم کم شي.

د ناتو عمومي منشي، اندرس فوغ راسموسن، خبرداری ورکړی چې که افغانستان هغه دوه اړخیزې موافقه (BSA) چې وربانديې خبري شوې، د سپتمبر تر پایه لاسلیک نکړي، دا کار به د ایتلاف لپاره ډیرې ستونزې جوړې کړي او د افغانستان د راتلونکي امنیت ترتیبونه به له خطر سره مخامخ کړي. که څه د ولسمشری دواړو نوماندانو ویلي دي چې هغوی به BSA لاسلیک کړي، خو دا موافقه اوس هم په تمه ده ترڅو د ټولټاکنو جنجال حل شي.

په جون کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي، په افغانستان کې د امنیتي اوضاع خرابوالي په اړه خبر ورکړی، او د 2014 لمړي ربع د طالبانو حکومت له ړنګیدو ورسته د تاوتریخوالي لوړه کچه درلوده. هغه ویلي چې د شخړې د غزیدو یوه اندیښمنه نښه دا ده چې ځمکنی محاربه له چاودیدونکو توکو څخه د زیات مرګ او ژوبلې سبب شوې. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت (UNAMA) د نړیوال امنیت مرستې ځواک (ISAF) د پایګاو تړلو او د ملکي قربانیانو د شمیر ډیریدلو تر منځ مستقیم تړاو لیدلی.

د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د 2013 فصل له جګړو څخه افغان ځواک د یوه تجربه لرونکي او پر ځان ډاډه ځواک په توګه را وتلی. پداسي حال کې چې د وړتیا کمزوری اوس هم شتون لري، پدې ربع کې د افغانستان امنیتي ځواکونو ارزونه تر ډیري کچې مثبته وه. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د یاغیانو پر وړاندې په کلکه دریدلي او په بریالیتوب سره یې د ولسمشری او ولایتي شوراګانو د 2014 د اپریل 5 او د ولسمشری د دویم پړاو د 2014 د جون 14 ټولټاکنو امنیت نیولی دی.

او بیا پدې ربع کې، USAID ویلي چې د افغانستان د پرمختګ لپاره به د ټوکیو د دوه اړخیز حساب ورکولو کاري چوکاټ (TMAF) نوې ارزونه ترسره نشي. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا، TMAF د افغانستان د ملکي پراختیایي مرستې د موافقه شوي اصلي وسیلې په توګه کار کوي. د امریکا نړیوال ملګري د TMAF د راتلونکي تطبیق لپاره یو شمیر نوې نښې جوړوي او پردې باندې له نوي ټاکل شوي حکومت سره خبري وشي. د USAID په وینا، د نوي نښو بشپړولو پروسه کیدای شي په نومبر کې د افغانستان لپاره د پلان شوي لندن تر نړیوال کنفرانس او د 2015 تر پیل پورې به دوام وکړي.

افغانستان د پیسو مینځلو ضد او د تروریزم ضد تمویلولو (CFT/AML) قانون وضع کړی، او دې کار دې هیواد ته اجازه ورکړې ترڅو د مالي عمل کاري ځواک (FATF) لخوا په تور لست کې راوړل نشي، FATF د یو شمیر هیوادو د پالیسی جوړولو یوه اداره چې ستندردونه جوړوي او د اغیزمنو ګامونو له لارې د نړیوال مالي سیستم د اعتبار پر وړاندې د ګواښونو مخه نیسي. FATF به د 2014 د اکتوبر په بله عمومي غونډه کې د افغانستان د CFT/AML قانون د اطاعت او تطبیق ستندردونو ارزونه ترسره کړي. د درجې کمولو پریکړه کیدای شي په ټوله نړۍ کې د افغانستان د بانکداری اړیکو تر تاوان ورسوي.

په عین وخت کې، د افغانستان د 1393 مالي کال لمړی څلور میاشتې (د 2013 دسمبر 21 – د 2014 دسمبر 20)، کورني عوایدو د مالي وزارت بودجې نښې تر 20% ندي پوره کړي او له ګمرکونو پرته او د ګمرکونو مالیې هم تر هغې اندازې کمې شوي چې د تیر کال د ورته وخت لپاره ټولي شوي وې. د افغانستان مالي کال دوام تناسب، کورني عواید د عملیاتي بودجې په پرتله، د 1393 مالي کال په څلورو میاشتو کې نږدې 57% کم شوې و، او دا په تیرو دوو مالي کلونو کې 60% او 65% و. د نړیوال بانک په وینا، تمه کیږي ترڅو د افغانستان حکومت لګښتونو ډیریدل دوام وکړي، چې دا به د مرستندویانو دوامداري مالي مرستې او ښو کورنیو عوایدو ټولولو ته به اړتیا ولري.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) د نړیوال مخدره توکو راپور وایي چې د دریم مکرر کال لپاره، افغانستان، چې له پخوا د کوکنارو د نړۍ تر ټولو لوی تولیدونکی دی په 2013 کې تر کرنې لاندې ساحې زیاتې شوي (په 2012 کې له 154,000 هکتارو تر 209,000 په 2013 کې)، او دا 36% زیاتوالی دی.

امریکا د افغانستان لپاره د مستقیمو تادیاتو له لارې د بودجې په اساس مرسته برابروي یا د څو هیوادونو په وجهي صندقونو کې د برخې اخیستنې له لارې د افغانستان بنسټونو لپاره مرسته برابروي. له 2002 څخه امریکا د بوجې په اساس نږدې 7.5 ملیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. پدې کې د افغانستان وزارتونو او بنسټونه لپاره شاوخوا 4 ملیارده امریکایي ډالر، او له 3.5 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیر د څو هیوادونو د دریو وجهي صندقونو لپاره دي، چې د نړیوال بانک د افغانستان بیارغونې وجهي صندق (ARTF)، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، او د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIFT) دي، شامل دي. جدول 3.1 د افغانستان حکومتي بنسټونو لپاره د مستقیمې بودجې په اساس د امریکا مرسته ښیي.

جدول 3.1

**د امریکا له 2002 څخه، د افغانستان لپاره د بودجې پر اساس مرسته**
(میلیونونه ډالر)

| | |
|---|---|
| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
| د امریکا دفاع وزارت | 2,905 ډالر |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| USAID | 986 |
| **څو اړخیزه وجهي صندق** | |
| د افغانستان قانون او نظم وجهي صندق | 1,369 ډالر |
| د افغانستان بیارغونې وجهي صندق | 2,039 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندق | 105 |

یاددښتونه: له حکومت څخه حکومت ته د پیسو اندازه هغه اندازه ده چې امریکا په مستقیمو او دوو اړخیزو مرستو کې ژمنه کړې، په څو اړخیزو وجهي صندقونو کې ژمنې د بودجې پر اساس د مرستې بل ډول ده. د څو اړخیزو وجهي صندقونو پیسو اندازه هغه اندازه پیسې ښیي چې امریکا هر وجهي صندق ته تادیه کړي دي.

سرچینې: د سیګار پلټنې راپور 14-32-AR: مستقیمه مرسته: USAID مثبت ګامونو اخیستي ترڅو د افغانستان د وزارتونو وړتیا ارزونه وکړي ترڅو وکولای شي د مرستندویانو مرستو مدیریت وکړي، مګر کمزوری پاته دي، 1/2014؛ د سیګار ځانګړې پروژې راپور 14-12-SP؛ د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مالي ظرفیت هر اړخیز خطر ارزونه کیدای شي له 4 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتې مستقیمې مرستې نظارت ښه کړي، 12/2013؛ د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID ځواب، 7/10/2014؛ نړیوال بانک، "ARTF: د 2014 د جون تر 21 پورې (د 1393 مالي کال 6 میاشتو پای) د مالي دریځ په اړه د رییس راپور،" p. 5؛ UNDP، "د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) د 2014 لمړي ربع پروژې پرمختګ راپور،" 6/9/2014، p. 28؛ د UNDP د هر ربع او د LOTFA کلني راپورونو په اړه د سیګار تحلیل، 7/16/2014.

## د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته

له 2002 څخه، د افغانستان د مرستې او بيارغونې لپاره د امريکا کانګرس له 104.1 مليارډو امريکايي ډالرو څخه زيات تخصيص کړي دي. لدغو پيسو څخه، 87.9 مليارده امريکايي ډالر (84%) د بيارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو ته تخصيص شوي، لکه څرنګه چې پدېجدول 3.2 کې ښودل شوي.

د 2014 د جون تر 30 پورې، د تخصيص شوي مرستو نږدې 15.9 مليارډو امريکايي ډالر د امکان وړ توزيع ته پاته دي، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.1 کې ښودل شوي. لدغو مرستو څخه به د روانو لويو زيربنايي پروژه بشپړولو لپاره، چې د AIF او ESF لخوا تمويليږي، کار واخيستل شي؛ د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته به روزنه ورکړ شي او تجهيز شي؛ د مخدره توکو توليد او قاچاق پر وړاندې به مبارزه وشي؛ او د قانون حاکميت، د قضا سکتور ځواکمن کولو، او د بشري حقونو ودې لپاره به کار وشي. په سيستم کې ډېرى مرستې اوس هم د مکلف کيدلو لپاره په تمه دي. د 15.9 مليارډو امريکايي ډالرو پاته برخې يوواژې 5.6 مليارده امريکايي ډالر مکلف شوي دي.

جدول 3.2

**له 2002 تر 2014 مالي کال پورې، زياتيدونکي اندازه پيسې چې تخصيص شوي، مکلف شوي، او توزيع شوي** ( مليارډونه ډالر)

| | تخصيص شوي | مکلف شوي | توزيع شوي | پاته دي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق | 57.33 ډالر | 50.03 ډالر | 48.23 ډالر | 8.10 ډالر |
| د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام | 3.67 | 2.28 | 2.26 | 0.05 |
| د افغانستان زيربنا وجهي صندق | 1.22 | 0.70 | 0.27 | 0.87 |
| د سوداګرى او ثبات عملياتونو دندې ځواک | 0.81 | 0.74 | 0.58 | 0.19 |
| DOD CN | 2.93 | 2.61 | 2.61 | 0.32 |
| اقتصادي ملاتړ وجهي صندق | 17.53 | 14.69 | 12.09 | 5.06 |
| INCLE | 4.41 | 3.56 | 3.00 | 1.35 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **87.90 ډالر** | **74.61 ډالر** | **69.04 ډالر** | **15.95 ډالر** |
| د بيا رغونې نورې مرستې | 7.29 | | | |
| ملکي عملياتونه | 8.91 | | | |
| **ټول** | **104.10 ډالر** | | | |

يادداښتونه: شميرې جمع شوي. وروسته لدې چې نږدې 2.9 مليارده امريکايی ډالر چې له مکلف کيدلو وړاندې پای ته رسيدلي منفي شي، پاته پيسې د اوو مهمو بيارغونې وجهي صندقونو ټولو توزيعاتو امکانات ښيي. د DOD CN مکلف شوي او توزيع شوي مرستې هغه اندازه ښيې چې د اردو خدماتو او د دفاع ادارو ته په افغانستان کې د لګولو لپاره ليږدول شوي.

سرچينه: د تخصيص قانون او د هر ربع د مکلفيتونو او توزيعاتو معلوماتو څخه چې د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID وړاندې کړي د سيګار تحليل، 7/20/2014.

د ولسمشر د 2015 مالي کال بودجې غوښتنه، که تخصيص شي، د بيارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره به نور 5.8 مليارده امريکايي ډالر اضافه کړي. لدغو څخه د څلورو وجهي صندقونو، ASFF، DOD CN، ESF او INCLE لپاره غوښتل شوي پيسې، د 2015 مالي کال غوښتنې له 99% څخه ډېري دي. د دواړو CERP او TFBSO لپاره يوواژې د 20 ميليونو امريکايي ډالرو غوښتنه شوي. د AIF لپاره د اضافي مرستې غوښتنه نده شوي. د سيګار لخوا د AIF پلټنه، چې د 2012 په جولای کې خپره شوي، دا انديښنې راپورته کړې چې د AIF ډېرى پروژې تر مهال ويش له 6 تر 15 مياشتو شاته دي، او کيدای شي د ياغيانو پر وړاندې د پروژو ګټې يې محدودې کړې وي او د کندهار ښار د بريښنا د جنراتورونو د ډيزل تيلو لپاره په يوه کال کې له 80 تر 100 ميليونو امريکايي ډالرو دوامداره تمويلولو ته اړتيا ده. 1.3 مليارده امريکايي ډالر چې له 2011 مالي کال څخه د AIF لپاره تخصيص شوي، 973 ميليونه امريکايي ډالر کله چې د USAID د زيربنا پروژو په شامل ESF ته ليږل شوي، اوس هم د توزيع لپاره پاته دي.

| | |
|---|---|
| د امريکا دفاع وزارت | **ASFF:** د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندق |
| | **CERP:** د قوماندان د بيړني غبرګون پروګرام |
| | **AIF:** د افغانستان د زيربنا وجهي صندق |
| | **TFBSO:** د سوداګرى او ثبات عملياتونو لپاره د دندې ځواک |
| | **DOD CN:** د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنيوي فعاليتونه |
| USAID | **ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق |
| د امريکا بهرنيو چارو وزارت | **INCLE:** نړيوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کول |

شکل 3.1

**پاتې مجموعي مقدار چې بايد مصرف شي**
(مليارډونه ډالر)



کانګرس په 2013 مالي کال کې له 8.1 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د زیربنا اوو مهمو وجهي صندقونو ته تخصیص کړي. د 2014 د جون تر 30 پورې، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.3 او پدې شکل 3.2 کې ښودل شوي، لدغو پیسو څخه، 4.4 ملیارده امریکایي ډالر د امکان وړ توزیع لپاره پاته دي.

شکل 3.2

**د 2013 مالي کال پاتې مقدار چې باید مصرف شي** (ملیون ډالر)




جدول 3.3

**د 2013 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي** (میلیونونه ډالرو)

| | تخصیص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | پاته دي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق | 4,946 ډالر | 3,350 ډالر | 3,056 ډالر | 1,890 ډالر |
| د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام | 200 | 42 | 34 | 8 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندق | 325 | 80 | 28 | 297 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو کاري ځواک | 138 | 136 | 101 | 37 |
| DOD CN | 296 | 296 | 296 | 0 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق | 1,623 | 15 | 0 | 1,623 |
| INCLE | 594 | 27 | 18 | 576 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **8,122 ډالر** | **3,946 ډالر** | **3,533 ډالر** | **4,431 ډالر** |

یادداښتونه: شمیرې جمع شوي. وروسته لدې چې نږدې 158 میلیونه امریکایی ډالر چې له مکلف کیدلو وړاندې پای ته رسیدلي منفي شي، پاته پیسې د اوو مهمو بیارغونې وجهي صندقونو ټولو توزیعاتو امکانات ښیي. د DOD CN مکلف شوي او توزیع شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښیې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID لخوا د تخصیص قانون او د ربع مکلفیتونو او توزیعاتو وړاندې شوي معلوماتو څخه د سیګار تحلیل، 7/20/2014.

کانګریس په 2014 مالي کال کې د بیارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو ته نږدې 6.5 ملیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي. لدغو پیسو څخه، د 2014 د جون تر 30 پورې، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.4 او دې شکل 3.3 کې ښودل شوي، له 6.4 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د ممکنه توزیع لپاره پاته دي.

شکل 3.3

**د 2014 مالي کال پاتې مقدار چې باید مصرف شي** (ملیون ډالر)




جدول 3.4

**د 2014 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي** (میلیونونه ډالرو)

| | تخصیص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق | 4,727 ډالر | 24 ډالر | 0 ډالر | 4,727 ډالر |
| د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام | 30 | 2 | 0 | 30 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندق | 199 | 0 | 0 | 199 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو کاري ځواک | 117 | 82 | 25 | 92 |
| DOD CN | 321 | 1 | 1 | 320 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق | 852 | 0 | 0 | 852 |
| INCLE | 225 | 0 | 0 | 225 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **6,470 ډالر** | **108 ډالر** | **26 ډالر** | **6,444 ډالر** |

یادداښتونه: شمیرې جمع شوي دي. پاته اندازه پیسې د اوو مهمو بیارغونې وجهي صندقونو د امکان وړ ټول توزیعات ښیي. د DOD CN مکلف شوي او توزیع شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښیې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID لخوا د تخصیص قانون او د ربع مکلفیتونو او توزیعاتو وړاندې شوي معلوماتو څخه د سیګار تحلیل، 7/20/2014.

# د مرستو دریځ منځپانګې


د افغانستان لپاره د امریکا
بیارغونې مرستې 74

د افغانستان د امنیتي ځواکونو
وجهي صندوق 76

د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي
صندق د بودجې فعالیتونه 77

د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام 78

د افغانستان د زیربنا وجهي صندق 79

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو کاري ځواک 80

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو
د مخنیوی او مخدره توکو سره
د مبارزې فعالیتونه 81

د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق 82

د مخدره توکو نړیوال کنترول
او د قانون پلې کول 83

د افغانستان لپاره د بیا رغونې
نړیواله مرسته 84

# د مرستو درېځ

د سیګار د قانوني ماموریت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بیا رغونې فعالیتونو لپاره د امریکا د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو مرستو په اړه توضیحات ورکوي.
د 2014 د جون تر 30 پورې، له 2002 مالي کال څخه امریکا له افغانستان سره د مرستې او بیا رغونې لپاره نږدې 104.10 میلیاردو امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. دا ټولې پیسې په لاندې توګه تخصیص شوي دي:

- د امنیت لپاره 61.77 میلیارده امریکایي ډالر (پشمول د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونه لپاره 4.25 میلیارده امریکایي ډالر)
- د حکومتوالي او پراختیا لپاره 30.59 میلیارده امریکایي ډالر (پشمول د 3.38 میلیارده امریکایي ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونو لپاره)
- 2.84 میلیارده امریکایي ډالر د بشري مرستو لپاره
- 8.91 میلیارده امریکایي ډالر د ملکي عملیاتونو لپاره

شکل 3.4 د امریکا هغه مهمې مرستې ښیې چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

شکل 3.4

**د متحده ایالاتو فنډونه چې د افغانستان بیارغونې هڅې ملاتړ کوي** (ملیاردونه ډالر)




یادونې: شمیرې ګردي شوي.
[a] په ډېرى ادارو کې DOJ، State، DOD، USAID، خزانه، USDA، DEA، BBG او سیګار شامل دي.

سرچینه: DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/18/2014، 7/17/2014، 7/8/2014، 7/3/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/16/2014، 7/3/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 ، او 6/27/2012؛ خزانه، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندق
**CERP:** د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیر بنا وجهي صندق
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره د دندې ځواک
**DOD CN:** د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنیوې فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون حاکمیت
**نور:** نوري مرستې

## د افغانستان لپاره د امريکا بيارغونې مرستې

د 2014 د جون تر 30 پورې، د افغانستان د سوکالی او بيارغونې سره زياتيدونکي تخصيص شوي مرستې نږدې 104.10 ميلياردو امريکايي ډالرو ته رسيدلې، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.5 کې ښودل شوې. دا ټولې مرستې کيدای شي د بيارغونې په څلورو مهمو برخو وويشل شي: امنيت، حکومتوالي او پراختيا، بشري مرستې، او ملکي عملياتونه. د دغو مرستو نږدې 7.62 مليارده امريکايي ډالر د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د نوښتونو ملاتړ کوي چې په دواړو امنيت (4.24 مليارده امريکايي ډالر) او حکومتوالي او پراختيا (3.38 ميليونه امريکايي ډالر) برخو کې شاملې دي. د امريکا د تخصيص شوي مرستو د بشپړو معلوماتو لپاره د ب ضميمه وګورئ.

د 2014 د متحدو تخصيصونو قانون، د 2014 مالي کال لپاره اضافي 7.55 مليارده امريکايي ډالر برابر کړي، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.6 کې ښودل شوي. لدغو پيسو څخه، نږدې 4.73 مليارده امريکايي ډالر د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) ته تخصيص شوي، او لدې سره د دې وجهي صندق زياتيدونکي مرستې نږدې 57.33 ميلياردو امريکايي




**هغه اندازه پيسې چې د امريکا اوو لويو وجهي صندقونو ته برابر شوي، له 2002 مالي کال څخه په افغانستان کې د بيارغونې د ټولو مرستو د 84.4% استازيتوب کوي (له 87.90 ميارد امريکايي ډالرو څخه زيات). لدغو پيسو څخه، نږدې 84.9% (74.61 ميارد امريکايي ډالر) مکلف شوي دي، او له 78.5% څخه زيات (69.04 ميارد امريکايي ډالر) توزيع شوي دي. د دغو مرستو نږدې 2.91 مليارده امريکايي ډالر چې تخصيص شوي و، نيته يې ختمه شوې ده.**

شکل 3.5

**مجموعي اختصاصات د فنډ ورکولو کټګوري پراساس، د 2014 د جون تر 30 پورې** (ميليارډونه ډالر)




يادونې: شميرې ګردې شوي. د بهرنيو چارو وزارت او USAID ملکي عملياتو لپاره حسابونو تازه معلوماتو په تير ربع کې راپور ورکړ شوي د 2014 مالي کال لپاره څخه د لوړ مقدار تخصيص پايله درلوده. DOD د ASFF FY 2011 څخه 1 ميلارد ډالر بيا پروګرام کړي. DOD د ASFF FY 2012 څخه 1 ميلارد ډالر بيا پروګرام کړي. P.L. 113-6 د ASFF FY 2012 څخه 1 ميلارد ډالر فسخ کړي. DOD د ASFF FY 2013 څخه 178 مليون ډالر بيا پروګرام کړي. DOD د USAID په واسطه پلي کيدونکي يوې زيربنا پروژې تمويل لپاره له AIF FY 2011 څخه FY 2011 ESF ته 101 مليون ډالر ليردولي دي.

سرچينه: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/18/2014، 7/17/2014، 7/8/2014، 7/3/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/16/2014، 7/3/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ خزانه، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشريحي وينا.

ډالرو ته رسیږي، چې د بیارغوني نږدې 55% مرستې دي.[56] د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو پراختیا، عملیاتونو، او دوام ملاتړ کوي.[57]

د 2014 د جون تر 26 پورې، د امریکا ولسمشر د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لپاره د 2015 مالي کال په بهر کې د بیړنیوعملیاتونو لپاره د نوي بودجې غوښتنه وړاندې کړله.[58] په 2015 مالي کال کې د اوو مهمو بیارغوني وجهي صندقونو لپاره هغه غوښتل شوي 5.83 ملیارده امریکایي ډالر د 2014 مالي کال لپاره له مرستو څخه نږدې 9% کمې دي.

د امریکا دفاع وزارت په 2015 مالي کال کې د افغانستان بیارغوني لپاره د مرستې غوښتنه نه کوي او یوازې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو دندې ځواک لپاره د 5 میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه کوي، او لکه څرنګه چې پدې جدول 3.5 کې ښودل شوي، په 2014 مالي کال کې د دې دندې ځواک لپاره 63.8 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص شوي وې چې 92% کموالی ښيي.

لکه څرنګه چې په تیرو ربعونو کې راپور ورکړ شوی، د بیارغوني مرستې ډیرې برخه اوس هم پر لارې ده. نږدې 15.95 ملیارده امریکایي ډالر د احتمالي توزیع لپاره پاته ده. د هغو مرستو چې پر لار دي د لا نورو معلوماتو لپاره 70–71 پاڼه وګورۍ.

جدول 3.5

**د 2014 مالي کال تخصیصونه د 2015 مالي کال د بودجې غوښتنې په پرتله**

(میلیونونه ډالر)

| | 2014 مالي کال | 2015 مالي کال (غوښتنه) |
|---|---|---|
| د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق | 4,726 ډالر | 4,109 ډالر |
| د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام | 30 | 15 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندق | 199 | 0 |
| د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره کاري ځواک | 64 | 5 |
| DOD CN | 321 | 148 |
| د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق | 852 | 1,225 |
| INCLE | 225 | 325 |
| **ټول** | **6,417 ډالر** | **5,827 ډالر** |

یاددښتونه: شمیرې جمع شوي. د TFBSO مرستې د عملیاتونو او ساتنې، اردو له مرستو څخه بیلې دي، چې د دندې ځواک عملیاتي لګښتونه محاسبه کوي.

سرچینې:OMB، "د امریکا دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او نورو نړیوالو پروګرامونو لپاره (OIP/State)" د ولسمشر د 2015 مالي کال په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو تعدیلونو غوښتنه، 6/26/2014؛ د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/15/2014، د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د OMB ځواب، 7/16/2014.

شکل 3.6

**په مالي کال، مقدار، او کټګورۍ تخصیصونه** (ملیاردونه ډالر)




یادونې: شمیرې ګردې شوې. د بهرنیو چارو وزارت او USAID ملکي عملیاتو لپاره حسابونو تازه معلوماتو په تیر ربع کې راپور ورکړ شوي د 2014 مالي کال لپاره څخه د لوړ مقدار تخصیص پایله درلوده. DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي. P.L. 113-6 د FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 ملیون ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د USAID په واسطه پلې کیدونکي یوې زیربنا پروژې تمویل لپاره له FY 2011 AIF څخه FY 2011 ESF ته 101 ملیون ډالر لیږدولي دي.

سرچینه: DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/18/2014، 7/17/2014، 7/8/2014، 7/3/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/16/2014، 7/3/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 ، او 6/27/2012؛ خزانه، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، OMB؛ 7/10/2014، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، USDA؛ 7/7/2009، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، CRS؛ 4/2009، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.




### د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق ترمینالوژي

د امریکا دفاع وزارت د ASFF وجهي صندوق لپاره د تخصیص شوي، مکلف شوي او توزیع شوي مرستو راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**مکلفیتونه:** د تادیاتو لپاره ژمنه شوي

**توزیعات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندوق

کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF) جوړ کړی ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره تجهیزات د اړتیا توکي، خدمتونه، روزنه، مرسته او تاسیساتو او زیربنا ترمیم، بیارغونه، او ساختماني کارونه برابر کړي.[59] هغه اصلي سازمان چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د جوړولو مسولیت لري هغه په افغانستان کې د شمالي اتلانتیک تړون سازمان د روزنې ماموریت/د امنیت سپارلو ګډې قوماندانی ده.[60] وړاندې تر دې چې د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق مرستې کیدای شي مکلف شي، د افغانستان د سرچینو د نظارت شورا (AROC) لخوا باید د مالي چارو او فعالیتونو یو پلان تایید.[61]

د 2014 د متحدو تخصیصونو قانون، په 2014 مالي کال کې د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق لپاره نږدې 4.73 ملیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي، او لدې سره د زیاتیدونکو مرستو اندازه نږدې 57.33 ملیاردو امریکایي ډالر ته زیاته شوې.[62] د 2014 د جون تر 30 پورې، د دغه وجهي صندق د ټولې مرستې نږدې 50.03 ملیارده ډالر مکلف شوي او نږدې 48.23 ملیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.[63] دغه شکل3.7 د هر مالي کال لپاره د دغه وجهي صدق لپاره شته پیسې ښیي.

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې پدې ربع کې زیاتیدونکي مکلفیتونه تر نږدې 1.11 ملیاردو امریکایي ډالرو پورې زیات شوي، او زیاتیدونکي توزیعات تر نږدې 1.58 ملیاردو امریکایي ډالرو زیات شوي.[64] دغه شکل3.8 د هغو شته پیسو اندازه ښیي چې د وجهي صندق لپاره مکلف شوي او توزیع شوي.

شکل 3.7

**د ASFF مختص شوي فنډونه د مالي کال په واسطه** (ملیاردونه ډالر)




شکل 3.8

**د ASFF فنډونه، مجموعي پرتله** (ملیاردونه ډالر)




یادوني: شمیري ګردي شوي. تازه معلوماتو د FY 2013 لپاره د ټیټ تخصیص پایله درلوده.
[a] DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیاپروګرام کړی.
[b] DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیاپروګرام کړي؛ نور 1 ملیارد ډالر فسخ شوي په P.L. 113-6.
[c] DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 ملیون ډالر بیاپروګرام کړي.

سرچینې: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې خواب، 7/17/2014 او 4/15/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

## د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق د بودجې فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت پدې وجهي صنق کې د بودجې درې فعاليتونو ته مرسته تخصيص کوي:

- دفاعي ځواکونه (د افغانستان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (د افغانستان ملي پوليس، ANP)
- اړوند فعاليتونه (تر ډېري کچې د توقيف شوي کسانو عملياتونه)

د هر**بودجې فعاليتي ګروپ** لپاره بودجه بيا په څلورو **فرعي فعاليتي ګروپونو**باندې ويشل شوې ده: زيربنا، تجهيزات او ترانسپورت، روزنه او عملياتونه، او دوام.[65] د هر خدمت اړتيا لپاره چې له 50 ميليونو امريکايي ډالرو څخه په هرکال کې زيات وي او له ستندرد څخه دباندې د تجهيزاتو اړتيا چې له 100 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات وي، د دغو د اړتيا او اخيستلو پلان بايد د AROC لخوا تاييد شي.[66]

د 2014 د جون تر 30 پورې، د امريکا دفاع وزارت د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو نوښتونو لپاره نږدې 48.23 ملياړده امريکايي ډالر توزيع کړي دي. لدغو پيسو څخه، نږدې 31.93 ملياړده امريکايي ډالر ملي اردو ته توزيع شوي، او نږدې 15.94 ملياړده امريکايي ډالر ملي پوليسو ته توزيع شوي؛ او پاته له 358.91 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات نورو فعاليتونو ته ليږل شوي.[67]

لکه څرنګه چې پدې شکل 3.9 کې ښودل شوي، د مرستو ډېره برخه د ملي اردو لپاره تاديه شوې، يعني له 12.26 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېر، د ملي اردو د ځواکونو د دوام ملاتړ کوي. لکه څرنګه چې پدې شکل 3.10 کې ښودل شوي، د ملي پوليسو لپاره له توزيع شوي مرستو څخه، له 5.96 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات، د ملي پوليسو د ځواکونو د ملاتړ لپاره و.[68]

شکل 3.9

**د ASFF مصرفونه د ANA لپاره په فرعي فعاليت ډله، FY 2005 – جون 30، 2014**

(ملياردونه ډالر)




شکل 3.10

**د ASFF مصرفونه د ANP لپاره په فرعي فعاليت ډله، FY 2005 – جون 30، 2014**

(ملياردونه ډالر)




يادداښت: شميرې ګردي شوي.

سرچينه: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014.

**د بودجې فعاليتي ډلې:** په هر تخصيص يا د مرستو په حساب کې برخې چې د فعاليتونو موخې، پروژې، يا ډول پيژني او د تخصيصونو يا مرستو لخوا تمويليږي.

**فرعي فعاليتونو ډلې:** د محاسبې ډلې چې قوماندې توزيعات په کاري برخو باندې ويشي

سرچينې: د امريکا دفاع وزارت، "7110.1-M لارښود د دفاع وزارت د بودجې لارښود،" لاس رسی 9/28/2009؛ د بهرې ځواکونو ديپارتمنت، "د روغتيايی اسانتيا مدير لارښود،" 5 پاڼه، لاس رسی 10/2/2009.




**د CERP د وجهي صندوق ترمينالوژي**

د امريکا دفاع وزارت د CERP مرستې لکه خرنګه چې تخصيص شوي، مکلف شوي او توزيع شوي.

**تخصيصونه:** د ژمنو لپاره ټولي شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو تادياتو ژمنې

**توزيعات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

## د قومندان بيړني غبرګون پروګرام

د قومندان بيړني غبرګون پروګرام (CERP) په افغانستان کې د امريکا قوماندانانو ته دا توان ورکوي ترڅو د مسوليت پخپلو ساحو کې د بشري مرستې او بيارغونې اړتياو پر وړاندې بيړنی غبرګون وښيي او د هغو پروګرامونو ملاتړ وکړي چې ډير ژر به له سيمه ايزو خلکو سره مرسته وکولای شي. د دې پروګرام پر اساس مرستې د هغو وړو پروګرامونو لپاره دي چې د هر يوه اټکل شوی لګښت له 500,000 امريکايي ډالرو څخه کم وي.[69] هغې پروژې چې اټکل شوي لګښتونه يې له 1 ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډير وي، اجازه لري، مګر دا پروژې د امريکا د مرکزي قوماندانی د قوماندان تاييد ته اړتيا لري؛ هغې پروژې چې لګښت يې له 5 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات وي، د AROC تاييد ته اړتيا لري. د CERP تمويل شوي پروژې کيدای شي تر 20 ميليونه ډالرو ديري نه وي.[70]

د 2014 د جون تر 30 پورې، د 2014 د متحدو تخصيصونو قانون، د CERP لپاره 30 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي، او ټولي زياتيدونکي مرستې يې نږدې 3.67 ملياره امريکايي ډالر زياتي کړي.[71] لدغو پيسو څخه، د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې نږدې 2.28 ملياره امريکايي ډالر مکلف شوي دي، او لدغو څخه نږدې 2.26 ملياره امريکايي ډالر توزيع شوي دي.[72] دغه شکل 3.11 د هر مالي کال پر اساس د CERP مکلفيتونه ښيي، او دغه شکل 3.12 د CERP پروژو زياتيدونکو تخصيص شوي، مکلف شوي، او توزيع شوي پيسو پرتله کول ښيي.

شکل 3.11

**د CERP تخصيصات د مالي کال لپاره**

(مليون ډالر)




شکل 3.12

**د CERP فندونه، مجموعي پرتله**

(مليارډونه ډالر)




يادوني: شميري ګردي شوي. په معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ ليږدوني شامل وي.

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014 او 4/17/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/4/2013؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د افغانستان د زيربنا وجهي صندق

د افغانستان زيربنا وجهي صندق (AIF) په 2011 مالي کال کې تاسيس شوی ترڅو د لوړ لمړيتوب، د زيربنا لويو پروژو چې د امريکا ملکي-اردو هڅو ملاتړ کوي، لګښت ورکړي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمويل شوي پروژې به د امريکا د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کيږي. AROC بايد د AIF لخوا د پروژو تمويل او پروژو بشپړولو پلان تاييد کړي، او د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو وزيران بايد کانګرس د وړانديز شوي پروژو له جزيياتو، پشمول د پروژې دوام، او دا چې دا پروژه څرنګه په افغانستان کې د ياغيانو پر وړاندې له ستراتيژۍ څخه ملاتړ کوي، خبر کړي.[73]

د 2014 د متحدو تخصيصونو قانون، د AIF لپاره 199 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي، او لدې سره ټوله زياتيدونکي مرسته له 1.22 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زياته شوې.[74] دغه شکل3.13 د هر مالي کال پر اساس د AIF تخصيصونه ښيي. د 2014 د جون تر 30 پورې، له 701.55 ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډيره د AIF مرسته مکلف شوې ده، او لدغو څخه له 273.95 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات توزيع شوي دي.[75] د 2014 په جون کې، د امريکا دفاع وزارت د دهلې بند د پروژې رغونې دويمه برخه فسخه کړه، او لدې سره له هغه اندازه پيسو څخه چې په تير ربع کې راپور ورکړ شوی، د AIF مکلفيتونه يې له 184 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات کم کړي، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.14 کې ښودل شوي. دغه پروژه د 2013 او 2014 مالي کلونو د مرستو لخوا تمويل شوې. د امريکا دفاع وزارت د اوسني مالي کال تر پايه وخت لري ترڅو مرستې د بلې پروژې لپاره مکلف کړي.[76]

شکل 3.13

**د AIF تخصيصات د مالي کال لپاره**

(مليون ډالر)




شکل 3.14

**د AIF فنډونه، مجموعي پرتله**

(مليون ډالر)




يادونې: شميرې ګردي شوي. تازه معلومات په تير ربع کې راپور ورکړ شوي ټاکلو مقدار څخه د ټيټ پايله درلوده.
[a] د FY 2011 شمير کې 101 مليون ډالر شامل ندي چې USAID ته د AIF پروژې پلي کولو لپاره ليږدول شوي و.

سرچينه: DFAS، ”د AR(M) 1002 تخصيص دريځ د مالي کال پروګرام او فرعي حسابونو جون 2014 پراساس،“ 7/18/2014؛ DFAS، ”د AR(M) 1002 تخصيص دريځ د مالي کال پروګرام او فرعي حسابونو مارچ 2014 پراساس،“ 4/16/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د AIF وجهي صندوق ترمينالوژي**

د امريکا دفاع وزارت د AIF وجهي صندوق لپاره، د تخصيص شوي، مکلف شوي او توزيع شوي مرستو راپور ورکړی.

**تخصيصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو تاداياتو ژمنې

**توزيعات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

## د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو کاري ځواک

د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو دندې ځواک (TFBSO) په افغانستان کې خپل عملياتونه په 2010 کې پيل کړل او موخه يې دا ده ترڅو هيواد باثباته کړي او د بې کارۍ کمولو او د افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د پيدا کولو له لارو له اقتصادي پلوه د تاوتريخوالي هڅو مخه ونيسي. د TFBSO پروژو په فعاليتونو کې د خصوصي پانګونې، صنعتي پراختيا، بانکدارۍ او مالي سيستم پراختيا، کرنې پراختيا او نوې کول، او د انرژۍ پراختيا لپاره آسانتياوې شاملې دي.[77]

TFBSO د مرستې ورکولو دوه جريانونه لري، د ملي دفاع صلاحيت قانون (NDAA) او د عملياتونو او ساتنې، اردو، (OMA). د 2014 د جون تر 30 پورې، په 2014 مالي کال کې د TFBSO لپاره له 116.94 ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډېر مکلف شوي دي، او لدې سره د زياتيدونکو مکلفيتونو اندازه نږدې 809.53 ميليونو امريکايي ډالرو ته رسيدلې.[78] لدغو پيسو څخه، نږدې 741.16 ميليونه امريکايي ډالر مکلف شوي او له 578.99 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات توزيع شوي دي.[79] دغه شکل 3.15 د هر مالي کال پر اساس د TFBSO لپاره د مکلف شوي پيسو اندازه ښيي، او دغه شکل 3.16 د TFBSO پروژو لپاره د شته، مکلف شوي، او توزيع شوي پيسو زياتيدونکي پرتله کول ښيي.




**د TFBSO وجهي صندوق ترمينالوژي**

د دفاع وزارت TFBSO وجهي صندوق لپاره د تخصيصونو، مکلفيتونو او توزيع شوي مرستو راپور ورکړی.

**تخصيصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو تادياتو لپاره ژمنې

**توزيعات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

**د ملي دفاع د صلاحيت قانون (NDAA):** په NDAA کې د TFBSO لپاره تاييد شوي مرستې د افغانستان بيارغونې پورې په مستقيم ډول تړلي فعاليتونو کې کارول شوي.

**عملياتونه او ساتنه، اردو (OMA):** هغه مرسته چې د TFBSO يې د OMA له حسابونو څخه ترلاسه کوي د امريکا د شتمنيو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنيت او نورو عملياتي او اوپراتيفي لګښتونو لپاره کارول کيږي.

شکل 3.15

**د OSBFT تخصيصات د مالي کال پراساس**

(مليون ډالر)




شکل 3.16

**د TFBSO فنډونه، مجموعي پرتله**

(مليون ډالر)




يادونې: شميرې ګردي شوي.

سرچينې: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/8/2014، 4/4/2014، او10/4/2011؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امريکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنيوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعاليتونو مرسته (DOD CN) د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړوندو فعاليتونو سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات د هڅو ملاتړ کوي. د امريکا دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي ترڅو د مخدره توکو قاچاق کوونکو په وړاندې له نظامي عملياتونو څخه ملاتړ کولو، د افغانستان د مخدره توکو مخنيوی عملياتونو پراخولو؛ او د افغانستان قانون پلي کوونکو بنسټونو ظرفيت لوړولو، پشمول د افغانستان سرحدي پوليسو لپاره د ځانګړو روزنو او تجهيزاتو، او تاسيساتو برابرولو سره د مخدره توکو په وړاندې مبارزې هڅو لپاره مرسته برابره کړي.[80]

د DOD CN مرستې د اردو ټولو خدمتونو ته د يوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصيص ورکول کيږي. د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب (CTA) څخه د اردو د خدمتونو او د دفاع ادارو ته مرسته بيرته پروګراموي چې د مرستو ژمنې او سپارل تعقيبوي. د هر مالي کال لپاره د امريکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د يوه لګښت په توګه راپور ورکړی.[81]

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې په 2014 مالي کال کې DOD CN د افغانستان لپاره نږدې 320.79 ميليونه امريکايي ډالر لاسته راوړي، چې لدې سره له 2004 مالي کال څخه د DOD CN زياتيدونکې مرستې له 2.93 مليارده امريکايي ډالرو زياتو ته رسيږي. لدغو پيسو څخه، د 2014 د جون تر 30، له 2.61 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير د DOD CN پروژو لپاره د اردو د خدمتونو او دفاع ادارو ته سپارل شوي دي.[82] شکل 3.17 د هر مالي کال لپاره د DOD CN تخصيصونه ښيي، او شکل 3.18 له DOD CN څخه CTA ته د زياتيدونکو تخصيصونو او سپارلو پرتله کول ښيي.




### د DOD CN وجهي صندوق ترمينالوژي

د دفاع وزارت د DOD CN وجهي صندوق لپاره د تخصيصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړی.

**تخصيصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو تادياتو ژمنې

**توزيعات:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.17

**د DOD CN تخصيصات د مالي کال پراساس**

(مليون ډالر)




شکل 3.18

**د DOD CN بوديجې، مجموعي پرتلنه**

(مليارد ډالر)




يادونې: شميرې ګردې شوي.
[a] DOD د ټاکلو او مصرف لپاره نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته ټول فنډونه بياپروګرام کړي.

سرچينه: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/3/2014، 4/16/2014، 3/28/2014 او 1/22/2014.

# د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق




**د ESF وجهي صندوق ترمينالوژي**

USAID د ESF وجهي صندوق لپاره د تخصيصونو، مکلفيتونو او توزيع شوو مرستو راپور ورکړی.

**تخصيصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تادياتو ژمنې

**توزيعات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID خواب، 4/15/2010.

د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) پروګرامونه له هغو هيوادونو سره مرسته کوي ترڅو خپل لنډ او اوږد مهاله سياسي، اقتصادي، او امنيتي اړتياوي پوره کړي، او دا د امريکا ګټو پرمختګونو سره مرسته کوي. د ESF پروګرامونه د تروريزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځوکمن کوي؛ او د لا ډير شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د اغيزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سيستم د پراختيا لپاره مرسته کوي.[83]

په 2014 مال کال کې د ESF لپاره 852 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص شوي، او لدې سره د ESF لپاره د زياتيدونکو مرستو اندازه له 17.53 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زياته شوې. لدغو پيسو څخه، نږدې 14.69 مليارده امريکايي ډالر مکلف شوې، او لدغو پيسو څخه 12.09 مليارده امريکايي ډالر تاديه شوي دي.[84] شکل 3.19 د هر مالي کال پر اساس د ESF تخصيصونه ښيي.

USAID راپور ورکړی چې د 2014 د جون تر 30 پورې زياتيدونکي مکلفيتونو له هغه اندازه پيسو څخه چې په تير ربع کې راپور ورکړ شوي، له 24.65 ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډير زيات شوي. د 2014 د جون تر 30 پورې، زياتيدونکي تاديات نږدې 378.92 ميليونه امريکايي ډالر د 2014 د مارچ 31 تر زياتيدونکو تادياتو زيات شوي.[85] شکل 3.20 د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق پروګرامونو لپاره د تخصيص شويو، مکلف شويو او تاديه شويو زياتيدونکي پرتله کول ښيي.

شکل 3.19

**د ESF تخصيصات د مالي کال پراساس**

(ملياردونه ډالر)




شکل 3.20

**د ESF فنډونه، مجموعي پرتله**

(مليارده ډالر)




يادوني: شميرې ګردې شوي د FY 2011 مقدار کې هغه 101 مليون ډالر شامل دي چې د افغانستان زيربنا صندوق څخه ESF ته ليږدول شوي و.

سرچينې: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته خواب 7/10/2014 او 4/7/2014؛ State، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته خواب، 4/15/2014 او 6/27/2013.

## د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلې کول

د امریکا د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو چارو بیورو (INL) د قانون حاکمیت ښه کولو او مخدره توکو تولید او قاچاق سره مبارزې حساب اداره کوي، چې د نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلې کولو (INCLE) حساب دی. INCLE د INL د څو پروګرامونو، پشمول د پولیسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکمیت او عدالت ملاتړ کوي.[86]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې په 2014 مالي کال کې د INCLE لپاره 225 میلیونو امریکایي ډالرو تخصیص شوي، او لدې سره د INCLE زیاتیدونکي مرستې 4.41 میلیونو امریکایي ډالرو ته رسیدلي. لدغو پیسو څخه، نږدې 3.56 ملیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي، او لدغو پیسو څخه 3.00 ملیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.[87] دغه شکل 3.21 په هر مالي کال کې د INCLE تخصیصونه ښیي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د 2014 د جون د 30 پورې، د 2014 د مارچ د 31 په پرتله زیاتیدونکي مکلفیتونو تر 13.53 میلیون ډالره زیات شوي. د 2014 د جون تر 30 پورې زیاتیدونکي تادیات، د 2014 د مارچ د 31 تر زیاتیدونکو تادیاتو له 54.04 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر زیات شوي.[88] شکل 3.22 د INCLE لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او تادیاتو زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.




**د INL وجهي صندوق ترمینالوژي**

INL د INCLE او نور INL فنډونو لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او توزیع شوو مرستو راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**توزیعات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.

شکل 3.21

**د INCLE تخصیصات د مالي کال پراساس**

(ملیون ډالر)




شکل 3.22

**د INCLE فنډونه، مجموعي پرتله**

(ملیاردونه ډالر)




یادونې: شمیرې کردي شوې. په معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ لیږدونې شامل وي. تازه معلومات په تیر ربع کې راپور ورکړ شوي مقدار څخه د ټیټ پایله درلوده.

سرچینه: State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/16/2014، 4/15/2014 او 4/11/2014.

## د افغانستان لپاره د بيا رغونې نړيواله مرسته

د امريکا پر برابره شوې مرستو برسيره، نړيواله ټولنه د افغانستان د بيارغونې او هوساينې لپاره د مرستو ډېره برخه برابره وي. لکه څرنګه چې د سيګار د تير ربعونو په راپورونو کې راغلي، د نړيوالې ټولنې ډېرى برابره شوې مرسته د وجهي صندقونو له لارې اداره کيږي. د وجهي صندقونو له لارې برابره شوې مرسته سره يوځاى کيږي او بيا د بيارغونې فعاليتونو ته تقسيم کيږي. دوه مهم وجهي صندقونه د افغانستان بيارغونې وجهي صندق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانو او نظم وجهي صندق (LOTFA) دي.[89]

## د افغانستان بيارغونې وجهي صندوق کې برخه اخيستنې

د افغانستان په عملياتي او پراختيايي بودجو کې ډېري برخه اخيستنې د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه د 2014 د جون تر 21 پورې، نړيوال بانک راپور ورکړى چې 33 مرستندويانو د نږدې 7.86 ميليارډو امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو پيسو څخه له 7.24 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات تاديه شوي دي.[90] د نړيوال بانک په وينا، د افغانستان په 1393 مالي کال کې چې د 2013 د دسمبر له 21 څخه د 2014 د دسمبر تر 20 پورې دى، مرستندويانو د ARTF لپاره د نږدې 954.16 ميليونو امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده.[91] شکل 3.23 د 1393 مالي کال لپاره په ARTF کې د 11 لويو مرستندويانو برخه اخيستنې ښيي.

شکل 3.23

**د ډونر لخوا د FY 1393 لپاره د ARTF اعانې، د 2014 د جون 21 پورې** (مليون ډالر)




يادوني: شميرې ګردې شوي. FY 1393 = 12/21/2013–12/20/2014.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2014 د جون تر 21 پورې په مالي دريځ د اداره کونکي راپور (د FY 1393 6مه مياشت)،" مخ 1.

د 2014 د جون تر 21 پورې، امریکا له 2.26 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه د زیاتو ژمنه کړې ده او له 2002 څخه یې نږدې 2.04 ملیارده امریکایي ډالر تادیه کړي دي.[92] امریکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرستندویان دي، یوځای د ټولې مرسته 46% ورانديز کوي، لکه څرنګه چې پدغه شکل 3.24 کې ښودل شوي.

په ARTF کې برخه اخیستنې د مرستې په دوو چینلونو ویشل کیږي، روان لګښت (RC) کړکی او د پانګونې کړکی.[93] د 2014 د جون تر 21 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د ARTF نږدې 3.06 ملیارده امریکایي ډالر د روان لګښت د کړکی له لارې د افغانستان حکومت ته توزیع شوي دي ترڅو له روانو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو د معاشونو ورکولو سره مرسته وکړي.[94] د روان لګښت کړکی د افغانستان حکومت د عملیاتي بودجې له لګښتونو سره مرسته کوي ځکه چې د افغانستان کورني عواید اوس هم کم دي ترڅوله خپلو روانو لګښتونو سره مرسته وکړي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکی په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کیدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هیوادونه له نیمي څخه ډیره برخه اخیستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي).[95]

د پانګونې کړکی د پرمختیایي پروګرامونو بیې ورکوي. د 2014 د جون تر 21 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د پانګونې د کړکی له لارې له 3.64 میلیاردو ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه نږدې 2.60 ملیارده ډالر تادیه شوي دي. نړیوال بانک د 23 روانو پروژو راپور ورکړی چې ټول ژمنه شوی ارزښت یې نږدې 2.41 میلیاردو امریکایي ډالر دي، لدغه څخه نږدې 1.37 ملیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[96]

شکل 3.24

**د ډونرانو لخوا ورکړل شوي د ARTF اعانې، 1381 SY (2002) - د 2014 د جون 21**

(سلنه)




یادونې: شمیرې ګردې شوي. په "نور" کې 29 ډونران شامل دي.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2014 د جون تر 21 پورې په مالي دریځ د اداره کونکي راپور (د 6 FY 1393 مه میاشت پای)،" مخ 5.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق کې برخه اخیستنې

ARTF د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) لخوا اداره کیږي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو معاشونه تادیه شي او د کورنیو چارو وزارت ظرفیت ته وده ورکړ شي.[97] د وروستیو شته معلوماتو پر اساس، له 2002 څخه، مرستندویانو د LOTFA لپاره د نږدې 3.72 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو څخه نږدې 3.56 ملیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[98] د LOTFA د ملاتړ شپږمه دوره د 2011 د جنوری په 1 پیل شوې. VI دوره په اصل کې پلان شوې وه ترڅو د 2013 د مارچ په 31 پای ته ورسیږي، مګر له دوو غزیدلو وروسته، د پای پلان شوې نیټه اوس د 2014 د دسمبر 31 ده.[99] د VI دورې له پیل څخه په 39 میاشتو کې، UNDP له LOTFA څخه نږدې 1.64 ملیارده امریکایي ډالر د افغانستان حکومت ته لیږلي دي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو او مرکزي بندي خانې ریاست کارکوونکو معاشونه ورکړي او نور 42.14 میلیونه امریکایي ډالر یې د ظرفیت لوړلو او LOTFA نورو نوښتونو ته لیږلي دي.[100] د 2014 د مارچ تر 31 پورې، مرستندویانو د LOTFA د VI برخې لپاره له 2.18 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه د زیاتو ژمنه کړې ده. لدغو پیسو څخه، امریکا د 967.10 میلیونو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، او جاپان له 744.76 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیره ژمنه کړې ده. د هغوی ګډې ژمنې د LOTFA د VI دورې له 78% څخه د زیاتو ژمنو استازیتوب کوي. امریکا د LOTFA له تاسیس څخه د نږدې 1.37 میلیاردو امریکایي ډالرو مرسته کړې ده.[101] دغه شکل 3.25 د شته معلوماتو پر اساس، له 2002 څخه د LOTFA څلور لوی مرستندویان ښیي.

شکل 3.25

**د ډونرانو لخوا LOTFA ته اعانې، له 2002 راهیسې - د 2014 د مارچ 31**

(سلنه)




یادونې: شمیرې ګردې شوي. EU = اروپای اتاحادیه په "نور" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچینه: UNDP، "د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) د 2014 لومړي ربع د پروژې پرمختګ راپور،" 6/9/2014 مخ 28؛ د UNDP د LOTFA درې میاشتني او کلني راپورونو د سیګار تحلیل، 7/16/2014.

# د امنیت منځپانګې


| | |
|---|---|
| پدې ربع کې مهمې مسلې او پیښې | 87 |
| د امریکې د امریکا ځواکونه | 92 |
| د امریکا دفاع وزارت د قرارداد د مدیریت ښه کولو ګامونو په اړه راپور ورکوي | 92 |
| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو شمیر | 93 |
| د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې | 99 |
| افغان سیمه ایز پولیس | 100 |
| د افغانستان ملي اردو | 101 |
| د افغانستان ملي پولیس | 107 |
| د ANSF طبي/روغتیایي پاملرنه | 110 |
| د هغو مهماتو لړې کول چې چاودلې نه وي | 111 |
| د مخدره توکو په وړاندي مبارزه | 112 |

# امنيت

تر د 30 جون 2014 پورې د متحده ايالات کانګرس د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د ملاتړ لپاره له 61.8 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر تخصيص ورکړي دي. د دې مرستو ډيره برخه (57.3 میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق (ASFF) له لارې مجرا شوي او د افغانستان د امنيت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته ورکړ شوي. کانګريس ASFF د دې موخې لپاره رامنځته کړ چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پولیسو (ANP) څخه ترکيب شوي. د 2014 د جون تر 30 پورې، د ASFF لپاره له تخصيص شويو نږدې 57.3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه نږدې 50.0 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي او 48.2 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.[102]

دا برخه د ANSF او د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو په ارزونې باندې خبرې کوي؛ او د امریکا له مرستو څخه د ANSF د جوړولو، تجهيز کولو، روزلو، او دوام لپاره د کار اخيستلو لنډيز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غير قانوني مخدره توکو د کرهنې او تجارت په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. دا برخه د 2014 تر پايه د افغانانو په مشرۍ د امنیت د سپارلو پر ننګونو باندې هم خبرې کوي.

## پدې ربع کې مهمې مسلې او پيښې

د دې ربع په مهمو مسلو او پيښو کې د ولسمشر اوباما لخوا د ځواکونو د ايستلو مهال ويش، د 2015 مالي کال (FY) لپاره په بهر کې د امریکا د فاع وزارت (DOD) د بيړنيو عملياتونو (OCO) د بودجې غوښتنې خپريدل، د امریکا او افغانستان تر منځ د دوه اړخيزې امنيتي موافقې (BSA) د نه لاسليک کيدلو په اړه د امریکا دوامداره اندېښنې، او د افغانستان د عامه خونديتوب له ځواک (APPF) څخه د افغانستان ملي پولیسو ته د کاروانونو او تاسيساتو د امنيت مسوليتونو سپارل شامل دي. پردې برسيره، ملګرو ملتونو په افغانستان کې د تاوتريخوالي د ډېريدو په اړه راپور ورکړی.

## ولسمشر اوباما د ځواکونو د وتلو د مهال ويش اعلان کړی

که د افغانستان حکومت BSA لاسليک کړي چې پر اساس به يې د امریکا ځواکونه د افغانستان حقوقي سيستم پر اساس نه محاکمه کيږي، امریکا به له 2014 وروسته په افغانستان کې ځواکونه وساتي. د افغانستان په دويم پړاو ټولټاکنو کې دواړو کانديدانو ويلي دي چې هغوی به موافقه لاسليک کړي. د 2014 د مې په 27، ولسمشر اوباما د امریکا د هغو ځواکونو شمير اعلان کړ چې د دوه اړخيزې امنيتي موافقې پر اساس به په افغانستان کې پاته شي.

امریکا په 2011 کې له 100,000 لوړې شمیرې څخه خپل ځواکونه په منظمه توګه کم کړي دي. ولسمشر اوباما اعلان کړی چې د امریکا د ځواکونو اوسنی 32,800 شمیره به د 2015 په پیل کې نږدې 9,800 ځواکونو ته را کم شي. دا شمیره به د 2015 په نیمایي کې نیمې ته را کم شي؛ او د امریکا پاته شوي ځواکونه به د بګرام او کابل په هوایي ډګرونو کې میشت شي. د 2016 په پای کې به ځواکونه د سفارت عادي شتون ته را کم شي او د امنیتي مرستې بنه به ولري.[103]

ولسمشر اوباما ویلي چې له 2014 وروسته د امریکا موخې دا دي ترڅو د القاعدې لخوا د ګواښونو مخه ونیسي، د افغانستان امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي، او د افغانستان خلکو ته فرصت ورکړي ترڅو بریالي شي. هغه له 2014 وروسته د دوو نورو ماموریتونو اعلان هم کړی: د افغانستان د ځواکونو روزنه او د تروریزم پر وړاندې د عملیاتونو ملاتړ کول. ولسمشر دا هم ویلي چې افغانستان به یو ډیر ښه ځای نه وي او دا د امریکا مسولیت هم ندی چې ورڅخه یو ډیر ښه ځای جوړ کړي.[104]

ولسمشر کرزي په راتلونکي ورځ یوه اعلامیه خپره کړه او د ولسمشر اوباما له پریکړې څخه یې درناوی وکړ. مګر، ملي شورا او مدني ټولنې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د چمتو والي او د ځواکونو د وتلو د اغیز له کبله پر افغانستان باندې د نړیوالې ټولنې د پراخو ژمنو په اړه اندیښنه ښودلې.[105]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د ټولټاکنو دویم پړاو امنیت وساته

د تاوتریخوالي پر ګواښونو برسیره، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه پدې بریالي شول ترڅو د ولسمشرۍ ټولټاکنو دویم پړاو امنیت وساتي چې د 2014 د جون په 14 ترسره شوې.[106] آیساف راپور ورکړی چې د ټولټاکنو له لمړي پړاو څخه وروسته د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو له څنډ څخه پرته امنیتي عملیاتونه ترسره کړي، د امنیت ټولو برخو مشري یې کړې، او په ټول هیواد کې یې د ټولټاکنو نږدې 6,200 مرکزونو امنیت نیولی. جنرال جوزف ډانفورډ، د آیساف او په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو قوماندان، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو مسلکیتوب او ژمنه یې ستایلې، او ویلې، "یو ځل بیا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د افغانستان خلکو لپاره د رای ورکولو فرصت برابر کړی دی."

د ANSF فعالیت د DOD له اروزنې سره برابر و چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د 2013 کال د جنګ له فصل څخه د یوه تجربه لرونکي او ډاډمن ځواک په توګه را وتلی، چې د افغانستان لپاره د امنیت برابرولو توان لري.[107] د ټاکلو د اوریدنې پدې پړاو کې، جنرال جان اف کمبل شاهدت ورکړی چې "ANSF د جنګ په دوو فصلونو، دوو ملي ټولټاکنو، او د لوړې کچې څو پیښو کې یې د محاربې خپل توان ثابت کړی دی."[108]

## د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د دوام لپاره د ASFF د 2015 مالي کال غوښتنه کې مرسته زیاته شوې

پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د ASFF لپاره د 2015 مالي کال د بهرنیو بیړنیو عملیاتونو بودجې غوښتنه خپره کړې. د 4.11 میلیاردو امریکایي ډالرو غوښتنه د 2014 مالي کال تر غوښتنې 3.62 میلیارده امریکایي ډالره کمه ده او د 2014 مالي کال لپاره د پای له تخصیص شوي اندازې څخه 617 میلیونه امریکایي ډالره کمه ده.[109] د 2015 مالي کال په ترڅ کې، د ایتلاف سلاکاران به د توان په کموالي کار وکړي او پدې به کار کوي ترڅو د لوژستیک سیستمونه، روغتیایي پاملرنه، او د سړک غاړې چاودیدونکو توکو مخې نیولو کارونه ښه کړي.[110]

د غوښتنې 84% د امنيتي ځواکونو د دوام د لګښتونو، لکه د معاشونو، تيل، او ساتنې لپاره ده، او دا له هغه څخه دوه نيم ځلې ډېره ده چې په 2014 مالي کال کې يې غوښتنه شوې وه. که څه هم په 2014 مالي کال کې د افغانستان ملي پوليسو د تاسيساتو لپاره کومه مرسته تخصيص شوې نه ده، د 2015 مالي کال په بودجې کې 15 ميليونه امريکايي ډالرو غوښتنه شوې، چې لدې څخه 10.2 ميليونه امريکايي ډالر د اطفايې لپاره ده.[111] لکه څنګه چې پدې جدول 3.6 کې ښودل شوي، دغه اندازه مرسته د 2014 مالي کال له تخصيصونو څخه ډېره کمه ده.

جدول 3.6

**د افغانستان د امنيتي ځواکونو بودیجه**

| | د ASFF اوسنی توزیع، 2014 مالي کال | په بهر کې د بيرنو عملياتونو (OCO) غوښتنه، 2015 مالي کال | بدلون |
|---|---|---|---|
| **د افغانستان دفاع وزارت/ د افغانستان ملي اردو** | | | |
| ثبات | 890,078,000 ډالر | 2,514,660,000 ډالر | %182.5 |
| زيربنا | 278,650,000 | 20,000,000 | %-92.8 |
| تجهيزات او ترانسپورت | 1,688,382,000 | 21,442,000 | %-98.7 |
| روزنه او عملياتونه | 628,550,000 | 359,645,000 | %-42.8 |
| **د افغانستان کورنيو چارو وزارت/ د افغانستان ملي پوليس** | | | |
| ثبات | 605,020,000 ډالر | 953,189,000 ډالر | %57.5 |
| زيربنا | 10,000,000 | 15,155,000 | %51.6 |
| تجهزات او ترانسپورت | 167,896,000 | 18,657,000 | %-88.9 |
| روزنه او عملياتونه | 441,419,000 | 174,732,000 | %-60.4 |
| **اړوند فعاليتونه** | | | |
| ثبات | 14,225,000 ډالر | 29,603,000 ډالر | %108.1 |
| زيربنا | 0 | 0 | NA |
| تجهيزات او ترانسپورت | 0 | 0 | NA |
| روزنه او عملياتونه | 2,500,000 | 2,250,000 | %-10.0 |
| **ټول** | **4,726,720,000 ډالر** | **4,109,333,000 ډالر** | **%-13.1** |

يادونې: MOD = د افغانستان دفاع وزارت؛ MOI = د افغانستان کورنيو چارو وزارت.

سرچينې: د امريکا دفاع وزارت، د 2015 مالي کال لپاره په بهر کې د بيرنيو عملياتونو لپاره دليل، د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق (ASFF)، 6/2014؛ د سيګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکا دفاع وزارت ځواب، 7/17/2014.

په 2015 مالي کال کې د OCO غوښتنه چې د افغانستان د ملي اردو د تجهيزاتو مرسته ده، د سپک هوايي ملاتړ او د الوتکو د روزنې، ساتنې، آزموينې، او د افغانستان هوايي ځواک د ځمکې د تجهيزاتو ملاتړ لپاره ده. د افغانستان ملي اردو د تاسيساتو اضافي غوښتنه د هغو پروژه لپاره ده چې د افغانستان دفاع وزارت د خپلو اړتياو لپاره اړين ګڼلې دي. د افغانستان ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورت غوښتنې ډېره برخه په تير کې د اخيستل شويو تجهيزاتو، لکه وسايط، وسلې، او مخابرې د ترانسپورت لګښتونو پوښښ لپاره ده (18.2 ميليونه امريکايي ډالر).[112]

## دوه اړخيزه امنيتي موافقه (BSA) اوس هم لاسليک شوې نده

د امريکا او افغانستان ترمنځ دوه اړخيزه امنيتي موافقه چې له 2014 وروسته په افغانستان کې د امريکا د ځواکونو د حقوقي دريځ د تعريف لپاره ده، اوس هم لاسليک شوې نده.

د BSA نهایی دریځ به له 2014 وروسته په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي شتون باندې ژور اغیز ولري، د بیا رغونې پروګرامونو مالي حمایت ته د دوام لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لیوالتیا، او د امنیت، حکومتدارۍ، او اقتصادي سیکتورونو کې د ودې ساتلو لپاره د افغانستان وړتیا. د امریکا او افغانستان حکومتونو د دې موافقې د مسودې پر متن موافقه کړې، او د 2013 په نومبر کې لويې جرګې دا سند تایید کړ.[113] ولسمشر کرزي ونه غوښتل ترڅو دا موافقه لاسلیک کړي. مګر، د افغانستان د ولسمشرۍ دویم پړاو ټولټاکنو کې دواړو کاندیدانو ویلي دي چې که هغوی ګټونکي شي دا موافقه به لاسلیک کړي.[114] د ناټو عمومي منشی، آندرس فوګ راسموسین خبرداری ورکړی که د سپتمبر تر پایه دا موافقه لاسلیک نشي، دا به د غربي متحدینو لپاره ډیرې ستونزې جوړې کړي او راتلونکي امنیتي ترتیبونه به له خطر سره مخامخ کړي.[115]

## د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک مسولیتونو سپارل امنیتي پروژې ناڅرګنده پریږدي

د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک (APPF)، چې یوه حکومتي تصدي ده او د افغانستان کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې ده، په 2010 کې د ولسمشر کرزي له فرمان څخه وروسته چې د شخصي امنیتي شرکتونو عملیاتونه یې منع کړل، د دې لپاره تاسیس شوې ترڅو په افغانستان کې د قرارداد پر اساس د تاسیساتو او کاروانونو لپاره امنیت برابر کړي.[116] مګر، د 2014 د فبروری په 17، د ولسمشر کرزي له هدایت سره سم، د وزیرانو شورا هدایت ورکړ ترڅو APPF منحل شي او د پهرې دندې یې د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[117] امریکا د APPF د ملاتړ لپاره له 51 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي، چې د امریکا لخوا د ډیرو تمویل شویو پروژو لپاره یې امنیت برابر کړی.[118]

د سیګار د معلوماتو غوښتنې په ځواب کې، چې ولې دا ځواک منحل شو، په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت (NTM-A) توضیح ورکړې چې د 2014 د جون په 10 د افغانستان د کورنیو چارو وزیر، آیساف ته ویلي چې دې ځواک "کار کاوو،" مګر ولسمشر کرزی یې "له شتون سره خوښ نه و." دا څرګنده نه وه چې ولې ولسمشر کرزی له هغه پروګرام څخه راضي نه و چې هغه جوړ کړی. د NTM-A په وینا، ملي اردو ته د APPF د عملیاتونو د سپارلو لپاره څلورو کمیټو ته دنده ورکړ شوې ترڅو پلان جوړ کړي. که څه هم راپور ورکړ شوی چې کمیټو خپل کارونه بشپړ کړي، د کورنیو چارو وزیر چې د ولسمشر کرزي تر ډیر فشار لاندې و، د سپارلو له پرمختګ څخه خوشهاله نه و، او د 2014 د می په 22 یې هدایت ورکړی ترڅو د APPF د کاروانونو امنیتي عملیاتونه د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[119]

NTMA ویلي چې د دې ځواک تجربه لرونکي کارکوونکي کولای شي د افغانستان له ملي پولیسو سره یوځای شي. مګر، د افغانستان د ملي پولیسو د عمر د پالیسی پر اساس، هغه محافظین چې عمر یې له 35 څخه ډیر دی، خپلې دندې به له لاسه ورکړي. هغه کسان چې غواړي ملي پولیسو سره یوځای شي، د ملي پولیسو اکادمي ته به ولیږل شي او د دریو کلونو لپاره به قرارداد لاسلیک کړي. NTM-A ویلي چې امنیتي عملیاتونه به د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د امنیتي معین او د افغانستان د ملي پولیسو تر کنترول لاندې پاته شي.[120]

له APPF څخه د افغانستان ملي پولیسو ته د کاروانونو د امنیت سپارل لا له وړاندې د امریکا لپاره ځینې حقوقي ستونزې جوړې کړي. امریکا د افغانستان لپاره د قانون اونظم په وجهي صندق (LOTFA) کې برخه اخلي، چې د افغانستان ملي پولیسو معاشونه او لګښتونه تر پوښښ لاندې راوړي. لدې کبله چې APPF د حکومت یوه تصدي وه او د LOTFA لخوا

نه تمویلیده، امریکا یې د قرارداد پر اساس د خدمتونو پیسې ورکولې. مګر، د افغانستان ملي پولیسو له APPF څخه د کاروانونو د امنیت مسولیتونه اخیستلو سره، CSTC-A باور لري چې له حقوقي پلوه امریکا نشي کولای د دې خدمتونو پیسې ورکړي، ځکه چې امریکا به په حقیقت کې دوه ځلې پیسې ورکوي. ځکه نو، د 2014 د مې په 23، USFOR-A د APPF خدمتونو لپاره تادیاتو ورکول بند کړي. له بده مرغه، د ولایتونو امنیه قوماندانانو، چې پخپلو ساحو کې به د کاروانونو د امنیت دندې په غاړه واخلي، ویلي چې هغوی کارکوونکي، تیل، او اړین وسایط نلري ترڅو دا اړتیا تر پوښښ لاندې راوړي. NTM-A ویلي چې په "خبرو کې راغلي چې د افغانستان کورنیو چارو وزارت پدې کار کوي چې APPF ته ورته پروسه تاسیس کړي ترڅو اندیښنې کمې کړي."[121] او دا یوځل بیا دا پوښتنه راپورته کوي چې ولې APPF منحلیږي.

د ساحې امنیت، چې د تاسیساتو پهره کوي، له سپارلو څخه اغیزمنه شوې. د 2014 د جون تر 30 پورې، APPF د آیساف د پنځو مخکنیو عملیاتي پایګاو لپاره امنیت برابر کړی؛ او د 22 نورو داسې پایګاو امنیت د شخصي امنیتي شرکتونو لخوا برابر شوی. NTM-A ویلي چې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت لخوا د مرستو د بندیدلو د هدایت له کبله، د مخکنیو پایګاو د محافظینو لپاره د معاشونو تادیات ځنډیدلي.[122] مګر، NTM-A ویلي چې د ساحې د امنیت د سپارلو لپاره د افغانستان کورنیو چارو وزارت اوسنی پلان کیدای شي لکه کاروانونه د امریکا لپاره ورته حقوقي ستونزې پیدا کړي.[123] USAID او تطبیق کوونکي ملګري یې پر APPF تکیه کوي ترڅو د 2 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت د پراختیایي مرستو پروژو لپاره په ساحه کې امنیت برابر کړي. د هغوی تطبیق کوونکي ملګري په اوس وخت کې د APPF له حکومتي تصدی سره 26 قراردادونه لري، چې ارزښت یې 13 میلیونه امریکایي ډالر دي. CSTC-A راپور ورکړی چې له امنیت څخه پرته، USAID نشي کولای ځینو پروژو ته دوام ورکړي. CSTC-A دا راپور هم ورکړی چې د امریکا بهرنی مرستې قانون د USAID مرستو ته دا اجازه نه ورکوي ترڅو د پولیسو او عسکرو خدمتونه د تمویل لپاره ورڅخه کار واخیستل شي. د امریکا له قانون څخه د اطاعت لپاره، USAID د افغانستان کورنیو چارو له وزارت څخه لیکلي تایید ته اړتیا لري چې خدمات به د امنیتي محافظینو لخوا برابریږي، لکه څنګه چې د APPF له حکومتي تصدی څخه برابریدو. د NTM-A په وینا، آیساف، USAID او نور د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د وړاندیز شویو حل لارو د ورتیا ارزونه کوي.[124]

د NTM-A په وینا، وروستی شمیرنې ښودلې چې APPF 19,912 کارکوونکي، پشمول د نږدې 3,800 د کاروانونو امنیتي محافظین لري. مګر، پدې کې وروستې سپارل ندي شمیرل شوي. NTM-A راپور ورکړی چې "په اوس وخت کې د دقیق شمیر تایید امکان نلري."[125] دا څرګنده نده چې APPF یا ځای ناستی سازمان به یې څرنګه بڼه ولري.

د NTM-A په وینا، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت دا منلې دي چې تیر وتنه یې کړې او "پر دې باندې کار کوي ترڅو یوه لار پیدا کړي ترڅو امنیتي خدمتونه وسپاري پرته لدې چې امنیتي خدمتونه اغیزمن کړي."[126] د افغانستان د کورنیو چارو وزارت یوه لوړ پوړې چارواکي ویلي چې هغوی باید یو پلان جوړ کړی، بیا لیدلی، تایید کړی او تطبیق کړی وای. مګر، هغوی ته ویل شوي ترڅو یو بدلون راوړي، چې هغوی راوستی، پرته لدې چې یو څرګنده پلان شتون ولري. NTM-A ویلي چې "پر دې برسیره چې د آیساف ګټې یې اغیزمنې کړې، پخپلو ساحو کې د پروژه په اړوند د USAID، سفارت، او د نړیوالې ټولنې د نورو عناصرو ګټو باندې هم اغیز کړی."[127]

**لکه څرنګه چې د امریکا له مرستو څخه نشي کیدلای د پولیسو خدمتونو لپاره کار واخیستل شي د افغانستان ملي پولیسو ته د APPF سپارل حقوقي مسلې راپورته کوي.**

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/1/2014.

## ملکري ملتونه راپور ورکوي چې په افغانستان کې تاوتریخوالي د ډیریدو په حال کې دی

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا، په افغانستان کې جګړه د ډیریدو په حال کې ده. د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د جون په 18 پخپل راپور کې، عمومي منشي ویلي چې د 2014 لمړي ربع د طالبانو له ړنګیدو وروسته د تاوتریخوالي لوړه کچه درلوده؛ او 2011 تر ټولو لوړه کچه درلوده. د 2014 د مارچ له 1 څخه د مې تر 31 پورې، د تیر کال په پرتله د امنیتي پیښو شمیره 22% زیاته شوې. دا زیاتوالی تر ډیرې کچې د ټولټاکنو له کبله ده، چې د ټولټاکنو په ورځ 476 امنیتي پیښې ثبت شوې.[130] د 5,864 امنیتي پیښو ډیری برخه په سویل، سویل ختیځ، او ختیځ کې منځ ته راغلي.[131] وسلواله جګړه او د سړک غاړې چاودیدونکو توکو (IED) پیښې د ټولو امنیتي پیښو 74% وه.[132] د جګړې د پراخیدلو د اندیښنې په نښو کې، ځمکنی محاربه د سړک غاړې تر چاودیدونکو توکو ډیره مرګ ژوبله منځ ته راوړي، چې پدې کې تر ډیرې کچې ښځې او کوچنیان د وسلو په اور کې بند پاته کیږي.[133]

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماموریت مشر، یان کوبیش خبرداری ورکړی "چې په 2014 کې په افغانستان کې د جګړې بڼه بدلون مومي او د ملکي میشتو خلکو په ساحو کې پر ځمکې باندې محاربه ډیره شوې." "پر ملکیانو باندې په اغیز کې، او پدې کې پر ډیرو بې وزلو افغانانو باندې یې ډیره ناوړه اغیز درلوده."[134] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت ماموریت (UNAMA) د آیساف د پایګاو د ترلو او په ملکیانو کې د قربانیانو ترمنځ مستقیمه تړاو لیدلی.[135] پردې برسیره، ملګرو ملتونو 229 وژنې، او د وژنو ناکامې هڅې ثبت کړې، چې دا د 2013 په ورته وخت کې 32% زیاتوالی ښیي.[136]

> د 2014 په لمړي نیمی کې، یونما د [آیساف د پایګاو] او د قربانیانو د ډیریدلو ترمنځ په ځیو ساحو کې مستقیم تړاو لیدلی.
>
> — د ملګرو ملتونو عمومي منشي

سرچینه: یونما، د افغانستان د 2014 د نیمایي کال راپور، په وسله واله جګړه کې د ملکیانو خوندیتوب، 7/2014، مخ 7.

## په افغانستان کې د امریکا ځواکونه

د آیساف په وینا، د 2014 د جون تر 30 پورې، 32,800 امریکایي ځواکونو په افغانستان کې خدمت کاوو. د 2014 د جون تر 1 پورې، د ایتلاف نړدې 17,102 ځواکونو خدمت کاوو.[137] د 2014 د مې په 27، ولسمشر اوباما اعلان وکړ چې د 2015 تر جنوری به په افغانستان کې د امریکا ځواکونه نږدې 9,800 ته کم شي او د 2015 په ترڅ کې به نور هم کم شي.[138] په 2001 کې د عملیاتونو له پیل څخه، په افغانستان کې د امریکا اردو ټول 2,197 پرسونل وژل شوي دي، د دغو 83% په محاربه کې وژل شوي، او د 2014 د جولای تر 3 پورې، 19,728 ټپیان شوي.[139]

### د ایتلاف ځواکونه وځي

**د 2014 د مې په 20 په افغانستان کې د ډنمارک ماموریت په کمپ باسشن کې د یوې غونډې په ترڅ کې پای ته ورسید. پدغه کال کې هغوی خپله 17 بدلونه او په افغانستان کې د ځواکونو د پای راټګ ترسره کړل. د هغوي د ماموریت په ټوله دوره کې، له 18,000 څخه زیات عسکر افغانستان ته راغلي او 33 په جګړه کې وژل شوي.[128] د 2014 د جون په 29 رومانیا د محاربې خپل ماموریت پای ته ورساوو، مګر د خپل ملاتړ عملیاتونو ته به دوام ورکړي.[129]**

## د امریکا دفاع وزارت د قرارداد د مدیریت ښه کولو ګامونو په اړه راپور ورکوي

د امریکا دفاع وزارت سیګار ته د یو شمیر ګامونو په اړه خبر ورکړی ترڅو د هغو مسلو لپاره د حل لار پیدا کړي چې د 2012 په جنوری کې د قرارداد کولو په کنفرانس کې په افغانستان کې د فیدرال د قرارداد کولو د "ټولو اړوندو بنسټونو لخوا د اوسنیو ستندردونو، پالیسیو او طرزالعملونو د نه پلي کولو" په توګه پیژندلې. پایلې په هغه مکتوب کې راغلي چې د کابل په کنفرانس کې د امریکا مرکزي قوماندانی (CENTCOM)، USFOR-A، د آیساف ګډې قوماندانی، د قرارداد کولو سازمانونو او نورو له څخه ډیرو استازو برخه اخیستې وه.[140] لکه څنګه چې د سیګار د تیر ربع په راپور کې تشریح شوي، سیګار څو ځلې له کنفرانس

وروسته د نورو ګامونو په اړه پوښتنه کړې، چې پدې مکتوب کې "د ستندردونو، پاليسيو او طرزالعملونو د نه پلي کولو د کمزورې حساب ورکونې په اړه هم ليکلي." [141]

د معلوماتو لپاره د سيګار د بلې غوښتنې په ځواب کې چې د قرارداد کولو په پروسه کې د کمزوريو د حل د ګامونو په اړه وه، د امريکا دفاع وزارت اوس راپور ورکړی چې د بېړنيو قرارداد کولو افسرانو او بېړنيو قرارداد کولو افسرانو د استازو لپاره له اوسنيو ستندردونو، پاليسيو، او طرزالعملونو سره د مطابقت نوښتونو په ښه کولو کې، د تصديق نوي ستندردونه او د نصاب منځپانګې؛ د اخيستلو کارکوونکو ښه کولو هڅې؛ د COR د لارښود د 40,000 نويو کاپيو توزيع او په انترنت کې اضافي معلومات؛ د قرارداد په ملاتړ کې ګډ تمرينونه؛ په انترنت کې د COR تعقيبولو وسيله او ګمارل شوي قراردادونه؛ په CSTC-A کې د قرارداد د قوماندانی د اړيکو افسر ترڅو د افغانانو د قرارداد کولو ظرفيت زيات کړي؛ او د "پاليسی يو شمير سندونه،" اضافي لارښونه، او قرارداد کولو بنسټونو لپاره د نظارت اطاعت شامل دي.[142]

سيګار د قرارداد د مديريت، نظارت، اطاعت، او حساب ورکولو د پوښتنې په اړه د امريکا دفاع وزارت د ځواب ارزونه کوي، او د 2012 د قرارداد کولو له کنفرانس وروسته د عملي ګامونو د اغيز په اړه د نويو معلوماتو غوښتنه به هم وکړي. سيګار د ځواب دا ارزونه هم کوي ترڅو دا وګوري چې آيا د امريکا دفاع وزارت په هر اړخيزه توګه پوښتنو ته ځواب ورکړی.

## د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو شمير

د CSTC-A په وينا، پدې ربع کې، د افغانستان امنيتي ځواکونو شمير 340,293 و.[143] دا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د کارکوونکو د پای 352,000 شميرې د موخې %97 ده. د DOD تر 2014 پورې د ANSF 352,000 (تر 2012 دسمبر پورې ANA 187,000، تر 2013 فبرورۍ پورې ANP 157,000، او تر 2014 سمبر پورې 8,000 هوايي ځواکونه) ته رسولو هدف تقريبا سرته رسيدلی.[144] ANA او ANP د خپل نهايي ځواک څخه %3 او وايي ځواک (تمه کيږي چې د کال پای پورې خپل هدف ته ورسي) د نهايي هدف %16 شاته دی، لکه څنګه چې په جدول 3.7 کې ښودل شوي. مګر، لکه څرنګه چې په راتلونکې پاڼه کې ويل شوي، د افغانستان ملي اردو په شمير کې ملکي کارکوونکي هم شامل دي.

> ### د سيګار پلټنه
> د سيګار يوه روانه پلټنه د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تاييد شويو، ګمارل شويو او روزل شويو کارکوونکو شمير په اړه د معلوماتو د ګټې او اعتبار ارزونه کوي.

جدول 3.7

**د افغانستان د ګمارل شوي ځواک شمير، د 2014 مې**

| د ANSF برخه | اوسنی هدف | د 5/2014 پورې درېځ | د ځواکونو اوسني شمير او د پای موخې ځواکونو شمير ترمنځ توپير |
|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | د 2012 تر دسمبر پورې 187,000 کارکوونکي | 181,439 (%97) | -5,561 (%3) |
| افغان ملي پوليس | د 2013 تر فبرورۍ پورې 157,000 ځواکونه | 152,123 (%97) | -4,877 (%3) |
| د افغانستان هوايي ځواک | د 2014 تر دسمبر پورې 8,000 کارکوونکي | 6,731 (%84) | -1,269 (%16) |
| **د ANSF ټوله شميره** | **352,000** | **340,293 (%97)** | **-11,707 (%3)** |

سرچينې: د امريکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنيت او ثبات په اړه د پرمختګ راپور، 12/2012، مخ 56؛ د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/1/2014؛ د سيګار تحليل.

جدول 3.8

**د افغانستان په ملي اردو کې شمیرل شوي ملکیان**

| | 2012 | | | 2013 | | | | 2014 | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q2 | Q3 | Q4 | Q1 | Q2 | Q3 | Q4 | Q1 | Q2 |
| د ځواکونو په شمیر کې ملکیان شامل دي؟ | هو | نه | نه | نه | هو | هو | هو | هو | هو |
| د ملکیانو شمیر شامل دی | نامعلوم | نامعلوم | نامعلوم | نامعلوم | 7,806 | 8,698 | 9,336 | 9,486 | 9,647 |

یادونه: د تقویمې کال ربعونه ښیي؛ NA = نامعلوم.

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/1/2014، 3/31/2014، 1/6/2014، 10/1/2013، 7/2/2013، 4/1/2013، 1/2/2013، 10/1/2012، او 7/2/2012.

## د ANA ملکي پرسونل اوس هم د ANSF شمیر کې شمیرل کیږي

سیګار له ډیرې مودې پدې اړه اندیښنه لري چې د افغانستان ملي اردو په شمیر کې ملکي کارکوونکي شمیرل کیږي. د 2012 په جولای کې، CSTC-A سیګار ته ویلي چې د افغانستان ملي اردو په ګمارل شوي شمیر کې ملکیان شامل و.[145] د 2012 په اکتوبر کې، CSTC-A ویلي چې د ملکیانو شمیر اخیستل شوی او د ملي اردو "د پای له شمیرې" څخه ایستل شوي.[146] مګر، له څو ربعونه وروسته، ملکیان بیا هم د ملي اردو د ځواکونو په شمیر کې شامل شوي، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.8 کې ښودل شوي. پدې ربع کې، CSTC-A د افغانستان مل اردو او هوایي ځواک ۍپه شمیر کې د 9,647 ملکیانو راپور ورکړی.[147]

د CSTC-A په وینا، د افغانستان ملي اردو په تایید شویو 187,000 بستونو کې ملکیان شامل دي او دا چې "ملکیان باید د ملي اردو د پای د 352,000 شمیر [د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره] د موخې په وړاندې باید وشودل شي چې د پرتله کولو نښه ده."[148]

د 2012 په فبروری کې، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (OIG) راپور د افغانستان په ملي اردو کې د ملکیانو له شمیرولو سره اړوند خطرونه پیژندلي. په هغه راپور کې، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر موندلي چې د افغانستان ملي اردو مالي افسرانو مکلیانو ته د اردو یا وسلوالو ځواکونو کارکوونکو په توګه "کود ورکړی" او هغوی یې د CSTC-A لخوا د معاشونو په تادیاتو کې شامل کړي، سره لدې چې د CSTC-A/NTM-A او د افغانستان دفاع وزارت ترمنځ موافقه شته چې یووازې د اردو کارکوونکو ته به معاش ورکول کیږي. په هغه وخت کې، د CSTC-A مالي کارکوونکې لدې خبر نه و چې د اردو په معاشونو کې ملکیان هم شامل و.[149]

د CSTC-A په وینا، د امریکا مرسته د 100% تشکیل یا تایید شویو کارکوونکو پر اساس برابریږي.[150] دا دغه پوښتنه راپورته کوي: آیا امریکا اوس هم د ملکیانو معاشونه ورکوي؟

د بهري ځواکونو د تحلیل د مرکز (CNA) د ارزونې چې پدې ربع کې خپره شوې، په وینا، "د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د غیر یونیفورم بستونه باید ملکیان وي. که له مناسبې تجربې سره ملکیان استخدامیدلای نشي یا دغو بستونو لپاره نشي روزل کیدلای، یا د افغانستان امنیتي ځواکونو فعاله کارکوونکي ملکي خدمتونو ته انتقالیدلای نشي، بیا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو جوړښت باید زیات شي ترڅو هغوی ته ځای پیدا شي."[151]

## د ANSF ارزونه

د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو ارزونې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو، روزنې، تجهیز او ساتنې په اړوند د امریکا او د ایتلاف د هڅو اغیزمنتیا ښیي دي. لکه څرنګه چې سپارل دوام مومي او افغانستان د خپل امنیت مسولیتونه پر غاړه اخلي، دغې ارزونې دواړو د امریکا او افغان اړوندو ادارو ته د دغو ځواکونو د دریځ په اړه نوي معلومات

"که د [افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره] د 352 زرو کارکوونکو موخه د ملي اردو د پای شمیرې پر وړاندې باید پرتله شي، ملکیان باید په پام کې ونیول شي."

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د ارزونې په اړه ځواب، 4/10/2014.

**تشکیل:** د هغو اړینو کارکوونکو او تجهیزاتو لست چې د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارت ورڅخه کار اخلي چې د تایید شویو بستونو او تجهیزاتو معلومات ښیي. دا کلمه په دري کې د "سازمان" معنی لري.

سرچینه: GAO، GAO-08-661، د افغانستان امنیت، 6/2008، مخ 18.

برابروي. آیساف د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د درجې ورکولو لپاره د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د دريځ له راپور (RASR) څخه کار اخلي.[152]

د آیساف د ګډې قوماندانی (IJC) په وینا، RASR په هره میاشت کې د افغانستان د ملي اردو او ملي پولیسو د عملیاتونو په کچه د چمتووالي، اوږد مهاله دوام، او اړوندو کمزوريو په اړه نوي معلومات برابروي.[153] RASR د درجې ورکولو له اندازو (RDLs) څخه چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د وړتیاوو پر اساس دي، کار اخلي، ترڅو د لوا په کچه د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د قطعو ارزونه وکړي.[154] RDLs د ارزونې له اندازه کولو څخه کار اخلي چې د ځانګړې قطعې لپاره جوړ شوي (د بیلګې په توګه، پیاده، کشف، مخابره) او هغې وړتیاوي معلوموي چې یوه قطعه یې باید ولري ترڅو د "پوره وړتیا" په توګه وارزول شي. د IJC په وینا، "دا ساده شوی سیستم په آسانی لیدل کیدای شي، او لکه پخوانی سیستم ډیرو کارکوونکو ته اړتیا نلري او پیچلی ندی، او لکه څنګه چې د آیساف کمیدل دوام مومي، کیدای شي دا د افغانستان پخپله راپور ورکولو اساس جوړ کړي."[155]

د سیګار لخوا د 2014 د فبروری یوه راپور موندلي چې لکه څرنګه چې د ایتلاف ځواکونه وځي، IJC به د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په اړه کم معلومات ولري او تر ډيرې کچې به د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د ارزونې پر معلوماتو تکیه کوي.[156] آیساف به په دغسې اوضاع کې له RASR څخه کار اخیستنې ته تر هغه وخته دوام ورکړي ترڅو چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په اړه د پوهې لپاره مهم معلومات وړاندې کوي.[157] د کمو معلوماتو د حل لارې لپاره، آیساف د څلورو برخو یو پلان جوړ کړی: د افغانستان ملي اردو د فرقې او ملي پولیسو د لوا په کچه RASR ته دوام ورکول؛ له هغو قطعو څخه چې د ایتلاف سلاکارانو تر پوښښ لاندې ندې، د مرستې له ملګرو کارکوونکو سره لیدنې؛ د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو د چمتوالي د راپور ورکولو تاسیس شوي سیستمونو؛ او پدې وروستیو کې د امنيتي ځواک د مرستې له کاري ډلې څخه کار اخیستنې ترڅو د افغانستان اوږد مهاله دوام ته وده ورکړ شي. د آیساف د امنيتي ځواک د مرستې سرچینې بیرته جوړې شوي ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په منځ کې پر اتو مهم دندو باندې کار وشي.[158]

RASR د افغانستان ملي اردو لوا ګانو ته په شپږو ساحو کې درجه ورکوي:[159]

- ګډې وسلې (د څو ډولو وسلو په کار اخیستلو سره د ګډو عملیاتو ترسره کولو پلان کول)
- مشري
- سوق او اداره
- ثبات
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کمیدل

د افغانستان ملي اردو لپاره، د RASR وروستی راپور د 24 لیواګانو ارزونې برابروي (د قول اردو 22 لیواوې او د 111 مرکزې فرقې 2 لیواګانې). لدغو څخه، 92% د پلان کولو او د ګډو وسلوالو عملیاتو ترسره کولو "پوره توان" یا "توان" درلود. دا له 87%[160] څخه زیاتوالی دی چې پدغو کچو په تیر ربع کې ارزول شوې.[161] دا لدې کبله و چې یوه لوا "تر یوې کچې له وړتیا درلودلو" څخه د وړتیا درلودلو ته پرمختګ کړی او یوه لوا چې په تیر ربع کې ارزول شوې نه وه مګر وړاندې د "وړتیا درلودلو" په توګه پیژندل شوې وه هغه هم د "وړتیا درلودلو" په توګه ارزول شوې. د ارزونې په ډيرو برخو کې، د افغانستان ملي اردو وړتیا یو څه پرمختګ ښودلی، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.9 کې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي.[162]

جدول 3.9

**د افغانستان امنيتي ځواکونو د سيمه ايز دريځ راپور – د افغانستان ملي اردو ارزونې، د هر ربع بدلون**

| | پوره ورتيا | | | ورتيا | | | تر يوې کچې ورتيا | | | پرمختګ په حال کې | | | نا ارزول شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – |
| د ګډو وسلو عمليات | 8 | 8 | 0 | 12 | 14 | 2 | 3 | 2 | -1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | -1 |
| مشري | 15 | 16 | 1 | 6 | 6 | 0 | 2 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | -1 |
| سوق او اداره | 9 | 12 | 3 | 14 | 12 | -2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | -1 |
| ثبات | 6 | 5 | -1 | 11 | 14 | 3 | 6 | 5 | -1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | -1 |
| روزنې | 6 | 6 | 0 | 13 | 14 | 1 | 3 | 3 | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | 0 | -1 |
| د کارکوونکو کميډل | 1 | 5 | 4 | 9 | 8 | -1 | 0 | 0 | 0 | 14 | 11 | -3 | 0 | 0 | 0 |

يادونې: شمېرې د ليواکانو استازيتوب کوي. د کميډو ارزونه د لاندې مياشتنۍ کميډو درجه بندۍ پر بنسټ دي: 0–1.99% = پوره ورتيا؛ 2–2.99% = ورتيا؛ 3%+ = د پراختيا په حال کې. ربعونه د کال تقويم پر اساس دي.

سرچينې: IJC، د 2014 د مارچ د RASR دريځ راپور، اجرايي لنډيز، 4/9/2014؛ IJC، د 2014 د RASR دريځ راپور، اجرايي لنډيز، 6/1/2014.



د کار ور د غير اردو وسايطو **لمړی پلور**، تجهيزات، او فرنيچر چې امريکا ورته نوره اړتيا نلري د 2014 د جون په 25 په بګرام کې ترسره شو، او دا په افغانستان کې د يو شمېر نورو پلان شويو لمړی پلور و. (د اَيساف انځورونه)

د RASR د وروستي راپور په وينا، په تېرو دوو مياشتو کې د مخابرې د رسولو څخه ښکاري چې د 207 قول اردو د مخابرې د تجهيزاتو تر ډېرې کچې د موادو چمتووالی کړی. مګر، نورو قطعو د مخابرو کموالی درلود، او ډېريو قول اردوګانو د ماشيندارو وسلو، تيلو، او اوبو ټانکرونو کموالی درلود.[163] پدې ربع کې، د افغانستان ملي اردو د تجهيزاتو چمتووالي دريځ د تجهيزاتو د ډولونو په کموالي کې ښودل شوی چېرته چې د ماموريت د ترسره کولو لپاره د تاييد شويو تجهيزاتو اندازه پوره يا زياته وه.[164] IJC ويلي چې د افغانستان د ملي اردو د پرمختګ لپاره د دوام مسله اوس هم يو خنډ دی، او دا تر ډېرې کچې د موادو رسولو د سيستم له کبله ده چې هغه څه چې بيرته واخيستل شي په اړه يې قرارګاوې پريکړې کوي، او فالتو سامانونه په خنډ سره برابريږي.[165]

د کارکوونکو د کميډلو په اړه د ډېر ښه پرمختګ راپور ورکړ شوی چې د لواګانو 54% د "پوره وړتيا" يا "وړتيا" په توګه اندازه شوي، چې دا د تېر ربع له 42% څخه زياتوالی دی. د لواګانو شپږ څلويښت سلنه اوس هم د پرمختګ په حال کې پېژندل شوي او دا پدې معنی ده چې پدغو لواګانو کې د کارکوونکو کميډل په هره مياشت کې 3% يا زياته ده. په هرصورت، دا له تيرو دوو ربعونو څخه د پام وړ پرمختګ دی، کله چې 58% او 71% د "پرمختګ" په حال کې اندازه شوي و.[166] په نورو ساحو کې، د ملي اردو ډېری لواګانې د "پوره وړتيا" يا "وړتيا" په توګه اندازه شوې وې، پشمول د مشري (92%) سوق او اداره (100%) دوام (79%)، او روزنه (83%).[167]

RASR په شپږو ساحو کې د ملي اردو د توان ارزونه کوي:[168]

- د قانون پلي کولو عملياتونه (نيول او د دغو نيولو محاکمه کول)
- مشري
- سوق او اداره
- ثبات
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کميډل

د افغانستان ملي پوليسو لپاره، د RASR وروستی راپور په اوو بيلا بيلو زونونو کې د ملي پوليسو له 22 څخه د 18سيمه ايزو برخو، د افغانستان يونيفورم پوليس (AUP)، د فغانستان سرحدي پوليس (ABP)، او د افغانستان ملي عامه نظم پوليس (ANCOP)، ارزونې وړاندې کوي. IJC وايي د امنيتي ځواک د مرستې د سلاکارانو د ټيمونو کموالي د پوښښ له کبله،

جدول 3.10

**د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سیمه ایز درېځ راپور – د افغانستان ملي پولیسو ارزونې، د هر ربع بدلون**

| | بشپړ ور | | | ور | | | تر یوې کچې ور | | | پرمختګ په حال کې | | | نا ارزول شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – |
| د قانون پلي کولو عملیات | 5 | 2 | -3 | 10 | 10 | 0 | 3 | 5 | 2 | 0 | 1 | 1 | 3 | 4 | 1 |
| مشري | 10 | 6 | -4 | 6 | 8 | 2 | 2 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 | 6 | 3 |
| سوق او اداره | 5 | 5 | 0 | 9 | 10 | 1 | 4 | 3 | -1 | 0 | 0 | 0 | 3 | 4 | 1 |
| ثبات | 4 | 1 | -3 | 12 | 12 | 0 | 2 | 5 | 3 | 0 | 0 | 0 | 3 | 4 | 1 |
| روزنې | 5 | 2 | -3 | 9 | 8 | -1 | 3 | 6 | 3 | 1 | 2 | 1 | 3 | 4 | 1 |
| د کارکوونکو کمیدل | 7 | 10 | 3 | 4 | 5 | 1 | 0 | 0 | 0 | 9 | 7 | -2 | 1 | 0 | -1 |

یادونې: شمیرې د لیواګانو استازیتوب کوي د کمیدو ارزونه د لاندې میاشتنی کمیدو درجه بندی پر بنسټ دي: 0–1.99% = پوره ورتیا؛ 2–2.99% = ورتیا 3%+ = د پراختیا په حال کې. ربعونه د کال تقویم پر اساس دي.

سرچینې: IJC، د 2014 د مارچ د RASR درېځ راپور، اجرایي لنډیز، 4/9/2014؛ IJC، د 2014 د RASR درېځ راپور، اجرایي لنډیز، 6/1/2014.

ځلور برخې ارزول شوي ندي.[169] له هغو 18 څخه چې ارزول شوي، 67% د "پوره ورتیا" یا "ورتیا" په توګه ارزول شوي چې د قانون پلي کولو عملیاتونه یې ترسره کولای شول، لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.10 کې ښودل شوي. RASR د قانون پلي کولو عملیاتونه پدې توګه تعریفوي چې "د نیول شویو کسانو نیول او محاکمه کول ترسره کولای شي."[170] عام کموالي د تحقیق کولو، شواهدو ټولولو، او د جرم د ساحې د پروسس کولو د مهارتونو کموالی دی.[171]

IJC ویلي چې د افغانستان ملي پولیسو د موادو چمتووالی یا د تجهیزاتو کچه عموماً د راپور ورکولو له تیرې مودې سره ورته ده.[172] د کارکوونکو کموالی ښه شوی، مګر اوس هم د افغانستان ملي پولیسو لپاره یوه ننګونه، ځکه چې د سیمیزو برخو 32% د "پراختیا" په حال کې دي، او دا پدې معنی ده چې پدغو قطعو کې په هره میاشت کې 3% کموالی شته. دا له تیر ربع څخه کموالی دی، کله چې د سیمیزو برخو 45% د "پراختیا" په حال کې ګڼل کیدله. په نورو ساحو کې، د افغانستان ملي پولیسو سیمیزې برخې تر ډیرې کچې پوره ورتیا یا ورتیا لري. مشري (88%)، سوق او اداره (83%)، دوام (72%)، او روزنه (56%).[173]

د RASR پر ارزونو برسیره، جنرال جوزف دنفورد، د آیساف او USFOR-A قوماندان، کانګرس ته ویلي دي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه به له 2014 وروسته دوامداره ملاتړ ته اړتیا ولري.[174]

"که مونږ د 2014 په پای کې ووځو، د افغانستان امنیتي ځواکونه به له ستونزې سره مخامخ شي، د امنیت چاپیریال به له ستونزې سره مخامخ شي، او زه فکر کوم چې اوسنی خبرې یوواړې د دغو ستونزو د زیاتوالي په اړه دي."

— جنرال جوزف اف دنفورد

سرچینه: د امریکا د اردو خدمتونو د سنا کمیټې، اوریدنه ترڅو د افغانستان د وضعیت په اړه شاهدت لاسته راوړي، 3/12/2014، مخ 13.

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه به د سواد زده کړه برابرولو باندې پیل وکړي

که څه هم، NTM-A ویلي چې هغه خپلو موخو ته رسیدلی ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د 2014 تر دسمبر پورې 100,000 سواد لرونکي کارکوونکي ولري (دواړه ملي اردو او ملي پولیس)، NTM-A نشي کولای ترڅو دا تایید کړي چې د دغو روزل شویو کارکوونکو ځومره اوس هم د افغانستان ملي امنیتي په ځواکونو کې شتون لري.[175] دا پوښتنه راپورته کوي: آیا موخه دا وه ترڅو 100,000 کارکوونکي وروزل شي یا دا چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه 100,000 فعاله سواد لرونکي کارکوونکي ولري؟[176] NTM-A اټکل کړی چې "د کارکوونکو د کمیدلو له کبله د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو به د 2014 تر دسمبر پورې له 30% څخه کم په فعاله توګه سواد ولري [د 3 درجې سواد]."[177]

1 درجه سواد زده کړه د انفرادي کلمو د لوستلو او لیکلو، تر 1,000 پورې د شمیرلو، او د نمرو د جمع کولو او منفي کولو توان دی. په 2 درجه کې، یو انفرادي کس کولای شی کلمې ولولي او ولیکي، ساده ضرب او تقسیم وکړي، او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 درجه کې، یو انفرادي

کس فعاله سواد زده کړي ته رسيدلی او کولای شي "چاپ شوي او ليکل شوي مواد وپيژني، ورباندې پوه شي، وژباړي، جوړ کړي، اړيکه ونيسي، په کمپيوتر کار وکړي، او ورځخه کار واخلي."[178]

له 2009 څخه، NTM-A د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو جوړولو، توانمندی، تخصص، او دوام لپاره د سواد زده کړه مهمه ګڼلې ده. NTM-A ويلي چې ايتلاف ځواکونه د سواد زده کړه د روزنې د تهداب په توګه ګڼي.[179] د NTM-A يوه پخواني قوماندان، تورن جنران ويليام بي کالدويل، اټکل کړی چې په 2010 کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې ټوليزه کچه 14% وه.[180] په هغه وخت کې، NTMA موخه ټاکلې وه ترڅو د 2014 تر پايه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د 1 درجې 100% او د 3 درجې 50% سواد زده کړې مهارت لاسته راوړي. د NTM-A موخې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د 2009 د 148,000 تاييد شوي کارکوونکو شمير پر اساس و، نه د اوسني 352,000 تاييد شوي شمير پر اساس.[181]

د 2014 د جون تر 30، NTM-A راپور ورکړی چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو 104,042 کارکوونکو د 3 درجې سواد زده کړه لاسته راوړې، لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.11 کې ښودل شوي.

جدول 3.11

**د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې روزنه، د 2014 د جون تر 30 پورې**

| سواد زده کړه کې روزل شوي | د افغانستان ملي اردو | د افغانستان ملي پوليس | د افغانستان ملي امنيتي ځواکو ټوله شميره | موخه د 2014 پای |
|---|---|---|---|---|
| 1 درجه | 176,668 | 97,097 | 273,765 | Up to 300,000 |
| 2 درجه | 63,159 | 63,504 | 126,663 | 130,000–120,000 |
| 3 درجه | 61,623 | 42,419 | 104,042 | 110,000–100,000 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 6/30/2014.

له 2010 څخه تر 2013 پورې، امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د سواد زده کړې درې قراردادونه تمويل کړي دي. په 2014 کې، د ناتو وجهي صندق به د سواد زده کړې قراردادونو لپاره به 24.6 ميليونه امريکايي ډالر برابر کړي. د دندې پای فرمايشونه به د 2014 د دسمبر په 31 پای ته ورسيږي. د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونه به بيا د سواد زده کړې او د ژبې د ټولو پروګرامونو مديريت او د قرارداد کولو مسوليت پر غاړه واخلي.[182] NTM-A د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو سره په پلان کولو، او د سواد زده کړې د روزنې د پروګرام په سپارلو کې مرسته کوي.

د 2014 د جنوری د سپارښتنو پر اساس له عمل څخه وروسته، سيګار د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې روزنې پروګرام پلټنې راپور خپور کړ (د سيګار پلټنه 14-30-AR)، NTM-A يو بدلون تطبيق کړ چې د پروګرام اغيز يې زيات کړی. په ځانګړې توګه، NTM-A اوس په هره مياشت کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو او د سواد زده کړې له قرارداديانو سره په کاري کچه د غونډو کوربتوب کوي، ترڅو د پروګرام ترسره کولو مسلو لپاره د حل لار پيدا کړي.[183] NTM-A دا هم ويلي چې هغوی په قراردادونو کې د ژبې کار اخيستل بند کړي چې دې کار قراردادکونو ته د کورس په رسولو کې ډېر پراخ لاس ورکړی و. په پايله کې، د 2014 په لمړيو پنځو مياشتو کې د ټولو فارغينو کچه د 2013 د پای د پنځو مياشتو په پرتله په ښکاره توګه زيات شوي (1 درجه 54% زيات شوي؛ 2 درجه 116% زيات شوي؛ 3 درجه 77% زيات شوي).[184]

د سيګار پلټنې د NTM-A کمزوري په ګوته کوي ترڅو وکولای شي په اغيزمنه توګه د سواد زده کړې د پروګرام اغيزمنيتا په پوره توګه اندازه کړي، څکه چې د آزموينې د تاييد يا شخصي تعقيب لپاره کومه خپلواکه اداره شتون نلري.[185] NTM-A د يوه پرمختللي پروګرام وړانديز کړی، چې پدې

کې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو لپاره د پنځو کلونو په ترڅ کې زده شوي لوستونه شامل دي. NTM-A سپارښتنه کړې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د کارکوونکو د تاییدی او شخصي تعقیب لپاره د زده کړې له وزارت څخه کار واخلي او د زده کړې وزارت د روزنکو د روزنې له وړتیا څخه چې په اوس وخت کې د پراختیا په حال کې ده ګټه واخلي.[186]

دا باید وویل شي چې دواړو د افغانستان د فاع او کورنیو چارو وزارتونو موافقه کړې ترڅو د 2015 د جنوری له 1 څخه د خپلو سواد زده کړو پروګرامونو ملکیت پخپل لاس کې واخلي. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو، د NTM-A له مشورې او مرستې سره، پداسې وضعیت کې دي چې د پروګرام پلانونه له تایید شویو اړتیاوو سره نهایي کړي چې د 2014 د جولای تر 31 د هڅو په دوو ځانګړو لیکو باندې کار کوي:

- د نویو استخدام شویو لپاره د روزنې په سیمه ایز مرکز کې د مرکزي بنستیزې سواد زده کړې روزنه
- د روزنکو د روزنې د پروګرام له لارې د سواد زده کړې روزنې وړتیا دوامداره پراختیا

NTM-A به خپلو مرستو ته دوام ورکړي، مګر د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د تدارکاتو مشاورین به د 2015 په جنوری کې د پای سپارلو مشرې مسولیت واخلي.[187]

## د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې

د افغانستان د دفاع وزارت پدې ربع کې د افغانستان د فاع او کورنیو چارو وزارتونو د ظرفیت د پراختیا په اړه راپور ورکړی ندی ترڅو مهمې دندې ترسره کړي، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.26 کې ښودل شوي. د دې وزارتونو د عملیاتي ځواک د درجه بندی لپاره، NTM-A د توانمندی

شکل 3.26

**د MOD او MOI د وړتیا درجه ورکولو، درې میاشتنی درېځ**




یادونې: ربعي د تقویمي کال دي.
سرچینې: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2014، 7/1/2014 او 7/3/2014.

موخې (CM) څخه کار اخلي. دا سیستم د کارکوونکو د برخو ارزونه کوي (لکه هغه دفترونه چې مشرې یې مرستیالان یا د وزیر معاونین کوي) او مختلطو دندو ساحې (لکه د لوی درستیز دفترونه) چې پدې کې له دوو اصلي او دوو دویمې درجې له درجو څخه کار اخیستل کیږي:[188]

- CM-1A: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا
- CM-1B: هغه وړتیا لري ترڅو د ایتلاف له نظارت سره دندې ترسره کړي
- CM-2A: د ایتلاف په لړه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: کولای شي ماموریت ترسره کړي مګر د ایتلاف ځینو مرستو ته اړتیا لري
- CM-3: د ایتلاف له ډیرې مرستې پرته نشي کولای ماموریت ترسره کړي
- CM-4: شتون لري مګر نشي کولای خپل ماموریت ترسره کړي

پدې ربع کې، سیګار ته د افغانستان دفاع وزارت د کارکوونکو د 35 برخو مختلطو دندو ساحو د CM درجې ورکړ شوي، د تیر ربع له 37 څخه را کښته شوي او لدې څخه په تیر ربع کې 46 و. شپږو دفترونو ته د CM-1B درجه ورکړ شوې؛ او دا تمه نکیږي ترڅو نور دفترونه له 2014 وروسته دا درجه لاسته راوړي. هغه یووازینې دفتر چې په تیر ربع کې یې د CM-1A لوړه درجه لاسته راوړې، د مخابرې ملاتړې قطعې، ونشو کولای پدې ربع کې دغه درجه وساتي.[189]

د CENTOM په وینا، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو ټولې 32 برخې ارزول شوې؛ 10 پرمختګ کړی او له تیر ربع څخه هیڅ یوه شاتګ ندی کړی. مګر، د کارکوونکو د دریو برخو لپاره هغه تمه کیدونکې نیته ترڅو CM-1B لاسته راوړي له یوه ربع څخه یوه کال ته وغزول شوه.[190] د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو دریو برخو ته د CM-1A درجه ورکړ شوې: د وزیر د دفتر ریس د عامه چارو دفتر، د افغانستان د عامه نظم د پولیسو د امنیت لپاره د وزیر معاون، او د ځواکونو د چمتووالي لپاره د امنیت لپاره د وزیر معاون. پردې برسیره، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو 16 برخو د CM-1B درجه لاسته راوړې؛ او د راپور ورکولو له تیرې دورې څخه شپږ زیاتوالی ښیي.[191]

## د سیګار ځانګړې پروژه

د ځانګړې پروژې په هغه راپور کې چې تیر کال خپور شوی، سیګار موندلې چې CSTC-A د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د وړتیا د خطر هر اړخیزه ارزونه نده کړې ترڅو وکولای شي د امریکا د مستقیمې مرستې ډالرونو مدیریت او حساب وکړي، چې نږدې 4.2 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه شوې او نږدې 3 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.

## افغان سیمه ایز پولیس

د افغانستان سیمه ایز پولیس (ALP) د افغانستان د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې دي او د افغانستان د ولسوالی د یونیفورم پولیسو تر لارښوونې لاندې دندې ترسره کوي. د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو غړي د کلیو د مشرانو یا د سیمه ایزو زورواکانو لخوا غوره کیږي ترڅو خپلې ټولنې د طالبانو له برید څخه خوندي کړي، د تاسیساتو پهره وکړي، او په سیمه کې د یاغیانو پر وړاندې ماموریتونه ترسره کړي.[192] په افغانستان کې د ناټو د ځانګړو عملیاتونو د برخې د قوماندان (NSOCC-A) په وینا، د 2014 د جون تر 1، د افغانستان په سیمه ایزو پولیسو کې 26,698 کارکوونکو شتون درلود، لدغو څخه یووازې 1,625 پوره روزل شوي نه و. اوسنی موخه دا ده ترڅو د 2014 تر دسمبر پورې په 150 ولسوالیو کې 30,000 کارکوونکې ولرو.[193]

د 2014 د جون تر 11 پورې ، د ALP ملاتړ لپاره د ASFF څخه له 214 میلیون امریکایي ډالر څخه زیات مکلف شوي دي او توزیع شوي دي. د NSOCC-A په وینا، د ALP ساتنې لګښت به په هر کال کې 121 میلیون امریکایي ډالر وي کله چې د موخې شمیرې ته ورسیدل. تر اوسه امریکا د افغانستان سیمه ایزو پولیسو ته 23,246 کلاشنکوفونه، 47 توپکونه، 4,045 پې کا ګانې، 2,057 پیکپونه، 4,950 موټر سیکلونه، او 2,686 مخابرې برابرې کړې دي.[194]

د NSOCC-A په وينا، د 2013 د جون له 1 څخه د 2014 د مې تر 31 پورې، د افغانستان د سيمه ايزو پوليسو د کارکوونکو د ساتنې درجه 84.5% وه. پدغه موده کې، د سيمه ايزو پوليسو 691 کارکوونکو خپلې دندې پرې ايښې، 118 منفک شوي، او 2,038 د نامعلومو اداري عملونو او د نورو له لاسه ورکونو له کبله خپلې دندې پرې ايښې. NSOCC-A راپور ورکړی چې 1,028 يا د ځواک نږدې 4.1% په جګړه کې وژل شوي.[195]

د يوې خپلواکې ارزونې په وينا چې په تير ربع کې خپره شوې، په ټوليزه توګه د ټولنې د امنيت لپاره د سيمه ايزو پوليسو ارزښت په اړه د عامو خلکو نظر مثبت و: که څه هم د ښه والي لپاره ځايونه شتون لري، مګر، سيمه ايز پوليس د افغانانو په ملکيت او د افغانانو په مشرى مهم ګڼل شوي.[196] هغو کسانو چې پدې اړه يې منفي نظر څرګند کړی، عموماً د سيمه ايزو پوليسو د ګاونډيو ټولنو د عملونو په اړه و. ارزونې موندلې چې د سيمه ايزو پوليسو د معاشونو د نه تادياتو راپورونه بې سارې ډول زيات شوي. د سيمه ايزو پوليسو هغو قطعو ته چې معاشونه ندي ورکړ شوي، هغوی په ښکاري چلند، فساد او جرمونو متهم شوي.[197] هغه ارزونه چې د NSOCC-A لخوا ترسره شوې او د سيمه ايزو پوليسو په ولسواليو کې د يوريکا د تحقيق او ارزونې د کاري ډلې د سروې د برابر شويو معلوماتو پر اساس ده، راپور ورکوي چې د سيمه ايزو پوليسو راتلونکې بريا کيدای پدې توګه لاسته راوړل شي:[198]

- د افغانستان د ملي پوليسو لخوا ملاتړ او لارښوونه
- د استخدام شفافه او د سيمې په ملکيت پروسه
- د قومونه انډوليز استازيتوب
- د ټولنې د مشرانو او د سيمه ايزو پوليسو د قومندانانو ترمنځ د معلوماتو منظم شريکول

## د سيګار پلټنه

سيګار پدې ربع کې د افغانستان د ځانګړو عملياتو دندې ځواک د افغانستان د سيمه ايز پوليسو پروګرام د تطبيقولو په اړه يوه پلټنه خپره کړه. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 29 وګورئ.

# د افغانستان ملي اردو

د 2014 د جون تر 30 پورې، امريکا د ASFF له مرستو څخه د افغانستان ملي اردو د جوړولو، روزنې، او دوام لپاره 33.1 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 31.9 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[199]

## د افغانستان ملي اردو شمير

د CSTC-A په وينا، د 2014 د جون تر 30 پورې، د افغانستان ملي اردو د پای شمير 188,170 کارکوونکي و (181,439 اردو او 6,731 هوايي ځواک).[200] مګر، لکه څرنګه چې په تير کې ويل شوي، پدغه شمير کې د ملي اردو 9,394 او د هوايي ځواک 253 ملکيان شامل دي. مجموعي شمير يې د ANA پرسونل 195,000 نهايي شمير هدف 96% جوړوي. د ډيريو برخو شمير زيات شوی، مګر د ملي اردو د 111 مرکزي فرقې ګمارل شوي کارکوونکي د دويم ربع لپاره کم شوي. په روزنه کې د کارکوونکو شمير هم کم شوی، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.12 کې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي. هغه کارکوونکي چې له رخصتی څخه پرته غير حاضر (AWOL) دي د تير ربع له 5,154 پدې ربع کې 5,746 دي، مګر اوس هم دا شميره د 2013 د پای له ربع څخه کم دي (10,292).[201]

د افغانستان دفاع وزارت لخوا د ټاکل شوي خپلواکې ارزونې په وينا چې د CNA لخوا په تير ربع کې خپره شوې، "افغانستان د ځانګړو عملياتونو د ځواکونو [SOF] لپاره ډيره اړتيا لري، مګر د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه نشي کولای ترڅو د نورو SOF ملاتړ وکړي."[202]

جدول 3.12

**د ملي اردو ځواک، د هر ربع بدلون**

| د ملي اردو برخه | تایید شوي Q1 2014 | تایید شوي Q2 2014 | تایید شوي دري میاشتني تغیرات | ګمارل شوي Q1 2014 | ګمارل شوي Q2 2014 | ګمارل شوي دري میاشتني تغیرات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 201 قل اردو | 18,130 | 18,130 | هیڅ | 17,489 | 17,606 | 117 |
| 203 قل اردو | 20,798 | 20,798 | هیڅ | 20,029 | 22,114 | 2,085 |
| 205 قل اردو | 19,097 | 19,097 | هیڅ | 17,891 | 18,534 | 643 |
| 207 قل اردو | 14,879 | 14,879 | هیڅ | 13,806 | 14,204 | 398 |
| 209 قل اردو | 15,004 | 15,004 | هیڅ | 14,554 | 14,674 | 120 |
| 215 قل اردو | 17,555 | 17,555 | هیڅ | 16,310 | 16,999 | 689 |
| 111مه مرکزي فرقه | 9,174 | 9,174 | هیڅ | 8,921 | 8,356 | -565 |
| د ځانګړو عملیاتو ځواک | 12,149 | 11,013 | -1,136 | 10,458 | 10,649 | 191 |
| له قول اردو پورته مقامونه[a] | 34,866 | 36,002 | 1,136 | 29,727 | 36,610 | 6,883 |
| TTHS[b] | - | - | - | [c]24,356 | [d]12,299 | -12,057 |
| ملکیان | - | - | - | 9,236 | 9,394 | 158 |
| **د افغانستان ملي اردو ټوله شمیره** | **161,652** | **161,652** | **هیڅ** | **182,777** | **181,439** | **-1,338** |
| د افغانستان هوایي ځواک (AAF) | 7,097 | 7,370 | 273 | 6,513 | 6,478 | -35 |
| د AAF ملکیان | - | - | - | 250 | 253 | 3 |
| **د افغانستان ملي اردو + هوایي ځواک ټوله شمیره** | **168,749** | **169,022** | **273** | **189,540** | **188,170** | **-1,370** |

یادونې: ربعونه د کال تقویم پر اساس دي؛ د Q1 2014 معلومات د 3/31/2014 پورې دي؛ د Q2 2014 معلومات د 5/31/2014 پورې دي.
[a] پدې کې د افغانستان دفاع وزارت، د لوی درستیز کارکوونکي او لنډ مهاله قوماندانی شامل دي.
[b] زده کوونکي، لنډمهاله، ساتل شوي، او زده کوونکي؛ دا د تایید شویو کارکوونکو په شمیر کې شامل ندي.
[c] 4,701 محصلین شامل دي.
[d] 5,157 محصلین شامل دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2014، 7/1/2014.

CNA دا هم ویلي چې، ”د افغانستان د ملي اردو SOF د لوژستیک، کشف، او هوایي ملاتړ لپاره پر امریکا او آیساف باندې تکیه کوي. که په ساده ډول د ملي اردو د SOF د کارکوونکو شمیر پرته لدې زیات شي چې د ملاتړ د اړتیاو لپاره د حل لار پیدا شي دا به د SOF ټولیزه وړتیا زیاته نکړي ترڅو د یاغیانو او تروریستانو شبکو مخه ونیسي.“ [203]

## د افغانستان د ملي اردو د کارکوونکو کمېدل

د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کمېدل اوس هم یوه لویه ننګونه ده. د 2013 جون او 2014 مې ترمنځ د 39,136 ANA پرسونل د ANA حاضریانو څخه حذف کړی شوي. د افغانستان ملي اردو له جګړو څخه ډېر کسان له لاسه ورکړي دي. د 2012 د مارچ او د 2014 د مارچ ترمنځ، د افغانستان ملي اردو 2,330 کارکوونکي په جګړه کې له لاسه ورکړي (KIA) او 12,696 په جګړه کې ټپیان شوي (WIA).[204] د 2013 د مطبوعاتو په مرکه کې، جنرال جوزف ډانفورډ د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قربانیو په اړه خپله اندیښنه ښودلې.[205]

## د افغانستان ملي اردو دوام

د 2014 د جون تر 30 پورې، د افغانستان ملي اردو د دوام لپاره له ASFF څخه 12.5 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 12.3 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[206]

”زه او ټول قوماندان ورته د خطر په توګه ګورو. زه نه وایم چې ټولې قرباني د دوام وړ دي.“

— جنرال جوزف اف ډانفورډ

سرچینه: د آیساف قوماندان جنرال جوزف اف ډانفورډ، د انګلستان د کارډین رسنی سره د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د تلفاتو په اړه مرکه، 9/2/2013.

## د ملي اردو معاشونه، خواړه، او مکافات

د 2014 د جون تر 30 پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې امریکا له 2008 مالي کال څخه د ASFF له لارې 2.4 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړې دي ترڅو د ملي اردو معاشونو، خوارو، او مکافاتو لګښتونه تادیه کړي. CSTC-A دا اټکل هم کړی چې د ملي اردو د اساسي معاشونو، اضافي معاشونو، او مکافاتو لپاره 693.9 میلیونو امریکایي ډالرو مرستو ته اړتیا ده. د 2013 د دسمبر له 21 څخه، CSTC-A نور د خوړو لپاره مرسته نه برابروي. مګر، CSTC-A ویلي کله چې مرسته برابریدله، دا د ملي اردو د 100% د تایید شوي شمیر پر اساس وه.[207]

## د ملي اردو تجهیزات، ترانسپورت، او دوام

ANA ته چمتو کړی شوي تجهیزاتو مقدار او لګښت ټاکل د یوې ننګونې په توګه پاتې دي. د ملي اردو د اخیستل شویو وسلو لپاره د یوه کال د ټولو لګښتونو له کموالي وروسته، زیاتیدونکي ټول چې باید په هر ربع کې زیات شي او کم نشي، CSTC-A په تیر ربع کې د یو څه زیاتوالي راپور ورکړی. پدې ربع کې، CSTC-A د کوم بدلون راپور ندی ورکړی. د 2013 د اپریل او د 2013 د دسمبر تر منځ، د ملي اردو د اخیستل شویو وسلو ټول راپور ورکړ شوی لګښت له 878 میلیونو امریکایي ډالرو څخه 439 میلیونو امریکایي ډالرو ته را کم شوی. مګر، د 2014 په اپریل کې، CSTC-A د ټولو لګښتونو 461 میلیونو امریکایي ډالرو راپور ورکړی. د ملي اردو د ټولو وسلو، وسایطو، او مخابرې تجهیزاتو لګښتونو حرکتونه پدې جدول3.13 کې ښودل شوي.

جدول 3.13

**د متحده ایالاتو د افغانستان ملي اردو لپاره د تجهیزاتو اخیستلو مجموعي لګښت**
(میلیونونه امریکایي ډلر)

| | وسلې | وسایط | مخابرات | ټول |
|---|---|---|---|---|
| د 2013 اپریل | 878.0 ډالر | 5,556.5 ډالر | 580.5 ډالر | **7,015.0 ډالر** |
| د 2013 جولای | 622.8 | 5,558.6 | 599.5 | **6,780.9** |
| د 2013 اکتوبر | 447.2 | 3,955.0 | 609.3 | **5,011.5** |
| د 2013 دسمبر | 439.2 | 4,385.8 | 612.2 | **5,437.2** |
| د 2014 مارچ | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |
| د 2014 جولای | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A خواب، 4/1/2013، 7/2/2013، 10/1/2013، 12/30/2013، 3/31/2014 او 7/1/2014.

په تیر کې، CSTC-A د لګښت د کموالي په اړه یو شمیر توضیحات وړاندې کړي دي: د ځینو تجهیزاتو په ټول لګښت کې د 153 میلیونو امریکایي ډالرو سمون او د نږدې 102 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د تجهیزاتو مرسته چې د امریکا لخوا نه و تمویل شوې، او هر اړخیزه پلټنه چې دوه ځلې شمیرل شوي تجهیزات یې ښکاره کړل، او د کورنی پلټنې په ترڅ کې د غلطو قیمتونو ښکاره کیدل.[208] پردې برسیره، CSTC-A ویلي چې که څه هم د مرسته شویو وسلو لګښت شامل شوی نه و، "د مرسته شویو وسلو د بیارغونې او ترانسپورت لګښت شامل شوی و ځکه چې د [بیارغونې] له مرستو څخه کار اخیستل شوی و."[209]

د اخیستل شویو تجهیزاتو د لګښت سمون د ملي اردو د تجهیزاتو لپاره د امریکا له مرستو څخه د کار اخیستلو د حساب ورکولو په اړه پوښتنې راپورته کوي.

پردې برسیره، CSTC-A د ملي اردو د هغو تجهیزاتو په اړه چې تر اوسه اخیستل شوي ندي د 89 میلیونو امریکایي ډالرو راپور ورکړی. چې له تیر ربع څخه یې بدلون ندی موندلی.[210]

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د ملي اردو د تجهیزاتو لپاره د ASFF 11.4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او توزیع کړي دي.[211] د دغو مرستو ډیره برخه د وسایطو، وسلو،

## د سیګار پلټنې

په هغه پلټنې کې چې پدې ربع کې خپره شوې، سیګار موندلې چې د امریکا دفاع وزارت اړتیا لري ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره چې وړې وسلې برابروي د شمیر معلوملو او خوندي کولو لپاره ګامونه واخلي. کله چې سیګار هغه معلومات چې ورڅخه کار اخلي په دوو سیستمونو کې سره پرتله کړل ترڅو د وسلو په اړه معلومات وساتي، ویې موندل چې د معلوماتو بانک تل یو بل سره برابر نه و؛ ځینې معلومات دوه ځلې و، او ځینې بشپړ نه و. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 24 وګورئ.

پدې ربع کې د افغانستان ملي اردو د بریدونو د ځواک وسایطو (MSFV) په اړه د سیګار یوې پلټنې وموندل چې د امنیت چاپیریال قراردادي کاروونه محدود کړي ترڅو د روزنې او ساتنې خدمات برابر کړي؛ د امریکا حکومت د نظارت کارکوونکو محدود توان درلود ترڅو له کابل څخه بهر د MSF د لوا له موقیعت څخه لیدنه وکړي؛ د فالتو سامانونو نشتون له کبله له وسایطو څخه کار اخیستنه له خنډ سره مخامخ وه؛ د MSF وسایطو چلونکي روزنې ته اړتیا درلوده؛ او د افغانستان ملي اردو د فالتو سامانونو فرمایشونو او توزیع ستونزې درلودې. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 26 وګورئ.

او اړوند تجهیزاتو، د مخابرې تجهیزاتو، الوتکو، د هوانوردۍ اړوندو تجهیزاتو اخیستلو لپاره کارول شوې. پدې برخه کې د امریکا له 79% څخه زیاتې مرستې د وسایطو او ترانسپورت د اړوندو تجهیزاتو لپاره وې، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.14 کې ښودل شوي.

جدول 3.14

| د امریکا لخوا تمویل شوي د افغانستان ملي اردو لپاره د وسلو، وسایطو، او مخابرې تجهیزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| د تجهیزاتو ډول | اخیستل شوي | باید واخیستل شي |
| وسلې | 461,197,802 ډالر | 32,055,904 ډالر |
| وسایط | 4,385,763,395 | 8,260,489 |
| مخابرات | 670,307,101 | 48,810,799 |
| **ټول** | **5,517,268,298 ډالر** | **89,127,192 ډالر** |

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/1/2014.

متحده ایالاتو د ANA مجهز کولو کې نور 1.6 ملیارد ډالرو پیرودل هم کړي او د ANA ثبات ته د 7.1 ملیارد ډالرو په ارزښت نور تجهیزات او تحویلی. د CSTC-A په وینا، دغه وروستی اندازه پیسې د ټولو تجهیزاتو او ساتنې له ټولو لګښتونو څخه د وسلو، وسایطو، مخابرې تجهیزاتو، او مهماتو منفي کولو څخه معلوم شوي.[212]

## د افغانستان ملي اردو زیربنا

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان د ملي اردو د زیربنا لپاره د ASFF 6.1 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 5.2 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[213] د CSTC-A په وینا، پدغه وخت کې، امریکا د زیربنا 316 پروژې بشپړې کړي (د 4.1 میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت)، او نورې 56 پروژې تر کار لاندې دي (د 1.1 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت) او 9 پروژې پلان شوي (د 168.5 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت).[214]

لکه په تیر ربع کې، پدې ربع کې د ملي اردو تر ټولو لویه تر کار لاندې د زیربنا پروژه په کنر کې د 201 قول اردو د 2 لیوا د ګارنیزیون پروژه وه (د 115 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت)، په کندهار کې د 205 قول اردو د 3 لیوا د ګارنیزیون پروژه (91 میلیونه امریکایي ډالر)، او په هلمند کې د 215 قول اردو د 1 لیوا پروژه (87 میلیونه امریکایي ډالر).[215] پردې برسیره، پدې ربع کې دوې پروژې د 19 میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت وړاندې شوې، 17 پروژې د 325 میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت بشپړې شوې، او د 59 میلیونو ډالرو په ارزښت یو قرارداد فسخه شوی.[216]

د CSTC-A په وینا، له 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د افغانستان ملي اردو د زیربنا عملیاتو او ساتنې (O&M)، دوام، بیارغونې، او د وړو ساختماني کارونو لګښت اوس په هر کال کې 168 میلیونه امریکایي ډالر دي، یا ټول 840 میلیونه امریکایي ډالر دي.[217]

د امریکا دفاع وزارت په وینا، د افغانستان د دفاع وزارت د ساختماني کارونو مدیریت ځانګې وړتیا ترخو نوي ساختماني کارونه پلان، ډیزاین، قرارداد او ترسره کړي په هر کال کې په 20 میلیونو امریکایي ډالرو محدوده ده ترخو چې ډیره وړتیا وښیي.[218]

## د ANA او دفاع وزارت روزنه او عملیاتونه

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان ملي اردو او د افغانستان دفاع وزارت عملیاتونو او روزنې لپاره د ASFF 3.1 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او توزیع کړي دي.[219] د سواد زده

### د سیګار تفتیشونه

سیګار د متحده ایالاتو فنډ ورکړ شوي MOD قوماندانیو جوړونې یو تحقیق پیل کړی ترخو معلوم کړي چې جوړونه د قرارداد اړتیاو سره سم بشپړه کیږي او ایا د قوماندانیو کومې اشغال شوې برخې په سمه ساتل کیږي او لکه څنګه چې نومول شوي هماغسې کارول کیږي.

کړې له روزنې پرته چې په تيره برخه کې ورباندې خبري شوې، په نورو روزنو کې د انګليسي ژبې، د چاودېدونکو مهماتو، او د ګرځنده بريدونو ځواک وسايطو (MSFV) روزنې شامل دی. د دې راپور ورکولو په لمړنيو ورځو کې، 280 زده کوونکو د MSFV روزنه بشپړه کړه؛ 260 زده کوونکي اوس په روزنه کې دي، او پلان شوی ترڅو نور 20 زده کوونکي زده کړه پيل کړي. د راپور ورکولو پدې موده کې، 173 زده کوونکو د چاودېدونکو مهماتو روزنې کې برخه اخيستې.[220] د 2014 له مې څخه تر دسمبر پورې د MSFV د چاودېدونکو مهماتو روزنې قرارداد، 42.4 ميليونه امريکايي ډالر ده، چې لدې سره د ټول قرارداد لګښت تر اوسه 287.3 ميليونه امريکايي ډالرو ته راوړي.[221]

## په ANA او افغان هوايي ځواک کې ميرمنې

ميرمنې د افغانستان ملي اردو له 1% څخه کم جوړوي، د استخدام او ساتنې اوسنی موخه چې د 2013 په سپتمبر کې خپره شوې، د ځواک 10% بايد ميرمنې وي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره، ANA استخدام مستثنی کړی چې د ښځو ګمارنه دې د افغانستان مختلف قومي ډلو ترمنځ بيلانس شي. پردې برسيره، د ګمارلو موقيعتونه تر کتنې لاندې دي ترڅو هغه موقيعتونه وټاکل شي چې د ميرمنو لپاره استوګن ځای، لکه جلا تشنابونه ولري. د افغانستان ملي اردو د استخدام قوماندانی په سيمه ايزو تلويزيونونو کې هم د ميرمنو لپاره اعلانونه کوي چې د زده کړې له ټولګيو څخه 20 ورځې وړاندې پيليږي.[222]

CSTC-A ويلي چې ايتلاف باور لري چې د افغانستان په امنيتي ځواکونو کې د ډيرو ميرمنو درلودلو سره به د کار په ځايونو کې نارينه ميرمنې ومني او احترام به يې وکړي. د ميرمنو په استخدامولو کې د کورنيو او ټولنو شاملولو ډير مهم دي. CSTC-A په اردو او پوليسو کې د ميرمنو يوځای کيدلو د اړتيا لپاره په رسنيو کې د اعلانونو او د عامو خلکو د روزنې لپاره يې د مرستې غوښتنه کړې.[223]

پدې ربع کې، د افغانستان ملي اردو CSTC-A ته راپور ورکړی چې 711 ميرمنې په ملي اردو کې خدمت کوي: 663 په اردو کې او 48 په هوايي ځواک کې. لدغو څخه، 272 افسران دي، 268 واړه ظابطان، 69 استخدام شوي، او 102 محصلين دي. مګر، د CSTC-A په وينا، د ايتلاف سلاکاران نشي کولای ترڅو دا شميره تاييد کړي او دا ومني چې پدغو کې ملکيان شامل دي. CSTC-A ويلي چې د 1393 هجري کال تر پايه (د 2015 مارچ 20)، تمه کيږي چې د افغانستان دفاع وزارت هغه طريقه بدله کړي چې کارکوونکي شميرل کيږي ترڅو په فعاله توګه د اردو د کارکوونکو ښکارندوی وي نه دا چې ملکيان هم وشميرل شي.[224]

د افغانستان ملي اردو لپاره د محاربې په اساسي 12 اونيو روزنه کې د نارينو لپاره د چلند هغه روزنه شامله ده چې هغوی د ملي اردو له ميرمنو سره کار کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د افغانستان امنيتي ځواکونو لپاره د دوو ورځو سيمينار جوړوي چې پدې سيمينار کې د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړلو روزنه شامله ده.[225]

د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحيت قانون، Pub.L. 113-66 د 25 ميليونو امريکايي ډالرو صلاحيت ورکوي ترڅو د پروګرام فعاليتونو لپاره ورڅخه کار واخيستل شي او د استخدام، يوځای کيدلو، ساتلو، رزونې، او د افغانستان په امنيتي ځواکونو کې د ميرمنو سره د چلند ملاتړ وکړي.[226]

## د افغانستان هوايي ځواک

پدې ربع کې، په افغانستان کې د ناټو هوايي قوماندانی (NAC-A) راپور ورکړی چې د افغانستان هوايي ځواک 95 الوتکې لري، چې پدې کې هغه الوتکې چې "نور فعاله ندي

### د سيګار خبرداری ليک

د افغانستان هوايي ځواک د وړتيا په اړه د سيګار د پلټنې يوې لمړنی بيا کتنې ترڅو وکولای شي اضافي تجهيزات جذب کړي ښودلې چې د امريکا دفاع وزارت پلان دا دی ترڅو دوې نورې C-130 برابرې کړي چې کيدای شي ورته اړتيا نه وي يا ونه ساتل شي. سيګار د امريکا دفاع وزارت، CENTCOM، آيساف، او NTC-A ته د خپلې اندېښنې په اړه راپور ورکړی. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 21 وګورئ.

جدول 3.15

**د امریکا مرستې ترڅو د افغانستان هوايي ځواک ملاتړ وکړي او جوړ کړي، 2010–2015** (زرګونه امریکايي ډالر)

| د فنډ ورکولو کټګوري | مالي کال 2010 | مالي کال 2011 | مالي کال 2012 | مالي کال 2013 | مالي کال 2014 | 2015 مالي کال (غوښتنه) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تجهیزات او الوتکې | 461,877 ډالر | 778,604 ډالر | 1,805,343 ډالر | 111,129 ډالر | 2,300 ډالر | 21,442 ډالر |
| روزنې | 62,438 | 187,396 | 130,555 | 141,077 | 164,187 | 123,416 |
| ثبات | 143,784 | 537,650 | 571,639 | 469,230 | 520,802 | 780,370 |
| زیربنا | 92,200 | 179,600 | 113,700 | 53,000 | 0 | 0 |
| **ټول** | **760,299 ډالر** | **1,683,250 ډالر** | **2,621,237 ډالر** | **774,436 ډالر** | **687,289 ډالر** | **925,228 ډالر** |

سرچینې: د امریکا دفاع وزارت، د 2012 مالي کال بودجه، د 2012 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیرنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2011، pp. 8، 19، 30، او 44؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2013 مالي کال بودجه، د 2013 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیرنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2012، pp. 5، 13، 19، او 32؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2014 مالي کال بودجه، د 2014 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیرنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 5/2013، pp. 5، 11، 20، او 37؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2015 مالي کال بودجه، د 2015 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیرنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 6/2014، pp. 10، 24، 26، او 29.



د زابل ولایت په هوا کې **د هلیکوپټر الوتنه.** (د الن بې بیل لخوا عکس)

(له منځه تللي)" او اته Mi-17 هلیکوپترونه چې د افغانستان د ځانګړې ماموریت وزر (SMW) ته په پور ورکړ شوي، شامل ندي.[227]

امریکا د افغانستان په هوايي ځواک کې ډیره پانګونه کړې ده. یوازې د 2010 مالي کال او 2012 مالي کال ترمنځ، امریکا د 6,731 کسانو د افغانستان د هوايي ځواک ملاتړ او پراختیا لپاره 5.8 میلیارده امریکايي ډالر پشمول د تجهیزاتو او الوتکو لپاره له 3 میلیاردو امریکايي ډالرو څخه زیات برابر کړي. پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت په 2014 او 2015 مالي کلونو کې د افغانستان هوايي ځواک لپاره د اضافي 1 میلیاردو امریکايي ډالرو، پشمول د 23.7 میلیونو امریکايي ډالرو د تجهزاتو او الوتکو لپاره غوښتنه کړې. مګر، د دغو مرستو ډیری برخه لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.15 کې ښودل شوي، د دوام او روزنې لپاره غوښتل شوې.

د امریکا د مرکزي قوماندانی په وینا، د افغانستان هوايي ځواک 102 الوتکې لري:[228]

- 58 Mi-17 ترانسپورتي هلیکوپترونه (پشمول د اتو چې SMW ته په پور ورکړ شوي)
- 26 C-208 سپکې ترانسبورتي الوتکې
- شپږ C-182 د ثابت وزر روزنې الوتکې
- پنځه MD-530F څرخي وزر هلیکوپترونه
- پنځه Mi-35 د محاربې هلیکوپترونه
- دوه C-130H متوسطه ترانسپورتي الوتکې

د 2015 په څلورم ربع کې به 20، A-29 توکانوس، چې د محاربې سپکې الوتکې دي او د یاغیانو د مخنیوی، نږدې هوايي ملاتړ، او هوايي کشف لپاره دي، وبه رسول شي: څلور په هر 2015، 2016، او 2017 کلونو کې، او اته په 2018 کې.[229] SMW د یاغیانو او تروریستانو د مخنیوی علمیاتونو لپاره استخبارات او د کشف وړتیا برابروي، او دا د افغانستان امنیتي ځواکونو یووازینی قطعه ده چې د شپې لخوا هوايي برید او ثابت وزر د وړتیا لپاره د دوربین تجربه لري.[230] SMW کولای شي په هره اونی د یوه عملیات ملاتړ وکړي او په هره ورځ کې د کشف د یوه ماموریت ملاتړ وکړي چې په پراختیايي روزنې باندې کومه اغیزه نلري. د 2014 د اپریل له 1 څخه د جون تر 11، SMW له روزنې پرته 39 ماموریتونه ترسره کړې.[231]

د سیګار د 2013 یوې پلټنې موندلي چې د امریکا دفاع وزارت د SMW لپاره د 771 میلیونو امریکايي ډالرو په لګښت الوتکو اخیستلو باندې کار کوي، چې افغانان نشي کولای لدې الوتکو څخه کار واخلي او وساتي.[232]



د 2014 د جون په 16 **لمړنی C-130** چې له کابل تر کندهاره یې د افغانستان د پیلوټانو لخوا اولتنه ترسره شوه. (د امریکا هوایي ځواک عکس)

په جولای کې، د کابل په نړیوال ډګر باندې د طالبانو په یوه برید کې، د SMW دوه هلیکوپترونه او د ولسمشر کرزي هلکیوپتر له منځه یوړل شول. پدغه وخت کې پدغو هلیکوپترونو کې څوک نه و. په ورته میاشت کې یوه انتحاري د افغانستان هوايي ځواک اته غړي هغه وخت ووژل کله چې یې د هغوی د اردو په سرویس برید وکړ.[233]

د CNA د خپلواکې ارزونې په وینا، چې په تیر ربع کې خپره شوې، "افغانستان د هوايي ملاتړ لپاره ډیره اړتیا لري، مګر د [افغانستان هوايي ځواک] له هغه څه چې په اوس وخت کې پلان شوي نشي کولای نور هوايي ځواک ملاتړ وکړي." CNA دا هم ویلي چې د افغانستان هوايي ځواک "نشي کولای په پوره اندازه ور کسان د استخدام لپاره پیدا کړي ترڅو وکولای شي خپل پلان شوي کچې ته پراختیا ومومي او که اضافي استخدامونکي هم پیدا شي، یوازې یوه کمه شمیره کیدای شي تر 2018 پورې په پوره توګه وروزل شي."[234]

## د افغانستان ملي پولیس

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان ملي پولیسو د جوړولو، تجهیز، روزنې، او دوام لپاره د ASFF 16.5 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 15.9 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[235]

## د افغان ملي پولیسو شمیر

پدې ربع کې، د افغانستان ملي پولیسو ټوله شمیره، 152,123 کارکوونکي و، پشمول د 113,385 د افغانستان یونیفورم پولیس (AUP)، 21,667 د افغانستان سرحدي پولیس (ABP)، 12,731 د افغانستان ملي عامه نظم پولیس (ANCOP)، په روزنه کې 4,313 زده کوونکي، او 27 هغه کارکوونکي دي چې د ګمارلو لپاره په "تمه" دي.[236] د افغانستان د یونیفورم له 113,385 کارکوونکو څخه، 28,092 د کورنیو چارو وزارت په قرارګاه یا د کارکوونکو د ملاتړ په بنسټونو کې و، او دا له تیر ربع څخه 5,530 زیاتوالی دی.[237] د افغانستان ملي پولیسو تایید شوې شمیره له تیر ربع څخه 3,323 زیات شوی، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.16 کې ښودل شوي.

د CSTC-A په وینا، د کورنیو چارو وزارت، د ملي اردو په څیر د هغو کارکوونکو په اړه چې رخصت، له رخصتی پرته غیر حاضر، ناروغ، یا په لنډ مهالو دندو کې بوخت دي، د خپلو

جدول 3.16

**د افغانستان د ملي پولیسو ځواک، د هر ربع بدلون**

| د افغانستان ملي پولیسو برخه | تایید شوي Q1 2014 | تایید شوي Q2 2014 | تایید شوي درې میاشتني بدلونونه | ګمارل شوي Q1 2014 | ګمارل شوي Q2 2014 | ګمارل شوي درې میاشتني بدلونونه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان یونیفورم پولیس [a] | 115,527 | 122,644 | +7,117 | [b]109,184 | [c]113,385 | +4,201 |
| د افغانستان سرحدي پولیس | 22,955 | 23,573 | +618 | 21,616 | 21,667 | +51 |
| د افغانستان عامه نظم پولیس | 14,518 | 13,106 | -1,412 | 14,477 | 12,731 | -1,746 |
| د ګمارنې لپاره په تمه دي | 6,000 | 3,000 | -3,000 | 5,916 | 4,313 | -1,603 |
| په تمه دي [d] | - | - | هیڅ | 2,076 | 27 | -2,049 |
| **د افغانستان ملي پولیسو ټول** | **159,000** | **162,323** | **3,323** | **153,269** | **152,123** | **-1,146** |

یادونې: Q1 2014 معلومات تر 2/2014؛ Q2 2014 معلومات تر 5/2014؛ AUP = د افغانستان یونیفورم پولیی؛ ABP = د افغانستان سرحدي پولیس؛ ANCOP = د افغانستان عامه نظم پولیس؛ NISTA = د روزنې لپاره په خدمت کې ندي.

[a] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاوې او بنسټیز ملاتړ او د CNPA کارکوونکې شامل دي.

[b] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاو 22,562 او بنسټیز ملاتړ کارکوونکي شامل دي.

[c] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاو 28,092 کارکوونکي شامل دي.

[d] پدې کې هغه کارکوونکي شامل دي چې د ګمارنې په تمه دي.

سرچینې: د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 3/31/2014؛ د سیګار د ارزونې په اړه د DCOM MAG ځواب، 4/10/2014 او 4/11/2014.

کارکوونکو په راپور کې راپور نه ورکوي. پدغه دليل، د افغانستان د ملي پوليسو د عملياتونو حقيقي وړتيا څرګنده نده.[238]

## د افغان ملي پوليسو دوام

د 2014 د جون تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي پوليسو د دوام لپاره د ASFF 6.1 ميلياره امريکايي ډالر مکلف کړي او 6 ميلياره امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[239] پدغو مرستو کې 1.34 ميلياره امريکايي ډالر شامل دي چې امريکا د افغانستان د ملي پوليسو د ملاتړ لپاره د افغانستان لپاره د قانون او نظم په وجهي صندق (LOTFA) کې برخه اخيستې ده.[240]

## د ANP معاشونه

CSTC-A راپور ورکړی چې، د 2008 څخه د 2014 د جون تر 30، د امريکا حکومت د LOTFA له لارې 1.34 ميلياره امريکايي ډالر برابر کړي دي، ترڅو د افغانستان ملي پوليسو معاشونه، خواړه، او مکافات (د هغو کارکوونکو لپاره چې په محاربه کې دي يا په تخصصي ساحو کې کار کوي اضافي معاش ورکړي) تاديه کړي.[241]

د CSTC-A په وينا، کله چې ANP د خپلې پای شميرې 157,000 کارکوونکو ته ورسيد، په هر کال کې به نږدې 521.2 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا ولري ترڅو معاشونه (275 ميليونه امريکايي ډالر) او مکافات (246.2 ميليونه امريکايي ډالر) تمويل شي. دا له تير اټکل څخه کموالی دی ځکه چې د خواړو لګښت نور د CSTC-A لخوا تر پوښښ لاندې نه راځي.[242]

> ### د سيګار معلوماتو غوښتنه
>
> سيګار پدې ربع کې يو بل مکتوب CSTC-A ته ليږلی او انديښنه يې ښودلې چې د افغانستان ملي پوليسو معاشونو تاديات د بل ځای ته وړلو په خطر کې دي ځکه چې ټول معاشونه د "ګرځنده پيسو" د بريښنايي سپارلو پروګرام له لارې نه تاديه کيږي. 2 برخه کې 42 پاڼه وګورئ.

## د افغانستان ملي پوليس تجهيزات، ترانسپورټ، او ساتنه

تر جون 30، 2014 پورې متحده ايالاتو د ANP سمبالښت او ترانسپورټيشن لپاره د ASFF بسپنو 3.6 ميلارد ډالر منلي او مصرف کړي.[243] د دې بسپنو ډيری يې د وسلو، تجهيزاتو اړوند، وسايطو او د ارتباط تجهيزاتو پيرودلو لپاره کارول شوي.[244] د متحده ايالاتو پدې کتګورۍ کې بسپنه ورکوونې له 83% څخه ډير د وسايطو او وسايطو اړوند تجهيزاتو لپاره و، لکه څنګه چې په 3.17 جدول کې ښودل شوي.

جدول 3.17

| د متحده ايالاتو په واسطه فنډ ورکړی شوي د ANP تجهيزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **اخيستل شوي** | **بايد واخيستل شي** |
| وسلې | 187,251,477 ډالر | 4,093,066 ډالر |
| وسايط | 1,966,075,183 | 3,744,582 |
| د مخابرې تجهيزات | 211,062,672 | 544,573 |
| **ټول** | **2,364,389,332 ډالر** | **8,382,221 ډالر** |

سرچينه: CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/1/2014.

پدې ربع کې، CSTC-A د افغانستان ملي پوليسو لپاره د اخيستل شويو وسلو، وسايط، مخابرو تجهيزاتو، او مهماتو په ټول لګښت کې د کوم بدلو راپور ورکړی ندی. لکه د ANA په څير، ANP ته چمتو کړی شوي تجهيزاتو لګښت ټاکل د يوې ننګونې په توګه پاتې دی. پدې برخه کې د CSTC-A راپور ورکول توپير لرونکي دي، او د افغانستان ملي پوليسو لپاره د امريکا کارول شويو مرستو څخه د تجهيزاتو اخيستلو ليدنې په ا ړه پوښتنې راپورته کوي. د بيلګې په توګه، د افغانستان ملي پوليسو لپاره د امريکا لخوا اخيستل شوي وسلې د CSTC-A په اټکل له 369 ميليونو امريکايي ډالرو څخه د 2013 په اکتوبر کې 137 ميليونو امريکايي ډالرو ته د 2013 په دسمبر کې را کم

شوي.[245] پدغه وخت کې، CSTC-A ویلي چې په ټول لګښت کې کموالی د قرارداد شوي تجهیزاتو په حقیقي لګښت کې تر اټکل شوي قیمت کموالی و.[246] بیا CSTC-A ویلي چې په راتلونکو ربعونو کې "زیاتوالی لدې کبله و چې وسلې او وسایط د نورو مرستو له /[لارې] اخیستل شوي."[247] د تجهیزاتو زیاتیدونکی لګښت، یو مبلغ چې باید زیات شي یا په ورته توګه پاته شي، د 2013 له جولای څخه کم شوی دی، که څخه هم پدې ربع کې ټول لګښت له تیر ربع څخه بدلون ندی کړی.

پداسي حال کې چې د افغانستان ملي پولیسو لپاره د اخیستل شویو وسایط ټول لګښت د CSTC-A په اټکل له تیر کال څخه کم شوی دی، پدې ربع کې ټول لګښت له تیرو دوو ربعونو څخه بدلون ندی کړی.[248]

امریکا د افغانستان ملي پولیسو لپاره د 366 میلیونو امریکایي ډالرو مهمات هم اخیستي او د افغانستان ملي پولیسو د ساتنې لپاره د 1.5 میلیاردو امریکایي ډالرو نور تجهیزات او مواد هم اخیستي دي. د CSTC-A په وینا، دغه وروستی اندازه پیسي د ټولو تجهیزاتو او ساتنې له ټولو لګښتونو څخه د وسلو، وسایطو، مخابرې تجهیزاتو، او مهماتو منفي کولو څخه معلوم شوي.[249]

## د افغانستان ملي پولیسو زیربنا

د CSTC-A په وینا،د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان ملي پولیسو د زیربنا لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.3 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 2.9 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[250] پدغه وخت کې، امریکا د زیربنا 669 پروژې بشپړې کړي (د 3.2 میلیارده امریکایي ډالر په ارزښت)، نورې 59 پروژې تر کار لاندې دي (345 میلیونه امریکایي ډالر)، او درې پلان شوي (42 میلیونه امریکایي ډالر).[251]

پدې ربع کې، درې پروژې د 3 میلیونو ډالرو په ارزښت وړاندې شوې، 32 پروژې د 167 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت بشپړې شوې، او اته د 28 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت فسخه شوې.[252] د افغانستان ملي پولیسو تر ټولو لویې د زیربنا رواني پروژې د کورنیو چارو وزارت په قرارګاه کې د ودانۍ او لمړنیو خدماتو (34.3 میلیونه امریکایي ډالر)، په هلمند کې د ANCOP د ګزمې قرارګاه (28.5 میلیونه امریکایي ډالر)، او په کندهار کې د AUP ولایتي قرارګاه (25 میلیونه امریکایي ډالر) پروژې دي.[253]

د CSTC-A په وینا، له 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د افغانستان ملي پولیسو زیربنا د عملیاتونو، ساتنې، دوام، بیارغونې، او وړو ساختماني کارونو لګښت له 131–147 میلیونو امریکایي ډالر دي (د پنځو کلونو په ترخ کې 655–735 میلیونه امریکایي ډالر)، او دا له 98–102 څخه زیاتو امریکایي ډالرو زیاتوالی دی (ټول 485 میلیونه ا مریکایي ډالر) چې د اخرې ځل لپاره ثبت شوي.[254]

CSTC-A ویلي چې له سپارلو وروسته د لګښتونو هر اټکل د اوسنیو ظرفیتونو د کچو په اساس دي او د پالیسیو راتلونکی بدلون په پام کې نه نیسي چې کیدای شي د لګښت په اټکل اغیز ولري.[255]

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیاتونه

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان ملي اردو او دفاع وزارت د عملیاتونو او روزنې لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.5 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 3.4 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[256] د 2014 د جنورۍ له 1 څخه، د ناټو وجهي صندق د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د سواد زده کړې ټوله روزنه تمویل کړې ده. پردې برسیره، جاپان په ترکیه کې د پولیسو د اکاډمۍ لګښت پر غاړه اخیستي دي چې پخوا د امریکا لخوا تمویل کیدل. د سواد زده کړې له روزنې پرته چې پدغه پاټه 97 کې ورباندې خبرې وشوې، د انګلیسي ژبې روزنه هغه یووازینی کورس دی چې پدې مالي کال کې د ASFF لخوا تمویلیږي. د NTM-A په وینا،

### د سیګار معلوماتو غوښتنه

په 2011 مالي کال کې، CSTC-A د افغانستان ملي پولیسو لپاره د سرحد ګزمې لپاره د کښتیو غوښتنه کړې. CSTC-A د 3 میلیونو امریکایي ډالرو فرمایش هغه وخت فسخه کړ چې کښتۍ نږدې جوړې شوې وې. کښتۍ په ویرجنیا کې دي، او ترڅو چې بل چیرته لیږل کیږي د ګدام لګښت ورباندې راځي. د لا نورو معلوماتو لپاره، 2 برخه کې دا پاڼې 44–47 وګورئ.

د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د زده کوونکو شمير (دواړه ملي اردو او ملي پوليس) چې پدې ربع کې د انګليسي ژبې په روزنه کې ثبت دي، 2,539 تنه دي، او لدغو څخه 88% يې روزنه بشپړه کړې. مګر، د هغو زده کوونکو سلنه چې د انګليسي ژبې د پوهې کچې نمرو سره چې د نورې روزنې لپاره ورته اړتيا ده فارغ شوي، يوواځې 12% وه.[257]

## د افغانستان ملي پوليسو کې د ميرمنو ونډه

لکه په تير ربع کې، د افغانستان ملي پوليسو کې د ميرمنو شمير زياتيږي، مګر د افغانستان ملي پوليس د 2014 تر پايه د خپلې موخې د 5,000 شمير رسيدو څخه لرې دی. ميرمنې اوس هم د ځواک يوواځې 1% جوړوي. د CSTC-A په وينا، پدې ربع کې، د افغانستان ملي پوليسو په کارکوونکو کې، 1,971 ميرمنې وي، لدغو څخه 280 افسران، 826 واړه ظابطان، او 865 استخدام شوي کارکوونکې وې.[258] او دا له تير ربع څخه د 228 ميرمنو او د 2011 د اګست له 22 څخه د 767 ميرمنو زياتوالی دی.[259]

CSTC-A ويلي چې د افغانستان ملي پوليس د ميرمنو لپاره د امنو ځايونو چې مناسبې آسانتياوې ولرې کار کوي او د ستراتيژۍ په جوړولو کار کوي ترڅو تجربه لرونکې استخدام شوي ميرمنې وساتي.[260]

مګر، د CSTC-A په وينا، د کورنيو چارو وزير پدې وروستيو کې يو پلان لاسليک کړی چې د 1393 هجري کال تر پايه (2015 د مارچ 20) پورې د 5,000 ميرمنو د موخې رسيدلو باندې ټينګار کوي. CSTC-A د ښځو ګمارنې او روزنې باندې مشورو چمتو کولو په واسطه د MOI هڅو ملاتړ کوي. دې مشورې په "خوندي قطعو کې د ميرمنو په استخدامولو او د ميرمنو په ثبتولو باندې کار کړی دی ترڅو د ناوړه ګټې اخيستنې مخه ونيول شي چې د نړيوالو ادارو لخوا يې راپور ورکړ شوی دی."[261]

پردې برسيره، د ايتلاف سلاکارانو د افغانستان ملي پوليسو روزنې لپاره د بشرې حقونو، جندر، او کوچنيانو حقونو په اړه يو نصاب جوړ کړی دی. تردې ربع پورې، د افغانستان ملي پوليسو 25,059 کارکوونکو دغه روزنه لاسته راوړې، چې له تير ربع سره ورته شميره ده.[262] د CSTC-A د جندر يو سلاکار د زده کړې له رييس سره په کورس باندې کار کوي او د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي، د بشري حقونو نړيوال معيار، او د قانون په پلې کولو کې د ميرمنو لپاره د ځان دفاع موضوعګانې به تر پوښښ لاندې راوړي.[263]

لکه څرنګه چې په تير کې ويل شوي، د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحيت قانون Pub. L. 113-66 د دغه پروګرام او فعاليتونو لپاره 25 ميليونه امريکايي ډالر برابروي ترڅو د استخدام، يوځای کيدلو، ساتلو، روزنې، او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو کې د ميرمنو سره چلند ملاتړ وکړي.[264]

## د ANSF طبي/روغتيايي پاملرنه

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د روغتيايي تاسيساتو 176 ساختماني کارونه تمويل کړي دي چې ارزښت يې 155 ميليونه امريکايي ډالر دی، 11 نورې پروژې تر کار لاندې دي چې ارزښت 15 ميليونه امريکايي ډالر ده.[265] پدې ربع کې، يو بل روغتون چې ارزښت يې 21 ميليونه امريکايي ډالر و، بشپړ شوی دی. څلور نور تاسيسات يا د کارونو پراختيا چې ارزښت يې 8.5 ميليونه امريکايي ډالر دي تر کار لاندې دي.[266]

پدې ربع کې، IJC راپور ورکړی چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د روغتيا سيستم 959 ډاکټران درلودل، او لدغو څخه اوه کم شوي. لدغو څخه، 559 ملي اردو ته او 400 ملي پوليسو

ته ګمال شوي، چې د ملي پولیسو لپاره 45 زیاتوالی ښیي. ملي اردو د 182 ډاکټرانو او ملي پولیس د 112 ډاکټرانو کموالی لري.[267] د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو 1,843 نرسان، د ډاکټرانو مرستیالان، او د روغتیا نور کارکوونکي درلودل، او د 497 بستونو کموالي راپور یې ورکړی.[268]

IJC راپور ورکوي چې دواړه د افغانستان ملي اردو او ملي پولیس د روغتیایي موادو اړتکل لپاره د ګټې اخیستلو له تیرو معلوماتو څخه کار اخلي. د افغانستان ملي پولیس پلان لري ترڅو د کلنیکونو لپاره د هغو موادو چې باید وساتل شي یو ستندرد لست برابر کړي، د 1394 هجري کال لپاره د سیمې یو لوژستیک سیستم جوړ کړي، او د امبولانسونو د تجهیز لپاره د عملیاتو ستندرد طرزالعمل جوړ کړي.[269]

## د هغو مهماتو لرې کول چې چاودلې نه وي

له 2002 مالي کال راهیسې، د متحده ایالاتو د وسلو د لرې کولو او له منځه وړلو سیاسي-اردو چارو بیورو (WRA/PM) په وینا، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د وسلو له منځه وړلو او د افغانستان مینونو پاکولو مرستې لپاره له 283 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي.[270] د امریکا بهرنیو چارو وزارت د اساسي وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې د افغانستان پنځه غیر دولتي سازمانونه، پنځه نړیوال سازمانونه، او د امریکا حکومت یو قراردادي تمویلوي. دغې مرستې کولای شي هغې ساحې چې د جګړې په پاته شویو چاودیدونکو توکو ککړې (ERW) دي، پاکې کړي او هغې وسلې چې پریښودل شوي او کیدای شي یاغیان ورڅخه د سرک د غاړې د مینونو په توګه ورڅخه کار واخلي، د لرې کولو ملاتړ وکړي.[271]

د راپور ورکولو په وخت کې، د افغانستان د مینونو د عمل همغږۍ مرکز د امریکا د انداخت پخوانی ساحې هم په افغانستان کې د ککړو ساحو د معلوماتو په بانک کې اضافه کړې. په پایله کې، د دې راپور د راپور ورکولو اندازه زیاتوالی ښیي، چې له 2013 څخه د نږدې 100 میلیون متر مربعې یا نږدې 39 میله مربع ساحه اوس هم ککړه ده.[272] (دغه جدول 3.18 وګورئ.)

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي تطبیق کوونکو ملګرو له 154 میلیون متر مربع څخه زیاته ځمکه پاکه کړې او نږدې 7.8 میلیون د ځمکې مینونه یې او نور ERW لکه نا چاودلې شوي مهمات (UXO)، پریښودل شوي مهمات (AO)، په سلاح کوټونو کې مهمات، او په کور کې جوړ شوي چاودیدونکي توکي لرې کړي یا له منځه وړي.[273] WRA/PM د مینونو ساحه د هغې ساحې په توګه پیژني چې په مینونو ککړه وي، چیرته چې یوه ککړه ساحه په دواړو د ځمکې په مینونو او ERW ککړه وي.[274]

### د سیګار پلټنه

سیګار د افغانستان د تخنیکي سلاکارانو (ATC) د مین پاکولو فعالیتونو لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د یو شمیر مرستو مالي پلټنه ترسره کړه. دې پلټنې هغې پیسې تر پوښښ لاندې راوړې چې د 2007 له اپریل څخه د 2012 تر اګست پورې چې ټولې له 13.4 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیاتې وې لګول شوې. ATC د 2 میلیونو متر مربعو ځمکې د پاکولو راپور ورکړی، چې دا کار د پرسونل ضد او ټانک ضد مینونو، د نه چودل شوي مهماتو او ټوټو د موقیعتونو د پاکولو په ترڅ کې ترسره شوی. پلټنې د مالي سندونو، د تیرو پلټنو د موندنو، یا د تعقیب یا سمون عمل ارزونو په اړه کومه اندیښنه موندلې نده. مګر راپور د کورني کنترول شپږ کمزورۍ او د اطاعت پنځه موندنې پیژندلې دي. دې پلټنې د نه ملاتړ شویو لګښتونو 200,000 امریکایي ډالر ښکاره کړي او له وراندې تادیه شویو عوایدو څخه یې د نږدې 9,000 امریکایي ډالر و ټکټانه پیدا کړې چې د امریکا بهرنیو چارو وزات ته تادیه شوې ندي.

جدول 3.18

| د 2013 د جنورۍ له 1 څخه د 2014 د مارچ تر 31، د اساسي وسلو د له منځو پروګرام اندازې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د نیټې رینج یا لړۍ | د منځه وړل شوي AT/AP | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاکې کړل شوې پارچې | د مینونو ساحې پاکې شوي (m²) | هغې اټکل شوي ککړې ساحې چې پاته دي (m²) |
| 3/31/2013–1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 4/1-6/30/2013 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 7/1-9/30/2013 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 10/1-12/31/2013 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 3/31/2014–1/1 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000 |
| **ټول** | **14,276** | **397,769** | **552,944** | **9,803,342** | **28,996,370** | **638,400,000** |

یادونې: AT/AP = د ټانک-ضد / د پرسونل-ضد مهمات. UXO = نا چاودیدلي مهمات. SAA = د ورو وسلو مهمات. د مهماتو د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې پاکول یې لکه نور ورته شیان پاملرنې ته اړتیا لري ترڅو چې د هغوي د ماهیت په اړه معلومات ترلاسه شي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت، WRA/PM ځواب، 6/30/2014.

د 2014 مالي کال د دریم ربع هر اړخیز راپورونه لا تر اوسه شتون نلري. د ربع راپور عموماً د هر ربع له پای څخه یوه میاشتې وروسته شتون لري؛ څکه نو، د 2014 مالي کال دریم ربع (چې د 2014 د اپریل له 1 څخه د 2014 د جون تر 30 پورې تر پوښښ لاندې راوړي) د سیګار د ربع په راتلونکي راپور کې به خپور شي (د 2014 اکتوبر).[275]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزه

د 2014 د جون تر 30 پورې، امریکا له 2002 څخه د افغانسان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې لپاره نږدې 7.6 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. د امریکا کانګرس د دغو مرستو ډیری برخه د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوي او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو (DOD CN) مرستو له لارې (2.93 میلیارده امریکایي ډالر)، دASFFs له لارې (1.31 میلیارده امریکایي ډالر)، او (1.42 میلیارده امریکایي ډالر) د اقتصادي ملاتړ مرستې له لارې، او 1.76 میلیارده امریکایي ډالر یې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلې کولو (INCLE) حساب له لارې تخصیص کړي. د بیارغونې پر مرستو برسیره، د مخدره توکو د قانون پلې کولو اداره (DEA)، په افغانستان کې د عملیاتونو لپاره مستقیمه مرسته لاسته راوړي. دا تخصیصونه په افغانستان کې د DEA معاشونه او لګښتونه تمویلوي.[276] (د ب ضمیمه وګورئ)

د امریکا د مخدره توکو د کنترول پالیسی پدې وروستیو کلونو کې له منځه وړلو څخه مخنیوی او کرنیزې پراختیا ته بدلون کړی او موخه یې دا ده ترڅو د بزګرانو لپاره بدیل معیشت برابر کړي.[277] د له منځه وړلو فعالیتونه تر ډیرې کچې د والي په مشرۍ د له منځه وړلو (GLE) او د ښه فعالیت نوښت (GPI) پروګرامونو پر اساس ترسره کیږي. د مخنیوی فعالیتونه د افغانستان د مخدره توکو د وزارت (MCN) په چوکاټ کې دي، او د افغانستان د کورنیو، دفاع او عامې روغتیا له وزارتونو سره مسولیتونه شریکوي. د مخدره توکو په وړاندې د عدالت مرکز (CNJC)، د څو ادارو د دندو له ګډ ځواک (CJIATF-N) او د څو ادارو د عملیاتونو د همغږۍ له مرکز (IOCC)، سره د غیر قانوني مخدره توکو د سوداګرۍ په مخنیوی کې هم مرسته کوي. د افغانستان د مخدره توکو سره د مبارزې پولیس (CNPA) د مخدره توکو مخنیوی عملیاتونه ترسره کوي او د امریکا دفاع وزارت او آیساف برخې روزنه او ملاتړ برابروي.[278]

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) د نړۍ مخدره توکو راپور وایي چې د دریم کال لپاره، افغانستان چې پخوا په نړۍ کې د کوکنارو تر ټولو لوی تولیدونکی او کرونکی و، تر کرنې لاندې په ساحو کې یې زیاتوالی راغلی (په 2012 کې له 154,000 هکتارونو څخه په 2013 کې 209,000 هکتارونو ته)، چې دا 36% زیاتوالی دی.[279] مګر، د 2013 لپاره د UNODC اټکل د امریکا تر حکومت لوړ و او پدغه کال کې 198,000 هکتاره د کوکنارو تر کرنې لاندې وه.[280] راپور دا هم وایي چې د افغانستان هیروین په زیاتیدونکې توګه نوي مارکیټونو ته لکه اوشیانا او د آسیا سویل غرب ته رسیږي، چې په سنتي ډول د سویل ختیځې آسیا لخوا ورته رسیدل.[281] USAID د کرنې او بدیل معیشت پروګرامونه تمویلوي ترڅو د کوکنارو پر کرنې باندې د بزګرانو اړتیا مخه ونیسي؛ د دې راپور په 170 پاڼه کې د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا په برخه کې پر دې پروګرامونو باندې خبرې شوي.

د ایتلاف د کارکوونکو کمیدل هم د مخنیوی په پایلو باندې په ځانګړې توګه د هیواد په سویلي سیمو کې اغیز کړی دی. د ځواکونو کمې شوې شمیرې د ایتلاف او افغان ځواکونو یا د امریکا د مخدره توکو د قانون پلې کولو کارکوونکو او افغان ځواکونو ترمنځ یې د ګډو

عملیاتونو شمیره محدوده کړې.[282] په ورته توګه، له هغه وخته چې امنیتي ځواکونو څخه د ټولټاکنو د امنیت په برخه کې د مرستې غوښتنه شوې، د کوکنارو له منځه وړل هم کم شوي.[283] د کوکنارو د کرنې پایلې لا تر اوسه شتون نلري، مګر کیدای شي آخرې پایلې به د تیر کال له لوړې کچې څخه هم زیات وي. د ملګرو ملتونو په وینا، تر 2013 په 2014 کې د هلمند ډیره ځمکه په کوکنارو باندې کرل شوې، چې د افغانستان د تریاکو تر ټولو لوی تولیدونکی دی.[284]

## په افغانستان کې د مخدره توکو استعمال

د UNODC د 2014 اپریل د مخدره توکو مطالعې ښودلې چې له هیروینو او نورو مخدره توکو څخه کار اخیستنه د افغانستان پر ټولنې باندې ډیرې ناوړې پایلې لري. له مخدره توکو څخه کار اخیستنه د کورنې تاوتریخوالي سبب ګرځي، په ښوونځي کې د کوچنیانو د پرمختګ مخه نیسي، او د افغانستان په ډیریو ټولنو کې یوه ستونزه ده.[285]

له 2005 څخه تر 2009 پورې، د هیروینو او نورو مخدره توکو کار اخیستنه دوه برابره شوې. ټول هغه کسان چې له هیروینو څخه کار اخلي شمیره یې نږدې 120,000 ته رسیږي او دا له 2005 څخه 140% زیاتوالی ښيي. نږدې 8% له 15 تر 64 کلونو پورې له مخدره توکو څخه کار اخلي، او دا دنړی په منځنی کچه دوه برابره ده.[286] د مخدره توکو کاروونکو سره مرکه:

- نږدې 80% نارینه و[287]
- 56% ویلي چې هغوی مکتب ته نه ځي، 19% په متوسطه ښوونځي کې دي، او 2% پوهنتون ته ځي[288]
- 40% له 10 تر 24 کلونو عمر، 42% له 25 تر 39 کلونو عمر، او 15% له 40 تر 54 کلونو عمر دردلو[289]
- 64% ویلي چې هغوی په تیر کال کې بې کاره و[290]

## د والي په مشرى د له منځه وړلو پروګرام

INL د والي په مشری د له منځه وړلو پروګرام تمویلوي د INL په وینا، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN)، له UNODC سره په ملګرتیا کې، د کوکنارو د کرنې د تاییدی مسولیت لري.[291] د له منځه وړلو پروګرام د کال په بیلابیلو وختونو کې ترسره کیږي او د ولایت د هوا حالت پورې اړه لري. زیاتیدونکي پایلې د MCN لخوا تعقیبیږي، او د لویدو او لوړیدو پر اساس د UNODC لخوا تاییدي ته اړتیا لري. په سویلي ولایتونو کې د له منځه وړلو یوه ډیره برخه په دویم ربع کې پیلیږي او د مالي کال د دریم ربع په لمړیو اونیو کې بشپړیږي.[292]

د INL په وینا، د 2014 لپاره د افغانستان حکومت د له منځه وړلو نښه 22,500 هکتاره ده.[293] په هلمند کې د له منځه وړلو پروګرام د 2014 د مارچ په پیل کې پیل شو او د 2014 د جون تر پایه یې دوام درلود. تایید شوي له منځه وړل، چې په 12 ولایتونو کې ترسره شوي، د 2014 د جولای تر 2 پورې، 2,796 هکتارو ته رسیدلي، او دا د 2013 په پرتله چې په ټول کال کې 7,348 هکتاره و.[294] د افغانستان حکومت د له منځه وړلو په پروګرام کې کموالی په ځینو ولایتونو کې د له منځه وړلو په فصل کې د ټولټاکنو ترسره کیدلو له کبله ګڼي. هغه امنیتي ځواکونه چې د ټولټاکنو لپاره ګمارل شوي و د له منځه وړلو عملیاتونو لپاره یې شتون ندرلود. د وزارتونو تر منځ همغږي ترڅو د له منځ وړلو پروګرام هڅې تنظیم کړي هم د ټولټاکنو له کبله له خنډ سره مخامخ شوي او تایید شوی پلان د فصل تر پایه وړاندې شوی نه و، چې د پروګرام اغیزمنتیا یې محدوده کړې. INL ویلي چې د والي په مشری د له منځه وړلو پروګرام لپاره په ملي او ولایتي کچه سیاسي ارادې ته اړتیا ده ترڅو دا پروګرام اغیزمن وي.[295]

INL سيګار ته ويلي چې د والي په مشرى د له منځه وړلو پروګرام کله چې د اوږد مهال لپاره د څو اړخونو طريقې او هر اړخيزو هڅو سره يوځاى شي ډير اغيز لري ترڅو د ښه حکومتوالى او دوامدارې اقتصادي ودې ملاتړ وکړي.[296] د والي په مشرى د له منځه وړلو پروګرام ټوله پايله د کال په پاى کې کيداى شي تر تير کال ډيره کمه وي. د MCN د مې د پاى د له منځه وړلو پروګرام په وينا، په هغو ولايتونو کې چې کوکنار له وړاندې کرل شوي (فراه، هرات، کابل، او نيمروز) هلته به عملياتونه ترسره نشي او په يو شمير ولايتونو کې پشمول د هلمند او کندهار پروګرام پاى ته رسيدلى، چې د کوکنارو د کرنې تر ټولو لوى ولايتونه دي.[297]

## د ښه فعاليت نوښت (GPI)

INL د MCN د هڅو ملاتړ هم کوي ترڅو د ښه فعاليت نوښت له لارې له کوکنارو خلاص ولايتونو ته ورسيږي او دا حالت وساتي. د INL په وينا، د دې پروګرام د شرطونو پر اساس، يو ولايت په هر کال کې د 1 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د GPI د پراختيايي پروژو مستحق دی ترڅو له کوکنارو خلاص دريځ لاسته راوړي. INL سيګار ته ويلي چې د GPI پروګرام په راتلونکي کال کې د مخدره توکو پر وړاندې فعاليت دوام هڅوي.[298] دا پروګرام د ولايت مشري او وګړو ته دا هم ښيي چې د کوکنارو د کرنې مخه نيول حقيقي ګټې هم لري، او دا په ولايت، ولسوالى او ټولنه کې د حکومت څواک بيرته ټينګوي.[299]

په 2007 کې د GPI د پروګرام له پيل څخه، 215 پراختيايي پروژې يا بشپړې شوي يا د افغانستان په ټولو 34 ولايتونو کې تر کار لاندې دي؛ پدغو پروژو کې د ښوونځيو جوړول، د سړکونو او پلونو پروژې، د اوبو لګولو جوړښتونه، د فارم ماشينونو پروژې، او د روغتون او کلينيکونو ساختماني کارونه شامل دي. INL په اوس وخت کې له MCN سره ګډ کار کوي ترڅو د GPI پروګرام بيرته ډيزاين کړي ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې ډير ګامونه وهڅوي او په کليو کې د بديل معيشت لپاره زيات ملاتړ برابر کړي.[300] بديل معيشت لکه د کندهار د خواړو ساحه د دې راپور د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا برخه کې په 172 پاڼه کې ورباندې خبري شوي.

د 2014 د مې تر 31، د GPI ټولې 215 پروژې چې ارزښت يې 106.6 ميليونه امريکايي ډالر دي، تاييد شوي دي. لدغو څخه، 115 بشپړې شوې، 96 رواني دي، او څلور بشپړيدو ته نږدې دي.[301] د دريمې ډلې د پلټنې د سپارښتنو پر اساس، GPI خپلو هغو کارونو ته بدلون ورکړ چې د پيسو بدلولو له يوه نرخ څخه يې کار اخيست او پرته لدې چې د افغانستان بانک د پيسو بدلولو له ورځنې رسمي ويب پاڼې څخه کار واخلي، 1 امريکايي ډالر يې په 50 افغانيو بدل کړی. څکه نو د تير ربع په راپور کې د GPI د ټولو پروژو ارزښت د دې راپور له ارزښتونو سره په مستقيمه توګه پرتله کيدلای نشي.[302]

## د غوښتنې کموالی

پدې ربع کې، INL له MCN، MOPH، د کولمبو پلان، او هغه افغاني NGO چې د معالجه پروګرامونه پرمخ وړي، د ملګرو په غونډه کې د ژمنې يو مکتوب لاسليک کړ. لاسليک شوي سند دا ګوري چې د INL لخوا د معالجې ملاتړ شوي مرکزونه د MOPH صلاحيت ته وسپاري.[303] پداسې حال کې چې د افغانانو تر صلاحيت لاندې د معالجې د 13 پروګرامونو سپارلو ته دوام ورکوي، پدې ربع کې، INL د کلينکونو د روزنې کارکوونکو، د معالجې

**کولمبو پلان:** په آسيا او پاسفيک کې د اقتصادي همکارى او ټولنيزې پراختيا لپاره د کولمبو پلان د سيمې د هيوادونو د لا نورې اقتصادي او ټولنيزې پراختيا لپاره د سيمې د حکومتونو ترمنځ د يوه سازمان په توګه ټاکل شوى. دا سازمان په 1950 کې د سريلانکا په کولمبو کې په يوه جوړ شوي کنفرانس کې په پام کې نيول شوى چې د موسيسنو اوه غړي هيوادونه يې درلودل او 26 غړو هيوادونو ته زيات شوى دى. INL د کولمبو پلان په آسيا کې د اعتياد د متخصصينو د تاييدى او روزنې مرکز ملاتړ کوي، دا د معالجې د متخصصينو د روزنې يوه اداره ده ترڅو په آسيا او افريقا کې د اعتياد متخصصينو لپاره د يوې تاييد شوي تخصصي پروسې جوړولو لپاره له حکومتونو سره مرسته وکړي.

سرچينې: د کولمبو پلان د دارالانشا ويب پاڼه، تاريخ، http://www.colombo-plan.org؛ INL، د نړيوال مخدره توکو کنترول ستراتيژي راپور: 1 ټوک د مخدره توکو او کيمياوي توکو کنترول 3/2013، مخ 20.

خدمتونو، او د ناروغانو د لیدنې او په کلیو کې د غوښتنې د کمولو پروګرام لپاره ملاتړ برابروي. INL د 76 معالجې پروګرامونو ملاتړ کوي.

د سپارلو په پروګرام کې د کارکوونکو د وړتیا زیاتول او په دوامداره توګه د MCN او MOPH ترمنځ د همکارۍ هڅوونه شامله ده. INL ویلي چې غواړي ترڅو د معالجې د مرکزونو ترمنځ په ټول هیواد کې نظم راوړي او مرسته وکړي ترڅو د معالجې اوسنې متخصصین د افغانستان د حکومت ملکي خدماتو سره یوځای کړي. د دې پلان پر اساس، د معالجې پروګرام به د افغانستان حکومت ته سپارل کیږي او په راتلونکو کلونو کې به د INL ملاتړ ورو کمیږي.[304]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزې له ټولنو سره کار

INL د مخدره توکو په وړاندې مبارزې له ټولنو سره کار (CNCE) پروګرام هم تمویلوي، چې دا پروګرام په نښه شویو ولایتونو کې د افغانستان له حکومت سره د تولید، قاچاق، په افغانستان کې د مخدره توکو څخه کار اخیستنې مبارزې کې د اړیکو او عامه آګاهی پروګرامونو له لارو مرسته کوي. CNCE، د سیارا میډیا کمونیکیشن له لارې پلي کیږي، چې د اپیوم کښت کیدونکي ساحو کې د ملي او ځایی عامه پوهاوي او میډیا کمپاینونو له لارې بزګران هدف ګرځوي. د مشخصو لیدونکو د تحلیلي راپورونو، پشمول د اساسي راپور له لارې سایره د رسنیو د کمپاین اغیز نظارت کوي ترڅو په ولایتونو کې د مخدره توکو او کرنې هڅوونکي، او د مخدره توکو په اړه د عامو خلکو نظر وپیژني.[305]

سیاره له یوه قراردادي سره په ملګرتیا کې د جغرافیایي معلوماتو سیستم نقشه کول هم پر مخ وړي او په ټولو ولایتونو کې 42 ناظرین لري، چې د کرنې د اندازو پر اساس دغو ولایتونو ته درجه ورکول کیږي. ناظرین معلومات راټولوي او د مخدره توکو پر وړاندې د کمپاینونو پیغامونو په اړه نظرونه اندازه کوي. سیاره په هره میاشت کې د رسنیو نظارت هم ترسره کوي، او دا ارزونه کوي چې د افغانستان د رسنیو په اوسنې چاپیریال کې د مخدره توکو پر وړاندې د رسنیو تولیدونه کوم ځای لري، او په رسنیو کې د مخدره توکو پر وړاندې د اړوندو موادو ارزونه هم ترسره کوي. د INL په وینا، سیاره او د CNCE پروګرام په ټول هیواد کې کار کوي؛ او په ځینو ساحو کې چیرته چې پروګرام کار کوي، کرنه کمه شوې.[306] INL ویلي چې د ظرفیت د ودې د هڅو له کبله به په پای کې د CNCE پروګرام MCN ته وسپارل شي.[307]

## د آغاخان بنسټ مرسته

د 2010 له سپتمبر څخه د 2014 تر مې پورې، INL د حکومتولی سیمه ایزو بنسټونو ته مرسته برابره کړې ترڅو د 6 میلیونو امریکایی ډالرو په لګښت د آغاخان د بنسټ (AKF) مرستې د دوو برخو پروګرام لاندې د افغانستان په مرکز او شمال کې شپږ ولایتونه د کوکنارو له کرنې څخه قانوني معیشت خوا ته وهڅوي. د INL په وینا، لدې پروژې څخه 32,100 برخه اخیستونکو پشمول د 8,776 میرمنو، د کرنیز مدیریت لپاره د روزنې د ورکشاپونو، سازماني ظرفیت، ښې حکومتولی، بودیجې جوړولو، او برخې اخیستنې پلان جوړولو له لارې، ګټه اخیستې. دا پروژه د ولسوالیو او ولایتونو چارواکو ته دا توان هم ورکوي ترڅو په ټولنه کې د سپما له ډلو او د ټولنې له نورو ډلو سره اړیکه ونیسي. INL سیګار ته ویلي چې په اوس وخت کې د آغاخان له بنسټ سره یوه نوې مرسته نهایي کوي چې د دریمې برخې په فعالیتونو کې به د سیمه ایزې حکومتولی پر کارونو زیات شي، او په ټول افغانستان کې به 16 ولایتونو ته پشمول د کوکنارو تر کرنې لاندې سویلي ولایتونو ته وغزول شي.[308]

**په ټولنه کې د سپما ډلې:** په کلیو کې تر ټولو بې وزلو غړو، او په ځانګړې توګه د هغو ساحو لپاره چې د مالي بنسټونو له لارې د کریډیټ میکانیزمونه نلري، لپاره د کریډیټ او سپما لپاره دوامداره لاس رسی برابروي. برخه اخیستونکې هڅول کیږي ترڅو پخپله د سپما ډلې غوره کړي او مشرې وکړي چې پخپله رضا په هره میاشت کې د پور وجهې صندق کې برخه اخلې. د ډلې غړي کولای شي د پور وجهې صندق ته لاس رسی ولري ترڅو وکولای شي په عامه موادو، کارونو، یا بیړنیو اړتیاو کې پانګونه وکړي. په هر کال کې، ټولو غړو ته ټولې سپمول شوې پیسې تادیه کیږي او هر غړی کولای شي ترڅو دا پیسې بیرته په سپما کې واچوي. په لنډ مهال کې، ډلې پریکړه کولای شي ترڅو انفرادي غړو ته واړه پورونه ورکړي او د ټکټانه له لارې بیرته کریډیټ لاسته راوړي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت او INL ځواب، 7/11/2014.

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت ظرفيت لوړولو پروګرام

MCN او INL د MCN د 2014 د فبروری په 18 د ظرفيت لوړولو او مشورې ملاتړې پوهې موافقه لاسليک کړه. نوموړی پروګرام، کوم چې د 18 مياشتو لپاره نوی کړی شوی و، د 24 ځايی او ملي مشاورينو لپاره فنډ ورکول چمتو کوي او د MCN ظرفيت جوړولو کې مرسته کوي. INL د پروګرام د اغيزمنتيا تعقيبولو لپاره د فعاليت د اندازه کولو يو پلان تطبيق کړی دی.[309] د INL په وينا، دا پروګرام نه يووازې له ملګرو سره مرسته کوي ترڅو د مشورې د ملاتړ پروګرام د بريا نظارت وکړي، مګر د MCN د بشري قوا د کارکوونکو د کارونو د ارزونې ښه والي سره هم مرسته کوي. پردې برسيره، پدې ربع کې INL د MCN د ولايتي دفترونو لپاره د معلوماتي ټيکنالوجی همغږي کړې او نصبول يې بشپړ کړي. INL د امنيت د دوو نويو برجونو نصبولو او د مخابرې تجهيزاتو او اوسپنې ډيټيکټرز يا موندونکو سره يې د MCN امنيت ښه کړی.[310] پدې ربع کې، MCN د يوه کنفرانس کوربه توب وکړ، ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې يوه نوې متحده سيمه ايزه او نړيواله پاليسي پيل کړي، پدې کنفرانس کې د سيمې يو شمير سفيرانو پشمول د روسيې سفير برخه اخيستې وه.[311] دا پاليسی د اوسنيو ميکانيزمونو او پروسو لکه د سيمه ايزې همکاری لپاره د سويلي آسيا ټولنه (SAARC)، د استانبول پروسې، او پاريس تړون له لارې د کار کولو لپاره پاليسی وړاندې کوي، ترڅو سيمه ايزه او نړيواله همکاری لاسته راوړي. INL سيګار ته ويلي چې د افغانستان حکومت لدې کنفرانس څخه ګټه اخيستې ترڅو له خپلو سيمه ايزو ملګرو سره دا نوې پاليسی پيل کړي.[312]

## د ترياکو ضد عملياتو باندې د ايتلاف وتلو اغيز

د DOD په وينا، د ايتلاف ځواکونو وتلو CNPA او نور افغان د ترياکو ضد اداري زيان منې کړي دي. لکه څرنګه چې پدې شکل 3.27 کې ښودل شوي، له 2012 څخه د عملياتونو شميره کمه شوې. د مخدره توکو د متحدو بانکې معلوماتو په وينا:[313]

- د مخدره توکو پر وړاندې عملياتونه 17% کم شوي (624 په 2011 مالي کال کې د آيساف د ډيرو عملياتونو په وخت کې تر 518 په 2013 مالي کال کې)
- د هيروين يا پوډرو ضبط 77% کم شوی (10,982 کلوګرام په 2011 مالي کال کې 2,489 کلوګرام ته په 2013 مالي کال کې)
- د اپيوم ضبط 57% کم شوی (98,327 کلوګرام په 2011 مالي کال کې 41,350 کلوګرام ته په 2013 مالي کال کې)

د اغيز ډيره کچه يې هلمند او کندهار کې وه د ايتلاف ځپې او بعدي وتلو تمرکز. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ارزول شوي قطعې لکه د استخباراتو او تحقيق قطعه، د حساس تحقيقونو قطعه (SIU)، د تخنيکي تحقيق قطعه، او د ملي مخنيوی قطعه (NIU) د ځواکونو له کميدلو څخه او تر ډيري کچې د ايساف لخوا د برابر شوي توانمندی ته د لاس رسی له لاسه ورکولو څخه ستونزمن شوي دي.[314] دغه ارزول شوي قطعې په افغانستان کې د امريکا د مخدره توکو د هڅو لپاره مهم دي.[315] د INL په وينا، د امريکا د مخدره توکو د قانون پلې کولو کارکوونکي کيدای شي د آيساف د وړتيا پشمول د آيساف د ځانګړو

**د سيمه ايزې همکاری لپاره د جنوبي آسيا ټولنه (SAARC):** د غړو هيوادونو ترمنځ اقتصادي او سياسي همکاری هڅوي. د موسيسنو منشور د 1985 په دسمبر کې د بنګله ديش، بهوتان، هندوستان، مالديو، نيپال، پاکستان، او سريلانکا لخوا لاسليک شوی. افغانستان په 2007 کې يو ځای شو.

**د استانبول پروسه:** په 2011 کې پيل شوې، دا پروسه د افغانستان او ګاونډيو ترمنځ خبرو ته لار پرانيزي ترڅو سياسي، اقتصادي او امنيتي همکاری زياته کړي. له 20 څخه زيات هيوادونه او سازمانونه له امريکا سره د تروريزم او مخدره توکو پر وړاندې مبارزې، بې وزلی او سخت دريځی مسلو لپاره ملاتړ برابروي.

**د پاری تړون:** د يو شمير هيوادونو او نړيوالو سازمانونو ملګرتيا ترڅو له افغانستان څخه د غيرقانوني ترياکو قاچاق مخه ونيسي. دا تړون د پاريس په ښار کې په 2003 کې د مرکزي آسيا د مخدره توکو د لارو په اړه د يو شمير هيوادونو د وزيرانو په غونډه کې منځ ته راغلی. د دې تړون موخه دا ده ترڅو د کوکنارو کرنه، او د هيروينو او ترياکو توليد او نړيوال کار اخيستنه کمه کړي، او د ترياکو د غيرقانونی قاچاق مخه نيولو او مبارزې لپاره د يوه نړيوال ايتلاف تاسيس غواړي.

سرچينې: د SAARC ويب پاڼه: ”د SAARC په اړه، منشور“ http://www.saarc-sec.org/ لاس رسی، 7/16/2014؛ د سويلي او مرکزي آسيا بيورو، د امريکا بهرنيو چارو وزارت، حقيقت پاڼه، د استانبول له پروسې څخه د امريکا ملاتړ، 4/29/2013؛ د پاريس تړون، ويب پاڼه، دا څه دي؟ https://www.paris-pact.net، لاس رسی، 7/16/2014.

شکل 3.27

**د مخنیوی عملیات، 2008–2014**




یادونه: مالي کال.

سرچینه: DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2014.

عملیاتونو د ځواکونو (SOF) د کموالي له کبله، ونشي کولای ترڅو د ځینو مشخصو ساحو په عملیاتونو کې برخه وانخلي.[316]

د مخدره توکو پر وړاندې په ماموریتونو کې ټولیزه کموالی کیدای شي د ایساف او افغان ځواکونو د مخدره توکو د عملیاتونو د ترسره کولو د کموالي له پایلې څخه وي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، د افغانستان د اوسنیو ډیرو ضبطونو برخه د استوګن ځایونو مرکزونو ته نږدې یا د ترانسپورتي دهلیزونو، لکه د تلاشی د ساحو یا د سرحدونو د دروازو د دوامدارو عملیاتونو له کبله ده.

د مخدره توکو لابرتوارونه، خوندي کولو ساحې، او د قاچاق کولو لوی شبکې په کلیوالي ساحو کې متمرکز شوي چې د ایساف وتلو او په یادو سیمو کې د امنیت کمښت له امله افغان ځواکونو ته په ډیروالي سره محدودیږي. د مخدره توکو د ضبطولو پر کموالي برسیره، د امریکا دفاع وزارت سیګار ته ویلي چې د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې قطعو په تیر کال کې زیاته وړتیا ښودلې ده ترڅو د ایتلاف له مرستې پرته په بریالیتوب سره د مخدره توکو پیچلې تحقیقونه او عملیاتونه ترسره کړي.[317]

## د مخنیوی عملیاتونه

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د 2014 د اپریل له 1 څخه د 2014 د جون تر 30 پورې، د دې مالي کال په دریم ربع کې د افغانستان د امنیت او قانون پلې کولو ځواکونو د مخدره توکو د مخنیوی 57 عملیاتونه ترسره کړي چې په پایله کې یې 88 انفرادي کسان توقیف شوي. تر دې نیټې، پدې مالي کال کې 375 انفرادي کسان توقیف شوي (په لمړي ربع کې 168 توقیف شوي او په دویم ربع کې 119 کسان توقیف شوي).[318] پدغو عملیاتونو کې منظمې ګزمې، محاصرې او د تلاشی عملیاتونه، د وسایطو مخنیوي، او د توقیف عملیاتونه شامل و. پدغه موده کې د افغانانو عملیاتونو پایله د لاندې غیر قانوني مخدره توکو ضبطول هم و:[319]

**منادي کميکل:** هغه ماده چې ممکن د ترياکو مخدره توکو او سايکوټراپيک مادو توليد، رامنځته کولو او/يا چمتو کولو لپاره وکارول شي.

سرچينه: UNODC، "د منادي او کيميکلز څو ژبې قاموس،" 2009، مخ viii.

- 6,464 kg ترياک
- 931 kg هيروئين
- 11 kg چرس/مريجوانه
- 34 kg کيمياوي توکي

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مخنيوی ډيری فعاليتونه د افغانستان په سويل او سويل لويديځ کې ترسره شوي، چيرته چې د کوکنارو ډيری برخه کرل کيږي او له هيواد څخه بهر ته قاچاق کيږي. لکه څرنګه چې د راپور ورکولو پدې وخت کې آيساف د خپلو ځواکونو وتلو ته دوام ورکړ، د امريکا د مخنيوی ډيری فعاليتونه د افغانستان له ځواکونو سره په ملګرتيا کې ترسره شوي. د امريکا ځواکونو پخپله شپږ عملياتونه ترسره کړي چې پايله يې د يوه انفرادي کس توقيف او د 96 کيلوګرامو ترياکو او 0.5 کيلو ګرامو هيروينو ضبطول و. د څو ادارو برخې، پشمول د څو ادارو د ګډ کاري ځواک اړيکي (CJITF-N) او د څو ادارو عملياتونو د همغږۍ مرکز (IOCC)، د افغانستان او ايساف د مخنيوی د هڅو ملاتړ ته يې دوام ورکړی. دواړو CJITF-N او IOCC له اردو او قانون پلي کولو سرچينو څخه خپل معلومات سره يوځای کړي ترڅو د مفسدو او مخدره توکو ياغي عناصرو په وړاندې عملياتونه ترسره شي. ټول عمليات په سيمه کې د امريکايي او ايتلافي پوځي قومندانانو سره په هغمږۍ او د هغوی د سلامشورو په پام کې ترسره شوې دي.[320]

## د مخدره توکو پر وړاندې د پوليسو ځانګړې قطعې

پدې ربع کې، INL روزونکي او سلاکاران برابر کړي ترڅو د ځانګړو قطعو وړتيا او خپلواکی ته پراختيا ورکړي او د SIU/NIU د تاسيساتو لپاره يې يو شمير بيلابيل ملاتړونه برابر کړي. INL پلانونه هم جوړ کړي ترڅو په هرات کې د قانون پلي کولو له سيمه ايز مرکز څخه د امريکا حکومت ملاتړ کم کړي. د INL په وينا، د 2014 په لمړي ربع کې SIU د قانون پلي کولو په 14 عملياتونو کې برخه اخيستې او د مخدره توکو په اړوند يې 25 کسان نيولي دي.[321]

## د مخنيوی پايلې

له 2008 څخه، د افغانستان او ايتلاف لخوا د ټولو 2,769 عملياتونو پايله، د 2,865 توقيفونو او د دغو لاندې غير قانوني مخدره توکو ضبطول وو:[322]

- 746,040 kg چرس
- 378,231 kg ترياک
- 48,105 کيلوګرامه مورفين
- 28,289 kg هيروئين
- 445,205 kg منادي کيميکلز

په هرصورت، لکه څرنګه چې پدې جدول 3.28 کې ښودل شوي، له 2012 راهيسې ضبطونې کمې شوي دي.

شکل 3.28

**د مخدره توکو ضبط، 2008–2014** (کلوګرام)




يادښت: مالي کال.
سرچينې: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2014.

## هوايي ملاتړ

د راپورو ورکولو پدغه وخت کې، د امريکا بهرنيو چارو وزارت الوتکو د الوتنې 200.5 ساعتونه برابر کړي، 135 عملياتونه ترسره کړي، 1,105 مسافرين يې انتقال کړي، او 36,812 پونډه کارګو يې ترانسپورت کړي.[323] د INL په وينا، د DEA لپاره د مخدره توکو پر وړاندې په ملاتړ کې د استخباراتو 18.7 ساعتونه، کشف، د کشف ماموريتونه، 31.5 ساعتونه د مخنيوی هڅو ملاتړ الوتنې، او 69 ساعتونه الوتنې د افغانستان د NIU او مسافرينو د انتقالولو پروازونه شامل دي.

INL دا هم ويلي چې DEA په ملاتړ کې د روزنې 16.5 ساعتونه الوتنې هم شامل دي. د سفارت د نه الوتنې ورځو له کبله چې په افغانستان کې ټولټاکنې وې د DEA د الوتنو ساعتونه پدغه ربع کې کم و.[324] INL د کندهار په هوايي ډګر کې الوتکې لري چې هلکيوپترونه يې د افغانستان په سويل کې د DEA ماموريتونو ملاتړ کوي.[325]

# د حکومتدارۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| کلیدي پیښې | 121 |
| ټاکني | 122 |
| ملي حکومتداري | 129 |
| سیمه ایزه حکومتداري | 134 |
| بیاپخلاینه او یوځای کیدنه | 139 |
| د فساد ضد او قانون حاکمیت | 141 |
| بشري حقونه | 147 |

# حکومتداري

د 2014 کال د جون تر 30، متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتداري او اقتصادي ودې د ملاتړ په موخه 30.6 میلیارد ډالر چمتو کړیدي. لدې بسپنو ډیری یې، له 17.5 ملیارد ډالرو څخه ډیر، د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ته مختص شوي و چې د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د امریکا ادارې (USAID) لخوا اداره کیږي.[326]



**د بهرنیو چارو وزیر** کیری د افغان ولسمشری نوماندانو غني، په مرکز کې او ښي اړخ ته عبدالله سره په کابل کې د 2014 جولای په 12 لاسونه پورته کړي، وروسته له دې چې د لانجمن ټاکنو پایلې حلولو لپاره یو پلان باندې تړون وشو. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

## کلیدي پیښې

په جون 14، افغانستان د عبدالله عبدالله (چا چې په لومړي پړاو کې 45% رایی خپلې کړې وې) او اشرف غني (چا چې 31.6% رایی لاسته راوړې وې) ترمنځ د ټاکنو دوهم پړاو په لاره واچو.[327] د لومړي پړاو برعکس، په کوم کې چې د ولسمشرۍ مخکښ نوماندانو په پراخه کچه پایلې ومنلې، په دوهم پړاو کې د عبدالله د کمپاین ډلې د کارول شویو رایو تخمین شوی حد رد کړ او د افغان ټاکنو کمیسون غړي یې پر پراخه درغلۍ تورن کړل.[328] د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړي استازي، سفیر جیمز ډوبینز یادونه کړې وه چې "د ټاکنو شخړه دا مهال جدي ده او کولی شي په هیواد کې د تجزیې (ویش) ریښتونی خطر رامنځته کړي." [329]

د جولای په 12، د بهرنیو چارو وزیر جان کیري دواړه نوماندانو عبدالله او غني سره په ګډه د شخړې پای ته رسولو په تکل د یو تړون اعلان وکړ. پدې پریکړو کې شامل دي:

- د اعلام په 24 ساعتونو کې باید د ټولو اچول شویو رایو چې په دوهم پړاو کې کارول شوي تفتیش پیل شي؛
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف) به له ولایاتو څخه کابل ته د رای بکسونو راوړو مسؤل وي؛
- بکسونه باید د ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) لخوا خوندي شي؛
- د تفتیش پروسه باید په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموریت (یوناما) څخه پروپوزل سره په مطابقت او د دواړه ولسمشریزو کمپاینونو غړیو په شتون کې په نړیواله کچه وڅارل شي؛ او
- دواړه نوماندان موافق ول چې پایلې به مني او په پای کې به یې د "ملي وحدت حکومت" جوړوي.[330]

دواړه عبدالله او غني وویل چې دوی د ملي وحدت حکومت جوړولو لپاره پر یوه کاري چوکاټ موافق دي.[331] په راتلونکې ورځ یې، که څه هم د دواړه کمپاین غړیو یې

لدې بیل تفسیرونه درلودل: د عبدالله ویاند وویل چې یو "مشارکتي حکومت" به وي چې د ولسمشر فرمان له مخې به د اجرایوي لومړي وزیر پوست ولري، پداسې حال کې چې د غني ویاند وویل چې بایلونکی نوماند کولی شي په نوي حکومت کې د "یوې قانوني لارې" برخه واخلي مګر پر وضاحت به یې وروسته د ګټونکي نوماند د اعلانیدو څخه مذاکرات کیږي.[332] د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د عبدالله لومړي نوماند معاون وویل چې دواړه ډلې پدې موافق دي چې ایتلافي حکومت رامنځته او بایلونکی نوماند به د دوه کلونو لپاره د اجرایوي رییس په توګه دنده سرته رسوي او دوه کاله وروسته په اساسي قانون کې د تعدیلاتو په پایله کې به دغه پوست پر لومړي وزیر بدلیږي. په هرصورت، د غني دوهم معاون په ځواب کې وویل چې "دا لید چې ګټونکی باید ولسمشر او یا بایلونکی اجرایوي رییس شي یو غلط او بې ځایه لید" دی.[333]

د نوي ولسمشر د لوړې مراسم د اګست پر 2، 2014 مهالویش شوي و، مګر د دوهم پړاو د رایو جامع تفتیش له امله، یوناما غوښتنه وکړه چې د لوړې مراسم دې وځنډول شي.[334] د لومړنیو پایلو لنډیز په کې جدول 3.19 ښودل شوی.

پدې ربع کې، USAID هم وویل چې د توکیو څوارخیز حساب ورکوونې کاري چوکاټ (TMAF) منځنې "کلک تحویل کیدونکي" اهدافو د افغان ودې لپاره نوې بیاکتنه به نه وي.[335] د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وینا، TMAF افغانستان ته د ملکي پراختیا د مرستې منل شوې وسیلې په توګه خدمت کوي.[336] متحده ایالات او نړیوال ملګري یې د TMAF راتلونکي پلي کیدو لپاره د اهدافو نوې لړۍ رامنځته کولو په حال کې دي چې په اړه به یې له ټاکنو وروسته نوي حکومت سره خبرې وشي. د USAID په وینا، د دې نوي اهدافو نهایی کولو پروسه به احتمالا د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس کې دوام وکړي چې په ازمایښتي توګه د نومبر لپاره په لندن او پیلي 2015 کې پلان شوی.[337]

جدول 3.19

**د جون 14 د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنو لومړنۍ پایلې**

| د نوماند نوم | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|
| اشرف غني | 4,485,888 | 56.44 |
| عبدالله عبدالله | 3,461,639 | 43.56 |
| **ټولې رایې** | **7,947,527** | |

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسون، "د ولسمشرۍ دوهم پړاو لومړنۍ پایلې،" 7/7/2014.

## ټاکنې

افغانستان د ولسمشرۍ لومړي پړاو ټاکنې د اپریل په 5 ترسره کړې. هیڅ یو نوماند و نشو کولی چې اکثریت رایی خپلې کړي، چې د دوهم پړاو ټاکنو ته یې لاره هواره کړه.[338]

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په وینا (IEC)، د اپریل په 5 د ټاکنو لپاره پلان شوي 6,423 رایی مرکزونو څخه، 6,124 مرکزونه یې د ټاکنو په ورځ پرانیستي و.[339] د ملګرو ملتونو منشي راپور ورکړی چې افغان وګړو او رسنیو د طالبانو لخوا د ګواښونو شتون سره د لومړي پړاو په خوندي کولو کې د ملي امنیتي ځواکونو کړنې ته مثبت غبرګون ښودلی. نړیوالو ملګرو هم اردو او پولیس وستایل.[340]

افغانستان د ټاکنو دوهم پړاو د جون په 14 ترسره کړ. د ټاکنو په ورځ، د IEC رییس یوسف نورستاني اعلان وکړ چې شاوخوا اوه ملیون افغانانو په دوهم پړاو کې رایی ورکړې، چې د لومړي پړاو 6.6 ملیون معتبر رایو څخه ډیر دي.[341] د جون 14 دوهم پړاو ټاکنو لپاره 6,365 ټاکنیز مرکزونه پلان شوي و چې د ټاکنو په ورځ یې 6,223 خلاص ول.[342] د ملي دیموکراتیک انستیټیوټ (NDI) یو غیر دولتي نهاد په وینا، چې USAID لخوا فنډ ورکړل شوی چې د افغان ټاکنو پروسه ملاتړ کړي، افغانان په لویه کچه راوتل چې د هیواد لومړي

ځل لپاره دوهم پړاو ولسمشریزو ټاکنو کې برخه واخلي.[343] د افغانستان د آزادو او عادلانو ټاکنو بنسټ (FEFA)، د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ (TEFA)، د افغانستان د ځوانانو ملي او ټولنیز نهاد (AYNSO)، د افغانستان د برخه اخیستنې ملي نهاد (ANPO)، د نوي لیکې نهاد (NLO) غړي، او د څار داخلي ډلې د جون په 14 نیټه د رایی ورکوونې ډیرې مرکزونو کې موجود و. په ګډه، دې څارنیزو ډلو له 18,000 څخه ډیر ناظرین خپاره او ټول 34 ولایتونه یې پوښلي و او ډیرې یې راپور ورکړی چې د دوی ناظرین مرکزونو ته لاسرسی درلود او د رایی ورکوونې فعالیتونه یې پرته له مخنیوي څارلي.[344]

د جولای په 7، د ټاکنو خپلواک کمیسون اعلان وکړ چې لومړنۍ پایلې ښیې اشرف غني 56.4% او عبدالله عبدالله 43.6% رایی خپلې کړي دي. د ټاکنو خپلواک کمیسون په وینا، 8.1 ملیون رایی کارول شوي — څه باندې یو ملیون له اټکل شوي اوه ملیون څخه ډیرې. دې شمیرې په لومړي پړاو کې منل شوي رایو شمیر څخه شاوخوا 1.5 ملیون دیروالی درلود.[345] د اعلان په تعقیب کې، د عبدالله لومړي معاون شرح کړ چې پایلې د رایو ورکونکو پروړاندې "کودتاه" وه او وې ویل چې د عبدالله ډلې حق درلود حکومت جوړ کړي. دا د بلخ ولایت والي لخوا تصریح شوه، چا چې وویل پایلو د "یوه موازي حکومت جوړولو لپاره لاره هواره کړه.[346]

متحده ایالاتو د ولسمشرۍ دواړه ډلو باندې غږ وکړ چې آرام وسي. ولسمشر اوباما د جولای په 7 په عبدالله او د جولای په 8 په اشرف غني غږ وکړ چې په پام کې ولري هرډول تاوتریخوالي ته مخ کول او غیرقانوني اقدامات به له متحده ایالاتو د مالي او امنیتي مرستې خطر سره مخ کیدل وي.[347] د بهرنیو چارو وزیر جان کیري هم په عامه حضور کې په ډاګه کړه چې "د واک ترلاسه کولو هر غیرقانوني عمل به د افغانستان سره د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې مالي او امنیتي ملاتړ په قیمت وي."[348] د بهرنیو چارو وزارت په افغان ټاکنیزو غړو هم غږ وکړ چې د درغلیو ټولو تورونو ته له اول څخه ترپایه پورې رسیدنه وکړي "که دواړه ډلې موافق وي یا نه."[349]

د جولای په 11، وزیر کیری د کرزي، غني او عبدالله سره په کابل کې د ټاکنو شخړې په اړه غږیدو لپاره وکتل.[350] د وزیر کیري په وینا، "د ټاکنو مشروعیت په توازن پورې تړلی /[او] راتلونکي احتمالي لیرد په توازن پورې"[351]

د جولای په 12، وزیر کیري اعلان وکړ چې د دوهم پړاو ټولې رایی به تفتیش کیږي د یوناما وړاندیز شوي طرزالعمل سره سم او د تفتیش په پایله کې ګټونکی نوماند به د ملي وحدت حکومت جوړوي.[352] د ټاکنو خپلواک کمیسون د تفتیش کتنې اوسنی لیست کې د یوناما بیاکتلو لاندې وړاندیزونه شامل کړی شوي:

- هغه بکسونه چې په څرګند ډول ورته په نښه شوي
- د پایلو پاڼو کې د غلطیو شواهد او په بکس کې د پاڼو سره تړاو
- د پایلو د ورقو کاپي د هغه څه سره پرتله چې د شمیرني مرکزي مرکز کې پروسس شوي
- د رایی ورکوونې مرکز ژورنال او رایی ورکونکو لیست په اړه معلومات



**د عبدالله او غني د کمپاین نمایندګان** له بلخ ولایت څخه د رایی بکسونه ګوري مخکې لدې چې کابل ته د راوړو لپاره د ایساف الوتکه کې بار کړی شي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)



**د بهرنیو چارو وزیر** کیری د متحده ایالاتو کابل سفارت افغانستان کې د ولسمشرۍ نوماندانو کینڅ ارخ ته عبدالله عبدالله او ښيي اړخ ته اشرف غني سره ناست دی، د 2014 کال د جولای 12.
(د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

پردې برسیره، رایی بکسونه به د نړیوال او کورني ناظرینو او نمایندګانو لخوا ځانګړې پام لاسته راوړي کله چې دوی پایلې راجستر کوي دا چې، د غوره نړیوال طریقو مطابق د څیړنې ځانګړي اړتیا سره (د مثال په توګه، چیرې چې د لومړي او دوهم ځل شمیرنه کې د پام وړ توپیر وي).[353]

تفتیش په 17 جولای پیل او IEC اټکل وکړ چې دا تفتیش به درې اونۍ وخت ونیسي.[354]

## د درغلۍ تورونه

درغلي د ولسمشرۍ لومړي پړاو ټاکنو په جریان کې یوه اندیښنه وه (کانګریس ته د اپریل 2014 درې میاشتني راپور 123–125 مخونه د اضافي معلوماتو لپاره وګورئ)، مګر دوهم پړاو له هغې هم ډیر لانجمن تثبیت شو. د دوهم پړاو ټاکنو په ماښام کې پیل راهیسې، د عبدالله کمپاین غړیو د ټاکنو خپلواک کمیسون د رایی ورکونکو اټکل ردول پیل او وروسته یې د ټاکنو کمیسون غړي په پراخه درغلیو کې په لاس درلودو تورن کړل.[355] د ټاکنو کورني ناظرینو هم د لوړ شمیر برخه اخیستني IEC راپور تر پوښتنې لاندې ونیو. د اروپا آزادي راډیو په وینا، FEFA او TEFA راپور ورکړی چې د وګړو برخه اخیستنه د لومړي پړاو په نسبت ټیټه وه، پداسې حال کې چې درغلي ډیره وه. د TEFA مشر نعیم ایوبزاده د ټاکنو خپلواک کمیسون د اوه ملیون رایی ورکونکو شمیرې "زیاتې" وبللې ځکه اټکل یې کاوه چې د پنځه او شپږ ملیون ترمنځ رایی کارول شوي، او وی ویل چې د ډیری ختیځ ولایتونو د رایو شمیر د هرولایت ټول بالغ نفوس څخه هم ډیر شوی دی. هغه پایله کړه چې "په شمیرو کې ډیروالی د درغلۍ له امله و".[356]



**د ټاکنو یو کارکوونکی** په هرات ولایت کې رایی ورکونکي ته د رایی پاڼې ورکولو تیاری کوي. (د USAID تصویر)

د لانجې یو مهم اړخ د ټاکنو خپلواک کمیسون د دارالانشا مشر ضیاالحق امرخیل و.
د دوهم ټاکنو په ورځ، د کابل پولیسو قوماندان هغه مهال امرخیل په خلاف کاری تورن کړ چې پولیسو د امرخیل کارمندان د هغوی په موټرو کې د ناکارول شوي رایی پاڼو سره ودرول. د ټاکنو خپلواک کمیسون د رییس په وینا، امرخیل د رایو اضافي پاڼې هغه ځاینو ته لیږلې چې وګړو یې د پاڼو د کمښت له امله اعتراضونه کړي و.[357] وروسته، د عبدالله کمپاین یولړ غږیز ثبتونه خپاره کړل چې د دوی په ادعا افغان حکومتي چارواکي په شمول د امرخیل د درغلۍ پاره توطیه کوي. په ثبت کې داسې سند شوي چې امرخیل غږیزي ترځو د رای پاڼو برابرول پلان کړي، یو والي افغان اردو افسر ته مشوره ورکوي چې په درغلۍ کې مداخله ونکړي، او امرخیل او بل والي غږیږي چې څنګه د هغه اردو افسر سره معامله وکړي چې د ټاکنو خپلواک کمیسون غړي یې د رایی پاڼو په تور توقیف کړي.[358] د عبدالله ډلې یوه بله ویډیو هم خپره کړه چې دوی ادعا کوي په پکتیا ولایت کې د رایی ډکول ښیې.[359]
یوه ورځ وروسته له هغې چې لومړی ثبت خپور شو، امرخیل استعفا ورکړه او بیا له هیواد څخه ووت. د ټاکنو خپلواک کمیسون د هغه همکارانو مخکینۍ دفاع سره په تضاد کې، د کمیسون مشر د امرخیل په اړه خپلو اندونه داسې بیان کړل، "که چیرې امرخیل په ټاکنیزو درغلیو کې دخیل نه و نو ولې له هیواد څخه تښتیده."[360] امرخیل بیرته افغانستان ته راوګرځید او د تیښتې تور او د غږیز ثبتونو معتبریت یې رد کړ. هغه وویل څکه یې استعفا ورکړې چې پروسه پرمخ ولاړه شي او د ټاکنیزو شکایاتو کمیسون (ECC) باندې غږ وکړ چې د هغه پروړاندې ادعاوې وڅیړي.[361]
د جون په 18 نیټه، عبدالله اعلان وکړ چې د افغان ټاکنو کمیسون سره خپلې اړیکې پرې او خپل ناظرین بیرته راغواړي. هغه ولسمشر کرزی هم تورن کړ چې په دوهم پړاو کې بی طرف پاتې نشو.[362] هغه وروسته په کابل کې په اعتراضونو کې برخه واخیستله چې د راپور له مخې د وګړو شمیر یې زرګونه و.[363]
د جون 14 کې دوهم پړاو ټاکنو لپاره چمتو والي په جریان کې، د یوناما معاون خبرداری ورکړ چې "خورا بد وضعیت به وي که قطبي او پایلې یې کوم نوماند ونه مني — احتمال لري چې دا د جګړې لامل شي."[364]
تر د جولای 3 پورې، د ټاکنو کمیسون کافي شکمن معلومات لاسته راوړل چې له مخې یې په ټول هیواد کې د 1,930 رایی مرکزونو تفتیش وکړي. په هرصورت، د اروپای ټولنې د ټاکنو ارزونې ټیم افغانستان (EU EAT) راپور ورکړ چې په دوهم پړاو ټاکنو کې د ستونزمن رایی مرکزونو شمیر کیدی شي له ټولټال 22,828 څخه 6,000 ته ورسي.[365] د جولای په 10، د اروپایی ټولنې ټیم اندیښنه وښودله چې یوازې 135 رایی مرکزونه، له ستونزمن 2,229 رایی مرکزونو څخه د لومړنیو پایلو اعلان په وخت کې ایستل شوي، چې د "ناقانع" ګرندیوتب پایله وه، تفتیش به ولایتي کچه پرمخ وړل شوی چې د جعلي رایو، رایی پاڼو ډکولو، د وخت څخه مخکې د پاڼو خلاصون، او نور غیر قانوني کړنو یا غیر معمول پیښو پیژندو لپاره کافي نه و. برسیره پردې، د ټاکنو کمیسون د لومړي پړاو په نسبت 90% لږ ستونزمن مرکزونه باطل کړل. EU EAT وړاندیز وکړ چې له دوه څخه تر څلور پورې نورې رایی هم اضافي وڅیړل شي.[366]



**یو پولیس** په کابل کې د رایې مرکز د پایلو لیست ځړوي. (د USAID تصویر)

د اپریل په 5 لومړي پړاو ټاکنو کې شاوخوا 375,000 رایې باطل کړی شوې، چې د 2009 ولسمشریزو ټاکنو 1.2 ملیون له درغلۍ ډکې اعلام شوي څخه ټیټ شمیر شو.[367] د لومړي او دوهم پړاونو ترمنځ، د ټاکنو کمیسون اعلان وکړ چې 5,388 (له څخه 100,000) ټاکنیز کارمندان یې د هیواد له 525 رایې مرکزونو څخه د خلاف کارۍ لپاره په تور لیست کې شامل او شاوخوا 440 یې په لومړي پړاو کې د ناسم فعالیت لپاره له دندې ایستلي. د شواهدو نه شتون له امله، تر اوسه قضا ته ندي راجع کړی شوي. ډیری اغیزمن شوي کارمندان د ټاکنو په ټیټ اداري جوړښت کې و.[368]

## د ټاکنو امنیت

د EU EAT په وینا، د ټاکنو دوهم پړاو کې د امنیت ننګونې ډیري شوې.[369] ترټولو مهمه امنیتي پیښه د جون په 6 رامنځته شوه، کله چې دوه ځانمرګي بریدګرو د ولسمشرۍ نوماند عبدالله عبدالله په کتار د کابل په لویدیز کې برید وکړ. عبدالله ته زیان ونه رسید، مګر 13 ملکي وګړي پکې ووژل شول او 43 نور پکې ټپیان شوي و.[370] د NDI په وینا، د تیرو ټاکنو په پرتله د جون په 14 لږې امنیتي پیښې وې، مګر د اپریل 5 څخه ډیرې پیښې وې. د ټاکنو خپلواک کمیسون د جون په 14 نیټه د 130 امنیتي پیښو راپور ورکړ، د کمیسون شپږ مقاماتو د مړینې سره. افغان لوی ښارونو کې، پشمول د کابل د ټاکنو ورځې په پیل کې بریدونه وشول — یو تاکتیکي عمل چې هدف یې د رایو ورکونکو رایې مرکزونو ته ورتګ څخه ویرول و. په هرصورت، د NDI ناظرینو او داخلي څارګرو ډلو په نښه کړي چې دې بریدونو ونشو کولی په ټاکنو کې د افغانانو لوی شمیر برخه اخیستنې مخه ونیسي.[371]

داخلي څارګرو ډلو په لومړي پړاو کې د بي امنیتۍ له امله د دوهم پړاو په جریان کې د خپل ټاکنو څارنې جغرافیه ایی پوښښ راکم کړی و. دا ممکن د ټاکنو شکایاتو پروسې باندې


**د افغان ملي اردو** (ANA) یو افسر په کابل کې د رایی تایید لپاره رنګ شوې ګوته ښيې. (د USAID تصویر)

اغیز وکړي لدې چې دواړه د ټاکنو کمیسون او د ټاکنو شکایاتو کمیسون لدې داخلي څارګرو ډلو څخه چمتو کړی شوي معلوماتو باندې د رایو باطل کولو لپاره تکیه کوي.[372] د ټاکنو په ورځ، له 173 روغتیای کلینیکونو څخه دوه او 3,546 ښوونیز ودانیو څخه 45 یې ټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالي په واسطه اغیزمنې شوي. د ملګرو ملتونو په وینا، دا د 2009 کال په پرتله د تاوتریخوالو په شمیر کې دوه پر درې کمښت وړاندیز کوي.[373]

د امنیت ودې او په بیله بیا د ښځې رای ورکونکو شمیر ډیروالي لپاره، د کورنیو چارو وزارت (MOI)، د متحده ایالاتو او جمهوري کوریا په مالي مرسته تر 13,000 ښځینه داوطلباني وګمارلې او وې روزلې چې د ښځینه رایي ورکونکو د بدن تلاشۍ لپاره د کومکي پرسونل په حیث خدمت وکړی. د DOD په وینا، افغان حکومت د دې وړ و چې د اپریل 5 ټاکنو لپاره د ښځو رایي ورکوونې 70% خلاص رای مرکزونو پوښلو ته کافي ښځینه تلاشي کونکي په کار وګماري او خپاره یې کړي.[374] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، حکایتي راپور ښیې چې مناسب ښځینه تلاشي کونکې د دوهم پړاو ټاکنو پرمهال موجود وې.[375] د ښځینه رایي ورکونکو د تلاشۍ لپاره د ښځو ګمارل مهم و ځکه چې افغاني رواج نارینه ته اجازه نه ورکوي چې غیر محرم یا پردۍ ښځینه لمس کړي. د دې پروژې هدف د وسلې سره ښځو مخنیوی و — یا نارینه د ښځې په کالو کې — ترڅو د بریدونو کولو لپاره مرکزونو ته ننوتو څخه یې مخنیوی وشي.[376] د بهرنیو چارو وزارت 1.7 ملیون ډالرو دې د 3.7 ملیون ډالرو پروژې ته د ملګرو ملتونو پراختیایی پروګرام (UNDP) د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) له لارې ملیون ډالر اعانه کړل.[377]

## د ټاکنو لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ

د متحده ایالاتو حکومت تمویل شوي پروګرامونه تخنیکي ملاتړ، توسعه، او د داخلي او نړیوالو ناظرینو خپرول چمتو کوي ترڅو افغان حکومت سره مرسته وکړي چې معتبرې، ټول شمول او رنې ټاکنې سرته ورسوي.[378]

USAID د UNDP د سبا لپاره قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړولو – فیز II (انتخاب II) ته 55 ملیون ډالر اعانه ورکړې ترڅو افغان ټاکنیز مدیریت غړو سره د ټاکنو کمیسون، د ټاکنو شکایاتو کمیسون، او رسنیو کمیسون (MC) ته تخنیکي مرستې برابرولو کې مرسته وکړي. برسیره پردې، د UNDP ELECT II د ټاکنیز مدیریت غړو ظرفیت ته وده ورکوي چې په راتلونکې کې پخپله ټاکنې اداره کړي. د UNDP ELECT II د څواړخیز "باسکیټ فنډ" له لارې ملاتړ کیږي چې پکې لږترلږه یو درجن نورو ډونر هیوادونو تمویل هم شامل دی. د بیلګې په توګه، انګلستان، اروپایی اتحادیه، ایتالیا، جرمني، فرانسه، هالنډ، سویډن، ډینمارک، ناروی، او جاپان پاتې 129 ملیون ډالر ورکړي چې ELECT II اټکل کړی و د ټاکنو ملاتړ لپاره اړین دي.[379]

USAID درې نهادونو ته د ورکړو له لارې د ټاکنو د نظارت ماموریتونه ملاتړ کړی: د سیاسي نهادونو او مدني ټولنې ملاتړ کولو پروګرام (SPECS) له لارې NDI؛ دموکراسي انټرنیشنل (DI)؛ او په اروپا کې د امنیت او همغږۍ لپاره نهاد (OSCE). SPECS د شاوخوا 2,200 د ټاکنو داخلي ناظرینو ګمارلو لپاره څلور افغان مدني ټولنې نهادونو ته فرعي-مرستې ورکړي.[380] NDI هم په 26 ولایتونو کې په 312 رایی مرکزونو کې د دوهم پړاو ټاکنو نظارت

جدول 3.20

**د USAID پروګرامونه د 2014 کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه د ملاتړ نیت لري**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2014 پورې ټولیز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغان مدني ښکیلتیا پروګرام (ACEP)* | 12/04/2013 | 12/03/2018 | $70,000,000 | $4,996,608 |
| د سبا لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړول (ELECT) II | 9/28/2013 | 9/27/2014 | 55,000,000 | 11,821,602 |
| ټاکنیز سمونونه او مدني وکالت (AERCA) | 7/7/2009 | 12/31/2015 | 38,702,682 | 29,831,936 |
| د سیاسي ادارو او مدني ټولنې ملاتړ (SPECS) | 7/7/2013 | 7/6/2016 | 18,000,000 | 7,542,077 |
| د ټاکنو نړیوال ناظرین (NDI) | 2/1/2014 | 8/1/2014 | 4,000,000 | 2,342,783 |
| د ټاکنو نړیوال نظارت (DI) | 2/1/2014 | 8/1/2014 | 3,999,925 | 3,092,937 |
| د ټاکنو سوله ایز کمپاین** | 9/10/2013 | 9/30/2015 | 3,000,000 | 451,496 |
| د افغانستان لپاره د ټاکنیز ملاتړ ډله (OSCE) | 2/20/2014 | 7/15/2014 | 1,500,000 | 1,500,000 |

یادونې:
*د ACEP پروګرام چې د اپریل او جون 2014 ټاکنو ته اعانه شوي شاخوا 1.4 ملیون ډالر لګښت و.
**د 2014 د مارچ 25. دا مصارف عملیاتي مخارج نه منعکس کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 6/30/2014 او 7/10/2014.

لپاره NDI 100 افغان کارمندان ګمارلي و.[381] د USAID په وینا، د DI نړیوال ټاکنو نظارت پروګرام 16 نړیوال ناظرین د لومړي پړاو او اته نړیوال ناظرین د دوهم پړاو ټاکنو لپاره ګمارلي و.[382]

USAID لانور هم ټاکنې د افغان مدني ټولنې ارتقا نوښت (IPACS II) او افغان مدني ښکیلتیا پروګرام (ACEP) په بیله بیا د ټاکنو سوله ایز کمپاین (PEC) له لارې ملاتړ کړې. IPACS II او ACEP د مدني – ښوونې فعالیتونو، د راوزه رای ورکړه ټاکنو پوهې دورو، د ټاکنو پورې اړوند خپرونو توضیع او راډیو او تلویزیوني تبلیغاتو پرمخ وړو لپاره مدني ټولنې او رسنیز ملګرو ته د کوچني مرستو ملاتړ له لارې ټاکنو ته اعانه شوې. IPACS II د 2014 مارچ په 31 پای ته ورسید، او د ټاکنو په ملاتړ کې شاوخوا 800,000 ډالر مصرف کړل پداسې حال کې چې ACEP شاخوا 1.4 ملیون ډالر مصرف کړل.[383] PEC د "سولې لپاره رایی" ټاکنو کمپاین د ټولنې – توسعه ای پیښو په کارولو لکه ورزشکاران او شاعري، ملاتړ کړ، په بیله بیا څو-رسنیز پروګرام چې راډیو، تلویزیون، او انټرنیټ یې د رایی ورکونکو شمیر ډیرولو لپاره وکارول، تاوتریخوالی کم او پوهاوی ډیر دا چې په افغانستان کې راتلونکې سوله او ثبات د واک سوله ایز لیږد ته اړتیا لري.[384]

د USAID پروګرامونو یو لنډیز چې د 2014 کال ټاکنې یې ملاتړ کړي جدول 3.20 کې ښودل شوی.

د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف) افغان ټاکنو ته محدود شوی مستقیم ملاتړ چمتو کړ پشمول د ټاکنو خپلواک کمیسون په غوښتنه له کابل څخه سیمه ایز، ولایتي او ولسوالۍ مرکزونو ته د ټاکنو حساس توکو د هوا له لارې لیږد. ایساف په یوطرفه توګه اوه ولسوالیو ته د ټاکنو مواد وړي او بیرته یې ترې راوړي او په 12 ولسوالیو کې د ټاکنو موادو لیږد او بیرته راوړلو لپاره افغان هوای ځواک ته هوای امنیت برابر کړی.[385]

## ملي حکومتداري

متحده ایالاتو افغان حکومتي نهادونو ته مرسته چمتو کړې چې د حساس خدماتو سرته رسولو ظرفیت جوړ او پدې سره له دوه لارو افغان وګړو پروړاندې خپل مشروعیت ډیر کړي: د قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او کوپراتیفي تړونونو، او په ډیریدونکي توګه د مستقیم بودیجې مرسته. د امنیتي لیږد دې اخرني کال کې، د متحده ایالاتو حکومت د افغان حکومتي نهادونو ډیریدونکي مالي او پروګرام مدیریت ظرفیتونو باندې ځانګړی تمرکز لري. د دې هدف ترلاسه کولو لپاره دا د ظرفیت جوړونې او مستقیم بودیجې پروګرامونه په ګډه کاروي.[386]

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو عمومي منشي ځانګړي استازي په وینا، د ټوکیو څوابرخیز حساب ورکوونې کاري چوکاټ (TMAF) د نړیوالې ښکیلتیا لپاره د اساس په توګه کار کوي او په افغانستان کې د ملکي پراختیا مرستې ګمارنې لپاره منل شوې وسیله ده. نړیواله ټولنه او افغان حکومت د 2012 کال جولای ډونرانو ټوکیو کنفرانس کې TMAF سره موافقه کړې. وروسته TMAF د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې لپاره منځني اهدافو ته لوړ شو چې "سخت تحویل کیدونکي" ورته ویل کیږي، لکه د کان کیندنې قانون.[387]

په تیر ربع کې، سیګار د "سخت تحویل کیدونکي" پرمختګ په اړه راپور ورکړی. (د لازیاتو معلوماتو لپاره کانګریس ته د اپریل 2014 درې میاشتني راپور 127–129 مخونه وګورئ.) یو ځانګړی ګډ همغږۍ او نظارت هییت (JCMB) ناسته د 2014 کال د جنوري په 29 په لاره اچول شوې وه، ترڅو د TMAF وده وارزوي او د ټاکنو څخه وروسته راتلونکي نوي افغان حکومت په وړاندوینه کې لارښود ترتیب کړي.[388] د USAID مطابق، د JCMB ناسته د سخت تحویل کیدونکي موجوده سیټ د بیاکتنې لپاره نهایی فرصت و. متحده ایالاتو د 2014 کال اپریل 16 ته د کان کیندنې قانون پاس کیدو لپاره یوه موقتي کرکې غزولې وه، خو مخکې لدې چې حکومت قانون پاس کړي نوموړې کرکې بنده شوه.[389]

پدې ربع کې USAID راپور ورکړی چې د ادارو ترمنځ او نړیوال شریکانو سره د TMAF د راتلونکي پلي کولو لپاره د نوي اهدافو ټاکلو رامنځته کیدو باندې کار کوي ترڅو یې په اړه د نوي حکومت سره خبرې وشي، کله چې ټاکنې حل او نوي ولسمشر دنده پیل کړه. د USAID په وینا، د دې نوي اهدافو نهایی کولو پروسه به احتمالا د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس کې دوام وکړي چې په ازمایښتي توګه د نومبر لپاره په لندن او پیلي 2015 کې پلان شوی.[390]

## د بودیجې په چوکاټ کې مرسته

د دې لپاره چې حکومتداري پیاوړې شې او له افغان لومړیتوبونو سره پرمختیایي هڅې همغږې شي، په 2010 کال کې نړیوالو مرسته ورکونکو د لندن په کنفرانس کې ژمنه وکړه چې د هغو پرمختیاي مرستو کچه به لوړه کړي چې د افغان حکومت د بودیجې په چوکاټ کې مصرفیږي او لږ تر لږه به یې 50% ته ورسوي. ډونرانو پشمول د متحده ایالاتو دا التزام د جولای 2012 ټوکیو کنفرانس کې تصریح کړی.[391]

د USAID په وینا، که څه هم ترټولو غیر خوندي ډونر اعانې افغان حکومت ته د پراختیایي بودیجې په برخه کې دي او د دې لپاره دي چې باید پراختیایي پروژې فعالیتونو کې وکارول شي، عملا د یوه ځانګړي هدف لپاره د ډونر د تمویلول شرط کولی

**د متحده ایالاتو افغان حکومتونه د متحده ایالاتو ژمنو پوره کولو ته دې هیواد پرمختګ پروړاندې د سنجولو بیلې لارې لري ترڅو د افغان حکومت بودیجې له لارې نور فنډ ورکول چمتو کړي. USAID وایی چې افغان حکومت فقط د "مستقیم بودیجې" بسپنې ملاحظه کوي کله چې مصرف شي (کله چې پیسې واقعیا مصرف شي)، پداسې حال کې چې USAID ژمنې او تعهدات (کله چې ډونر د ځانګړي هدف لپاره بسپنې ریزرف کړي مګر پیسې مصرف شوي نه وي) د مستقیم بودیجې ملاتړ په حیث ملاحظه کوي.**

سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ،OPPD خواب، 12/30/2013 او USAID، د متحده ایالاتو د افغانستان لپاره بهرنی مرستې: د فعالیت وروسته مدیریت پلان 2011–2015: ضمیمه VIII — د مرستې هدف 8: د GIRoA نهادونو د مدیریت ډیرشوی مؤثریت، 10/2010، 7 مخ.

شي د افغان حکومت بسپنې آزادې کړي چې په بله د دغه ځانګړې توکې لپاره نومول شوي وي. پدې معنی چې د ډونر تمویل کولی شي افغان حکومت ته بودیجه ای وسعت چمتو کړي ترڅو دا د خپل مهمو اړتیاو پر بنسټ خپل فنډونه له سره لومړیتوب او بیا توضیع کړي، پشمول د عملیاتي لګښتونو لکه معاشات.[392]

USAID د مستقیم بودیجې مرسته د اوه افغان حکومتي نهادونو سره دوه اړخیز تړونونو له لارې چمتو کوي او دوه څو – ډونره وجهي صندوقونو ته اعانې له لارې: د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) او د افغانستان د زیربنا صندوق (AITF).[393] د USAID په وینا، د دوه اړخیزې مرستې ټولې بسپنې په یوه جلا بانکي حساب کې سپمول کیږي چې د مالیې وزارت لخوا د هر پروګرام لپاره رامنځته شوي.[394] ARTF د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، چې د افغان حکومت عملیاتو، پالیسي اصلاحاتو، او ملي لومړیتوب پروګرامونو په ملاتړ کې دواړه د افغان حکومت عملیاتي او پراختیا بودیجو ته بسپنې ورکوي.[395] AITF یو څو ډونره وجهي صندوق دی چې د آسیا پراختیایی بانک لخوا اداره کیږي، او په افغانستان کې د زیربنایی پروژو لپاره د ډونر مرستې همغږي کوي.[396] د USAID په وینا، د بودیجې مستقیم مرستې ډیره برخه به یې د څو – ډونره وجهي صندوقونو له لارې دوام ومومي، په ځانګړي توګه ARTF.[397]

DOD د بودیجې مستقیم مرسته د (1) دفاع وزارت (MOD) او MOI ته مستقیم اعانې او (2) د څو – ډونره وجهي صندوق چې LOTFA نومول کیږي له لارې چمتو کوي. LOTFA د UNDP لخوا اداره کیږي، چې په ابتدایی توګه د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشاتو فنډ ورکوي.[398] د مستقیم اعانې مرستې یې هم د مالیې وزارت ته چمتو کړي، او وروسته د اړتیا سره سم یې MOD او MOI ته مختص کړي.[399] د DOD په وینا، د ګډ امنیتي لیږد قومانده – افغانستان (CSTC-A) د متحده ایالاتو مستقیم اعانو نظارت لپاره چې افغان امنیتي ځواکونو لپاره افغان بودیجې ته یې ورکوي، ډیری میکانیزمونه لري. CSTC-A یو د دوه اړخیزې – ژمنتیا لیک کاروي چې ډاډ لاسته راوړي افغان حکومت د CSTC-A بسپنو درست کاروونې لپاره شرایطو او مقرراتو باندې (پشمول د هدف، وخت او مقدار) او د بسپنو ناسم کارولو ممکن پایلو څخه خبر دی.[400]

لکه څنګه چې په جدول 3.21 کې ښودل شوي، USAID تمه لري چې 986 ملیون ډالر په مستقیم دوه اړخیزې مرستې مصرف کړي. دا د دې تمه هم لري چې نږدې 1.9 ملیارد ډالر ARTF او له 180 ملیون ډالرو ډیر AITF ته اعانه کړي.[401] DOD تمه لري چې نږدې 2.09 ملیارد ډالر د LOTFA له لارې مصرف کړي.[402]

د USAID په وینا، د دوه اړخیز مستقیم بودیجې پروګرامونو له لارې اوسنی ورکړه یا مصرف لکه څنګه چې د دواړه خواو خوښه ده له هغې سست دی. USAID د بودیجې د اجرا ټیټ میزان د افغان حکومت محدود ظرفیت او د خطر کمولو هغه ګامونو ته منسوب کړی چې USAID په مستقیم بودیجې پلي کوي.[403] افغان د مالیې وزیر پدې وروستیو کې ویلي دي چې ډونرانو افغان حکومت ته بسپنه نده ورکړې، چې دا د "/[افغان حکومت] پراختیایی بودیجې کې لوی تشه" رامنځته کوي.[404]

د CSTC-A ارزونه دا ده چې یوځل بسپنې افغان حکومت بانکي حساب ته ننوتلې، نو څار د پام وړ ننګونکی شي.[405] دامهال، د CSTC-A مستقیم اعانې د افغان حکومت عایداتو ټولو سرچینو (په شمول د نورو ډونر ملتونو او داخلي عوایدو) سره یوځای د مرکزي بانک

جدول 3.21

| پروژه/د وجهي صندوق نوم | د متحده ایالاتو حکومتي اداره | د افغان حکومت د مستقیم بودیجې ملګرې | خانګړې بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 06/30/2014 پورې ټولیز لګښت (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د مستقیم بودیجې پروګرامونه** | | | | | | | |
| **دوه اړخیز، حکومت څخه ته پروژې*** | | | | | | | |
| د بریښنا د لیږد مصرف او د اتصال پروژه (PTEC) | USAID | د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) | هو | 12/5/2012 | 12/31/2016 | $342,000,000 | $5,306,141 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) پروګرام لپاره د ملګرتیا قراردادونه | USAID | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | هو | 7/20/2008 | 1/31/2015 | 236,455,840 | 181,207,908 |
| د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه (SGDP) | USAID | د کانونو او پطرولیم وزارت (MOMP) | هو | 5/26/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 0 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي بند اوبو بریښنا کې د توربین جنراتور واحد 2 نصبول) | USAID | DABS | هو | 4/30/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 5,593,727 |
| د کرهنې پراختیا بسپنه (ADF) | USAID | د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) | هو | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |
| ابتدایی ښوونه او سواد او مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) – د ټولنې میشته پروګرام | USAID | د معارف وزارت (MOE) | هو | 8/25/2013 | 8/25/2017 | 56,000,000 | 0 |
| د ملکي تخنیکي مرستې پروګرام (CTAP) | USAID | د مالی وزارت (MOF) | هو | 9/30/2009 | 9/30/2014 | 36,256,560 | 28,810,610 |
| د افغانستان د کاري خواک پراختیا پروژه (AWDP) | USAID | MOE | هو | 7/31/2013 | 7/31/2017 | 30,000,000 | 0 |
| ابتدایی ښوونه او سواد او مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) – د نصابي کتابونو چاپ | USAID | MOE | هو | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 21,955,403 |
| د ملکي خدمت اصلاح ملاتړ | USAID | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسون (IARCSC) او MOF | هو | 10/30/2011 | 7/31/2014 | 15,000,000 | 13,000,000 |
| د E-حکومت سرچینې مرکز (EGRC) | USAID | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت (MOCIT) | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 0 |
| **د ډیرو ډونرانو وجهي صندوق** | | | | | | | |
| د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) | DOD | د کورنیو چارو وزارت | نه | 2008 | 2024 | $2,086,000,000 | $1,160,700,000 |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) (اوسنۍ ګمارنه)** | USAID | ډیرې | نه | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 1,900,000,000 | 604,829,100 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF) | USAID | ډیرې | نه | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 180,000,000 | 105,000,000 |

یادوني:
* د DOD مستقیم اعانې بسپنې پکې شامل ندي.
** USAID مخکې ARTF ته یو ترون ورکړی و چې په مارچ 2012 کې پای ته ورسید او 1,371,991,195 ډالر پکې مصرف شول.

سرچینې: USAID، OPPD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/30/2014؛ CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/1/2014.

د خزانې یووستوې حساب کې خوندي کیږي. د CSTC-A په وینا، دا طریقه د ساده توب ګټه لري او د افغان حکومت انعطاف وړتیا وړاندې کوي، مګر د بسپنو راپور ورکړل شوی کارونه بیا تطبیق ته د CSTC-A څخه اضافي هڅې ته اړتیا ده.[406] CSTC-A د یوه جلا بانکي حساب کارولو انتخاب راسپړي، لکه هغه چې د USAID لخوا کارول کیږي. CSTC-A په نښه کوي چې که څه هم د USAID بسپنو پروګرامونه چې متمرکز دي یا د محدود شوي مودت لپاره دي په تهیه او اجرا کې د USAID د پام وړ مداخلت سره، د CSTC-A مستقیم اعانې د MOD او MOI ډیرې اړتیاوې ملاتړ کوي او په ابتدایی ډول یې افغان حکومت پرمخ وړي.[407]

## د ظرفیت جوړونې پروګرامونه

د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرامونه پدې لټه کې دي چې د مستقیم بودیجې مرستې لپاره د افغان وزارتونو د چمتوالي، اداره کولو او محاسبې وړتیا ته وده ورکړي. د سیګار د 2014 کال جنوري د USAID د اوه افغان وزارتونو ارزونې پلټنې چې د متحده ایالاتو حکومت څخه مستقیم بودیجې مرستې لاسته راوړي، موندلي چې لدغو ارزونو او بیاکتنو یوې یې هم هیڅ وزارت ندی پیژندلی چې د خطر کمولو ګامونو پلي کولو پرته دې په مؤثر ډول د بسپنو اداره کولو او محاسبې وړ وي.[408] لکه څنګه چې په جدول 3.22 کې ښودل شوي، په پروګرامونو کې د USAID د 31 ملیون ډالرو د مشرۍ، مدیریت، او حکومتدارۍ پروژه شامل ده چې هدف یې د افغانستان مالي مدیریت سیستمونو او د افغان عامې روغتیا او د افغان ښوونې وزارت ظرفیت پیاوړي کول دي ترڅو هغه اړتیاوې پوره کړي چې د 2010 په کابل نړیوال کنفرانس کې د مستقیم بودیجې ډیرې شوې مرستې لپاره ترتیب شوې وې.[409] USAID د ښځو چارو وزارت نهادي بیاجوړښت او واکنده کولو (MORE) پروژې 15 ملیون ډالر هم تمویلوي، کوم چې د نورو شیانو ترمنځ وزارت سره مرسته کوي خپل مالي مدیریت ته وده ورکړي، لکه څنګه چې په راتلونکي کې د مستقیم بودیجې مرستې لپاره اړتیا ده.[410]

## ملی شورا

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، چې افغان قانون جوړونې قوه د اجرایوي قوې په پرتله ضعیف پاتې ده، خو داسې بریښي چې د پارلمان غړي هڅه کوي د اجرایوي قوې پروړاندې خپل لاسونو پیاوړي کولو هڅه کوي. په هرصورت، د وګړو لاسرسي کوښښونه، فساد، او د ټیټې کچې سواد او تجربه لا د دې برخې ستونزه ده.[411]

جدول 3.22

**په ملې کچه د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرام**

| د پروژې سرلیک | د افغان حکومت ملکری | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2014 پورې ټولیز لګښتونه ( په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مشرتابه، مدیریت او حکومتداري پروژه | د عامې روغتیا وزارت<br>د معارف وزارت | 9/25/2011 | 9/24/2016 | $32,000,000 | $22,826,010 |
| د افغانستان د قانون جوړونکو بنسټونو مرسته (ALBA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2017 | 23,455,326 | 4,067,868 |
| د ښځو چارو وزارت اداري بیارغونه او پیاوړتیا (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 5,000,000 | 2,955,012 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014 او 7/13/2014 .

په لوی تصویب شوي قوانینو کې پدې ربع کې د پیسو مینځلو پرضد قانون شامل دی چې د ولسمشر کرزي لخوا په جون 25 توشیع شو.[412] د ملي شورا ولسي جرګې معلوماتو ته د لاسرسي قانون وروسته له دري کالو سپارنې تصویب کړ.[413] نوموړی قانون، چې ژورنالیستانو او خلکو ته د معلوماتو چمتو کولو ردولو څخه د حکومتي چارواکو مخنیوی کوي، دا مهال د مشرانو جرګې سره دې. د مدني ټولنې نهادونو ویلي چې نوموړی قانون به د افغانستان په تاریخ کې په خپل ځان کې بی ساري وي او کولی شي چې په هیواد کې د فساد کچه راټیټه کړي.[414] په می کې، ولسي جرګې د کان کیندنې سیکټور تنظیم کولو لپاره هم قانون تصویب کړ.[415]

پارلمان د پوهنتون ته راتګ لپاره کانکور ازمویونو، د سیلاب ځپلو ښیګڼې، ښځو مسالو، جرم، په ایران کې د مخدره توکو د قاچاق لپاره د افغانو په دار ځړول، بریښنایی (الیکترونیکي) تذکیرو، او د تارياکو له منځه وړو او درملنې پشمول موضوعاتو لپاره ډیری افغان وزیران هم پوښتلي.[416]

په می کې د پارلمان یوې جرګې هم ډیری بوختیا نه درلوده ځکه چې د وکیلانو لویه برخه یې غیرحاضر و. د مثال په توګه، مشرانو جرګې ونشو کولی چې خپل لږترلږه نصاب پوره کړي، چې په یوه اونۍ کې یې د دواړه عمومي او کمیسوني غونډو یوازې 30% برخه اخیستنه وه. په می کې ولسي جرګې په دوه اونیو کې فقط دوه ځل نصاب پوره کړی. د پارلمان ډیری وکیلان ولایاتو کې و چې د ولایتي شورا تیرو ټاکنو څخه د رایی شمیرنې باندې اعتراض او د ولسمشرۍ د دوهم دور کمپاین کې برخه واخلي.[417] د طلوع نیوز یوه راپور له مخې، د ولسي جرګې اداري کمیټې موندلي چې غیرحاضري د پارلمان د کار مخه نیسي او د ولسي جرګې غړي له په څلورو میاشتو کې ټاکل شوي 15 ورځو څخه ډیره رخصتي کوي.[418]

USAID د افغانستان مقننه قوه ته د مرستې پروژې (ALBA) 23.5 ملیون ډالر فنډ ورکوي چې د افغانستان پارلمان وکولی شي د یوه خپلواک او مؤثره قانون جوړونکي، نماینده او څارګر نهاد په توګه عمل وکړي.[419] په تیرې ربع کې، ALBA په هغه نوښتونو تمرکز وکړ چې د پارلمان غړو او د هغوی کارمندانو سره مرسته وکړي چې خپل ظرفیت لوړ کړي. ALBA د پارلمان د فساد پروړاندې مبارزې کمیټې ملاتړ کړی، د پارلمان 21 غړو سره یې کار کړی چې معلوماتو ته د لاسرسي قانون او د فساد پروړاندې مبارزې قانون تعدیل (اصلا) کړي، او د کان کیندنې او تدارک قانون اصلاحي ژبه یې اعانه کړې.[420]

د USAID په وینا، د پارلمان د نهادي ظرفیت تر ټولو لوی تشه چې ALBA ورته اړتیا لري په نښه یې کړي د پارلمان په دواړه شوراګانو کې موضوع پورې اړوند د تجربې نه درلودل دي ترڅو وکولی شي چې په سمه تخصصي قوانین وڅیړي. که څه هم دواړه شوراګانې څیړونکي او حقوقي ماهرین لري، دا افراد تل د دغه دندو لپاره وړ نه وي او نشي کولی چې د پارلمان غړو ته د سرچینو په توګه کار وکړي.[421] د ALBA د پارلمان د څیړنې او بودیجې کارمندانو یوې بیاکتنې وموندل چې ظرفیت په کلکه ټیټ دی او دا چې وکیلان د دغه کارمندانو کار د ارزښت وړ نه ملاحظه کوي. د راپورونو له مخې د پارلمان د څیړنې او بودیجې اوسني کارمندان د بیلابیل پالیسو مسالو او اصلاحاتو څخه

خبر ندي — پشمول د پروګرام بودیجې، ولایتي بودیجې ټاکل، او د منځنۍ مودې مالي او بودیجه ای کاري چوکاټ — د کلني بودیجې چمتو کول. د بیاکتنې په وینا، د اصلاحاتو پرته چې معاشات یې ډیر کړي او د لانور سالیز ګمارنې هدف لري، قوم پرستي د داخلي ځینو ظرفیت لدې کبله کموي چې بیرته نامستعد کارمندان ګمارل کیږي.[422]

## سیمه ایزه حکومتداري

متحده ایالات له هغو لومړیتوبونو ننګه کوي چې په سیمه ایزه کچه افغانانو ته په خپل حکومت کې پراخه ونډه ورکوي. هدف یې دا دی چې سیمه ایز حکومت لانور افغان وګړو ته د لید وړ، حساب ورکوونکی او ځواب ویونکی شي، په ځانګړي توګه سویل او ختیځ کې چیرې چې ترهګري قوي ده.[423]

پدې ربع کې، DOD راپور ورکړ چې د کلیو د ثبات عملیات (VSO)، له لاندې پورته د ترهګرۍ ضد ستراتیژي چې هدف یې د سیمه حکومت د افغان ولسوالیو او ملي حکومت سره نښلول و، پای ته ورسید.[424] د VSO نوښت په اصل کې درې ابتدایی برخې درلودې: سیمه ایزه حکومتداري، پراختیا، او امنیت. د افغان سیمه ایز پولیسو (ALP) پروګرام چې په اصل کې د VSO امنیتي جز دی، یوازینۍ پاتې برخه یې ده.[425] د DOD په وینا، که څه هم VSO پای ته رسیدلی، د VSO ځینې پاتې شونې د ALP پروګرام په ملاتړ کې په ولایتي او ولسوالۍ کچه پاتې کیږي. د ولسوالۍ او ولایتي عناصر به خپل ماموریت تر د 2014 د اکتوبر 31 پورې بشپړ کړي.[426] سیګار په تیر ربع کې په هغه ننګونو راپور ورکړ چې DOD افغان حکومتدارۍ باندې د VSO د اغیز ارزولو کې ورسره مخ شوی. د لانورو معلوماتو لپاره کانګریس ته د اپریل 2014 درې میاشتنی راپور 132–143 مخونه وګورئ.

## د کلیوالي ثبات پروګرامونه

USAID د ثبات ګڼ پروګرامونه لري چې موخه یې له افغان حکومت سره مرسته ده څو بې ثباته سیمو ته خپله ولکه وغځوي او د سیمه ایزې حکومتداري ظرفیتونه لوړ کړي. پدې پروګرامونو کې د USAID په کلیدي ساحو کې ثبات (SIKA) څلور پروژې، دوه د ټولنې متحد کولو نوښت (CCI) پروګرامونه، او د ARTF د ملي پیوستون پروګرام (NSP) شامل دي. متحده ایالاتو غوښتنه کړې چې د ARTF 865 ملیون ډالر اعانې NSP ملاتړ کړي.[427] جدول 3.23 تر نن نیټې پورې د ټول پروګرام لګښتونه او مخارج لنډیز کوي.

### په کلیدي ساحو کې ثبات (SIKA)

د SIKA هدف د ولسوالۍ او ولایت په کچه افغان حکومتي چارواکو سره مرسته کول دي چې د سیمه ایز نفوس پراختیایی او حکومتدارۍ اندیښنو ته ځواب ووایی، په حکومت اعتماد رامنځته او ثبات تقویه کړي.[428] د USAID د SIKA څلور پروګرامونه د دې لپاره نومولي دي چې د "/[افغان حکومت] په حیث ورته وکتل شي نه ده بهرني ډیرشوي شتون په توګه"، د افغانستان د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD) سره په ملګرتیا کې.[429] د SIKA دا څلور قراردادونه په ابتدایی ډول اړتیا لري چې MRRD هلته په ولسوالۍ کې شتون ولري ترڅو SIKA هلته کار وکړي. د MRRD د حضور غوښتل شوې کچه سره توپیر لري چې له یوه استازي نیولي چې په "نیمه رسمي" بڼه کارکوي (SIKA سویل)

جدول 3.23

**د USAID سيمه ايز (کليوالي) پروګرامونه**

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/3/2014 پورې ټوليز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بيارغونې وجهی صندوق (ARTF) له لارې د ملي پيوستون پروګرام (NSP)* | 2004 | 2012 | $865,000,000 | $865,000,000 |
| ثبات په کليدي ساحو کې (SIKA) سويل*** | 4/10/2012 | 9/3/2014 | 177,565,498 | 39,523,359 |
| SIKA ختيځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 68,371,001 |
| د ټولنې د پيوستون لومړيتوب (ختيځ، سويل، سويل لويديځ)** | 3/1/2012 | 2/28/2015 | 161,499,422 | 7,373,529 |
| د افغانستان ملکي مرستې پروګرام (ACAP II) | 9/27/2011 | 9/26/2014 | 64,000,000 | 45,194,000 |
| SIKA لويديځ | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 62,998,824 | 30,049,405 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 6/14/2015 | 45,633,274 | 20,318,357 |
| د ټولنې د پيوستون لومړيتوب (شمال، لويديځ)** | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 36,221,640 | 451,496 |

يادونې:
*پدې کې د USAID مرستو د ARTF ته د ملي پيوستون پروګرام (NSP) لپاره ويل شوې ترجيح شامل ده. له نړيوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکې يواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. پاتې، ARTF ته چمتو کړی شوی ناټاکلې بسپنې ممکن هم د NSP ملاتړ کې وکارول شي.
**د 2014 د مارچ 25. دا مصارف عملياتي مخارج نه منعکس کوي.
***د مصارف معلوماتو کې د SIKA سويل دواړه کمارنو لپاره ټولټال شامل دي.

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 6/30/2014، 7/10/2014، 7/13/2014 او 7/14/2014.

بيا د MRRD تر داسې يوې ډلې چې په اغيزمنه توګه په ولسواليو کې د SIKA د فعاليتونو عمليات او څارنه وکړي او همداشان د ملاتړ او مشرتابه په برخه کې ورته کار وکړي (SIKA لويديز).[430]

د ربع په جريان کې، USAID د ثبان نوښتونو اغيز سنجولو (MISTI) پروژه، د دريمې ډلې د نظارت او څيړنې پروګرام چې د USAID د ثبات پروګرامونو اغيز ارزوي، د SIKA لويديز پروګرام يو منځنې مهال فعاليت ارزونه خپره کړه. د ارزونې په وينا، SIKA لويديز يو د افغان په رهبرۍ، حکومتي پروګرام دی د پروژو ګړندي تحويلۍ سره چې اوږدمهاله پايلې لري.[431] ارزونې د دې په اړه پوښتنې راولاړې کړې چې څنګه د SIKA پروژې د دې هدف سره نښلول کيږې او USAID به څنګه پوهه شي چې حتی دا پروژې اغيز لري. بياکتنې پايله کړې:

> د SIKA لويديز اصلي مسله د بدلون په سمه توګه جوړه شوې تيوري نه شتون دی کومه چې مديريت او شارکينو ته توضيح کړي چې د پلي شوي پروژو پايلې بايد څه وي. د بدلون ټاکل شوي دې تيوري نه شتون د څلور /[منځيني پايلو، فرعي مطلوب پلي کيدلو او ارزونې او د دې /[د فعاليت د نظارت پلان] د سنجش لاسته راوړنې پرته پايله کيږي، د SIKA لويديز فعاليت سنجش احتمال لري چې د لړ زده شوي درسونو پايله ولري (دواړه مثبت او منفي) چې کيدی په مستقيم ډول بيرته د پلي شوي فعاليتونو کړنې د ودې سره ونښلول شي.[432]

د SIKA لويديز دامهال راپور شوي لاسته راوړونو ته د "ناليبل شوي محصولاتو،" په ويلو سره ارزونه وړانديز کوي چې SIKA لويديز دې د فعاليت د نظارت کولو خپل پلان له سره سم کړي ترڅو د لاسته راوړنې شاخصونه پکې شامل چې وسنجوي ايا نوموړی پروګرام اصلا اغيز درلود.[433]



د بادغیس ولایت، مقر ولسوالی کې د **SIKA لویدیز** د سړک بیارغونې پروژه.
(د USAID تصویر)

ارزونه د SIKA لویدیز پروژو یوه میکس ارزیابي وړاندې کوي. د ارزونې په وینا، په فراه او هرات ولایتونو کې د زیربنا پراختیا فعالیتونه په لویه کچه د ثبات اهدافو سره یو دي: د پروژو له امله د حکومت ملاتړ ډیر شوی، ډیری ګټه اخیستونکو راپور ورکړی چې د کارګمارنې فرصتونو کمښت د ترهګرۍ ډلو لپاره ملاتړ دي، او کرهنې یا ټرانسپورټیشن پورې تړلې زیربنا پراختیا (د بیلګه شوي پروژو ډولونه) په ټولنه ګټورې اغیزې درلودې ځکه چې دا کرهنیز پوټانسیل ته وده ورکوي او کلي یو او بل سره نښلوي.[434] په هرصورت، ارزونې د نورو پروژو ارزښت ترپوښتنې لاندې راوستی:

> SIKA لویدیز ډیری فعالیتونه پرمخ وړي چې وایی د ثبات پروګرامولو برخه ده، مګر په اغیز کې د ولسوالۍ په کچه د کوچني حد مداخلتونه دي چې ممکن د پروژې تمویل دریدو سره سم پای ته ورسي. دوه ساعته د مخابراتو روزنې، د /[کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت ولایتي ریاستونو کارمندانو] لپاره د انګلسي ژبې ټولګي، او بیلابیل ورته فعالیتونه په مجموع کې د ثبات پروګرامول نه ملاحظه کیږي. که چیرې د SIKA لویدیز هدف د خدمت وړاندې کولو له لارې سیمه ایز حکومت کې د باور ډیرول وي، نو اړتیا لري پدې تمرکز وکړي چې د حکومت ظرفیت ډیر کړي ترڅو پوهه شي چې کومو خدماتو ته اړتیا ده او د شته میکانیزمونو له لارې یې څنګه په غوره توګه چمتو کړی.[435]

SIKA لویدیز میکس یا ګډې پایلې تولید کړي. له یو پلوه د SIKA لویدیز پروګرامونو د ولسوالۍ حکومتونو او د دوی د ټولنو ترمنځ ارتباطاتو ته وده ورکړې، په ځانګړې ډول د ولسوالۍ ثبات کمیټې (DSC) ناستو له لارې.[436] له بل پلوه، د SIKA لویدیز کړنو د ولسوالۍ حکومتونو واکمن کولو او پریکړه کولو باندې منفي اغیز کړی. ولسوالانو د DSC پروسې له امله او د ټولنې پرمختیا شوراګانو (CDC) ته مستقیم فنډ ورکولو له امله د دوی د واک تخریب په اړه شکایت کړی.[437] ارزونې دا هم موندلي چې د پروژو په نظارت کې د حکومتي نهادونو ډیر لږ شمولیت شتون لري. پدې لیدنو کې د افغان حکومت برخه اخیستنه د روښتیا، حساب ورکوونې او په پروژه کې د حکومت دخالت ښودلو لپاره مهم دي.[438]

## د ټولنې متحد کولو نوښت (CCI)

د USAID د CCI پروګرامونه، چې په وار سره یو یې ختیځ، سویل او سویل ختیځ پوښي او بل یې شمال او لویدیز پوښي هدف لري چې په هغه ساحو کې چې تاوتریخوالي او د ترهګرۍ ګټه پورته کوونې ته حساس دي د USAID په وینا "خوځښت" ورکړي. CCI د سیمه ایزې ټولنې د پراختیا پروژو په څیر نوښتونه پلي کوي چې د دې پروژو په پیژندنه او څار کې د ټولنې مشران او حکومتي چارواکي ښکیل وي. CCI په سپورتي پیښو د سولې وکالت کمپاین هم ملاتړ کوي.[439] د CCI تر 84% پورې فعالیتونه افغان حکومت ته ورکړل شوې پداسې حال کې چې 7% یې په مستقیم ډول د ټولنې ډلو ته سپارل شوي.[440]

د ربع په جریان کې، MISTI په ختیځ، سویل او سویل لویدیز کې د پلي شوي CCI د فعالیت منځ مهال ارزونه خپره کړه.[441] ارزونې د CCI اته ولسوالیو 61 پروژې وازمولې.[442]

ارزونې په نښه کړې چې د پروژې پيل او کارونو کې د ننګونو له امله د USAID او پلي کونکو شريکانو ترمنځ د باور نشتون د ارزونې ډلې لپاره مشکل رامنځته کړی چې د CCI پروسو، فعاليت او ليدونو باندې معلومات راټول کړي.[443]

ارزونې راپور ورکړی چې CCI د سيمه ايز لوبغاړو، د حکومتدارۍ دوديز جوړښتونو او افغان حکومت ترمنځ اړيکې قوي کړې. د دا ډول پيښو لکه د CCI پرانيستلو او تړلو غونډو لپاره په ټولنو کې افغان حکومتي چارواکو د دوی شتون دير کړی. د CCI کارمندانو، افغان حکومت چارواکو، او د ټولنې مشرانو راپور ورکړی چې د CCI اعانې پلي کولو په تعقيب د افغان حکومت خدماتو لپاره ډيره شوې غوښتنه شتون لري لکه څنګه چې ولسوالانو ته د ټولنې ډير شمير غړو عرايض ليدل شوي.[444]

د CCI کامندانو په وينا، د افغان حکومت او ټولنو ترمنځ اړيکو لپاره د CCI نظارت او ارزونه کې اوس دا شامل دي چې ايا په يوه ولسوالۍ کې وګړي افغان حکومتي چارواکو ته لاسرسی غواړي او ايا افغان حکومتي چارواکي له ولسوالۍ مرکز هاخوا سفر کوي.[445] د CCI کارمندانو د ولسوالۍ په مرکز کې افغان حکومت سره د کار پيلولو، په ولسوالۍ کې د يوځو پروژو له لارې د باور او ډاډ رامنځته کولو، او بيا کليو ته د ولسوالۍ له مرکز څخه يو څو کلوميتر لرې يا نورو لرې پرتو سيمو ته د CCI پلي کوونې غزولو ارزښت په نښه کړی. لدې ولسواليو مرکزونو څخه د اعانو جغرافيه ای خپرول نسبتا کم و لدې چې ډيری وختونه د ولسوالۍ مرکزونو يا نږدې ساحو باندې متمرکز و.[446]

ارزونې دا هم موندلې چې CCI د ټولنو ترمنځ يووالی ډير کړی. د CCI کارمندانو، افغان حکومت چارواکو، او د ټولنې غړو راپور ورکړی چې هغه اعانې چې د ټولنې له پروسې رامنځته کړی شوې د ټولنې غړو باندې د ګټه پورته کونکو په حيث پلي شوي يا د ټولنې هغه نمايندګانو ته اعانه شوې چې يووالی يې حمايه کړی. ارزونې په نښه کړې چې د يووالي ملاتړ کولو هدف د افغان حکومت او نفوس ترمنځ اړيکو ډيرولو هدف په پرتله د ليد له پلوه ډير مشکل و او دا چې د CCI کارمندانو د پروژو د يووالي ملاتړ څرنګوالي څخه بيل تفسيرونه لرل. پداسې حال کې چې د CCI ځينې کارمندانو د يووالي پروژو ټاکونکې جنبه هغه ليدلې چې د ټولنې څخه رامنځته شوې، د CCI نورو کارمندانو د يووالي پروژې هغو ته ويلي چې خلکو ترې ډيره ګټه پورته کړې، لکه ښوونځي، سړکونه يا دټولنو په اوږدو کې نښلول شوي وګړي.[447] د ارزونې لخوا دا روښانه نه و چې د يووالي پروژې څنګه په دوهم تعريف کې د ښوونځي يا سړک پروژې څخه مختلف وې چې د بل پروګرام لخوا پرته د يووالي هدف څخه پلي شوې وې.

ارزونې په نښه کړې چې نظارت او ارزونه د CCI لپاره يوه ننګونه وه.[448] که څه هم ډيری هغه وګړي چې مرکه ورسره شوې د CCI مؤثريت يې تصديق کړی، خو هغه شواهد چې دوی په ملاتړ کې وړاندې کړې تل روښانه نه و. د مثال په توګه، په ځينې ولسواليو کې د CCI کارمندانو په نښه کړې چې دا د دوی مسؤليت نه و چې د مسلکي روزنو وروسته د دې معلوماتو راټولولو لپاره تعقيب کړې چې ايا ګټه پورته کونکي د روزنې وروسته په دنه ګمارل شوي که نه.[449] ځينې وختونه د CCI مرکه شوي کارمندانو د CCI غونډو ته د ډيرو خلکو د راتګ ترشا د اړيکو هڅو برياليتوب څرنګوالي په اړه هم د وينا هلې ځلې کولې.[450]

## د ملي پیوستون پروګرام (NSP)

ARTF د افغانستان دواړه عملیاتي او انکشافي بودیجه ملاتړ کوي. د انکشافي بودیجې برخې په حیث دا د افغان حکومت ملي پیوستون پروګرام (NSP) تمویل کوي، چې د ټولنې په کچه حکومتداري پیاوړې کولو او لازمي خدماتو ته د کلیوال ټولنو لاسرسی ته وده ورکولو لپاره جوړ شوی او سرچینې یې په دیموکراتیک ډول ټاکل شوي د ټولنې انکشافي شوراګانو (CDCs) لخوا کارول کیږي.[451] مخکې USAID د ARTF له لارې د کانګریس په لارښود، NSP ته د بسپنو "لومړیتوب" (تعین کړ)، ترڅو په هغه سیمو کې د ترهګرۍ ضد اهدافو ته وده ورکړي چې نوي افغان حکومت کنټرول لاندې راغلي. USAID د شواهدو کمښت خبرداری ورکړی دا چې NSP د افغانستان ناامن برخو کې ثبات ډېر کړی او تمویل یې په ورته توګه تنظیم شوی.[452]

د USAID په وینا، NSP ځینې مثبت پایلې لاسته راوړي، پشمول د پریکړه کولو کې د ټولنې د کچې ښکیلتیا. په هرصورت، USAID په نوموړي پروګرام تکیه نه کوي چې ځانګړي پراختیایی اهداف لاسته راوړي.[453] USAID ویلي چې دوی NSP ته د ARTF نورو پروګرامونو په پرتله لږه پاملرنه کوي د کومو لپاره چې USAID لومړیتوب بیانوي. د ARTF له لارې د USAID لومړیتوبونه وس د ښوونې، روغتیا، عامه مالي مدیریت، او ځمکې اصلاحاتو لپاره پروګرامونه ملاتړ کوي.[454] د 2013 مالي کال دمخه، USAID په مستقیم ډول ټولټال 865 ملیون ډالر د NSP لپاره غوره کړل.[455]

## د افغان ملکیانو مرستې پروګرام (ACAP)

په جون کې، د USAID عمومي پلټونکي د افغان ملکیانو مرستې پروګرام II (ACAP II) یوه پلټنه خپره کړه. د ACAP II ابتدایی هدف هغه افغان ملکیانو ته مناسب او په وخت د مرستې چمتو کول و چې د نړیوالو نظامي ځواکونو او طالب ترهګرو ترمنځ جګړه کې قرباني شوي. په پروګرام شوي مرسته کې غیر بولي سمدلاسه کومک لکه د خواړو توکي، د کورنۍ کوچني وسایل او د تخریب شوي کورونو او نور ملکیت بیرته ترمیم شامل و. په پروګرام کې د قربانیانو د اړتیاو سره سم له لاسه ورکړي معیشت بیرته راسمولو لپاره مناسب مرسته هم شامل و. په مناسب مرستو کې د کوچني سوداګریو پیل لپاره اعانې لکه د کالو پلورنځی، د بقالۍ پلورنځي او څارویو فارمونه شامل و.[456]

د موندنو ترمنځ USAID موندلي چې ACAP II په وخت سره مرسته نده چمتو کړی یا د ګټه پورته کونکو مناسب تایید. پداسې حال کې چې د پروګرام غوښتنه سمدلاسه له دوه څخه تر اوه ورځو په موده کې د مرستې تحویلي ده، د دې لومړي او دوهم کلونو کې پلي کونکو په ترتیب سره 50 او 28 ورځې په اوسط ډول نیولي. سربیره پردې، د ګټه پورته کونکو تایید لپاره د پروګرام طرزالعملونه ضعیف و. د یوې پایلې په حیث، راپور نتیجه ګیري کوي چې ممکن مرسته هغه ګټه پورته کونکو ته تللي وي چې اصلي نه و. پلټنې دا هم موندلي چې، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معیوبینو افغان وزارت نشي کولی د ACAP II فعالیتونه ټینګ کړي. په سپتمبر 2014 کې د پروګرام پای ته رسیدو وروسته افغان ملکیانو ته مرستې استحکام لپاره، وزارت پلان کړی و چې د مرستې فعالیتونو رهبري په سپتمبر 2013 کې په غاړه واخلي. په هرصورت، تر جون 2014 پورې داسې ونه شو.[457]

## بیاپخلاینه او یوځای کیدنه

د متحده ایالاتو اوسنی ملکي – نظامي کاري چوکاټ ښيي چې افغان حکومت او ترهګرو ترمنځ سیاسي پخلاینه "په افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو حل دی." [458] په هرصورت، د ملګرو ملتونو عمومي منشي د افغان حکومت او مخالف وسله وال ځواکونو ترمنځ رسمي ډیالوګ (خبرو) رامنځته کیدو کې پرمختګ په نښه کړی.[459]

د ملګرو ملتونو د تصویبونو یوې ډلې راپور په وینا، بیاپخلاینه درول شوې، خو بیا هم د سیاسي اړیکو ارتقا لپاره د افغان حکومت هڅې دوام لري. داسې بریښې چې د بیاپخلاینې لومړنی مانع د طالبانو له پلوه د عمومي موافقت نه شتون وي. راپور موندلي چې تیرکال د طالبانو عوایدو لپاره ګټور کال و، چې د پراخه تریاکو عاید، له فساد او برمتې عاید، او په ډیریدونکې کچه د طبیعي سرچینو غیرقانوني راسپړلو د دوی عاید تقویت کړ. لکه څنګه چې د دوی مالي پلو وده کړې، طالبان نور هم اقتصادي لوبغاړي شوي، د دې انګیزې سره چې دا عاید خوندي او ممکن د دې لړې انګیزې سره چې افغان حکومت سره مزاکرات وکړي.[460]

## بیاپخلاینه

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پدې ربع کې د افغان سولې عالي شورا (HPC) په وړتیا کې د بیاپخلاینې او بیایوځای کیدنې هڅو ته ملاتړ راټولولو لپاره هیڅ د پام وړ پرمختګ نه و. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې HPC د منظم غونډو پرمخ وړو ته دوام ورکوي مګر وزارت ته یې هیڅ پایلې نه په سترګو کیږي.[461]

په می میاشت کې د طالبانو پنځه غړي د یوه امریکایی بندي، د متحده ایالاتو اردو بریډمل بوی بیرګیدال په بدل کې تبادله شول. د HPC یو مشر غړي هیله څرګنده کړه چې د طالبانو د غړیو خوشې کیدل به په افغانستان کې د سولې د خبرو پیل لپاره مرستندویه وی. په هرصورت، د طالبانو یوه ویاند د دې احساس په نفي کولو سره وویل چې دا تبادله به د سولې پروسه باندې هیڅ اغیز وانه چوي.[462]

د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند په وینا، د متحده ایالاتو او قطر هیواد حکومتونه سره پدې موافق دي چې پدغه پنځه طالبانو د دوی د خوشیدو شرط په توګه محدودیتونه کلک کړي.[463] د افغان بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند د طالبانو په پنځه غړیو تحمیل شوي هرډول محدودیت لرې کولو لپاره غوښتنه کې نقل کړي چې د "بشپړې آزادۍ" څخه هرڅه کم د نړیوال قانون ترپښو لاندې کول دي.[464]

د جون په 21، د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس معصوم ستانکزي په کابل کې له ځانمرګی برید څخه ژغورلی پاتې شو چې یو ملکي او څلور نور یې ټپیان کړل. د سپتمبر 2011 برید ستانکزی ټپي کړ پداسې حال کې چې پخوانی افغان ولسمشر او د HPC رییس برهان الدین رباني پکې ووژل شو.[465]

## د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام

د افغانستان د سولې او بیایوځای کولو پروګرام (APRP)، چې د افغان په مشرۍ افغان ټولنو ته بیرته د ټیټې کچې ترهګر، پلې سرتیري او قوماندانان یې یوځای کوي، د 12 ډونر

ملتونو لخوا ورته په اعانه کې 182.3 ملیون ډالر مالي مرسته ورکړل شوه. د دې پروګرام عملیاتي بسپنه د اوو مرسته کونکو هیوادونو له لوري چمتو شویده (په لومړي سر کې جاپان او جرمني). متحده ایالات د نړیوال بانک لخوا اداره شوي د ټولنې بیاراسمولو هڅو ته فنډ چمتو کوی.[466]

د څواک بیایوځای کولو خونې (FRIC) په وینا، د ایساف یو عنصر چې APRP، د APRP ګډه دارالانشا او د ولایتي ګډې دارالانشا ټیمونو ملاتړ کوي د سولې سیمه ایزو ناستو او راډیو او تلویزیوني تبلیغاتو له لارې د توسعه لومړیتوب ته دوام ورکوي.[467]

FRIC د دې راپور هم ورکړی چې 53 د کوچنې مرستو پروژې او 1,162 د افغان حکومت پروژې په 32 ولایتونو او 190 ولسوالیو کې د لاس لاندې دي.[468]

له جنوري څخه د مارچ تر 31 پورې، 451 بیایوځای کیدونکي د دې پروګرام سره یوځای شوي، چې د ټولټال یوځای شویو شمیر 8,503 ته لوړوي، لکه څنګه چې په شکل 3.29 کې ښودل شوي.[469] د بهرنیو چارو وزارت او FRIC په وینا، APRP د بررسۍ یوه قوي پروسه لري چې تایید کړي چې هغه افراد چې غواړي پروګرام سره یوځای شي واقعیی ترهګر دي. افغان ملکي حکومت او د ANSF چارواکي مسؤل دي چې په ولایتي او ملي کچو د بیایوځای کیدونکو پروسس وکړي. نړیواله ونډه د بیایوځای کیدونکو د څارنې او تعقیب د ډاټابیز په برخه کې د لاسرسي تر کچې محدود دي.[470]

شکل 3.29

**د سیمه ایزې قوماندې په واسطه بیایوځای شوي**




یادونې: DOD تر د 2014 مارچ پورې تازه شوي شمیرې چمتو کړي. سرچینې نه واضح کوي چې ولې په RC - شمال کې (له 3,244 څخه 3,071 ته) او RC - سویل لویدیز کې (له 218 څخه 195 ته) مجموعي شمیرې پدې ربع کې کمې شوي؛ د تایید شوي تکرارونو اوسنی شمیر په 16 انفرادي کې پاتې دی.

سرچینه: State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/4/2013، 7/1/2013، 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012 او 3/30/2012؛ DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/30/2014، 3/31/2014، او 12/31/2013.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون (AIHRC) او د افغان مدني ټولنې 11 ډلو یوه راپور کې چې په جون کې خپور شوی، په APRP د "پاداش" په نوم هغه څه باندې انتقاد کړی چې ترهگرو ته یې وړاندې کوي لکه اقتصادي فرصتونه، معافیتونه، او په واک کې بیرته د بیایوځای شویو د مقام تثبیت، دوی وای چې دا مصؤنیت ته د سونگ توکو په توگه کار کوي. راپور د هغه مرکه کیدونکو له خولې راخلي چې د ټولنې میشته پراختیای پروژو لپاره راغوښتل شوي او د بررسی، پیژندنې او حذف کولو له لارې هغه ترهگر چې په روښانه توگه د بشري حقونو ناقضین دي. علاوه لدې، د راپور لیکونکو لخوا مرکه شوي بیایوځای شویو د APRP څخه خپله نارضایتي څرگنده کړې، د دې په ویلو سره چې وه یې نشو کولی خپلې ژمنې پوره کړي او احساس کوي چې کارول شوي، ملاتړ یې نه کیږي، او د افغان حکومت سره د همغږۍ لپاره له برید لاندې راتلو ته ضرر لیدونکي دي.
په راپور کې نتیجه گیري شوې چې "په اصل کې، APRP ته د ټولو نومول شویو لاسته راوړونکو په واسطه د ناکام په سترگه کتل کیږي." [471]

## د فساد ضد او قانون حاکمیت

### د پروژې لنډیز

متحده ایالاتو د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې د رسمي او غیررسمي قضایي سیستمونو لپاره مرستې چمتو کړیدي. پدې کې د USAID د قانون حاکمیت ثبات رسمي او غیررسمي برخې (RLS-F او RLS-I)، د بهرنیو چارو وزارت د قضایی سیکتور ملاتړ پروگرام (JSSP)، او د بهرنیو چارو وزارت د قضا د روزنې لیږد پروگرام (JTTP) شامل دی. دا او د قانون حاکمیت او فساد ضد نور پروگرامونه په جدول 3.24 کې ښودل شوي.
RLS-F له رسمي قضایي سکتور سره مرستې د دې لپاره چمتو کوي چې قضا ته لاسرسی پیاوړی شي، د قانوني زده کړو د سیستم ظرفیت لوړ شي او په ولسوالیو، ولایتونو او ملي کچه د حساب ورکونې او شفافیت خبره پیاوړې شي. USAID راپور ورکوي چې RLS-F د قاضیانو

جدول 3.24

**د USAID د فساد ضد او د قانون د حاکمیت پروگرامونه**

| د پروژې سرلیک | اداره | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لگښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټولیز لگښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د قضایی سیستم ملاتړ پروگرام JSSP II)* II) | د بهرنیو چارو وزارت | 5/31/2010 | 12/31/2014 | $301,971,225 | $152,088,263 |
| د سمون سیستم ملاتړ پروگرام (CSSP)* | د بهرنیو چارو وزارت | 5/1/2010 | 12/31/2014 | 198,586,208 | 171,569,427 |
| د قانون حاکمیت ثبات – رسمي برخه | USAID | 7/16/2012 | 7/14/2014 | 22,581,128 | 19,068,556 |
| د عدلیه روزنې لیږد پروگرام (JTTP)* | د بهرنیو چارو وزارت | 1/2/2013 | 7/1/2015 | 20,000,000 | 20,000,000 |
| د قانون حاکمیت ثبات – غیر رسمي برخه | USAID | 7/16/2012 | 3/13/2014 | 15,651,679 | 15,080,799 |
| د GAPS د فساد ضد مرستې | USAID | 6/7/2012 | 6/6/2014 | 1,292,379 | 720,467 |
| له فساد سره په زغرده مبارزه | USAID | 7/4/2012 | 7/3/2014 | 997,000 | 528,783 |

یادونه: *د 2014 د مۍ 14 پورې مصارف.

سرچینې: USAID، د سیگار معلوماتو غوښتنې ته خواب، 7/10/2014؛ د معلوماتو غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت د خواب د سیگار خیرنې، 5/27/2014، 6/3/2014 او 7/16/2014.

## د سیګار پلټنه

سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت پرمختګ او مرستې د هڅو یوه روانه پلټنه لري. سیګار پلان لري چې (1) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د قانون حاکمیت رامنځته کولو پروګرامونه یا نوښتونه وپیژني؛ (2) هغه پرمختګ وارزوي چې دې پروګرامونو یا نوښتونو کړی؛ (3) د هغه ننګونو پیژندنه چې متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت اهدافو لاسته راوړو پرمهال ورسره مخ شوی او د پراخوالي حد یې چې دا ننګونې ورته په نښه شوي.

او قضایي کارکونکو ظرفیت د هراړخیزو قانوني روزنو د چمتو کولو له لارې لوړوي. RLS-F د نویو قاضیانو لپاره د ستري محکمې رسمي روزنیز پروګرام هم په ځان کې لري.[472]

پدې ربع کې، USAID د RLS-I دریم او نهایي فیز د فعالیت ارزونه خپره کړه چې له جولای 2012 څخه تر مارچ 2014 پورې و. بیاکتنه د RLS-I درې اهدافو باندې متمرکز ده: د شخړو د حل سنتي او عنعنوي میکانیزمونو پیاوړي کول او وده کول، د رسمي او غیر رسمي قضایي سیکتورونو ترمنځ د ارتباط قوي کول، او د اوږدې مودې، پیچلي شخړو په نښه کولو کې د همغږۍ اسانول.[473] شاخوا 76% مستقیم ګټه پورته کونکو (هغوی چې د RLS-I روزنه لاسته راوړې) د روزنې څخه په لویه کچه رضایت ښکاره کړی، او ډیر یې فکر کوي چې افغان قانون په اړه د دوی پوهه ډیره شوې.[474] په هرصورت، 88% برخه اخیستونکو راپور ورکړی چې ښځینه روزونکي د افغان قانون په اړه کافي پوهه نلري، او دا چې نومورې روزنه د ډیر لږ وخت مودې لپاره پرمخ وړل شوې.[475] بیاکتنې د RLS-I د سپانسر شوي ټولنې کلتوري مرکزونو (CCC) ارزښت وپوښتل چې هدف د RLS-I لخوا د رامنځته شوي جزو او رسنیو توضیع وه. د ارزونې ډلې ور نه وې چې د CCC غړي وپیژني سره لدې چې په شپږو ولایتونو کې د CCCs لپاره معلومات هم ورته ورکړل شوي و.[476]

پداسې حال کې چې ارزونې وموندل چې هغه ټولنیز ناوړه عملونه لکه بد، چې په بدو کې ښځې ورکول کیږي د هدف ترلاندې ټولنو کې کم شوي و مګر تردې کچې نه چې د RLS-I روزنه یې د کمولو مسؤل وه او نورو ممکن فاکتورونو په پرتله لکه د روزنې نور پروګرامونه. په ورته ډول، د ژورو مرکو او تمرکز ډلو له خبرو څخه لاسته راغلي معلومات د اوږدې مودې شخړو حلولو پروړاندې له لږ څخه تر هیڅ پورې پرمختګ ښیې، د ډیری ځواب ویونکو په اند چې دا ډول شخړې دوام لري او د هیڅ حل تمه یې نه کیږي. په هرصورت، د مقداري سروې معلومات ښیې چې، 58% غیر مستقیم ګټه اخیستونکي، یا اوسیدونکي چا چې روزنه لاسته نده راوړې باور لري چې د اوږدې مودې شخړې د تیرو دوه کلونو په جریان کې د تیر په پرتله حل شوي، چې یوازې 9% یې د هیڅ بدلون راپور ورکړی.[477]

ارزونې دا هم موندلې چې یو څو قضیې د غیررسمي قضا سیکتور څخه د قضا رسمي سیکتور ته راجع شوي، پداسې حال کې چې له رسمي سیکتور څخه غیر رسمي ته د قضیو رجوع د هدف لاندې ولایتونو کې عام و. عنعنوي پریکړه کونکو د رسمي قضایي نهادونو په مجموع کې ټیټ اند درلود، پداسې حال کې چې رسمي قضایي سیکتور غیررسمي نهادونو ته احترام درلود. ځواب ویونکو پشمول د شخړې حل رسمي وکیلانو او د رسمي قضا سکتور پرمخ وړونکو عموما غیر رسمي سیکتور ته د رسمي قضایي سیستم په نسبت ترجیح ورکوله.[478] ارزونې نتیجه ګیري کړې چې د رسمي او غیر رسمي سیستمونو ترمنځ اړیکه په لویه کچه یو طرفه وه، پدې توګه چې رسمي سیستم قضیې غیررسمي ته راجع کوي خو غیررسمي یې رسمي ته نه راجع کوي.[479]

د بهرنیو چارو وزارت د JSSP اهداف دا دي چې د افغانستان قضایي سیستم په اوږدو کې د قضیو تعقیب لپاره د قضیه مدیریت سیستم (CMS) رامنځته کړي او د وزارت د چارواکو ظرفیت او اداري مهارتونه لوړ کړي.[480] د JSSP خورا اخرنې درې میاشتنې راپور په وینا، له 34 ولایتونو څخه اوه یې په فعال ډول CMS کاروي، پداسې حال کې چې دوه ولایتونو د CMS تجهیزات مې میاشت کې لاسته راوړل.[481] JSSP پدې ربع کې د افغان

عدليه وزارت بنسټيزې ارزونې بشپړې کړې او پدغه ارزونو کې پېژندل شوي د ودې لپاره برخو په نښه کولو او د روڼ عدلي خدماتو ودې لپاره د روزنې، نظارت، تخنيکي مشوره، او موادو ملاتړ وړاندې کول پلانوي.[482]

د بهرنيو چارو وزارت د JTTP برخه د قضايي سکتور مسولينو ته سيمه ايزې زده کړې چمتو کوي لکه پوليسو، څارنوالانو، قاضيانو او مدافع وکيلانو، او په لويه کچه د قضايي عدالت په اړه موضوعاتو او د فساد ضد مبارزې په برخه کې موضوعات ورته ورکړل شويدي. JTTP د عدلي سيکتور چارواکو ته په ځانګړې قضيو او قانوني مسلو نظارت هم چمتو کوي، پشمول د وکيلانو او قاضيانو.[483] په تيرې ربع کې، JTTP په 17 ولايتونو کې 1,098 برخه اخيستونکو ته 46 روزنيز کورسونه وړاندې کړل.[484]

## ستره محکمه او رسمي قضايي سکتور

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د ربع په جريان کې د سترې محکمې کوم د پام وړ پريکړې نه وې.[485]

## افغان اصلاحي سيستم

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د محبسونو او توقيف مرکزونو عمومي رياست (GDPDC) په واسطه اداره کيدونکې محبسونو کې محبوس نفوس د تيرو پنځه کلونو په کلنې توګه 16.4% ډيرېږي. د مې تر 20 پورې، GDPDC 27,827 افراد په حبس کې لرې.[486]

د اپريل 20 پورې، د عدليه وزارت د تنکي ځوانانو د اصلاح کيدو رياست (JRD) 1,071 تنکي ځوانان په بند کې درلود. په دې شميرې کې هغه بنديان شامل ندي چې د افغان حکومت نورو ادارو له خوا توقيف شويدي لکه څنګه چې د نړيوالو مخدراتو او د قانون د پياوړتيا د چارو اداره (INL) له نورو ادارو څخه معلوماتو ته لاسرسی نلري.[487]

د GDPDC ودانيو کې د ډير نفوس شتون يو تلپاتې، قوي او پراخه ستونزه ده، که څه هم دا د بهرنيو چارو وزارت لخوا تمويل شوي د زندان بيړونو او د ولسمشر د بخښنې فرمان له امله د زندان په نفوسو کې کموال پراغلی. د 2014 کال د مې د 20 پورې، د ولاتي زندان ټولټال نفوس د ظرفيت 279% و، هغه ظرفيت چې د سره صليب نړيوالې کميټې لخوا (ICRC) لږترلږه 3.4 ميتر مربع د هر زنداني لپاره مشخص شوی. د لواتی زندان ټولټال ښځينه نفوس د ICRC وړانديز شوي ظرفيت 116% و. د GDPDC تر ادارې لاندې د محبسونو د ظرفيت په اړه او د تنکيو ځوانانو د بيارغونې د مرکزونو په اړه معلومات په لاس کې نشته. په هرصورت، د ودانيو څخه د ليدنو پرمهال د INL مشاورو په واسطه حکايتي راپور ښيې چې د نفوس ډيروالی په ډيری ولايتي زندانونو کې تلپاتې ستونزه ده.[488]

په مې کې، د افغانستان د مشرانو جرګې يو پلاوی د هرات ولايت څخه ليدنه وکړه ترڅو د نوموړي ولايت عدلي او قضايي ارګانونه وڅاري. پلاوي وموندل چې د هرات په زندان کې د 3,000 او 4,000 ترمنځ زندانيان دي چې نوموړی زندان د 700 څخه تر 800 پورې زندانيانو لپاره جوړ شوی و. د کورنيو چارو وزارت په وار هڅه کړې چې نوې ودانۍ جوړه کړي مګر د تمويل نه شتون له امله داسې ندي شوي.[489]



**د CSSP زده کونکي زندان ګاردان** په کابل کې د ترياکو ضد قضايی مرکز کې بنديانو ته د هغوی بند خونو بهر څواب ورکوي. (د CSSP عکس)

### د سيګار تفتيش

سيګار پدې ربع کې د بهرنيو چارو وزارت لخوا تمويل شوي د بغلان ولايت محبس بانډې د تفتيش يو راپور خپور کړ کوم چې موندلي نوموړي ودانۍ په پراخه کچه ترميم ته اړتيا لري. برخه 2، مخ 34 وګورئ.

## د فسا ضد

د افغان فساد ضد هڅو دې ربع کې هيڅ د پام وړ پرمختګ ندی کړی. د بهرنيو چارو وزارت پدې ربع کې د افغان لوړپوړي حکومتي چارواکو د تعقيب يا پلټنې سره مخ کيدو څخه خبر ندی ترلاسه کړی. افغان حکومت د فساد لپاره ټيټ رتبه چارواکو او ناظرينو تعقيب ته دوام ورکوي.[490]

په جون کې، د نړيوالې سولې لپاره کارنيجي اينډومينټ په نړيوال امنيت د فساد اغيز په اړه يو راپور خپور کړ. د موندنو ترمنځ، راپور په نښه کوي چې حاد فساد بايد درک کړی شي نه د حکومت ناکامۍ يا ماتيدو په حيث، بلکه د يوه کاري سيستم په توګه په کوم کې چې پريکړه کونکي راټول، د شبکې په توګه غوره فکر سره د واک انتخاب شوي لارو د ځانګړي عايد جريانات راخپلوي. د عايد جرياناتو رانيولو هڅه ډيری وختونه د يوه دولت پرمخ تلو پورې اړوند فعاليتونه تياره کوي.[491]

په هرصورت، سيستماتيک فساد د خلکو په مينځ کې قهر راپاروي، چې دا بيا د ټولنيز ناکرارۍ او ترهګرۍ يوه عامل کيږي.[492] افغانستان د فساد له بيلګې يوازينی و او په ورته ډول جوړښت شوی چيرې چې حکومتي سيستمونه د يو يا خورا لږو شبکو د ګټو لپاره ټيټيږي. د راپور په وينا، ولسمشر کرزی په منظم ډول خپل لوی څارنوال ته وايي چې په قضيو اغيز وکړي يا پخپله د تعقيب لاندې افراد له محکمې دمخه توقيف څخه خوشې کړي، چې د هغوی پروړاندې قضيې الغا شي.[493] راپور د فساد ضد نړيوال نوښتونو ارزښت تر پوښتنې لاندې راوستی چې افغان سيستم ته اجازه ورکوي د فساد له منځه وړو مشري پخپله غاړه واخلي، دا يې د "پاليسۍ ضد او نقيض" کار بللی.[494]

په جون کې، د افغانستان پر شفافيت د څار اداري خپله د ملي فساد سروی خپره کړه. راپور د ټولو ولاياتو په اوږدو کې د 7,798 نارينه او ښځينه و سره مرکو په بنسټ و. فساد او بې کاري په ګډه دوهمه لويه ننګونه ده چې افغانستان ورسره د امنيت څخه وروسته مخ دی. پداسې حال کې چې د تيرو 12 مياشتو په اوږدو کې 18% ځواب ويونکي په 2012 کې د فساد سره مخ شوي، 21% ځواب ويونکي د 2014 سروی کې فساد سره مخ شوي. له هغوی چا چې د 2014 سروی کې فساد تجربه کړی، 65% پيسې ورکړي؛ پاتو يې له پيسو پرته د فساد ډول تجربه کړی لکه د مفسدينو لخوا د ډاليو غوښتنه کول.[495] سروی موندلي چې په يوه ساحه کې د حکومت شتون ملکي کارکوونکو سره فعل او انفعال ډيروي چې وروسته دا بيا د فساد طرحې ډيروي.[496]

په مې کې، ولسي جرګې د کابل ښاروال په فساد تورن کړ، او د ولسي جرګې رييس وويل چې لدې هاخوا نور د ښاروال واک په رسميت نه پيژني. AGO يو د 12 غړو کميسون جوړ کړی چې د کابل ښاروال او ځينې وکيلانو پروړاندې د فساد تورونه وڅيړي. کميسون د ښاروال پروړاندې مظاهرو په تعقيب رامنځته کړی شو، چې د ښاروالۍ د فعاليتونو او د ولسمشرۍ ماڼۍ څخه د دوسيې لاسته راوړو خنډ وګرځيدل.[497]

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

د AGO د تخنیکي ظرفیت یا موثریت په تړاو کوم د پام وړ بدلون ندی لیدل شوی. AGO د بهرنیو چارو وزارت د AGO د څارنوالانو په تحقیقي میتودونو کې روزلو وړاندیز رد کړ. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، ټاکنو د لوی کچې فساد قضیو تعقیب احتمال راکم کړی.[498]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د AGO د فساد ضد واحد (ACU) د دې وړ دی چې د فساد د ټیټې کچې قضیې وڅیړي، مګر د فساد لوړې کچې قضیو څیړلو کې د موانع سره مخ کیږي. ACU د بهرنیو چارو وزارت او د عدلیه وزارت (DOJ) ښکیلتیا منلو ته چمتو نه و، او ټیټه روحیه لري. ACU لږ تخنیکي ظرفیت لري او د لانورو فساد پیچلي قضیو په مؤثر ډول تعقیب لپاره د تخنیکونو رامنځته کولو کې لږه علاقه لري. په هرصورت، دا د اختلاس د ساده قضیو د تعقیب وړ ده. په افغانستان کې د امریکا د کابل سفارت عدلي آتشه خپل کمک بیرته د کورني کنټرول او نظارت واحد او د مالي شخړې حل کمیټې ته متمرکز کړی چیرې چې په پراښه کچه منلتیا شتون لري.[499]

د سنګین جرایمو کاري ځواک (MCTF) د AGO کورني کنټرول او نظارت واحد لپاره پلټونکی وسیله ده.[500] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، MCTF د یو وړ پلټونکي ځواک په توګه خپل شتون ته دوام ورکوي، ولې د AGO د فساد قضیو د تعقیب ردولو په واسطه یې مخه نیول شوې. د ولسمشرۍ ټاکنو په تعقیب، د بهرنیو چارو وزارت پلان لري چې وارزوي ایا نوی حکومت د مؤثره MCTF لپاره کافي سیاسي لیوالتیا لري. د بهرنیو چارو وزارت به د افغانستان د فساد ضد نوښتونه وازموي ترڅو وټاکي چې ایا افغانستان د مالي مقرراتو قانون تصویبوي؛ ایا د فساد محکمه کول د لوی دریځ او رتبو مدافعینو پروړاندې سرته رسوي؛ ایا د MCTF سرچینې اړتیاوې بدل شوې؛ او په څه ډول AGO، MOI او نور افغان اداري د فساد ضد هڅو کې د MCTF رول داخلوي یا حذف کوي.[501]

## د فساد ضد څار او څیړنې ګډه څپلواکه کمیټه (MEC)

د USAID په وینا، د فساد ضد څار او څیړنې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC) د فساد پورې اړوند ځینې کلکو پوښتنو په نښه کولو لپاره کافي تخنیکي ظرفیت او سیاسي لیوالتیا لري چې افغانستان ورسره مخ دی. په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت په نښه کوي چې، MEC د ضعیف یا مفسد کړنو ته توجه کولو څخه د پورته ډیر څه کولو لپاره واک نلري.[502]

د ربع په جریان کې، MEC په ګمرکاتو، د پلټنې عالي دفتر، د افغانستان د مخابراتو تنظیمونکې واک، او د افغان سرې میاشتې ټولنې باندې راپورونه خپاره کړل.

د MEC په وینا، افغانستان د فساد له امله د پام وړ ګمرکي عواید له لاسه ورکوي: په پولو کې د قاچاق له امله د تمه شوي عواید نږدې نیم یې نه و راټول شوي او ځینې 25% یې د ګمرک په چاروکو د لوړرتبه چارواکو او افرادو د اغیز له امله له لاسه وتلي. MEC موندلي چې د ګمرک متقلب چارواکي او کمیشن کاران (دلالان) د معلوماتو دننه کولو سیستم څخه ناوړه ګټه پورته کوي او د حکومت عواید منحرف کوي. MEC وړاندیز کړی چې د افغانستان د ګمرکاتو ریاست باید یو تخنیکي میکانیزم رامنځته کړي (سکینر، بارکوډ، د X-وړانګه وغیره) چې ډاډ ترلاسه شي سیستم ته دننه کړی شوي د ګمرکاتو

دلالانو لخوا معلومات چې د ګمرکاتو چارواکو تایید کړي، درست دي. MEC دا وړاندیز هم کړی چې د افغانستان د ګمرکاتو ریاست د ګمرک په پروسه کې دخیل دلالانو فعالیتونه بیا وارزوي، ناوړه ګټه پورته کونکي وپیژني، او هغوی تور لیست کې شامل کړي چې د سیستم څخه ناوړه ګټه پورته کونکو په توګه وپیژندل شي.[503]

د تفتیش عالي دفتر (SAO) په یوه ارزونه کې، MEC وموندل چې د SAO قانوني وړتیا کې د افغان حکومتي نهادونو لپاره راپور ورکولو یا محکمه کولو اداري طرزالعملونه شامل ندي چې په غیر تصدیقي ډول د SAO د وړاندیزونو پلي کول ردوي. MEC دا هم موندلي چې د افغان حکومت سفارتونه او قونصلګرۍ په هر پنځه کالو کې فقط یوځل پلټل کیږي، چې دا کار د دوی د فعالیتونو کافي تحقیق نه چمتو کوي. MEC وړاندیز کړی چې SAO باید د عدلیه وزارت سره په همغږۍ د پلټنې یا تفتیش قانون تعدیل کړي ترڅو د هغه نهادونو راپور ورکولو او محکمه کولو اداري طرزالعملونه چمتو چې د SAO د تفتیش وړاندیزونه په غیرتصدیقي ډول نه پلي کوي. MEC دا وړاندیز هم کړی چې SAO په هر دوه کاله کې افغان سفارتونه او قونسلګرۍ تفتیش کړي.[504]

د افغانستان د مخابراتو تنظیمونکې واک (ATRA) او د افغان سرې میاشتې ټولنې یوه راپور کې MEC هغه تشې موندلي چې د فساد لپاره فرصتونه برابروي. MEC هغه عوایدو او مخارجو کې اختلاف موندلی چې د مخابراتي شرکتونو لخوا د دوی تفتیش راپورونو کې د هغه اسنادو پروړاندې چې مالیه کې چمتو کړي ښودل شوي. مخابرتي شرکتونه د عاید لږترلږه مقدارونه راپور کوي او د مالیه په اسنادو کې ترې ګټه پورته کوي، چې پدې سره د ټیټې مالیې لګښت رامنځته کیږي، کوم چې د راپورونو له مخې د ATRA دوسیه شوي مالي پلټنو اعلامیو سره توپیر لري. د MEC په وینا، دا اندیښنې راولاړوي چې مفسد کړنې سرته رسیږي. MEC وړاندیز کوي چې د مخابراتو وزارت، څوک چې ATRA څاري باید د مخابراتي شرکتونو د پلټنې راپورونه د مالیې وزارت سره د پلټنې راپورونو او مالیه اسنادو پرتله ایز ارزونې لپاره شریک کړي.[505]

د افغان سرې میاشتې ټولنې بیاکتنې کې، MEC سیستماتیک ناکامي او تشې موندلي چې د فساد څخه ضرر لیدونکې برخې رابربنډې کولی شي. MEC وړاندیز کړی چې افغان سرې میاشتې ټولنه یو مالي او محاسبوي پالیسي ومني او دا په خپل ویب پاڼه کې نشر کړي. MEC دا وړاندیز هم کړی چې SAO د افغان سرې میاشتې ټولنې مالي پلټنه وکړي.[506]

## د څار او فساد پروړاندې مبارزې عالي اداره

په تیرو کې د بهرنیو چارو وزارت او USAID راپور ورکړی و چې د څار او فساد پروړاندې مبارزې عالي اداره (HOO)، بیکاره، غیرمؤثر او سیاسي شوې ده.[507] نه خو د بهرنیو چارو وزارت او نه هم DOJ پدې ربع کې د HOO سره ښکیل و.[508]

په جولای کې، HOO هغه مهال د یوې هڅې څخه روغه پاتې شوه چې مشرانو جرګې د ولسي جرګې د دغه ادارې منحل کولو پروپوزل رد کړ. د HOO په اړه به د پارلمان یوه ګډ کمیسون کې خبرې وشي.[509]

## بشري حقونه

### د انسانانو قاچاق

د جون په 20 نیټه، د بهرنیو چارو وزارت خپل د انسانانو د قاچاق کلنی راپور خپور کړ. د دې راپور هدف چې د کانګریس لخوا واک ورکړل شوی، د عمل په لاره اچول او د نړۍ په اوږدو کې د ملکرتیا رامنځته کول دي چې د نن ورځې غلامۍ پروړاندې مبارزه وشي. د افغانستان نمره پدې کال کې 2 لړۍ ته پورته شوې، پدې معنی چې پداسې حال کې چې افغان حکومت د قاچاق قربانیانو د محافظت قانون (TVPA) لږترلږه معیارونو اجابت نه کوي، دا د پام وړ هڅې کوي چې ځان دغه اجابت ته وربرابر کړي.[510] له 2010 څخه تر 2013 پورې، د افغانستان لړۍ ټیټه وه، د 2 لړۍ څار لیست؛ په وروستي ځل کله چې دا 2 لړۍ و هغه 2009 و.[511]

د راپور له مخې، په هیواد کې د پراخه انساني قاچاق او د ښاریانو په اړه یې د افغان حکومت څواب ناکافي و. پداسې حال کې چې د جنسي قاچاق قربانیان د اخلاقي جرمونو لپاره د مجرمینو په توګه په منظم ډول تعقیب او محکمه شوي، حکومت د قاچاق کونکو لوی اکثریت د دوی د جرمونو لپاره مجرم محاسبه کولو کې پاتې راغی. د حکومت همملاسي پرځای پاتې جدي ستونزه ده او د جرم سره مبارزې سیاسي لیوالتیا ټیټه وه. د حکومت لوی اکثریت پلانونه چې د قاچاق په نښه کولو لپاره و نه و بشپړ شوي.

په هرصورت، ځیني برخو کې پولړځه پرمختګ شوی و. د تیر کال په اوږدو کې، حکومت یو فرمان صادر کړ چې له مخې یې د قانون پلي کونکو ادارو ته لارښود شوی و چې د قاچاق قربانیانو تعقیب ودروي. دې د خپل قاچاق ضد پلان پلي کولو ته هم محدود ګامونه واخیستل، پشمول د اجرایوي څانګې جوړلو هڅې چې د ملګرو ملتونو د 2000 کال د انساني قاچاق پروتوکول قبول کړي. د حکومت د قاچاق ضد پروګرام کولو سره د پراخه نړیوال ملاتړ سره، د انسان قاچاق کولو د درک کچه افغان حکومتي چاروکو کې ټیټه پاتې ده.[512]

راپور په نښه کوي چې افغانستان د هغه نارینه، ښځینه، او ماشومانو لپاره د سرچینې ټرانزیټ او نهای ټاکنې هیواد دی چې د جبري کار او جنسي قاچاق سره مخ کیږي. کورنی قاچاق د بین المللي څخه ډیر مروج دی. د افغان قربانیانو اکثریت یې هغه ماشومان دي چې غالیو اوبدلو او د خښتې بټیو، کورني جبري کار، او سوداګریز جنسي ګټه اخیستنې، بسته بندۍ، د مخدره توکو له پولو بهر قاچاق او په افغانستان کې د باروړونکي موټرو کلینر په توګه بشري قاچاق کیږي، په بیله بیا منځني ختیځ، اروپا، او سویلي اسیا کې. په ایران کې ترې ګټه پورته شوې ډیری افغان قربانیان له 18 کالو کم عمر لرونکي هلکان دي کوم چې جبرا د رارسیدو څخه وروسته اړایستل کیږي چې په رغونه او کرهنې سیکتور کې جبري کار وکړي. په پاکستان کې د افغان قربانیانو اکثریت ښځې او انجونې دي چې د سوداګریز جنسي ګټه پورته کوونې لپاره قاچاق کیږي، پشمول د جبري ودونو.[513]

پدې ربع کې، د سیګار څانګړې پروژو دفتر د DOD ډیری قراردادیانو ته د هغوی د درېم هیواد اتباع (TCN) په افغانستان کې د متحده ایالاتو اردو مرکزونو کې د کارګمارنې په اړه لیکلي. د DOD یو لوی قراردادي چاروکو د سیګار پلټونکو ته ویلي چې د راپور ورکړ شوي له دې 2,400 څخه ډیر TCN کارکونکي دي دوی په لوژستیک ملکي ودې پروګرام (LOGCAP) قراردادونو کې د دندو لپاره کار ګمارونکو ته له څو سوه ډالرو نیولي تر

---

**لړی 2:** هغه هیوادونه چې حکومتونه یې د قاچاق قربانیانو د محافظت قانون (TVPA) حد اقل معیارونه په بشپړ ډول نه اجابت کوي، خو د پام وړ کار کوي چې ځان د دغه معیارونو اجابت سره سم کړي.

**د لړی 2 څار لیست:** هغه هیوادونه چې حکومتونه یې د TVPAحد اقل معیارونه په بشپړ ډول نه اجابت کوي، خو د پام وړ کار کوي چې ځان د دغه معیارونو اجابت سره سم کړي او:

الف) د سخت قاچاق قربانیانو شمیر خورا د پام وړ یا د پام وړ ډیریدونکی وي؛

ب) د دې شواهدو وړاندې کولو کې پاتې راتلل چې وښیې د تیرو کلونو څخه یې د انسان سخت قاچاق بنو سره مبارزې لپاره هڅې ډیرې کړې؛ یا

ج) د دې ټاکل چې یو هیواد د پام وړ هڅې کوي چې ځان د حداقل معیارونو سره برابر کړې او دا د هیواد هغه ژمنو پراساس وي چې راتلونکي کال کې پدې اړه اضافي راتلونکي ګامونه پورته کړي

سرچینه: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د انساني قاچاق په اړه راپور، 6/20/2014.

زرونو پورې ډالر ورکړي. دا ډول فیسونه د فیدرال لاسته راوړنې مقرراتو د لید او بشري قاچاق باندې د متحده ایالاتو د صفر زغم پالیسۍ څخه سرغړونه ده. ډېری وختونه د TCN کارکوونکي د کارګمارنې دغه فیسونو ورکړې لپاره په خپل کورني هیواد کې په لوی سود پیسې پور اخلي. د پور لوی مقدار TCN لپاره خورا مشکل رامنځته کوي چې خپلې دندې پریږدي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 49 وګورئ.

## کډوال او په هیواد کې دننه بېځایه کیدل

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پدې ربع کې د افغان کډوالو هیڅ لړۍ نده ثبت شوې او په پاکستان او ایران کې پر افغان کډوالو اغیز کونکی هیڅ نوع پرمختیاوې نه وې. د جون په 26 نیټه، د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیسون (UNHCR) اټکل کړی چې له 65,000 څخه ډیر وګړي خوست ولایت ته له پاکستان څخه افغانستان ته راوختي او له 20,000 څخه ډیر په ګاونډي ولایت پکتیکا کې چې لامل یې په ګاونډي شمالي وزیرستان کې د پاکستان پوځ پراخه عملیات و. د 2014 په لومړیو پنځه میاشتو کې، بیرته راتګ 6,698 نفر مجموعه شوي، چې دا شمیره د 2013 په ورته دوره کې 18,175 بیرته راستنیدونکو څخه 63% ټیټه ده. د بیرته راستنیدونکو په شمیر کې کمښت کیدی شي په افغانستان کې نامعلوم امنیتي وضعیت، د اپریل 2014 افغان ټاکنو نامعلوم پایلې، په پاکستان کې د افغان کډوالو لپاره د راجستریشن کارت ثبوت غزولو ته نسبت ورکړل شي. افغانان په 2013 کې د 38,653 ادعاو سره اوس هم د نړۍ په کچه ترټولو لوی پناه غوښتونکې ګروپ دی.[514]

د جون تر 12، UNHCR د کورنیو بېځایه شویو کسانو (IDPs) د راجستر ټولیزه شمیره 672,736 کسانو ته رسولې ده، په داسې حال کې چې دا شمیره د اپریل تر 30 پورې 654,664 کسانو ته رسیدلې وه. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د داخلي بی ځایه شویو اصلي شمیر لدې ډیر زیات کیدی شي او تایید یې مشکل دی.[515]

په فبروري کې افغان حکومت په داخلي بی ځایه کیدنې یوه ملي پالیسي په لاره واچوله. په دې کې د افغانستان د بیلابیلو وزارتونو او ادارو او د هغوی پرمختیایي او بشري ملګرو ونډه او مسولیتونه روښانه شویدي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دې پالیسۍ پلي کول به پیاوړي ظرفیت رامنځته کولو ته اړتیا ولري چې دامهال یې افغان حکومت نلري، په ګډه د ځمکې اجاره کولو قوانینو او مقرراتو سره. د شاروالۍ مشرانو متقاعد کولو ته به اړتیا وي چې داخلي بی ځایه شوي، که ټول یې نه نو ډیری ته اجازه ورکړي چې ښاري سیمو کې میشته شي د دې پرځای چې بیرته خپل اصلي ځایونو ته ستانه شي. د بهرنیو چارو وزارت پدې اند دی چې د IDP پالیسۍ بریا د فرعي ملي حکومتونو په واسط سرته رسیدلي پراخه کار پورې تړاو لري. UNHCR او د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت په ګډه د پلي کولو یو پلان رامنځته کړی چې د زده کړیالي غړو سره په کلیدي ولایاتو او وزارتونو کې د دوی د مسؤلیتونو سره پیل کیږي. په ایدال ډول، د ولایتي کچې پلي کولو پلانونه به د 2014 پای پورې بشپړ شي او د ممکن ډونرانو او یوځه ټیټ کچه باندې ملي بودیجې سره کار ته د وړاندې کولو لپاره به تیار وي.[516]

## د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسون

د حکومت په وینا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون (AIHRC) د بشري حقونو په اړه د پوهاوۍ په برخه کې په زیاتیدونکې توګه پرمختګ کړیدی همداشان د بشري حقونو د روان حالت د ثبتولو ، د زورزیاتي په اړه اظهارات او د روانو ټاکنو نظارت یې له کارونو څخه دی.[517]

پدې ربع کې، AIHRC د 11 نور افغان مدني ټولنې نهادونو سره په ګډه په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې لاسته راوړو باندې یو راپور خپور کړ. نوموړي راپور کې د ټولو 34 ولایاتو څخه د 4,648 افغانانو اندونه لنډیز شوي. د راپور په وینا، یوه عام موضوع د فساد، قانون ټیټ حاکمیت او د بشري حقونو څخه سرغړونکو لپاره پراخه مصؤنیت افغانان د خپل حکومت څخه ناراض کړي.[518] راپور موندلي چې افغانان یو حساب ورکوونکی، روڼ او مؤثر سیمه ایز حکومت غواړي کوم ته چې دوی د تلپاتې سولې لپاره د هستې په حیث ګوري. افغانانو دا راپور هم ورکړی چې په لرې پرتو، ناامن، او جنجالي سیمو کې د افغان حکومت نه شتون د وسله والې جګړې یو کلیدي پرمخ وړونکی دی. راپور وړاندیز کړی چې د دې پرځای چې حکومت امنیت سیمه ایز ملیشه ته وسپاري، باید ټول غیرقانوني مسلح ډلې او د حکومت دمخه ملیشه خلع سلاح کړي.[519] په نهایت کې راپور وړاندیز کوي چې افغان حکومت د افغانستان په اوږدو کې متساوي پراختیا ته وده ورکړي، ښوونې ته لومړیتوب ورکړي، افغان ځوانانو ته واک ورکړي، د سولې جامع پروسې ته وده ورکړي، د افغان سولې او بیایوځای کیدنې پروګرام اصلاح، او بشري حقونه او د ښځو حقونه خوندي او وده ورته ورکړي.[520]

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 151 |
| اقتصادي لنډيز | 152 |
| د غزول شوي کريډيټ سهولت برابرول | 155 |
| بانکداري او مالی چارې | 156 |
| د امريکا د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي | 160 |
| د طبيعي زيرمو پراختيا | 163 |
| کـــــــــــرنه | 169 |
| اړين خدمتونه او پراختيا | 173 |
| د خصوصي سکتور پراختيا | 178 |
| ترانسپورتيشن | 179 |
| زده کړه | 180 |
| روغتيا | 183 |

# اقتصادي او ټولنزه پراختيا

د 2014 د جون تر 30 پورې، د امريکا حکومت نږدې 30.6 ميلياره امريکايي ډالر برابر کړي ترڅو په افغانستان کې د حکومتوالي او اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ملاتړ وکړي. د تخصيص شوي مرستو ډيری برخه د څلورو مهمو پروګرامونو حسابونو ته تللي ده، لکه چرنګه چې پدې جدول3.25 کې ښودل شوي. د 2014 د جون تر 30 پورې، د دغو مرستو لپاره له تخصيص شوي 23.2 ملياردو امريکايي ډالرو څخه، نږدې 18.4 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف شوي او 15.2 ميلياردە امريکايي ډالر توزيع شوي دي.

3.25 جدول

**د افغانستان د پرمختګ لپاره ټول زياتيدونکي تخصيصونه، د 2014 کال د جون تر 30 پورې** (ميلياردونه ډالر)

| فنډ | مسؤله اداره | تخصيص شوي |
|---|---|---|
| ESF | USAID | $17.5 |
| CERP | DOD | 3.7 |
| TFBSO | DOD | 0.8 |
| AIF | STATE/DOD | 1.2 |
| **ټول** | | **$23.2** |

يادونې: ESF = د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق؛ CERP = د قوماندان بیړني خواب پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملياتونو لپاره کاري ځواک؛ AIF = د افغانستان زيربنا وجهي صندق.

سرچينه: د B ضميمه وګورئ.

## مهمې پيښې

پدې ربع کې د سياسي اوضاع د نامعلومتيا او د امريکا او ايتلاف ځواکونو د کميدلو له پايلې څخه د افغانستان اقتصاد خپلې ودې ته په کمه اندازه دوام ورکړی.

وروسته لدې چې د نړيوال مالي عمل کاري ځواک (FATF) لخوا د "تور خړ دريځ" ته راکښته شو، په تير ربع کې افغانستان نږدې و ترڅو د لوړ خطر، او د پيسو مينځلو پر وړاندې د مقرراتو په برخه کې په کمه اندازه د پرمختګ لپاره د يوه نه همکارې کوونکې هيواد په توګه په تور لست کې راوړل شي.[521] د افغانستان پارلمان د جون په مياشت کې د پيسو مينځلو ضد او تروريستانو ضد مالي قانون تاييد کړ، او دا کار د FATF د جون د ټولو غړو له غونډې څخه يو څه وړاندې ترسره شو.[522] د 36 حکومتي غړو اداري لخوا د تور لست نوم ورکول کيدای شول په ټوله نړی کې د افغانستان د بانکداری په اړيکو باندې اضافي اغيز ولري او د دې هيواد اقتصاد به يې کمزوری کړی وای.[523]

د ملګرو ملتونو د تحليلي ملاتړ او د تحريمونو د نظارت ټيم کلني راپور موندلي چې طالبان له مخدره توکو او غير قانوني کان کيندونو څخه ډير عوايد لاسته راوړي چې کيداى شي د افغانستان له حکومت سره به يې د يوې دايمي سولې لپاره د هغوى انګيزه کمه کړې وي.[524] سياسي او امنيتي سپارنه او د امنيتي لګښتونو ډيروالي او د حکومت کمو عوايدو، د مصرفوونکو او پانګه اچوونکو شک زيات کړی، او اقتصادې وده يې کمه کړې.[525] راپور اضافه کړې چې له سپارلو وروسته به د افغانستان لپاره د نړيوالو اقتصادي ملاتړ ته دوام ورکول اړين وي.[526]

پدې ربع کې، د پارلمان دواړو جرګو د کانونو د استخراخ، د پيسو مينځلو ضد، او د تروريستانو مالي تمويل ضد قوانين تاييد کړل، چې کيداى شي د بهرنيو مرستو، خصوصي پانګونې، او په افغانستان کې د پراخو کارونو پيدا کولو لپاره وړاند وينې ښې کړي.[527] لدې چې د قوانينو تاييدي د ربع په پاى کې ترسره شوي، د امريکا تطبيق کوونکي ادارو ونشو کولاى ترڅو رسنيو ته د دې راپور له تللو وړاندې د دغو قوانينو ارزونه ترسره کړي.[528] د بانکداری نوی قانون اوس هم ځنډيدلى دی.[529]

تر اوسه، د 1393 مالي کال (د 2013 د دسمبر 21 – د 2014 د دسمبر 20) لپاره د افغانستان عوايد د ماليې وزارت د بودجې تر نښو 20% کم و. که څه هم تر اوسه د مالیې عوايد تر 1392 مالي کال اضافه شوي دي، خو اوس هم د 1393 مالي کال تر نښو کم دي. له ماليې پرته عوايد او د ګمرکونو محصول د دواړو 1392 مالي کال (د کال تر دې نيټې) او 1393 مالي کال تر نښو کم دي.[530]

د راپور ورکولو پدې موده کې، د نړيوال وجهي صندق (IMF) کريديت غزولو آسانتياو ترتيب بيا کتنې او توزيع اوس هم لدې کبله ځنډيدلې چې د کورنيو عوايد په ټولولو او د قوانينو اړتياو په برخو کې افغانستان کم پرمختګ کړی. IMF د افغانستان اقتصاد د ارزونې نوي معلومات وړاندي کړي، چې د IV مادې راپور په نوم دی، او دا 2011 له نومبر څخه لمړی راپور دی. دا اداره دې پايلې ته رسيدلې چې پداسې حال کې چې پرمختګ شوی دی، مګر د افغانستان اقتصاد د سياسي او امنيتي اړوندو نامعلومتياو له کبله کمزوری دی.[531]

په پايله کې، د افغانستان حکومت د کابل بانک د رسوايي په اړه نور انفرادي کسان مسول ندي ګڼلي، او پدې ربع کې يې د کومو نويو نغدو پيسو لاسته راوړلو راپور هم ندی ورکړی.[532]

## اقتصادي لنډيز

په تير کال کې د افغانستان کورني ناخالصو محصولاتو وده تر ډيرې کچې کمه شوې ده. IMF، نړيوال بانک، او د آسيا پراختيايي بانک (ADB) ټولو دا وړاند وينه کړې چې د سياسي او امنيتي چاپيريال د بی ثباتی نامعلومتيا زياتوالي له کبله به د افغانستان کورني ناخالص محصولات (د کوکنارو له توليد څخه پرته) به د 2012 له لوړې کچې چې 14% و اټکل کيږي چې په 2013 کې به 3–4% ته راټيت شي.[533] له 2014 وروسته د نړيوالو مرستو او لګښتونو د تمه کيدونکي کموالي سره، نړيوال بانک د خپلو اساسي اټکلونو پر اساس په هر کال کې تر 2018 پورې د حقيقي ناخالصو کورني محصولاتو نږدې 5% ودې وړاند وينه کوي. نوره نامعلومتيا، چې له بې امنيتي او بې ثباتی سره ډيريږي، کيداى شي وده نوره هم له خنډ سره مخامخ کړي. مګر، له 2003 څخه تر 2012 پورې په هرکال کې په منځنی کچه د افغانستان اقتصاد 9.4% وده کړې، کله چې د دې هيواد اقتصاد د نړيوالو نظامي لګښتونو او پراختيايي مرستو سره ځواکمن شوی و.[534]

په تيرو دوو کلونو کې د مصرفوونکو قيمتونه تر ډيرې کچې باثباته و، او د نړيوال بانک په وينا، د 2012 په پرتله چې 6.3% و، په 2013 کې انفلاسيون 7.7% حساب شوی. IMF موندلي چې د افغانستان بنسټيزه اقتصادي پاليسي په مناسبه توګه انډوليزه ده.[535] د دې هيواد مالي پاليسي، د مرستندويانو مالي مرستو سره، هم په پراخه کچه انډول لري، مګر IMF سپارښتنه کوي چې حکومت بايد نور ترسره کړي ترڅو کورني عوايد زيات کړي او د بودجې مديريت ښه کړي. د ټيت انفلاسيون د ساتلو لپاره، د افغانستان مالي پاليسي بايد د خپلو نړيوالو اسعارو ذخيرې ته دوام ورکړي، د پيسو د توليد وده محدوده کړي، او د اسعارو د بدلولو يو بدلون لرونکی نرخ وساتي.[536] IMF ويلي چې دا ستراتيژي د مرستندويانو په دوامدارو مرستو پورې اړه لري چې د 2012 شيکاګو په کنفرانس کې يې ژمنه کړې وه، او د افغانستان پخپلو ژمنو پوره کولو پورې اړه لري، چې "دا به د مرستندويانو د ډاډ ساتنې لپاره اړين وي."[537]

## مالي دوام

نړيوال بانک د افغانستان مالي راتلونکی له نورمال حالت څخه ټيټ بولي او کيدای شي پخپل ځان باندې تکيه کولو په لور پرمختګ وځنډوي.[538] تمه کيږي ترڅو د امنيتي لګښتونو، خدماتو رسولو، اړينو زيربناو جوړولو، او د عملياتونو او ساتنې لګښتونو له کبله به د افغانستان حکومت لګښتونو زياتوالی دوام پيدا کړي.[539] دا به د مرستندويانو دوامدارو مرستو او د عوايدو ټولولو ښه والي ته اړتيا ولري.[540]

د تيرو دوو مالي کلونو په پرتله چې 60% او 65% و، د افغانستان د مالي دوام تناسب، کورني عوايد د عملياتونو د لګښتونو په پرتله، د 1393 مالي کال په لمړنيو څلورو مياشتو کې نږدې 57% ټيټ شوي.[541]

د تير کال د ورته ربعونو په پرتله چې کورني عوايد 22.32 ميليارده افغانی و، د افغانستان اوسني مالي کال په دوو لمړنيو ربعونو کې، کورني عوايد 23.41 ميلياره افغانی و.[542] مګر، د نړيوال بانک لخوا د افغانستان د قيمتونو د انفلاسيون د راپور ورکړی شوي نرخ سره، له يوه ربع څخه تر بل ربع پورې، په کورني عوايدو کې 4.88% زياتوالي د نړيوال بانک له راپور ورکړ شوي نرخ سره يې سرعت ندی ساتلی، ځکه نو د عوايد د ودې حقيقي اخيستلو ځواک ارزښت له هغه څه چې ښکاري کم دی.

د حکومت د کورنيو عوايد چې تر زياتې کچې له ماليو او ګمرکونو له محصولونو څخه لاسته راځي، له متحدې بودجې (عملياتي بودجه او پراختيايي بودجه) ترمنځ واټن ډير دی، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.30 کې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي.[543] IMF اټکل کړی چې د افغانستان مالي واټن، چې د بودجې او د بودجې څخه دباندې اړتيا څخه جوړ شوی، په هر کال کې تر 2018 پورې په منځنۍ کچه 7.7 ميلياردہ امريکايي ډالر (د کورنيو ناخالصو محصولاتو 33%) دي.[544] دا به د افغانستان توان محدود کړي ترڅو د مرستندويانو له ډير ملاتړ پرته اړين خدمات ورسوي او کيدای شي له خپله ځانه پوره کيدلو پرمختګ ځنډنی کړي.[545]

## د عوايدو رامنځته کول

د IMF په وينا، د افغانستان مالي دوام لپاره د کورنيو عوايد رامنځته کول يو لمړيتوب دی.[546] د 1393 مالي کال په لمړنيو څلورو مياشتو کې، د 1392 مالي کال د ورته وخت په پرتله، ټول کورني عوايد 3.6% زيات شوي، مګر د افغانستان ماليې وزارت تر 20% پورې نښې ندي پوره کړي.[547] پردې برسيره، د 1393 مالي کال عوايد تر لګښتونو کم شوي دي.[548]

---

**عملياتي بودجه:** تر ډيرې کچې پدې کې روان لګښتونه لکه د عامه کارکوونکو لپاره معاشونه، د وزارتونو، بارکونو او نورو لپاره عملياتي لګښتونه شامل دي.

**پراختيايي بودجه:** د پراختيايي پروژو لپاره د حکومت بودجه چې د حکومت ادارو لخوا تطبيقيږي، لکه د نوي ښوونځيو او سړکونو جوړول. تر ډيرې کچې دا پروژې د مرستندويانو لخوا تمويليږي.

سرچينه: MOF، "د 1393 مياشتنی مالي خبرپاڼه، 4 مياشت،" 5/25/2014، د لاسرسي نيټه 7/2/2014.

شکل 3.30

**د افغانستان کورني عوايد د عملياتي او پراختيايی مصارفو په پرتله** (مليون ډالر)




يادونې: تردې وروستيو پورې، افغان مالي کال د ميلادي تقويم کلونو شاوخوا د مارچ 20 څخه تر مارچ 20 پورې دوام کوي. FY 1388 د 2009 د مارچ 20 څخه تر د 2010 د مارچ 20 پورې و. د 1391 مالي کال لپاره د نهه مياشتو معلومات په افغان مالي کال کې د وخت بدلون دی. FY 1393 يوازې لومړی څلور مياشتې وړاندې کوي. د ډونر مرستې د کورني عوايد او بوديجې ترمنځ "مالي تشه" پوښي.

سرچينه: MOF، "د 1391 کلنی مالي راپور،" په 6/20/2013 خپور شوی؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" په 4/14/2014 خپور شوی؛ MOF، "د FY 1392 مياشتني مالي خبرونه، مياشت 12،" 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی؛ MOF، "د FY 1393 مياشتني مالي خبرونه، مياشت 4،" 5/25/2014، په 7/2/2014 خپور شوی؛ د افغانستان بانک، "افغانيو ته د ټاکل شوي اسعارو ورځنی بيه،" 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی؛ د افغانستان بانک، "افغانيو ته د ټاکل شوي اسعارو ورځنی بيه،" 5/25/2014، په 7/2/2014 خپور شوی.

عوايد هم د کورنيو ناخالصو محصولاتو په پرتله کم شوي دي. عموماً د حکومت د عوايدو ټولولو د کمزورۍ او د اقتصادي فعاليتونو د کموالي پايلو له کبله، نړيوال بانک په 2013 مالي کال کې، کورني عوايد د کورنيو ناخالصو محصولاتو په 9.6% حساب کړي، او دا د 2012 په پرتله چې کې 10.3% او په 2011 کې 11% و.[549]

د افغانستان لپاره د IMF رييس د 2014 په مې کې ويلي و چې د عوايدو ډيرولو لپاره د حکومت ستراتيژي څلور برخې لري: له مالي ورکولو څخه شه اطاعت، د اضافه شوي ارزښت ماليه (VAT)، د افغانستان د کانونو سکتور پراختيا، او پر VAT باندې د نويو ماليو اضافه کول.[550] پدې ربع کې، د VAT قانون د پارلمان د دواړو جرګو لخوا تاييد شو او د يوه ګډ کميسون په تمه دی ترڅو تقنيني توپيرونه سره همغږي کړي.[551] کله چې دا

## د سيګار پلټنه

د سيګار د پلټنې يو راپور چې په تير ربع کې خپور شوې مونډلي چې، سره لدې چې امريکا 198 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي ترڅو د افغانستان ظرفيت ته وده ورکړي او وکولای شي د ګمرکونو عوايدو ارزونه وکړي او ټول کړي، د حکومت لپاره د يوې باثباته سرچينې په توګه د دغو عوايد راټلونکی نامعلوم دی.

کار ترسره شي، IMF ويلي چې افغانستان به يوه کال ته اړتيا ولري ترڅو مالي پېژندنې لپاره تيارى ونيسي.[552]

## سوداګري

د افغانستان د سوداګرى تر ټولو لوى ملګرى پاکستان دى، او وروسته بيا امريکا، اروپايي ټولنه، او سيمه ايز ګاونډيان راځي.[553] له 2006 څخه تر 2013 پورې د سوداګرى اړندو ماليو د افغانستان د ټولو ماليو د عوايدو 45% استازيتوب کاروو.[554]

### د افغانستان د سوداګرى او عوايدو پروژه

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پاى نېټه | ټول اټکل شوى لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټولټيز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان سوداګري او عوايد | 11/7/2013 | 11/6/2017 | $77,754,267 | $6,367,032 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د افغانستان د سوداګرى او عوايدو پروژه (ATAR) د USAID د سودګراى د آسانتياو پروګرام دى او د دغو لپاره ډيزاين شوى (1) د نړيوالې سوداګرى له نړيوال سازمان (WTO) سره د افغانستان يوځاى کيدل، (2) د سيمې د دوه اړخيزو او څو اړخيزو تړونونو ملاتړ، (3) د عوايدو ټولولو لپاره د حکومت توان ښه کول او تنظيمول.[555] په 2014 کې ATAR د سوداګرى له نړيوال سازمان سره د افغانستان د يوځاى کيدلو ملاتړ کوي، او پداسي حال کې چې افغانستان د يوځاى کيدلو په ښه وضعيت کې دى، USAID ويلي چې د افغانستان حکومت بايد هغه قوانين چې د سوداګرى نړيوال سازمان له ستندردونو سره په ټکر کې دي جوړ کړي او د وزارتونو ظرفيت ښه کړي. ATAR د افغانستان له حکومت سره د سوداګرى له نړيوال سازمان سره د اړوندو قوانينو مسودې جوړولو او د مارکيټ لاس رسي خبرو په برخو کې چې د WTO سره يوځاى کيدلو د پروسې يوه برخه ده مرسته کوي. ATAR د افغانستان د ګمرکونو له چارواکو سره هم کار کوي ترڅو د ګمرکونو پروسې عصري او تنظيم کړي.[556]

## د غزول شوي کريډېټ سهولت برابرول

د IMF د 129 ميليونو امريکايي ډالرو غزول شوي کريډېټ سهولت (ECF) پور موافقه چې د 2011 په نومبر کې لاسليک شوې، لکه څرنګه چې د IMF د اداري او اجرايي بورډ لخوا پريکړه شوې، توزيعات د پروګرام د بياکتنې د بشپړيدو پر اساس ټاکلي. تر دې نيټې، IMF د 18.2 ميليونو امريکايي ډالرو دوو توزيعاتو اجازه ورکړې، يوه د ECF په لمړنى تاييد کې، او دويمه د 2012 په جون کې، د بورد له لمړنى بياکتنې وروسته. د فعاليت د نښو نه پوره کولو، د اقتصادي خبرداريو پر وړاندې د غيرمناسبو پاليسو ځوابونو، او په جوړښت کې د اصلاحاتو ځنډ له کبله، نه د IMF دويمه بياکتنه، چې په اصل کې د 2012 لپاره پلان شوې وه، او نه هم دريمه بياکتنه، چې په اصل کې د 2013 مارچ لپاره پلان شوې وه، بشپړه شوې ده.[557]

### د سيګار پلټنه

سيګار د افغانستان د ګمرکونو د عوايدو ټولولو په يوې پلټنې کې وموندل چې که څه هم د TAFA او ATAR د قرارداد په سندونو کې د خطر مديريت او تادياتو بريښنايي سيسټم ته اشاره شوې، د ATAR قرارداد له تطبيق کوونکو ملګرو څخه دا غوښتنه نه کوي ترڅو د سيستمونو د تطبيق لپاره کلنى نښې پوره کړي. USAID ويلي چې تطبيق د افغانستان د حکومت مسوليت دى.

### د اوږد مهاله کريډيټ سهولت (ECF):

دا د درې کلونو يو پروګرام دى چې د افغانستان او نورو هيوادونو لپاره مالي مرسته برابروي، او دا د نړيوال وجهي صندق يوه مهمه وسيله ده ترڅو د کمو عوايدو هيوادونو لپاره د منځنى مهال لپاره مرسته برابره کړي. د ECF مرسته عموماً د هغو پورونو له لارې برابريږي چې د ټکټانې نرخ يې صفر سلنه وي.

سرچينه: سيګار پلټنه 16-14، د افغانستان بانکدارى سکټور: د خصوصي بانکونو د تنظيم لپاره د مرکزي بانک ظرفيت اوس هم کمزورى دى 1/2014.

پداسي حال کې چې IMF د پیسو د ودې نښې برابرولې ترڅو د بنسټیز اقتصاد باثباته کړي، له تمې کښته اقتصادي وضعیت د دې سبب شوی ترڅو د 2013 په مې کې IMF، ECF تعدیل کړي ترڅو د کمو عوایدو، لګښتونو، بهرنیو مالي اسعارو ذخیرو حساب وکړي. پردغو برابرولو او د حکومت د اصلاحاتو پر هڅو برسیره، د کمیت نښې پوره شوې ندي، د جوړښتونو اصلاحاتو ځنډېدونو دوام موندلی، او د نوي ټاکل شوي حکومت لپاره تمې د دې سبب شوي ترڅو نورې بیاکتنې وځنډېږي. روان ECF د 2014 کال په نومبر کې پای ته رسیږي.[558]

## بانکداري او مالی چارې

نړیوال بانک راپور ورکړی چې د افغانستان د بانکداری او مالي سکتور، چې د 2010 کابل بانک له کړکیچ څخه بیرته په پښو ندی دریدلی، له غیر مناسبو مقرراتو او نظارت، کمو عوایدو، او د مصرفوونکو ډاډ لاسه ورکولو څخه رنځ وړي.[559]

یو څو افغاني بانکونه له نړیوالو معیارونو سره سم کار کوي. د 2013 د نړیوال بانک په وینا، د کابل بانک له رسوایي وروسته د افغانستان د هغو لویو بانکونو پلټنه چې ترسره شوې "د بانکونو د مدیریت او عملیاتونو په ټولو ساحو کې یې سیستماتیک کمزوری ښکار کړي دي." [560] د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغانستان بانکونه له سیاسي لاس وهنې او نظارت نشتون څخه رنځ وړي.[561] پردې برسیره، د پیسو مینځلو او تروریستانو مالي تمویل پر وړاندې د افغانستان اوسني کنترولونه هم تر ډیرې کچې کمزوري دي.[562]

ډیری افغانان پر بانکونو باندې اعتماد نلري ي، او ترجیح ورکوي ترڅو له کورنی او ملګرو سره پور واخلي او پیسې وسپموي، او پیسې د حوالې شبکو له غیر قانوني لارو لیږي.[563] د نړیوال بانک په وینا، سودګریز پورونه د کابل بانک له کړکیچ وروسته کم شوي، او د پیسو ساتلو او پورونو تناسب د بانکداری په سکتور کې په 2010 له 56.8% په 2013 کې 22.6% ته را کم شوی.[564] افغانان هم په منظمه توګه تر خپلې ملي پیسې له بهرنیو پیسو څخه کار اخلي.[565] د افغانستان مرکزي بانک په وینا، د 2012 د جنوری په پیل کې، یو امریکایي ډالر 49 افغانی و؛ د 2014 د جون په 30، یو امریکایي ډالر 58 افغانی و.[566]

### د سیګار پلټنه

د سیګار د 2014 جنوری یوه پلټنه دې پایلې ته رسیدلي چې د امریکا له مرستې پرته، او د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندق له محدودې بوختیا سره، د افغانستان د بانکداری سکتور اوس هم بې ثباته دی او د نورې بې ثباتی په خطر کې دی، او د دوامدارې اقتصادي او مالي ودې لپاره یو ګواښ دی.

**د پور او ساتل شوي پیسو تناسب:** لدې څخه د بانک د منحلولو ارزولو لپاره کار اخیستل، ټول پورونه په ساتل شوي پیسو باندې تقسیمیږي، او د سلنې په توګه ویل کیږي. لدغو څخه د مالي بنسټونو هغه توان اندازه کیږي چې له حسابونو څخه د مشتریانو پیسو ایستلو غوښتنې پوره کړي. که تناسب ډیر لوړ وي، کیدای شي بانک په کمه اندازه پیسې ولري ترڅو نه تمه کیدونکي غوښتنې پوره کړي. که چیرته ډیر ټیټ وي، نو بانک نشي کولی څومره پیسې چې کولای شي تر لاسه یې کړي.

سرچینې: اینوستو پیدیا، "د پور او ساتل شوي پیسو تناسب،" http://www.investopedia.com/terms/l/loan-to-deposit-ratio.asp، لاس رسی 9/30/2013؛ د مالي چارو فورمولونه، "د پور او ساتل شوي پیسو تناسب،" http://www.financeformulas.net/Loan-to-Deposit-Ratio.html، لاس رسی 9/30/2013.

## د بانکداری قانون

د افغانستان د بانکداری نوی قانون اوس هم د افغانستان د پارلمان په تمه دی.[567] د امریکا مالیې وزارت په وینا، که دا قانون وضع نشي کیدای شي د مالي سکتور د حکومتوالی او اداري کمزوری سبب شي: د افغانستان بانک (DAB) به د بانکداری مقرراتو په پلي کولو کې کم صلاحیت ولري، د بانکداری په سکتور کې اوسنی مهمې کمزوری به پر ځای پاته شي، او د بانک آمرین به د خپلو دندو په ترسره کولو کې کم خوندیتوب او صلاحیت ولري. د بل بانک د له منځه وړلو په حالت کې به، او د دې حالت د حل د لارې لپاره به حقوقي کاري چوکاټ هم شتون ونلري.[568]

## د پیسو مینځل

د امریکا دفاع وزارت افغانستان د پیسو مینځلو د یوه لوی هیواد په لست کې راوړی او د اندیښنې وړ هیوادونو په کټګوری کې یې راوړی، چې "مالي بنسټونه یې په هغو معاملو کې برخه اخلي چې د ډیرو خطرناکو جرمونو پیسې پدې کې شاملې دي یا لدغو فعالیتونو څخه په ځانګړې توګه کمزوري دي، ځکه چې د لارښوونې یا قانون پلې کولو رژیمونه یې

شتون نلري یا سیاسي اراده نشته.“ [569] د بازل انستیتوت د 2013 کال د حکومتوالی مطالعې په وینا، افغانستان د هغو کمزورو هیوادونو په لست کې هم راغلی چې د پیسو مینځلو او ترویستالو تمویل په خطر کې دی، او لدې وروسته بیا د ایران هیواد دی.[570]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو د کنترول ستراتیژۍ د راپور په وینا، مخدره توکي، اداري فساد، او د قرارداد تقلب د هیواد د غیر قانوني عوایدو لویې سرچینې دي. راپور وایي چې غیر قانوني مالي فعالیتونه ”اوس هم د افغانستان امنیت او پراختیا لپاره خطرناکه ګواښونه دي.“ او پدې کار کې د حوالې طریقې ډېره برخه لري ځکه چې پیسې له انتقالولو پرته لیږي. افغانان د حوالې پر شبکو ځکه تکیه کوي چې رسمي فساد شتون لري او د بانکداری سکتور کمزوری دی. د مخدره توکو د تولید په ساحو کې لکه هلمند، د حوالې بې لیسنسه او نه تنظیم شوي صرافان د افغانستان په مالي سیستم کې د پیسو مینځلو د ډېرې برخې مسولیت لري. مګر د افغانستان د سوداګری کنسورسیمونه چې د حوالو او بانکونو مالکان دي هم پدې کې لاس لري.[571]

## د مالي چارو د عمل کاري ځواک

د مالي عمل کاري ځواک (FATF) د 2014 د جون په 25–27 خپله وروستی عمومي غونډه جوړه کړې، او ویلي چې افغانستان ګامونه اخیستي ترڅو د خپلو پیسو مینځلو ضد/او تروریزم مالي تمویل سره مبارزې رژیم (CFT/AML) ښه کړي. افغانستان د هغو هیوادونو د FATF له ”تور ایرن“ لست ځکه چې په پوره اندازه پرمختګ یې ندی کړی وتلی، او د نړیوال CFT/AML سره د اطاعت پرختګ په ځای کې راغلی: روانه پروسه یا ”خړ“ لست.[572]

افغانستان یوازې یوه ورځ د FATF د جون د ټولو غړو غونډې د پای نټې ځخه وړاندې د جون په 24 د پیسو مینځلو ضد قانون تایید کړ؛ ولسمشر کرزي دا قانون د جون په 25 د ټولو غړو غونډې په لمړی ورځ لاسلیک کړی.[573] د جون په 25 پارلمان د تروریستانو د تمویل ضد قانون هم تایید کړ، او ولسمشر د جولای په 3 د ټولو غړو له غونډې شپږ ورځې وروسته، دا قانون لاسلیک کړ.[574] که څه هم FATF نشو کولای ترڅو په پوره توګه دا قانون د ټولو غړو له غونډې وړاندې وګوري، ځکه چې پارلمان د پای په شیبو کې دا قانون تایید کړ، مګر پریکړه یې دا وه چې افغانستان پرمختګ کړی دی. FATF به د 2014 په اکتوبر کې د ټولو غړو په بله غونډه کې د افغانستان د CFT/AML د قوانینو اطاعت ستندردونو او تطبیق ارزونه ترسره کړي.[575]

د افغانستان ډېری بانکونه د خپلو یوه یا ډیرو دوو اړخیزو اړیکو حسابونه د ترلو یا د محدودیتونو له کبله اغیزمن شوي، او د افغانستان د CFT/AML د رژیم او په بانک کې د اطاعت د پروسو د کمزوریو له کبله د راتلونکي ترلو په خطر کې دي.[576] د امریکا مالیې وزارت ویلي چې نړیوالو بانکونو ګامونه اخیستي ترڅو د کلک تنظیموونکي چاپیریال په ځواب کې د خپلو اطاعت خطرونه کم کړي. مګر، د امریکا مالیې وزارت تمه لري چې د دوو اړخیزو اړیکو ځینې مهم حسابونه به وساتل شي.[577]

پدې ربع کې، په ترکیې کې اکتیف بانک راپور ورکړی چې د افغانستان بانکونو لپاره یې د امریکایي ډالرو حسابونه ترلي دي.[578] رسنیو هم د افغانستان مرکزي بانک د چارواکو په وینا راپورونه ورکړي، چې هغوی ویلي چینایي بانکونو هم د افغانستان له بانکونو سره د ډالرو معاملې درولې دي، او لدې کبله شرکتونه نشي کولای ترڅو د وارداتو لپاره پیسې تادیه کړي.[579] مګر، د چین حکومتي رسنی دا راپور ډېر بې ”معنی“ ګڼلی.[580]

> ”په اوس وخت کې افغانستان دا توان نلري ترڅو د نړیوالي ټولنې له مرستې پرته خپلواکه او دومداره مالي تحقیق ترسره کړي؛ پدې مهمه برخه کې له 2014 وروسته اضافي استادی او روزنې ته اړتیا ده.“

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د DEA ځواب، 6/30/2014.

**د مالي عمل دندې ځواک (FATF):** دا یو شمیر هیوادونو د پالیسی جوړولو اداره ده ته چې ستندردونه جوړوي او د پیسو مینځلو، تروریستانو مالي تمویل، او د نړیوال مالي سیستم د ګواښونو پر وړاندې د حقوقي، مقرراتي، او عملیاتي فعالو ګامونو تطبیقول هڅوي.

**دوه اړخیزه حسابونه:** هغه حسابونه چې د یوه هیواد د مالي بنسټ لخوا تاسیس شوي ترڅو وکولای شي پیسې واخلي او د یوه بل هیواد د مالي سیستم له لارې پیسې ولیږي، او له هغو محصولاتو او خدمتونو څخه ګټه واخلي چې کیدای شي پخپل هیواد کې یې شتون ونلري.

سرچینې: د مالي عمل دندې ځواک ویب پاڼه: ”مونږ څوک یو،“ لاس رسی 4/2/2014؛ د فیډرال مالي بنسټونه د بانک شورا ارزوني مهرمیت قانون/د پیسو مینځلو پر وړاندې د معلوماتو اساس، ”دوه اړخیزه حسابونه (بهرني)—لنډیز،“ لاس رسی 10/1/2013؛ د مالي جرمونو پلې کولو شبکه، حقیقت پاڼه: د امریکا د پاټریوټ قانون 312 برخه د پای مقررات او د وړاندیز شوي مقررتو جوړولو خبرتیا،12/2005 ، لاس رسی 7/18/2014.

د FATF په تور لست کې راتلل په اجباري توګه د بانکونو اړیکو خرابیدلو په معنی ندي، مګر که په مهمو قضیو کې لکه ایران او شمالي کوریا چې د نړیوال مالي سیستم لپاره ګواښ وي، کیدای شي د FATF له غړو غوښتنه وشي ترڅو ددغو پر ضد مالي ضد ګامونه واخیستل شي، لکه د لوړ خطر له هیوادونو څخه د دوو اړخیزو اړیکو غوښتنو نه منل ترڅو د هغوی په هیوادونو کې څانګې پرانیزي.[581]

د دوو اړخیزو حسابونو له لاسه ورکول کیدای شي د افغانستان بانکونو ګټو ته تاوان ورسوي، ځکه چې د دغو بانکونو لپاره د نړیوالې سوداګرۍ معاملو فیسونه د عوایدو مهمه سرچینه ده، او د تنظیمونکي په سخت چاپیریال کې ځینې بانکونه د نویو مشتریانو په منلو کې ډیر پام کوي. د امریکا مالیې وزارت ویلي چې د دوو اړخیزو اړیکو بانکونو سره د افغان مشتریانو لپاره اضافي ستونزه کیدای شي نورماله سوداګرۍ او مالي چارې له خنډ سره مخامخ کړي. د امریکا مالیې وزارت دا هم ویلي چې د دوو اړخیزو حسابونو له لاسه ورکولو اقتصادي پایلې کیدای شي زیاتې وي، که څه هم د دې کار وړاندوینه ستونزمنه ده.[582]

## کابل بانک

وروسته لدې چې د 2013 د مارچ په 5، د سترې محکمې، ځانګړې دیوان د 21 متهمو کسانو په اړه چې په تقلب متهم شوي و خپل حکم صادر کړ، د افغانستان لوی څارنوال دفتر (AGO) نوي اتهامونه ندي صادر کړي، نوي محاکمې یې ندي پیل کړي، او اضافي ګټه اخیستونکي یې ندي متهم کړي، سره لدې چې دواړو ابتداییه محکمې او د استیناف محکمې حکم کړی و ترڅو دا کار ترسره کړي یا توضیح ورکړي چې ولې یې دا کار ندی کړی.[583] د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) ویلي چې دا ګټه اخیستونکي د میلیونونو ډالرو شتمنی لري چې کیدای شي د ضبطولو تر لاندې راشي.[584]

پدې ربع کې، په کابل کې د امریکا عدلیې وزارت (DOJ) استازي له لوی څارنوال سره د نورو کسانو محاکمه کولو مسله راپورته کړې، مګر کومه ګټه یې ندرلوده. پلان شوي غونډې څو ځلې فسخه شوې، او دا هغه کار و چې د امریکې سفارت له نورو لوړ پوړو چارواکو سره هم ترسره شوی.[585]

د 2013 د مارچ په 16، د افغانستان لوی څارنوال دفتر، د ټولو 21 قضیو، پشمول د دوو متقلبو مشرانو، پخواني رییس، شیرخان فرنود او پخوانی اجرایي رییس، خلیل الله فیروزي، هغه کسان چې د لنډ وخت پنځو کلونو بند ورکړ شوی او ورڅخه غوښتنه شوې ترڅو کم تاوان تادیه کړي، د حکم په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړه.[586] د امریکا عدلیې وزارت باور لري چې د ابتداییه محکمې حکم د جرم اساسي تیروتنه څرګنده کړې، او تر ډیرې کچې هغه غلط باور چې د پیسو مینځل ندي ترسره شوي.[587] د استیناف محکمې پریکړه اوس هم په تمه ده.[588]

پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې پدې استیناف غوښتنه کې د لوی څارنوال مخکښ څارنوال ویلي چې هغه نه غواړي ترڅو د محکمې حکم پراساس هغه غونډه جوړه کړي چې نه متهم شوي سهم لرونکي، له فرنود او فیروز سره یوځای له څارنوالانو او د کابل بانک تصفیه کوونکو سره غونډه وکړي، او ترڅو چې نوي اداره پخپل کار پیل کوي، د مدعیانو مالي مسولیتونو سره شخړې حل کړي.[589] د اپریل په میاشت کې، د امریکا عدلیې وزارت د سترې محکمې له ریس سره لیدلي او پوښتنه یې کړې چې د استیناف له محکمې څخه د افغانستان قانون غوښتنه څه ده ترڅو د محاسبې مسلې حل کړي وړاندې تردې چې

**وړاندې تر دې چې په 2010 کې له منځه تلو ته نږدې و، کابل بانک د افغانستان تر ټولو لوی خصوصي بانک و، او د افغانستان حکومت په استازیتوب یې د ډیریو ملکي کارکوونکو معاشونه توزیع کول. له دې بانک څخه د 935 میلیونو امریکایي ډالرو له 92% څخه زیات غلا شوي پیسې، 19 هغو انفرادي کسانو او شرکتونو ته تللي چې لدې بانک سره یې تړاو درلود. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه ورکړ چې په هغه وخت کې د افغانستان د GDP، 5–6% کیدله.**

سرچینه: د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه، د کابل بانک د کړکیچ په اړه د عامه معلوماتو لپاره راپور، 11/15/2012، مخونه 2، 9.

د جرم يا بې ګناهی حکم صادر کړي. د امريکا عدليي وزارت په وينا، د سترې محکمې ريس داسي ځواب ورکړ لکه بله پوښتنه چې شوې وي.[590]

## محدود نقدي پيسې او د شتمنيو بيرته لاسته راوړل

د راپور ورکولو پدې موده کې، له کابل بانک څخه د غلا شويو پيسو د بيرته لاسته راوړلو په اړه کوم نوي معلوماتو شتون ندرلود.[591] د افغانستان بانک په وينا چې د دغو معلوماتو يووازينی سرچينه ده، د 2013 سپتمبر تر 30 پورې، ټولې بيرته لاسته راغلي پيسې 174.5 ميليونو امريکايي ډالرو کې پاته دي، او دا د غلا شويو پيسو 20% دي.[592] د امريکا عدليي وزارت خبرداری ورکړی چې کيدای شي د افغانستان حکومت دا ادعا وکړي ترڅو د آريانا افغان هوايي شرکت ته د پامير هوايي شرکت ته چې يوه حکومتي تصدی ده، د کابل بانک سهم لرونکې يې مالکان و، له پلورلو څخه د اضافي 24 ميليونو امريکايي ډالرو لاسته راوړلو لپاره يې ستاينه وشي.[593] د امريکا عدليي وزارت ويلي چې داسي نښې نشته چې په حقيقت کې آريانا نورو الوتکو ته اړتيا درلوده، او پدې وروستيو کې يوه 737 بوينګ سپارل شوي الوتکې د کابل په هوايي ډګر کې ټکر وکړ. پدې ټکر کې سخت ټپې کيدل نه و، مګر الوتکه په بشپړه توګه له منځه ولاړه او ټکر د هوايي ډګر د الوتنو د کنترول تجهيزاتو ته د 600,000 امريکايي ډالرو تاوان ورساو.[594]

پدې ربع کې، د هغو کسانو پر وړاندې چې د پيسو د بيرته تاديه کولو د اوسنيو شرطونو په پوره کولو کې پاته راغلي، د امريکا عدليي وزارت د بيرته تاديه کولو د کوم نوي يا اضافي پلانونو، يا د افغانستان لوی څارنوال د دفتر لخوا د جريمې کولو له ګامونو اخيستلو څخه خبر ندی. مګر، هغه تجارتي ديوان چې د دې لپاره جوړ شوی ترڅو له مدنې لاسته راوړلو هڅو سره مرسته وکړي بانکونو او ښارواليو ته حکم کړی ترڅو د کابل بانک د 52 پور ګټه اخيستونکو شتمنی ضبط کړي. بانکونو لدې غوښتنې څخه اطاعت کړی، مګر ښارواليو دا کار ندی کړی. کله چې د کابل بانک د تصفيې استازو په مزار شريف کې د حکم پلې کولو هڅه وکړه، هغوی د وسلو په ميلونو له هغه ځای څخه ايستل شوي.[595] که څه هم د افغانستان په حکومت کې ځينې انفرادي کسان د کابل بانک د حساب ورکولو په اړه ټينګار کوي، د امريکا دفاع وزارت ويلي چې په سياسي لوړ پوړو چارواکو او لوړ پوړې مشرۍ کې عمومي اراده تر "ډيرې کچې نشته او تر ډيرې کچې د هغوی هڅې ناکامې" وې.[596] لکه څرنګه چې د ټوکيو د دوو اړخيزو حساب ورکولو په کاري چوکاټ کې د "سختو کارونو ترسره کولو" کې راغلي، د افغانستان حکومت د شتمنيو په بيرته لاسته راوړلو کې د ټولو ممکنه ګامونو اخيستلو کې پاته راغلی دی.[597] د امريکا دفاع وزارت څو ځلې ويلي چې د افغانستان لوی څارنوال دفتر او د حکومت لوړ پوړو چارواکو چې کولای شول هغه ګامونه واخلي مګر اخيستې يې ندي دا دي:[598]

- د دوو اړخيزو اصلي حقوقي مرستې لاسته راوړونکو د غوښتونکو لپاره د ځانګړې ديوان حکم کاپې ګانو برابرول، او د دغو محاکمې حکمونو پر اساس د شتمنيو د ضبطولو غوښتنه کول.
- د پاته ګټه اخيستونکو محاکمې ته راوستل (لکه څرنګه چې د دواړو ابتداييه او استيناف محکمې حکم و) او د اړوندو حکمونو صادرول ترڅو د هغوی کورنی شتمني ضبط شي
- د څارنوالانو د يوه ټيم او/يا متخصصينو چمتو کول چې د شتمنی د تعقيبولو او بيرته لاسته راوړلو په اړه ليواله يې، او دا صلاحيت ورکول ترڅو له نړيوالو ملګرو سره په آزاده توګه کار وکړي

**د هغو کسانو لپاره چې د کابل بانک په کړکيچ کې مسوليت لري د شتمنی د بيرته لاسته راوړو او حساب ورکولو پلې کول د ټوکيو د دوو اړخيزو حساب ورکولو کاري چوکاټ او د نړيوال وجهي صندق د موافقو پر اساس د افغانستان ژمنې دي.**

سرچينه: د افغانستان په اړه د ټوکيو کنفرانس، د ټوکيو د دوو اخيزو حساب ورکولو کاري چوکاټ، 7/8/2012، لاس رسی 7/4/2013؛ IMF، 2014 د مشورې – کارکوونکو راپور IV ماده؛ رسنيو اعلاميه؛ او د افغانستان د اسلامي جمهوري د اجرايي ريس لخوا اعلاميه، 5/2014.



د افغانستان حکومت په ملکيت هوايي شرکت ته **يوه سپارل شوې الوتکه** د کابل په هوايي ډګر کې په خرابه توګه پرته ده. (د FAA عکس)

- د ابتداييه محکمې د تاوان لاسته راوړلو له حکم سره سم، د پخواني ريس، شيرخان فرنود او د پخواني، اجراييه ريس، خليل الله فيروزي، د ټولو کورنيو شتمنيو پيژندل او ضبطول

## د امريکا د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

د امريکا د 2013 ملکي – نظامي ستراتيژي کارى چوکاټ د افغانستان د اقتصادي – سپارلو ستراتيژي څخه دا غوښتنه لرې ترڅو په 2014 کې د نړيوالو ډيريو امنيتي ځواکونو د وتلو اقتصادي منفي اغيز او د مرستندويانو په مرستو کې اړوند تمه کيدونکى کموالي منفي اغيز کم کړي. دا ستراتيژي پدې لټه کې هم ده ترڅو د دوامدارې ودې لپاره د افغانستان سرچينو له پراختيا سره مرسته وکړي.[599] امريکا له پاليسيو څخه ملاتړ کوي، تخنيکي مرسته برابروي، او څو اړخيزو بنسټونو لکه د IMF او نړيوال بانک د هڅو ملاتړ کوي ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي او خپل کورني عوايد زيات کړي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د ملي امنيت شورا له لارې، د ځو ادارو په کچه، د امريکا اقتصادي ستراتيژي همغږې کيږي.[600]

د اقتصادي ملاتړ له وجهي صندق (ESF) څخه ډيرى مرستې د USAID پراختيايي پروګرامونو ته ځي. شکل3.31 د هر سکتور په اساس د USAID مرستې ښيي.

شکل 3.31

**د USAID د پراختيا مرسته، د 2014 د جون تر 30 پورې** (مليون ډالر)




يادونې: شميرې ګردي شوي. د پروګرام ملاتړ پروژو کې لوازم، معاشات، د فعاليت سنجول، د پايلو تعقيب، تخنيکي مرسته وزارتونو ته او ARTF فنډ ورکول شامل دي.

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

USAID په څلورو اقتصادي زونونو کې چې د مهمو ښاروالیو، مارکيټونو، او سوداګرى لارو په مرکزونو کې دي پخپلو اقتصادي او کرنيزو پروګرامونو باندې کار کوي. د ثبات او محلي حکومتوالى پروګرامونه به د دغو مرکزونو په شاوخوا او دننه ساحو کې کار وکړي ترڅو د زونونه د بې ثباته کولو ځواکونو پر وړاندې خوندي کړي. د اوبو مديريت، روزنه، روغتيا، او د حکومتوالى فعاليتونه به د ټول هيواد په کچه پاته شي.[601]

لکه څرنګه چې پدې شکل 3.32 کې ښودل شوي، ختيځ زون د تورخم سرحد له دروازې څخه، چې د پاکستان ته د لاس رسي لار ده، تر جلال آباده، او د کابل په لور تر ساحو پورې ده. د شمال زون د کابل له شمال څخه پيليږي د کندز، بلخ، او مزارشريف په لور ساحو پورې،

### د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې، د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر USAID ته د هغو 19 قراردادونو تحليل وړاندې کړى چې له 2008 څخه USAID په افغانستان کې فسخه کړي دي. سيګار نظر ورکړى چې USAID دي د قراردادونو د فسخه کولو لپاره خپلې اوسنى پروسې ارزونه ترسره کړي، ترڅو د هغه وضعيت د آسانتيا لپاره په اتومات ډول د فسخه کيدلو پر وړاندې ځان خوندي کړي، چيرته چې د غلط کار لپاره فسخه کيدنه به سمه وي او عموماً د امريکا حکومت لپاره به کم لګښت ولري. د لا زياتو معلوماتو لپاره، د 2 برخې، 43 پاڼه وګورى.

شکل 3.32

**د USAID سيمه ايز اقتصادي زون**




سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/30/2014.

او په پايله کې له افغانستان سره د شمالي ګاونډيانو، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان تر سرحدونو پورې ده. په هرات کې لويديځ زون د "ترانسپورټي سهولتونه" لپاره جوړ شوی او له سرحدونو څخه د سوداګرۍ له تيريدلو سره مرسته کوي. جنوبي زون هملند له کندهار سره وصلوي، او د سپين بولدک دروازې له لارې تر پاکستانه رسيږي، او د حلقوي سړک له لارې کابل له هرات سره وصلوي.[602]

پدغو زونونو کې د افغانستان ډيرى اقتصادي فعاليتونه شامل دي، چې مهارت لرونکي کاري ځواک؛ ترانسپورت، انرژي، او د اوبو زيربنا ته لاس رسی لري؛ له کورنيو او نړيوالو مارکيټونو سره اړيکي لري، کرنيزې او د منرالونو سرچينې؛ او پانګه اچونکي او مالي امکانات لري ترڅو واړه او په منځنی کچه شرکتونو ته پراختيا ورکړي. د USAID پروګرامونه به د هر زون د پرتله کيدونکو له احتمالي ورتياوو څخه ملاتړ وکړي.[603]

## د افغانستان له حکومت سره د بودجې پر اساس د USAID مرسته

لکه څرنګه چې په 2014 کې نړيوال محاربوي ځواکونه له افغانستان څخه وځي، سيګار اوس هم د امريکا د تطبيق کوونکو ادارو په اړه انديښنه لري ترڅو وکولای شي د امريکا لخوا د بيارغونې تمويل شوي پروژو څخه مناسب نظارت ترسره کړي. د 2012 ټوکيو کنفرانس

د مرستندويانو له ورکړ شويو ژمنو سره سم، امريکا په منظمه توګه د افغانستان حکومت لپاره د بودجې پر اساس د خپلو پراختيايي مرستو اندازه ډېره کړې، مګر په 2012 او 2013 مالي کلونو کې په ټوکيو کې د ژمنې شوي 50% حدودو ته ندی رسيدلی.[604]

د امريکا حکومت د ډېريو ادارو د بودجې پر اساس مرستو کې دواړه (1) مستقيمې، دوه اړخيزې يا له حکومت څخه حکومت ته سپارنې، او (2) په څو اړخيزو وجهي صندقونو لکه د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، د افغانستان د بيارغونې وجهي صندق (ARTF)، او د افغانستان د زيربنا وجهي صندق (AITF) کې برخې اخيستنې شاملې دي. دا مرستې چې په ترتيب سره د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (UNDP)، نړيوال بانک، او ADB لخوا اداره کيږي د افغان ملي بودجې څخه ملاتړ کوي. د افغانستان حکومت معلومات، لارښوونه، او نظارت برابروي، او ځينې پروژې د حکومت لخوا پرمخ وړل کيږي، مګر مرستې په پوره توګه د حکومت تر کنترول لاندې ندي.[605]

مګر، په افغانستان کې د عامه لګښتونو يوه ډېره برخه له بودجې څخه دباندې ده، او په بشپړه توګه د نړيوالو مرستندويانو يا غير حکومتي سازمانونو لخوا اداره کيږي، او د افغانستان حکومت پدې کې کومه ونډه نلري. د افغانستان لپاره د امريکا د بودجې پر اساس د مرستو جزيياتو په اړه 69 پاڼه وګورئ.

پدې ربع کې، امريکا د بودجې پر اساس، پشمول د ARTF، د تير مالي کال له مرستو څخه، نږدې 86 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 279 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي. په زياتيدونکې توګه، لکه څرنګه چې پدې شکل 3.33 کې ښودل شوي، USAID د بودجې پر اساس 3.09 ميليارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 2.42 ميليارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[606]

شکل 3.33

**د USAID د بوديجې له لارې مرستې فرعي ټاکل او مصرف، FY 2013–FY 2002، د 2014 د جون تر 30 پورې** (مليون ډالر)




يادونې: شميرې ګردي شوي. فرعي ټاکنې د پروژې کچې تړونونو لپاره تمويل دی.
[a] د USAID FY 2012 د بوديجې له لارې مرستې ډېری يې د 2014 د جون تر 30 پورې نه و مصرف شوي.
[b] په 2013 کې لګښتونه د مخکيني مالي کال فنډونو څخه سرته رسيدلي. د FY 2013 لپاره فرعي ټاکنې او مصارف لا تراوسه مشخص شوي ندي.

سرچينه: USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

## د طبيعي زيرمو پراختيا

امريکا، د افغانستان حکومت، او د نړيوالې ټولنې مرستندويان د افغانستان د طبيعي زيرمو په پراختيا باندې حساب کوي، ترڅو د مرستو د کميدلو په حالت کې له راتلونکې اقتصادي ودې سره مرسته وکړي. که څه هم کان کيندنه تر اوسه پورې د هيواد په GDP کې د 2% څخه لږه برخه اخيستې، خو د افغانستان حکومت تمه لري چې د آينک (مس) او حاجي ګک (خامه اوسپنه) پروژو کې او همدارنګه د افغان تاجک حوزې د تيلو او ګازو په پروژو کې له پراخه پانګه اچونې څخه به زيات عوايد لاسته راوړي.[607]

نړيوال بانک اټکل کوي چې تر 2022–2024 پورې به د استخراجي سکتور کلني عوايد له 0.7 ميلياردو امريکايي ډالرو او 1.5 ميلياردو امريکايي ډالرو پورې ورسيږي.[608] مګر، د سولې لپاره د امريکا انستيتوت خبرداری ورکړی چې د استخراجي منرالونو دقيق اټکل کول ډيرې وختونه ستونزمن کار دی، ځکه چې د نه پروسس شويو توکو قيمتونه بدلون کوي او راتلونکې څرګنده نده او دا چې آيا پيژندل شوي زيرمې کيدای شي په پوره توګه استخراج شي. پردې برسيره، حکومت به په حتمې ډول د افغانستان د منرالونو شتمنې پوره ارزښت د عوايدو په توګه لاسته را نه وړي.[609]

سيګار په دوامداره توګه خبرداری ورکړی چې کيدای شي د افغانستان حکومت ونشي کولای په لنډ وخت کې د افغانستان له طبيعي سرچينو څخه ډير عوايد لاسته راوړي، ځکه چې د دغو سرچينو د پراختيا لپاره په زيربنا کې ډيرې پانګونې ته اړتيا ده، او دا چې امنيتي چاپيريال هم ستونزمن دی.

پردې برسيره، د عوايدو د نظارت انستيتوت په 2013 کې افغانستان ته د ليسنس ورکولو د پروسې او د حکومتي کانونو شرکتونو ته د خپلو منرالونو د کم نظارت په اړه د ناکامی درجه ورکړې. دې انستيتوت ويلي چې د قانون جوړونکې د ليسنسونو د پريکړو په اړه چې د استيناف غوښتنه يې نه کيږي، منظم راپورونه لاسته نه راوړي، او د کانونو هغو مشخصو قراردادونو ته چې د محرم په توګه ګڼل کيږي د لاس رسي مخه نيول کيږي. هغه تورونه چې د اجراييه او پارلمان څانګو غړي له هغو قراردادونو څخه ګټه اخلي چې د هغوی دوستان يې لاسته راوړي، تاييد کيدلای نشي؛ د افغانستان د پلټنې او کنترول دفتر په مشخصه توګه د زيرمو عوايدو ارزونه نه کوي، او هغه راپورونه چې چمتو کوي نه خپريږي.[610]

پدې ربع کې د افغانستان د اعتبار نظارت يوه راپور د افغانستان د کانونو صنعت حکومتوالي د شپږو نورو هيوادونو له ښو کارونو سره پرتله کړي ترڅو د افغانستان د فرصتونو او ننګونو په ښودلو کې مرسته وکړي. دې راپور موندلي چې په افغانستان کې اداري فساد د پانګه والو يوه لويه اندېښنه ده، او دا چې د کانونو سکتور د ليسنس ورکولو په پروسې، د مالي او امتياز فيس په معلوماتو، د مرستو په توزيع، او معلوماتو ته د عامو خلکو لاس رسي کې شفافيت او لدې سره ښه حکومتوالي د دوامدارې پراختيا لپاره چې عام خلک ورڅخه ګټه واخلي، اړين دي.[611]

## د منرالونو نوی قانون

د افغانستان د پارلمان ولسي جرګې، د 2014 د مې په 3 د منرالونو يو نوی قانون تاييد کړ، او مشرانو جرګې دا قانون د جولای په 1 تاييد کړ.[612] ولسمشر تر اوسه دا قانون ندی لاسليک کړی. د دې قانون موخه دا ده ترڅو د افغانستان زيرمې په ښه توګه خوندي شي، پانګه وال وهڅول شي، او مقررات له نړيوالو ښو کارونو سره برابر شي. مګر، لکه څرنګه چې اوس ليکل شوی، دا قانون د کانونو له شرکتونو څخه غوښتنه کوي ترڅو افغان کارګرانو ته لمړيتوب ورکړ

شي او تر بهرني توکو د افغانستان توکو اخیستلو ته لمړیتوب ورکړ شي. دا مادې د WTO له مقرراتو سره برابر ندي او کیدای شي د خصوصي پانګونې مخه ونیسي.[613] پردې برسیره، نړیوال بانک د استخراجي سکتور د اړتیاو لپاره د افغانستان په سیمه ایزو مارکیټونو کې د توکو په کیفیت او شته والي کې لوی واټنونه لیدلي.[614]

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره د دندې ځواک (TFBSO) په تیر کې خبرداری ورکړی چې په قوانینو کې له اصلاحاتو پرته چې د پانګه والو استخراجي کارونه د استخراج له حق سره وصلوي، او د امتیاز فیس د یوه رسمي او ثابت نرخ ټاکل پدغو قوانینو کې شامل وي، ډیری شرکتونه به په نوي داوطلبیو کې برخه وانخلي.[615] TFBSO باور لري، مګر دا تاییدولای نشي چې د ولسي جرګې په نسخه کې دا وصلول شامل دي. د پانګه والو په نورو اندېښنو کې، له یوه شرکت څخه بل شرکت ته د لیسنس د حق انتقالول شامل دي، که اصلي شرکت واخیستل شي، چې دا د کانونو په ټولنه کې یو ستندرد کار دی، او دا چې هغه اړینه ورتیا ولري ترڅو د یوې فعالي بانکداری سیستم له لارې پیسې د ننه او دباندې انتقال کړي.[616]

د یوه یوه نوي قانون تایید د ټوکیو د دوو اړخیزو حساب ورکولو کاري چوکاټ یوه مهمه نښه ده ترڅو په ټولیزه توګه د افغانستان عواید او مالي او بهرنی دوام ښه شي.[617] دغه قانون باید د ولسمشر لخوا هم لاسلیک شي.[618]

## د پانګه اچونې په وړاندې خنډونه

TFBSO وایي چې د کانونو د نوي قانون ځنډول، په افغانستان کې د پانګه اچونې په وړاندې یوازې یو خنډ ندی.[619]

د کانونو خصوصي شرکتونه په هیواد کې د امنیت نشتون په اړه هم اندیښنه لري. د کان کیندنې په صنعت کې د پانګې نشتون یو بله ستونزه ده. تمه کیږي چې د نه پروسس شویو توکو، پشمول د مسو، سرو زرو، طبیعي غازو، او نورو تیلو، قیمتونه په راتلونکو 12 میاشتو کې ثابته یا د کمیدلو حال کې وي، او دا کار به پانګه وال و نه هڅوي ترڅو په خطرناکو هیوادونو کې پانګه اچونه وکړي.[620]

پدې ربع کې یو شمیر قراردادونه لاسلیک شوي ندي، پشمول د شیدا (مس، چې د 2012 په نومبر کې وړاندې شوی)؛ بدخشان (سره زر، 2012 نومبر)؛ بلخاب (مس، د 2012 نومبر)؛ او زرکشان (سره زر، 2012 دسمبر).[621] دا د تفحص قراردادونه دي او د منرالونو د اوسني قانون پر اساس ورباندې خبري شوي او پدې قراردادونو کې د استخراج حقونه شامل ندي. TFBSO راپور ورکړی چې دا قراردادونه دوه ځلې د کانونو او پټرولیم وزارت (MOMP) لخوا د کابینې غور لپاره وړاندې شوي، مګر پدې اړه کوم ګام ندی اخیستل شوی.[622]

مګر پدې ربع کې د حاجیګک د خامې اوسپنې د امتیاز د قرارداد د خبرو په اړه د کوم بدلون راپور ندی ورکړی شوی.[623] د کانونو او پټرولیم وزارت د 2011 په نومبر کې درې بلاکونه د افغانستان اوسپنې او فولادو کنسورسیم (AFISCO) ته وړاندې کړي، دا د اوو غړو یو کنسورسیم دی چې مشري یې د هندوستان د حکومت په ملکیت د فولادو ادارې شرکت کوي، او یو بلاک د کاناډا د کیلو خامې اوسپنې ته، چې د کیلو سرو زرو کانونو یوه څانګه ده وړاندې شوی.[624] نوي راپورونه ښیي چې AFISCO پدې لټه کې ده ترڅو خپله لمړنی پانګه له 11 میلیارده امریکایي ډالرو څخه 1.5 میلیاردو امریکایي ډالرو ته را کموي، او د کانونو د نوي قانون تایید په تمه دي.[625]

په اوس وخت کې د لوګر په ولایت کې د آینک د مسو په کان کې کوم کار نه ترسره کیږي، یوازې د فرهنګي باستاني آثارو پر ساتنې کار دوام لري.[626] TFBSO شک لري چې د ځند په

نورو عاملونو کې د قرارداد ستونزمن شرطونه، د منرالونو په مارکيټ کې بې ثباتي، او د چين ليوالتيا ترڅو د منرالونو پروژې ترتيب کړي او بيا يې د راتلونکي کار اخيستلو لپاره "يوې خوا" ته کيږدي، شامل دي.[627] د افغانستان حکومت په 2008 کې د آينک د مسو کان د استخراج قرارداد وړاندې کړ، مګر د هغه امتياز فيس لپاره چې هيله مند و تر اوسه يې حقيقت ندی موندلی.[628] د افغانستان 1393 مالي کال بودجه له آينک څخه د کومو عوايدو په تمه نده؛ د 1392 مالي کال بودجې د 50 ميليونو امريکايي ډالرو تمه درلوده چې لاسته ندې راغلي.[629]

## غير قانوني کان کيندنې

په افغانستان کې هغه ډيری کارونه چې تر کار لاندې دي، د ځينو اټکلونو پر اساس 1400 کانونه بې ليسنسه او غير قانوني دي.[630] پدغو عاملونو کې د حکومت مناسبو مقرراتو او ليسنس ورکولو مقرراتو نشتون يوه برخه اخيستونکی عامل دی. غيرقانوني کانونه په هغه توګه کار کوي چې د کارکوونکو روغتيا او خونديتوب لپاره کم يا هيڅ پاملرنه نلري، د استخراج مناسب طرزالعملونه نلري، او کارکوونکي د ټپي کيدلو يا مرګ په ډير خطر کې پريږدي. پدغو کانونو کې که کارکوونکي ټپي شي يا معاش ورنکړ شي، محدود يا هيڅ اختيار نلري. پردې برسيره، حکومت د امتياز کوم فيس، ماليه، يا له ځمکې څخه د کرايې عوايد لاسته نه راوړي. ډيری وختونه، استخراج شوي منرالونه په تور بازار کې ياغي ډلو يا نورو اخيستونکو ته تر قانوني قيم په ډير کم قيمت پلورل کيږي.[631]

ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې طالبان له مخدره توکو او غير قانونو کان کيندونو څخه پيسې لاسته راوړي او دا کار د دې سبب ګرځي ترڅو د افغانستان حکومت پر وړاندې ودريږي او سوله ونکړي، او اړينو عوايدو ته د حکومت مخه هم ونيسي.[632] په هلمند کې، د بيلګې په توګه، تمه کيدله ترڅو طالبان د 2014 د مې کوکنارو له حاصلاتو څخه 50 ميليونه امريکايي ډالر لاسته راوړي او پدغه ولايت کې په هر کال کې له 25 تر 30 د غير قانونی مرمر ډبرو له کانونو څخه 10 ميليونه امريکايي ډالر لاسته راوړي. مګر، د افغانستان د مرمرو رسمي صنعت په هر کال کې د حکومت لپاره 15 ميليونه امريکايي ډالر توليدوي.[633]

د غيرقانوني کان کيندنې مخه نيول ستونزمن کار دی، ځکه چې ډيری وختونه دا کار د کورنی يا قوم پر ځمکه ترسره کيږي چې مالک يې د زيرمو د حق دعوا کوي. او که دا کار نه وي کيدای شي د دې کانونو کارکوونکي د مالي ملاتړ لاسته راوړلو لپاره له ياغي ډلو سره يوځای شي. پردې برسيره، TFBSO ويلي چې پدې وخت کې د حکومت محدوده شميره ماهر کارکوونکي د کان کيندنې پر دغسي عملياتونو باندې فکر نه کوي.[634]

## د کانونو او پټروليم وزارت، د افغانستان د پټروليم اداره، او د افغانستان د جيولوژيکي سروی سره مرسته

پدې ربع کې امريکا د کانونو او پټروليم له وزارت سره خپلو تخنيکي مرستو برابرولو ته دوام ورکړی، او د دغه وزارت د افغانستان د پټروليم اداره (APA)، او د افغانستان جيولوژيکي سروې (AGS)، سره تر ډيرې کچې TFBSO او د امريکا جيولوژيکي سروې تخنيکي مرسته کړې. دا ادارې د منرال او هايدروکاربن په داوطلبيو کې او همدارنګه د تيل او غازو د معلوماتو د مديريت په برخو کې مرسته کوي. پدې ربع کې، د امريکا جيولوژيکي سروې د افغانستان جيولوژيکي سروې په اداره کې په کار کې خپلو روزنو ته دوام ورکړی، او پدغو روزنو کې له نقشو او د کانونو د پام وړ ساحو په اړه له نقشو، تشريحي کمپيوترې پروګرامونو، جيوفيزيک، او د هايپرسپيکترال عکسونو روزنې څخه په کار اخيستلو سره د معلوماتو ټولول شامل و.[635]

TFBSO د افغانستان پټرولیم له اداري سره څېلو تخصصي کارونو ملاتړ ته په تخنیکي (د تیلو او غازو انجنیري)، حقوقي (د قرارداد تطبیق)، او مالي (محاسبه او تحلیل) خدمتونو؛ د استخراج او تولید شریکولو په قراردادونو کې روزنې؛ او لکه څرنګه چې ورته اړتیا ده، په کار کې روزنې ته دوام ورکړی. د کار د روزنو په مضمونونو کې له قراردادي سره اړیکي (ایمیل او مکتوب لیکل)؛ د کار پروګرام او د بودجې تحلیل؛ د مارکیټ څېړنه؛ او روغتیا، خوندیتوب، او د چاپیریال ساتنه شامل دي.[636]

TFBSO د میزوري د ساینس او ټیکنالوژۍ پوهنتون ته وړاندې کړی ترڅو د نیبراسکا، اوماها او د ترکیې د منځني ختیځ تخنیکي پوهنتون سره په ملګرتیا کې د کابل د پولی تخنیک پوهنتون د جیولوژۍ او کانونو استخراج فاکولتې ته روزنه ورکړي. دا قرارداد به د کابل د پولي تخنیک له پوهنتون سره مرسته وکړي ترڅو نصات جوړ کړي او تخصصي پراختیا برابره کړي.[637] او په پایله کې، پدې ربع کې، TFBSO د سمتیو د دوو داوطلبیو لپاره د افغانستان د وزارتونو د ارزونې لپاره آسانتیاوې برابرې کړي.[638] د 2014 د جون تر 30 پورې، په 2014 مالي کال کې TFBSO د کانونو د سکتور پراختیا لپاره 10.7 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي.[639] پلان شوی ترڅو د TFBSO کاري صلاحیت د 2014 په پای کې ختم شي.[640]

USAID پدې ربع کې د افغانستان پټرولیم د اداري لپاره روانه تخنیکي مرسته تمویلوي، چې د طبیعي غازو پروسس کولو او د غازو سوداګرۍ کارونو طریقو، او د غازو د څاګانو د برمې کولو کارونو او ساتنو باندې کار کوي. تمه کیږي ترڅو د ظرفیت لوړولو دا هڅې د 2015 تر مارچ پورې دوام وکړي.[641]

## د افغانستان راتلونکې دوام لپاره په کانونو کې پانګونه او پراختیا

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټولیز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان راتلونکې دوام لپاره په کانونو کې پانګونه او پراختیا | 3/31/2013 | 3/31/2017 | $41,670,943 | $7,525,325 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د USAID د کانونو یوواږي پروګرام، د افغانستان د راتلونکې دوام لپاره په کانونو کې پانګونه او پراختیا (MIDAS)، د بودجې پر اساس او د بودجې دباندې برخې لري. له بودجې څخه دباندې د 1 برخې 41.6 میلیونه امریکایي ډالر د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت د حقوقي او مقرراتي اصلاحاتو او تخنیکي مرستې، د وړو او منځنیو تصدیو پراختیا، او د جیو ساینس ساحې د تحقیق مرستې په اړه کار کوي. دا به له اړتیا سره سم نور ملاتړ چمتو کړي. د بودجې پر اساس د II پړاو 45 میلیونه امریکایي ډالر لا تر اوسه ندي پیل شوي، مګر داسې ډیزاین شوي ترڅو د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت ځواکمن کړي ترڅو وکولای شي د کانونو داوطلبی جوړې کړي، تطبیق کړي او د بشپړیدو نظارت یې وکړي.[642] د 2014 د جون تر 30 پورې، USAID، 16 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي او نږدې 5.72 میلیونه امریکایي ډالر یې توزیع کړي دي ترڅو له بودجې څخه دباندې تطبیقول پیل کړي.[643]

پدې ربع کې، MIDAS د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت، USAID، د په کابل کې د امریکا سفارت چارواکو لپاره د حقوقي او مقرراتي اصلاحاتو په اړه یو شمیر ورکشاپونه جوړ کړي. MIDAS د افغانستان په شمال کې د برمې کولو درې ساحې هم پیژندلي چې کیدای شي

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوه روانه پلټنه پدې اړه کار کوي چې تر کومې کچې د TFBSO او USAID پروګرامونه خپلو موخو ته رسیدلي ترڅو د افغانستان استخراجي صنعت ته پراختیا ورکړي او که د افغانستان لپاره د یوه باثباته او د اوږد مهاله عوایدو منځ ته راوړلو لپاره د استخراجي عوایدو پر وړاندې کومه ننګونه وي.

په نږدې وخت کې د تفحص يا استخراج لپاره چمتو وي، او د افغانستان جيولوژيکي سروې، جيولوژيستانو، او وړو او منځنيو شرکتونو لپاره يې روزنې برابرې کړي.[644]

## د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت ظرفيت

د TFBSO په وينا، د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت د ظرفيت، نظارت، او لارښوونې کمزورتياوې لري. او د کارونو ډېرى برخه د يوې وړې ډلې ماهرو متخصصينو لخوا چې ډېر کار کوي، ترسره کيږي. که څه هم د دې وزارت د ټيټې او منځنۍ کچې يو شمير کارکوونکو کارونه وروسته لدې پرې ښودل چې معاشونه ورنه کړل شول، خو TFBSO باور لري چې پدې وزارت کې ورو منظم پرمختګ روان دى.[645]

د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت يا د دواطبيو، د قرارداد خبرو، او قرارداد وړاندې کولو د ارزونې مشري په لاس کې اخيستې يا نږدې دى ترڅو مشري په لاس کې واخلي. مګر، د افغانستان د جيولوژيکي سروې له روزنې څخه پرته چې په 165 پاڼه کې تشريح شوې، د ظرفيت لوړولو کوم بل رسمي پروګرام شتون نلري. لکه څرنګه چې د منرالونو د استخراج قراردادونه لاسليک کيږي، نظارت او لارښوونه به ډېره اړينه وي؛ TFBSO، USAID ته سپارښتنه کړې ترڅو MIDAS پدغو ساحو کې کار وکړي. TFBSO دا مهم ګڼي ترڅو د اوسنيو قراردادونو د داوطلبيو په مديريت باندې په اغيزمنه توګه کار وشي، نه دا چې نوي دواطلبى وړاندې شي.[646]

## هايدروکاربونونه

د افغانستان د خپلو تيلو او غازو پراختيا لپاره د آمو درياب او د افغان تاجيک حوزې ساحو کې کار کوي، چې دواړه د افغانستان په شمال کې موقعيت لري.[647] د تصفيې پر دوو فعالعو فابريکو برسيره، افغانستان د تصفيې مناسب ظرفيت نلري، او د تيلو لپاره تر ډېرې کچې پر وارداتو باندې تکيه کوي. نوموړى هيواد له ترکمستان، ازبکستان، روسيې، پاکستان، او ايران څخه په ورځ کې 10,000 ټنه نفتي محصولات واردوي.[648]

د آسيا د پراختيايي بانک په وينا، سره لدې چې د پيژندل شوي غازو 75 ميلياردو متر مکعبه او د نږدې 444 ميلياردو متر مکعبه نه کشف شوي مګر په تخنيکي توګه د بيرته لاسته راوړلو زيرمې دي، د افغانستان د غازو سکتور "د زيربنا او مقرراتي کمزوريو څخه رنځ وي." د آسيا پراختيايي بانک ويلي چې له عامه او خصوصي سکتور څخه پانګونې ته اړتيا ده ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي پر خپلو ننګونو بريالى شي او د خپلو طبيعي زيرمو په ګټو باندې پوه شي. په اوس وخت کې، د افغانستان د غازو تصدي، د غازو خدمتونو ملي اداره، د غازو له هغو ځلورو ساحو څخه چې د دې تصدى په ملکيت کې او ورڅخه کار اخلي، په هره ورځ کې نږدې 380,000 متر مکعبه غاز توليدوى، او د دغو غازو نږدې ټوله برخه د شمال د کيمياوي کود او بريښنا فابريکې ته ځي.[649]

**نه پيدا شوي، په تخنيکى توګه د لاسته راوړلو ور سرچينې:** د ماډل پر اساس د جيو فيزيکي، جيولوژيکي، تيکنالوژيکي او اقتصادي معلوماتو ارزونې.

سرچينه: د امريکا د بهرني انرژى مديريت بيرو، "د هيواد دباندې د کانتينتال د څنډې د نه پيدا شوي له تخنيکي پلوه د لاسته راوړلو ور تيل او غازو سرچينې، 2011،" 11/2011، لاس رسى 7/10/2014.

## د آمو درياب حوزه

د آمور دريات حوزې درې بلاکونه په 2011 کې د چين د ملي پطروليم شرکت او وطن انرژۍ افغانستان ته وړاندې شوي، او اټکل کيږي چې 87 ميليونه بيلره خام تيل لري.[650] له دريو څخه يو بلاک هغه زيربنا لري ترڅو په ورځ کې 5,000 بيلره توليد کړي. توليد ځنډيدلى مګر پدې ربع کې د 2014 له مارچ څخه تر مې پورې بيرته پيل شوى او په هره مياشت کې 35,000 بيلره (يا 1,141 په هره ورځ کې).[651]

تردې نيټې، د افغانستان حکومت لدې قرارداد څخه 1.8 ميليونه امريکايي ډالرو امتياز فيس لاسته راوړى دى.[652] د 500,000 امريکايي ډالرو د امتياز فيس تاديات بايد د 2014 د مې په 31

د افغانستان حکومت ته تاديه شوي واى، مګر د جولاى تر 1 ندي تاديه شوي. حکومت لدې حوزې څخه د پوره توليد په حالت کې په هره ورځ کې د 60,000 امريکايي ډالرو تمه لري.[653]

د 2014 د جنورى په 7، د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت د طوطي ميدان بلاک د تفحس، پراختيا او توليد لپاره رسمي داوطلبى پرانيستله، چې د آمو درياب په حوزه کې له 7,131 کيلومتر مربعې څخه جوړه شوى.[654] د قرارداد ساحه د غازو په دوو ساحو او له 50 څخه زياتو ثابت شوي او تر ځمکې لاندې احتمالي جوړښتونو کې 28 ميليارده متر مکعبه پيژندل شوي غاز لري.[655] پدې ربع کې دوو نړيوالو او افغان کنسورسيمونو خپل وړانديزونه وړاندې کړي. د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت تمه لري ترڅو ګټونکى وړانديز اعلان کړي او د 2014 د سپتمبر په پاى کې يو قرارداد لاسليک کړي.[656] TFBSO لدې وزارت سره د داوطلبى په چمتو کولو، او تخنيکي، حقوقي، سودګريزو، او شفافيت مشورې په خدمتونه کې مرسته کړې.[657]

## د خپلواکې بريښنا توليدونکى پروګرام

ځکه چې دې ته اړتيا ده ترڅو د افغانستان له طبيعي غازو څخه د کورنى بريښنا لپاره کار واخيستل شي، د بريښنا واردات کم شي، او اقتصادي ودې ته پراختيا ورکړ شي، TFBSO د يو شمير خپلواکو بريښنا توليدونکو په اړه تحقيق وکړ او پدې ربع کې يې د افغانستان له حکومت سره يې وصل کړل. په امريکا کې ميشت د خصوصي پانګونې يو کنسورسيم غوره شو ترڅو په مزارشريف کې د کيمياوي کودو او بريښنا فابريکې ته څيرمه د 16 ميګا واټو په ظرفيت د طبيعي غازو د بريښنا يوه فابريکه جوړه کړي، ملکيت يې ولري او ورڅخه کار واخلي. دغه پانګه وال به په هره ورځ کې نږدې 110,000 متر مکعبه طبيعي غاز د افغانستان د غازو له تصدى څخه واخلي، د طبيعي غازو د لوړ کيفيت د جنراتورونو له لارې به بريښنا توليد کړي، او د دې فابريکې ټوله بريښنا به د افغانستان د بريښنا ملي شرکت، د افغانستان بريښنا شرکت ته وپلورې.[658]

TFBSO باور لري چې په هيواد کې دننه خپلواک توليدونکي به د مزارشريف په سيمه کې په هر کال کې وارد شوې بريښنا له 48 ميليونو امريکايي ډالرو څخه 34 ميليونو امريکايي ډالرو ته را کمه کړي؛ او دا چې پانګه وال به د اعتبار وړ بريښنا د افغانستان بريښنا شرکت ته په پرتله کيدونکي قيمت وپلوري؛ او دا چې د اعتبار وړ بريښنا به صنعت ته پراختيا ورکړي؛ او اضافي بريښنا به د افغانستان ناخالص کورني توليدات په هرکال کې نږدې 140 ميليونه امريکايي ډالر زيات کړي.[659]

## د شبرغان پروګرام

د USAID په وينا، اټکل کيږي چې د افغانستان په شمال کې د غازو زيرمې کولاى شي د 25 کلونو لپاره په هر کال کې 10,000 ميګاواټه ساعتونه بريښنا توليد کړي.[660] د نړيوال بانک په وينا، يوه مطالعه به د دې کال په پاى کې بشپړه شي.[661] شبرغان د وړيا طبيعي غازو لرلو لپاره امکانات لري او کيداى شي له ازبکستان څخه له واردونکي بريښنا سره پرتله شي. دواړه USAID او TFBSO پدغه ساحه کې فعاله پروګرامونه لري.[662]

USAID د شبرغان له پروګرام څخه ملاتړ کوي ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي د غازو سرچينې وپيژني او اداره کړي، چې د دوو ميکانيزمونو له لارې به د بريښنا توليد لپاره ورڅخه کار واخيستل شي: د بودجې پر اساس د 90 ميليونو امريکايي ډالرو د شبرغان د غازو پراختيا پروژه (SGDP)، او له بودجې څخه دباندې د 35 ميليونو امريکايي ډالرو د غازو

د تولید فعالیت (SGGA).[663] USAID به د SGDP له لارې د بودجې پر اساس 30 میلیون امریکایي ډالر تادیه کړي ترڅو دوې څاګانې ورغوي او د آمو دریاب په حوزه کې به د جمعه او باشي کورد په ساحه کې یوه څاه برمه کړي. اضافي 7 میلیونه امریکایي ډالر به د افغانستان له ملي بودجې څخه راشي.[664] پلان دی ترڅو برمه کیدنه د 2014 په جولای/اګست کې ترسره شي.[665] که د غازو څاګانې په پوره اندازه ظرفیت ولري ترڅو د 200 میګاواټو غازو بریښنا فابریکې ته غاز ورکړي، USAID به د غازو د ټولولو سیستم او غازو پروسس کولو فابریکه تمویل کړي، ترڅو د SGDP له لارې د بودجې پر اساس د پاته شویو 60 میلیونه امریکایي ډالرو سره دې فابریکې ته غاز ورسوي.[666]

له بودجې څخه دباندې د SGGA برخه به د افغانستان د کانونو او پترولیم وزارت ته تخنیکي مرسته برابره کړي ترڅو د غازو درې څاګانې برمه کړي او د غازو د ټولولو سیستم او غازو پروسس کولو فابریکې د انجنیرۍ/تدارکاتو، او ساختماني کارونو د قرارداد په داوطلبۍ کې لدې وزارت سره مرسته وشي.[667] د 2014 د جون تر 30 پورې، نږدې 23 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي، او لدغو څخه نږدې 14.8 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي دي.[668]

TFBSO د افغانستان د غازو له تصدی سره له شبرغان څخه تر مزارشریفه د اوسني 55.4 میله پایپ لین د رغولو، د پایپ لین د ظرفیت ښه کولو او په پایپ لین کې د غازو د بهیر د کیفیت په چارو کې مرسته کوي. دغه پایپ لین اوس په هره ورځ کې 380 میلیونه متر مکعبه طبیعي غاز ترانسپورت کوي او تمه کیږي چې د پروژې له بشپړیدو سره په هره ورځ کې له 680 تر 960 متر مکعبو پورې زیات شي.[669]

### کمپرس شوي طبیعي غاز

TFBSO له افغانستان سره مرسته کوي ترڅو د کمپرس شوي طبیعي غازو (CNG) صنعت ته پراختیا ورکړي. دې ادارې په شبرغان کې د CNG یو سټیشن (CNG #1) جوړ کړی، او دا قرارداد خصوصي سکتور ته ورکړ شوی و. د 2014 د مې په 12، CNG #1 د قاشغري تیلو او غازو خدماتو لخوا پخپلواکه توګه په کار پیل وکړ. قاشغري په مزارشریف کې د CNG د سټیشن د ردولو حق هم وړی، چې TFBSO یې اوس جوړوي.[670]

## کـــــــرنه

کرنه اوس هم د افغانستان دخلکو لپاره د کار او ژوند کولو مهمه سرچینه ده. یووازې 12% ځمکه د کرنې وړ ده او کرل شوې ساحې ډیرې کمې دي، خو دا سکتور د ناخالصو تولیداتو 31% جوړوي او د نړیوال بانک د وروستي راپور په وینا، د کارې ځواک 59% لپاره کار برابروي.[671] د دې سکتور اهمیت ته په پام سره، کرنه کیدای شي د کورني ناخالصو تولیداتو د ودې، د خوړو د امنیت، او د کار باثباته فرصتونو لپاره یوه وسیله وي.[672]

له 2002 مالي کال څخه تر 2002 مالي کال پورې، USAID د کرنېزې او بدیلې پراختیا لپاره نږدې 2.46 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي ترڅو تولید ښه کړي، مارکیټونو ته لاس رسی زیات کړي، او د کوکنارو کرنې لپاره بدیل برابر کړي.[673] لدغو څخه، USAID 54 میلیونه امریکایي ډالر مستقیمه مرسته مکلف کړې او توزیع کړې ده، ترڅو د کرنې، اوبو لګولو، او څارویو وزارت (MAIL) ظرفیت ته وده ورکړي.[674]

USAID دا مهال کرنیز سکتور ته د یو شمیر پروګرامونو له لارې د بودجې پر اساس او له بودجې دباندې مرسته چمتو کوي. د USAID د لوړ لمړیتوب درې پروګرامونه، چې ټول ارزښت یې نږدې 350$ میلیونه امریکایي ډالر دي، دا دي:

- د کرنې پراختيا وجهي صندق (ADF) او د کرنې کريډيټ وده (ACE)
- اقتصادي بديلونو هڅوونکي-شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW)
- سوداګريزه باغواني او د کرنيزې بازار موندنې پروګرام (CHAMP)

## د بديل معيشت پراختيايي پروګرامونه

د USAID د بديل معيشت پراختيايي (AD) پروګرام موخه دا ده ترڅو د قانوني محصولاتو توليد ته په هغو ځايونو کې وده ورکړي چيرته چې کوکنار کرل شوي يا اوس کرل کيږي. مګر، د AD هڅې کافي ندي ترڅو په مستقيمه توګه د کوکنارو کرنه راکمه کړي، ځکه چې د دې کار لپاره ښه امنيت، او په هغو ساحو کې چيرته چې د امکان وړ اقتصادي بديل معيشت شتون لري د کوکنارو له منځه وړلو لپاره د افغانستان حکومت ژمنو ته اړتيا لري. ځکه نو، USAID ويلي چې د AD پروژې په مستقيمه توګه د کوکنارو په کرنه کې بدلونونه نه اندازه کوي.[675]

د AD پروګرامونه هغې نښې لکه په نښه شوي ساحو کې له قانوني کرنې څخه د کورنيو عوايدو په سلنه کې ډيروالی، د هغو کورنيو شميره چې په نښو شوي ځايونو کې يې د بديل معيشت د کارونو له پراختيا څخه يې ګټه اخيستې؛ او د امريکا مرستې په پايله کې د هغو بزګرانو شمير چې د لوړ ارزښت محصولات کري، اندازه کوي. د کندهار د خواړو زون (KFZ) د AD مرسته لاسته نه راوړي او پخپلو په نښه شوي ځايونو کې د کوکنارو کرنې کموالي له نښو څخه کار اخلي ترڅو پرمختګ اندازه کړي.[676]

د USAID د AD مرسته د ټولنو يا کورنيو د ژمنو لپاره نده ترڅو د کوکنارو له کرنې څخه لاس واخلي. USAID پدې اند دی کله چې د بديل معيشت د لوړ ارزښت او له اقتصادي پلوه پرتله کيدونکی قانوني محصول ښه عوايد توليد کړي، سيمه ايزې کورنی به ډير ليواله وي ترڅو د کوکنارو توليد ختم کړي.[677] USAID ويلي چې د AD مداخله او د کوکنارو کرنه ضروري نده ترڅو ځانګړې وي. د بيلګې په توګه، بزګر کولای شي په دوبي کې د لوړ ارزښت ترکاري او په ژمي کې کوکنار وکري. پردې برسيره، له کوکنارو څخه هغو محصولاتو ته چې کم کار ته اړتيا لري لکه د غنمو لپاره د ځمکې بدلول، نه غوښتونکې پايلې درلودې او د محصول شريکان او بې ځمکې کارکوونکي يې بې ځايه کړي دي، او ځينې يې د حکومت له کنټرول څخه دباندې ځايونو ته مهاجر شوي ترڅو د کوکنارو کرنې ته دوام ورکړي.[678]

### پنځه فعاله پروژې بديل پراختيايي مرسته لاسته راوړي

1. په سويل کې د کرنې پراختيا سيمه ايز پروګرام (RADP-S)
2. په لويديځ کې د کرنې پراختيا سيمه ايز پروګرام (RADP-W)
3. په شمال کې د کرنې پراختيا سيمه ايز پروګرام (RADP-N)
4. د اقتصادي بديل هڅوونکي – شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW)
5. سوداګريزه باغواني او د کرنې بازار موندنې پروګرام (CHAMP)

د سيم ايزې پراختيايي بديل پروګرامونو موخه دا ده ترڅو سيمه ايزه اقتصادي وده چټکه کړي او هغو خلکو ته چې اوس په غير قانوني فعاليتونو باندې تکيه کوي د عوايدو بديله سرچينه برابره کړي. د دغه پروګرام په فعاليتونو کې د کار پر وړاندې نغدې پيسې، د څارويو او باغونو پراختيا، د سوداګرۍ له پراختيا څخه ملاتړ، او د زيربنا ښه والی شامل دي.

سرچيني: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID ځواب، 6/30/2014؛ د USAID د بديل پراختيا پروګرامونه/شمالي سيمه، 8/22/2013؛ د USAID د بديل پراختيا پروګرامونه، 8/22/2013.

## د کرنيز کريډيټ زياتول او د کرنې پراختيايي وجهي صندق

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| کرنيز کريډيټ زياتول | 7/15/2010 | 1/15/2015 | $75,175,296 | $67,656,768 |
| د کرنې د پراختيا وجهي صندق | 7/18/2010 | 12/31/2014 | $74,407,662 | $54,000,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د کرنيزې پراختيا وجهي صندق (ADF) او د کرنيز کريډيټ زياتول (ACE) دوه مرسته کوونکي فعاليتونه دي او موخه يې د MAIL د هڅو ملاتړ دی، ترڅو کريډيټ برابر کړي او د کريډيټ

پروګرام مديريت لپاره د ADF د کارکوونکو ظرفيت زيات کړي. ADF د دې لپاره تاسيس شوی ترڅو د کرنې د ارزښت کړی په ټولو برخو کې د بانکونو له لارې د فارم دوکانونو، د اجارې شرکتونو، او د خوارو پروسس کيدونکو لپاره، پورونه برابر کړي. د دغه کريديت ډيری برخه بيا بزګرانو ته ورکول رسيږي. ACE د مرستې يوه تخنيکي برخه ده چې د ADF د پور ورکولو ټولو فعاليتونو مديريت کوي او د MAIL ظرفيت لوړولو سره مرسته کوي.[679]

د 2014 د اپريل تر 30 پورې، د ADF د پور مرسته 91.8 ميليونه امريکايي ډالر وه، او توزيع شوي پورونه 44.5 ميليونه امريکايي ډالر و، او 24.5 ميليونه امريکايي ډالر بيرته تاديه شوي. نور 21 پورونه په پايپ لين کې دي. د USAID په وينا، د مرستو 4.65% په خطر کې ده، او دا د پرمختګ په حال هيوادونو کې د منلو وړ ستندرد اندازې په چوکاټ کې ده. ADF په مستقيمه توګه 23,068 بزګرانو کورنيو ته د بزګرانو ټولنو او شبکو له لارو پورونه برابر کړي دي.[680]

## د اقتصادي بديل معيشت هڅوونکي شمال، ختيځ، او لويديځ

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د اقتصادي بديل هڅوونکي شمال، ختيځ، او لويديځ | 3/2/2009 | 2/28/2015 | $159,878,589 | $143,385,995 |

سرچينه: USAID، د سيکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د اقتصادي بديل معيشت هڅوونکي – شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) د همکارۍ موافقې يوه پروژه ده چې په ختيځ، شمال او لويديځ ولايتونو کې د بزګرانو او کرنې شرکتونو لپاره کرنيزه مرسته برابروي. IDEA-NEW د لوړ ارزښت، قانوني کرنيزو محصولاتو ملاتړ کوي، چې کولای شي په سيمه ايزو مهمو صنعتي ځايونو او د سوداګرۍ په دهليزونو کې، د تجارتي فرصتونو، د مالي خدمتونو ته د لاس رسي، او د ارزښت کړی پراختيا ملاتړ له لارو د کوکنارو کرنې پرځای بديل معيشت کيدلای شي. د مارکيټ معلوماتو فعاليتونو او پلورونکو څخه ملاتړ له لارو د توليدونکو، سوداګرو، او اخيستونکو ترمنځ د اړيکو آسانتياوې هم برابروي.[681]

## سوداګريزه باغواني او کرنيزې بازار موندنې پروګرام

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| سوداګريزه باغواني او د زراعتي بازار موندنې پروګرام | 2/1/2010 | 12/30/2014 | $40,320,241 | $36,489,341 |

سرچينه: USAID، د سيکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

سوداګريزه باغواني او د کرنيزې بازار موندنې پروګرام (CHAMP) موخه دا ده ترڅو له بزرګرانو سره مرسته وشي او د ګټې وړ زيات باغونه او د انګورو باغونه جوړ کړي او کار ورڅخه واخلي، د محصولاتو کيفيت ښه کړی، او د صادراتو او سوداګرۍ دهليزونو جوړولو

لپاره کار وکړي، او لدې لارو د کوکنارو کرنه ورکه کړي. دغه پروګرام له سوداګرو سره هم کار ترڅو محصولات، د محصولاتو تړل، سړې خونې، او ترانسپورټ کول ښه کړي.[683]

د دې پروګرام د همکارۍ موافقې پر اساس، چې د 2014 تر دسمبر پورې غزيدلې، CHAMP د ارزښت کړۍ لور ته حرکت کړی، چې له محصولاتو اخيستلو وروسته پر کارونو او د مارکيټ پر فعاليتونو باندې ټينګار کوي. CHAMP د ارزښت د کړۍ پنځو مهمو فعاليتونو (انګور، بادام، انار، زردالو، او مڼې) او د فرعي ارزښت يوه کړۍ (هندوانې او خټکي) په ټولو برخو کې کار کوي.[684]

## د کندهار د خواړو زون

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار خواړو ساحه | 7/31/2013 | 7/30/2015 | $18,695,804 | $3,876,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

**که څه هم د کندهار د خواړو ساحې (KFZ) پروګرام د يوه کال په تطبيق کې ده او يو کال يې پاته دی، او له 21% څخه کم ژمنه شوې مرسته توزيع شوې ده، د پروګرام د تطبيق په اړه يې پوښتنې راپورته کړې.[682]**

د کندهار د خواړو زون (KFZ) پروګرام داسې جوړ شوی ترڅو په نښه شوي اوو ولسواليو کې چې د کوکنارو د ټولې کرنې 89% استازيتوب کوي، د کوکنارو کرنې هڅوونکي وپيژني او د حل لار پيدا کړي.[685] KFZ دوې مهمې برخې لري: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) ظرفيت لوړول او د بديل معيشت پروژې. د ظرفيت لوړولو برخه پدې لټه کې ده ترڅو د MCN توان زيات کړي ترڅو وکولای شي د بديل معيشت پروژې جوړې، تطبيق او مديريت وکړي. د بديل معيشت برخه د ټولنې زيربنا ته وده ورکوي او د قانوني کارونو فرصتونه زياتوي.[686]

USAID راپور ورکړی چې په کندهار کې د KFZ دفتر د 2014 د فبرورۍ له 27 څخه د مارچ تر 19، ځکه تړلی و چې د افغانستان د عامه خونديتوب ځواب (APPF) د خپل قرارداد مکلفيتونه پوره کړي ندي ترڅو خپلو محافظينو ته يونيفورم او وسلې برابرې کړي، او دې کار د کندهار دفتر کارکوونکي اړ کړي ترڅو په کورونو کې کار وکړي. لکه څرنګه چې د دې راپور د امنيت په برخه کې ويل شوي، APPF په اوس وخت کې د سپارلو په حال کې دی؛ او دا معلومه نده چې په راتلونکې کې به څوک دا ډول امنيت برابروي.[687] د لا نورو معلوماتو لپاره د امنيت راپور 90 پاڼه وګورئ.

د راپور ورکولو پدې موده کې، د کندهار ولايت والي د 13 پروژو نظر نوټونه تاييد کړي: د اوبو دوه بندونه او 11 د اوبو لګولو کانالونو. د 2014 د مې تر پايه، د ولايت والي د بديل معيشت پراختيايي نظر يوواړې 29 نوټونه تاييد کړي دي. تمه کيږي ترڅو دغې پروژې د اوبو لګولو کموالي لپاره د حل لار پيدا کړي، چې دا ستونزه د کوکنارو کرنې خوا ته د بزرګرانو مخې نيولو اصلي سبب دی.[688]

## د USAID د کرنې پروګرامونو نور فعاليتونه

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د وچکالۍ د پيل خبرتيا سيستم شبکه (FEWSNET) III برخه | 12/29/2011 | 12/28/2016 | $4,375,792 | $2,420,553 |

په راتلونکې پاڼه کې دوام لري

## د سيګار څانګړې پروژه

پدې ربع کې، د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر د امريکا د کرنې وزارت (USDA) د دې وزارت د 34.4 ميليونو امريکايي ډالرو په افغانستان کې د سويا بين د کرنې نوي کولو د نوښت (SARAI) د ارزونې په اړه ليکلي. USDA تاييد کړې چې په افغانستان کې د سويا بين توليد له تمې سره سم نه و او د سويا بين هغې پروسس کولو فابريکې چې د دې پروژې له يوې برخې څخه جوړه شوې د اوږد مهاله دوام په اړه يې شک شتون لري. سيګار نظر ورکړی چې په SARAI کې له نورې پانګونې وړاندې، USDA دې د پروژې د راتلونکي دوام، پشمول د په افغانستان کې د سويا بين د کرنې د اقتصادي ورتيا او مارکيټ پيدا کولو د اوسني تحقيق، يوه دقيقه او هر اړخيزه ارزونه ترسره کړي. د لا نور معلوماتو لپاره، د 2 برخې 42 پاڼه وګورئ.

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنې فاکولتې ځواکمن کول (SAAF) | 3/25/2011 | 12/31/2016 | $7,824,209 | $5,561,658 |
| د افغانستان د کرنيزې څېړنې او اضافي پراختيا (AGRED) | 7/17/2012 | 7/16/2017 | 23,638,611 | 5,383,925 |
| د طبيعي سرچينو د مديريت له لارې د عوايد او حکومتوالي ښه کول | 4/10/2010 | 12/31/2014 | 14,000,000 | 12,023,167 |
| IWMP – اوبه لګولو او د اوبو تقسيم مديريت پروګرام | 12/21/2012 | 12/19/2017 | 129,963,114 | 13,475,767 |
| د سيمه ايزې کرنې پراختيا پروګرام (RADP) - سويل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 5,238,808 |
| د سيمه ايزې کرنې پراختيا پروګرام (RADP) - شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 0 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

# اړين خدمتونه او پراختيا

له 2002 څخه، امريکا د بيارغونې لپاره مرسته برابره کړې ده ترڅو په افغانستان کې د برېښنا رسولو لپاره لاس رسی زيات کړي، سړکونه او پلونه جوړ کړي، او روغتيا او زده کړه ښه کړي. دا برخه د امريکا په هڅو کې د مهم پرمختګونو په اړه ده ترڅو د اساسي خدمتونو لکه د برېښنا، ټرانسپورټ، روغتيا او زده کړې رسولو لپاره د افغانستان حکومت توان ښه کړي.

## انرژي

افغانستان د خپلې ټولې برېښنا نږدې 73% واردوي. د نړيوال بانک د وروستي راپور په وينا، تمه کېږي ترڅو په نږدې راتلونکې کې د برېښنا واردات زيات شي، چې دا يې هم ويلي چې برېښنا ته محدود لاس رسی د افغانستان د خصوصي سکتور د پراختيا لپاره تر ټولو لوی خنډ دی.[689] دا هيواد په نړۍ کې تر نورو د برېښنا کمه اندازه لري، او د افغانانو يوازې 25% د برېښنا له شبکې سره وصله ده. له دغو څخه څوک چې وصل دي، په تخميني ډول 75% يې په ښاري سيمو کې ژوند کوي.[690]

څکه چې برېښنا د افغانستان پراختيا لپاره اړينه ده، امريکا له 2002 څخه د افغانستان له حکومت او نړيوالې ټولنې سره په همکارۍ کې، د برېښنا د يوه متحد سکتور پراختيا خپله لوړه لمړيتوب کړې.[691] له 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کال پورې، امريکا د افغانستان د برېښنا په سکتور کې له 2 ميليارده امريکايي ډالرو څخه زيات لګولي دي.[692]

له 2002 څخه تر 2012 پورې، يوازې USAID له ESF څخه 2 ميليارده امريکايي ډالر برابر کړي ترڅو، جنراتورونه، فرعي ستيشنونه، او د برېښنا رسولو لينونه جوړ کړي، او د دې سکتور لپاره تخنيکي مرسته برابره کړي. دا اداره پلان لري ترڅو د 2010-2013 مالي کلونو له مرستو څخه په کار اخيستنې سره، په راتلونکو څو کلونو کې لږ تر لږه له 814 ميليونه امريکايي ډالرو څخه زيات ولګوي.[693] پردې برسېره، د امريکا دفاع وزارت د قوماندان د بيړنې غبرګون پروګرام (CERP) له لارې نږدې 292 ميليونه امريکايي ډالر او د افغانستان د زيربنا

شکل 3.34

**د شمال ختيځ او سويل ختيځ بريښنا سيسټمونو بررسي**







يادونه: موقعيتونه او سرکونه تقريبی دي.

سرچينه: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/3/2014.

**NEPS:** د مرکزي آسيا له جمهوريتونو څخه بريښنا واردوي، ترڅو د کابل او د کابل شمال خوا ټولنو ته بريښنا برابره کړي.

**SEPS:** د بريښنا ډيری برخه د کجکي له بند او د کندهار په ښار کې د ډيزل له جنراتورونو څخه اخلي، ترڅو د هلمند او کندهار ساحو ته بريښنا برابره کړي.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور د پرمختګ راپور، 11/2013، لاس رسی 12/29/2013.

وجهي صندق (AIF)، له لارې نږدې 700 ميليونه امريکايي ډالر، د بريښنا پروژو لپاره برابر کړي دي، چې په ګډه د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو لخوا اداره کيږي.[694]

افغانستان په اوس وخت کې د بريښنا نهه بيلابيل سيسټمونه لري. د دغو دوه مهم سيسټمونه د شمال ختيځ بريښنا سيسټم (NEPS) او د سويل ختيځ بريښنا سيسټم (SEPS)، لکه څرنګه چې پدې شکل3.34 کې ښودل شوي. USAID درې پروژې لري ترڅو په دواړو سيسټمونو کې بريښنا وصله او زياته کړي، شبرغان (په 168 پاڼه کې تشريح شوی)؛ او د کندهار او هلمند بريښنا پروژه، چې پدې کې د کجکي د بند بريښنا؛ او د بريښنا د ليږلو غزيدلو او وصلولو پروګرام شامل دی. د امريکا دفاع وزارت له دواړو NEPS او SEPS سره د AIF پروژو له لارې مرسته کوي. د افغانستان حکومت، له USAID او د امريکا دفاع وزارت سره په نږدې همغږۍ کې، دغو پروګرامونو ته لمړيتوب ورکړی ترڅو د شبکې پر اساس په مناسب قيمت د بريښنا شتون ډير کړي. د بريښنا د شبکې وصلولو موخه دا ده ترڅو په ټيټ قيمت د بريښنا له توليد څخه ښه کار واخيستل شي، د بريښنا د زيرمې ډېل توليد لپاره اړتيا کمه شي، او د سيسټم اعتبار ښه شي.[695]

## د کندهار - هلمند د بريښنا پروژه

د کندهار- هلمند د بريښنا پروژه (KHPP) د دې لپاره په نظر کې نيول شوې ده چې د کندهار او هلمند په ولايتونو کې د بريښنا لاسرسي او اعتماد زيات کړي. دا د دې لپاره ډيزاين شوې و ترڅو د مهمو اړتياوو د لنډ وخت لپاره د ډيزل بريښنا ملاتړ وکړي، د کجکي له بند څخه د اوږد مهالي دوامدارې بريښنا زياته کړي، او د SEPS د بريښنا ليږلو او توزيع سيسټم ښه کولو سره د بريښنا ضايعات کم شي.[696] USAID د کجکي بند د دريم توربين د نصبولو مسوليت د افغانستان بريښنا شرکت (DABS)، د افغانستان د بريښنا ملي خدمتونو ته سپارلی. USAID نورې برخه هم لکه د دوو فرعي سټيشنونو او دوو ډيزل جنراتورونو فابريکې،

د افغانستان بريښنا شرکت ته سپارلي.[697] د امريکا دفاع وزارت د AIF له مرستو څخه کار اخلي ترڅو د کندهار په ښار کې د امريکا د انجنيرانو قول اردو لخوا نصب شوي جنراتورونو لپاره تيل تمويل کړي.[698]

پدې ربع کې، د راپورونو پر اساس د افغانستان په جنوب کې جګړه د اوږد مهال لپاره په هلمند او کندهار کې د بريښنا د بنديدلو سبب ګرځيدلې. له کجکي څخه تر لشکرګاه او د کندهار تر ښاره پورې د بريښنا کيبلونو ته تاوان رسيدلی.[699] پداسې حال کې چې هغه هڅه کوله ترڅو د بريښنا پرې شوي ليينونه بيرته جوړ کړي، د سنګين ولسوالی د بريښنا مديريت معاون ووژل شو.[700]

## د بريښنا د ليږلو پراخولو او وصلولو پروګرام

د امريکا لخوا د بريښنا ليږلو او وصلولو پراختيا (PTEC) پروګرام د دې لپاره ډيزاين شوی ترڅو د بريښنا توليد، ليږلو او توزيع سيستمونه ځواکمن او پراخ کړي. دا پروګرام په مستقيمه توګه د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژی د ملي انرژي رسولو پروګرام ملاتړ کوي، چې پدې پروګرام کې د انرژي د بيلونو پر وړاندې د ټولولو کچې زياتوالو غوښتنه کيږي.[701] دې موخې ته رسيدلو لپاره، د PTEC د سوداګريزې او ظرفيت لوړولو برخو موخې دا دي ترڅو تخنيکي او سوداګريز ضايعات کم کړي.[702] د افغانستان بريښنا شرکت د USAID په زيات ملاتړ سره د PTEC د ټولو قراردادونو د تدارکاتو مسوليت لري.[703]

د NEPS او SEPS پر ځواکمن کولو او پراخولو برسيره، د PTEC يوه مهمه برخه دا ده ترڅو له کابل څخه تر کندهاره له 329 ميله څخه د 304 ميلو ليږلو لين په تمويلولو سره، NEPS له SEPS سره وصل کړي. د NEPS او SEPS وصلول د څو مرستندويانو لخوا د آسيا پراختيايي بانک لخوا د اداري شوي د افغانستان د زيربنا د وجهي صندق (AITF) لخوا تمويليږي، چې د بودجې پر اساس پروژې يا د افغانستان حکومت نور وزارتونه تمويلوي.[704] د 2014 د جون تر 30 پورې، USAID د AITF لپاره 180.3 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 105 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[705]

پدې ربع کې د USAID يوې خپرې شوې پلټنې موندلې چې د 307 مليونو امريکايي ډالرو په ارزښت، چې MW 105 بريښنا توليد توان لري، د USAID لخوا تمويل شوي د تره خيل بريښنا فابريکه د افغانستان بريښنا شرکت لخوا په دوامداره توګه ورڅخه کار نه اخيستل کيږي او نه ساتل کيږي. که څه هم دا فابريکه د 2010 په جون کې د افغانستان بريښنا شرکت ته سپارل شوې، خو دا فابريکه اوس هم په بهرنی تخنيکي مرستې باندې تکيه کوي. لدې څخه په منظمه توګه کار نه اخيستل کيږي، او د دې فابريکې له يووازې 2.2% ظرفيت څخه کار اخيستل کيږي، څکه نو د کابل د بريښنا اړتيا نه ډيريږي. پردې برسيره، فابريکه د خپلو تجهيزاتو شمير نه تعقيبوي، د افغانستان بريښنا شرکت د مديريت مناسب ملاتړ نه برابروي، او دې شرکت د فابريکې لپاره مناسبه عملياتي بودجه نده جوړه کړې. څکه نو USAID د هغې پروژې پر اساس چې د بريښنا توليد لپاره د DABS PTEC د 2 برخې سوداګريز قرارداد نوميږي، د افغانستان بريښنا شرکت د تره خيل بريښنا فابريکې د ظرفيت لوړولو باندې پيل کړی.

د سيګار يو شمير پلټنو د امريکا لخوا د بريښنا تمويل شوي پروژو لپاره د امريکا د دوام پلانونو په اړه پوښتنې کړي، چې د افغانستان بريښنا شرکت او د افغانستان پر حکومت باندې تکيه کوي ترڅو د پروژو مسوليت بر غاړه واخلي. سيګار ويلي چې د افغانستان حکومت دا بنسټونه تر پوښتنې لاندې ظرفيت لري او هغې سرچينې او مالي امکانات نلري چې د خپلو ژمنو پوره کولو لپاره يې اړين دي. د 2010 په جنورۍ کې، سيګار ويلي چې د کابل بريښنا فابريکې، چې د تره خيل د بريښنا فابريکې په نوم هم ياديږي، اوږد مهاله ساتنه، تر يوې برخې، د افغانستان حکومت پر توان پورې اړه لري ترڅو د اړينو تيلو اخيستل او د عملياتو او ساتنې لګښتونه تمويل کړي. په هغه وخت کې، سيګار وړاند وينه کړې وه چې افغانستان به د تيلو اخيستلو لپاره مرستې ته اړتيا ولري او خبرداری يې ورکړی چې که د افغانستان بريښنا شرکت سوداګريزې هڅې ناکامه شي، امريکا به له ستونزمنې پريکړې سره مخامخ شي چې آيا د کابل بريښنا فابريکې تمويل ته دوام ورکړي يا اجازه ورکړي ترڅو له کاره ولويږي.

سرچينې: USAID، د افغانستان د تره خيل د بريښنا فابريکې د عملياتونو دوام ارزونه (راپور شميره F-306-14-002-S)، 6/19/2014؛ سيګار، د پلټنې راپور 12-12، د 2011 مالي کال د افغانستان د زيربنا وجهي صندق پروژې تر مهال ويش شاته دي او د ساتنې مناسب پلان نلري، 7/2012؛ سيګار، پلټنې راپور 4-10، د افغانستان د انرژي اړتيا ډيره شوېده مګر يوه نوي ماستر پلان ته اړتيا ده او ځنډ او د دوام انديښنه اوس هم شتون لري، 1/15/2010؛ سيګار، پلټنې راپور 12-12، په قرارداد کې ځنډ د کابل بريښنا فابريکې او د دوام لپاره د لګښتونو ډيروالي سبب شوي او دوام اوس هم يوه مهمه ننګونه ده، 1/20/2010.

د NEPS او SEPS په وصلولو کې اته فرعي ستیشنونه هم شامل دي چې د لارې پرسر د نفوسو په مرکزونو کې موقعیت لري. دا وصلول، د کجکي د اوبو برېښنا د فابریکې له بیا رغولو سره یوځای، په 2010 د یوواړې یوه مناسب او اوږد مهاله حل لارې په توګه پېژندل شوې وه ترڅو په کندهار کې د قیمتي او نه دوام وړ د ډیزل برېښنا تولید ځای ونیسي. تمه کېږي چې د NEPS او SEPS وصلولو بشپړېدل تر 2018/2017 پورې وخت ونیسي.[706]

## د امریکا دفاع وزارت لخوا تمویل شوي پروګرامونه

پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د 2012 مالي کال او 2013 مالي کال د AIF له پیسو څخه په کار اخیستنې سره د انرژی سکتور یو شمیر پروژو تطبیقولو ته دوام ورکړی. د 2014 د جون په 20، د امریکا اردو د انجنیرانو قول اردو (USACE) د وړاندیزونو لپاره یوه غوښتنه خپره کړه ترڅو کجکي ته نږدې د تنګي له فرعي ستیشن څخه د لشکرګاه د برېښنا د ډیزل تر فابریکې پورې د SEPS د برېښنا لیږلو لینونه ډیزاین او جوړ کړي. د دې پروژې موخه دا ده ترڅو هغه نفوس ته چې برېښنا نلري، د اعتبار وړ برېښنا برابره کړي، د برېښنا ملي شبکه ځواکمنه کړي، او د شبکې پراخیدلو ته اجازه ورکړي.[707] د 1 برخې وړاندیزونو نیټه د 2014 د جولای 21 وه.[708]

د AIF پروژې د دې لپاره جوړې شوې ترڅو د یاغیانو پر وړاندې په ستراتیژۍ او پراختیا کې برخه واخلي. د امریکا کانګرس ته د AIF خبرتیاوې د برخې اخیستلو جزییات تشریح کوي. د وروستی خبرتیا نیټه د 2013 د اګست میاشت وه.[709] مګر، د امریکا دفاع وزارت کومه مطالعه نده پیدا کړې چې په افغانستان کې د برېښنا د انرژۍ او د تاوتریخوالي کموالي ترمنځ اړیکې وښیي. پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت تشریح کړې چې ځکه چې د AIF پروژې اوس هم تر ساختماني کارونو لاندې دي، په اوس وخت کې د دغو پروژو د یاغیانو پر وړاندې او اقتصادي ګټو اوږد مهاله "ارزونه نشي کیدلای."[710]

د AIF په روانو پروژو کې دا شامل دي:[711]

- د کندهار برېښنا وصلولو حل لار
- د کندهار-دوراهی جنکشن د برېښنا لیږلو لینونه
- د چاریکار-بازارک او چاریکار-محمود راقي برېښنا لیږلو لینونه
- د کجکي بند څخه تر موسی قلعې پورې د برېښنا لیږلو لینونه

## د کندهار برېښنا وصلولو حل لار

دا پروژه په کندهار کې تر هغه وخته چې د امریکا دفاع وزارت او د USAID هڅې له لارې ترڅو د NEPS او SEPS سیستمونه سره وصل کړي او په کمو پیسوډ دوامداره برېښنا شتون لري، د ډیزل جنراتورونو لپاره تیل برابروي.[712] د شور اندام په صنعتي پارک او باغ پل کې جنراتورونه په ګډه سره په منځنی کچه له 8-13 میګاواټو برېښنا تولیدوي، او د 2013 په دسمبر کې د شپږو میاشتو له فالتو سامانونو او تیلو سره د افغانستان برېښنا شرکت ته سپارل شوي. د افغانستان برېښنا شرکت سره د امریکا دفاع وزارت تخنیکي مرسته به په 2014 کې دوام لري.[713] د امریکا دفاع وزارت پلان لري ترڅو د 2015 تر سپتمبر پورې په هره میاشت کې په کمیدو سره سبسایدي شوي تیل برابر کړي.[714]

د افغانستان برېښنا شرکت چاراوکو سیګار ته ویلي لکه څرنګه چې پخوا پلان شوي، که د امریکا دفاع وزارت د 2014 په پای کې د تیلو برابرول بند کړي، دا شرکت به پیسې ونلري ترڅو د جنراتورونو لپاره تیل برابر کړي. چاراوکو دا خبرداری هم ورکړی چې داسې نه

**کانګرس د AIF لپاره د ولسمشر د 2014 مالي کال بودجې غوښتنه کموې، ترڅو د امریکا دفاع وزارت د NEPS او SEPS برخه له 279 میلیونو امریکایي ډالرو څخه 199 میلیونو امریکایي ډالرو ته بشپړه کړي. کانګرس دا ماموریت هم ورکړی چې د 2014 مالي کال د AIF له 50% مرستو څخه زیاتو ته تر هغه وخته کار اخیستل کیدای شي چې له 15 ورځو وروسته د دفاع وزیر دا تصدیق کړي چې امریکا له افغانستان سره دوه اړخیزه موافقه لاسلیک کړې ده او دا د امریکا د ملي امنیت په ګټه ده. پردې برسیره، د 2014 مالي کال لپاره د AIF مرستې نشی کیدلای ترڅو هغې پروژې پلان شي، یا جوړي شي چې ساختماني چارې یې د قانون له وضع کیدلو (د 2014 د جنوری 17) څخه وړاندې پیل شوې وي.**

سرچینې: د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحیت قانون، 1224 برخه، مخونه 254-253؛ د متحدو تخصیصونو قانون، 2014، 9016 برخه، مخ 344؛ د کانګرس کتابتون، د مسودې لنډيز او دریځ، 113 کانګرس، H.R. 3547، د کانګرس مهم عملونه؛ د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا دفاع وزارت ځواب، 4/3/2014.

ښکاري چې د افغانستان بريښنا شرکت به په پوره انداز بديله بريښنا ولري ترڅو د ډيزل بريښنا ځای ونيسي. ځکه چې د کجکي د بند دريم توربين او د NEPS او SEPS وصلولو پروژې بشپړيدل به وخت ونيسي، دا ممکنه ده چې د 2015 په پيل کې د کندهار په زرهاوو کورونه او شرکتونه به بريښنا ته لاس رسی ونلري.[715]

له تير ربع څخه د امريکا دفاع وزارت د مرستو اندازه نده بدله شوې. د تيلو، او عملياتونو او ساتنې (O&M) لپاره د 2012 مالي کال مرسته اوس هم 79.8 ميليونه امريکايي ډالر ده. د 2013 مالي کال لګښت 100 ميليونه امريکايي ډالر دي، چې پدې کې 90 ميليونه امريکايي ډالر د سون توکو لپاره او 10 ميليون ډالر د عملياتو او ساتنې لپاره شامل دي.[716] اضافي ګامونو ترڅو په ساحه کې د بريښنا شبکه وصل شي، چې د کندهار بريښنا د مديريت پروژه ده، هغه وخت پرې ښودل شوه کله چې د امريکا کانګرس د 2014 مالي کال لپاره د AIF تخصيصونه کم کړل.[717]

## له کندهاره تر دوراهي جنکشن د بريښنا ليږلو لينونه

د هغو هڅو يوه برخه ترڅو SEPS ته پراختيا ورکړ شي، دا پروژه هغو هڅو ته دوام ورکوي ترڅو له کندهار څخه د دوراهي تر جنکشن پورې د بريښنا د ليږلو لينونه نصب يا بيا ورغوي او په ميوند او پاشمول کې فرعي ستيشونه جوړ يا بيا ورغوي. د دې پروژې لګښت چې قرارداد يې په 2012 کې شوی و، په 2012 مالي کال کې اوس هم دا مرسته 40 ميليونه امريکايي ډالر ده. د بريښنا د ليږلو دا لينونه د PTEC د لويې پروژې مهمې برخې دي چې SEPS او NEPS سره وصلوي او د افغانستان په جنوب او جنوب ختيځ کې د ډاډ وړ بريښنا اړتيا لپاره د حل لار پيدا کوي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د دې پروژې بشپړيدل اړين دي ترڅو د کجکي په بند کې هغه توربين چې د نصبولو په تمه دی، توليد شوې بريښنا توزيع شي.[718]

## د چاريکار-بازارک او چاريکار-محمود راقي د بريښنا ليږلو لينونه او د بريښنا فرعي ستيشونه

په دې پروژه کې به له چاريکار څخه تر بازارک او له چاريکار څخه تر محمودراقي پورې 52 ميل لينونه وغزول شي. دا به د NEPS پراخولو لپاره د بريښنا درې فرعي ستيشونه هم جوړې کړي. د امريکا کانګرس ته د امريکا دفاع وزارت د 2013 خبرتيا په وينا، د امريکا دفاع وزارت د دې پروژې لپاره په 2012 مالي کال کې 38 ميليونه امريکايي ډالر مرسته او په 2013 مالي کال کې 33 ميليونه امريکايي ډالرو مرسته تخصيص کړې ده، چې نږدې ټول لګښت يې 71 ميليونه امريکايي ډالر و. د بريښنا ليږلو لينونو او د فرعي ستيشنونو د عملياتونو او ساتنې کلنې اټکل شوي لګښتونه 580,000 امريکايي ډالره دي.[719]

د افغانستان بريښنا شرکت به د عملياتو او ساتنې مسوليت پر غاړه واخلي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مشتريانو له زياتيدو څخه ډير شوي عوايد او د پيسو ټولولو ښه توان به د افغانستان بريښنا شرکت سره مرسته وکړي ترڅو د اوږد مهال لپاره خپلو کارونو ته ردوام ورکړي.[720] مګر، سيګار د دې شرکت د ظرفيت په اړه پوښتنې کړې او ويلي چې افغانستان هغې سرچينې نلري ترڅو د عملياتو او ساتنې پيسې ورکړي.[721]

## د کجکي له بند څخه تر موسی کلا پورې د بريښنا ليږلو لينونه

دا پروژه په هلمند ولايت کې د کجکي د اوبو بريښنا له بند څخه تر موسی کلا پورې د بريښنا ليږلو نوي لينونه جوړوي. دې پروژې په 2013 مالي کال کې د پروژې 1 برخې لپاره 12 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي، او له کجکي څخه تر نوي فرعي ستيشن پورې چې د 20 کيلو

### د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې، د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر د امريکا دفاع وزارت ته د امريکا حکومت د پلان په اړه ترڅو د 2014 له دسمبر څخه وروسته په کندهار کې د بريښنا انرژي برابره کړي، ليکلی دی، او پدې پروژه کې د وصلولو لنډ مهاله حل لارې، د NEPS او SEPS بشپړولو لپاره مهال ويش، د کجکي بند د بريښنا توليد په اړه نوې معلومات، او وروسته لدې چې د امريکا دفاع وزارت سبسايډی ختمې کړي، د افغانستان بريښنا شرکت د مالي توان ترڅو په کندهار کې د ډيزل دو جنراتورونو ته دوام ورکړي، شامل دي.

ولټه د بريښنا ليږلو له اوسني لين سره به يوځای شي، د بريښنا ليږلو 110 کيلو ولټه نږدې نهه ميلو نوي لينونه جوړ کړي. II برخه پلان لري ترڅو د 2014 مالي کال د مرستو له 49 ميليونو امريکايي ډالرو څخه کار واخلي او له فرعي ستيشن څخه تر موسی کلا پورې د بريښنا ليږلو د 110 کيلو ولټه 23 ميله لينونه او د 110 کيلو ولټه فرعي ستيشن جوړ کړي، او په موسی کلا کې د 20 کيلو ولټه اوسنی فرعي ستيشن ورغوي. د امريکا دفاع وزارت په وينا د دې پروژې موخه دا ده ترڅو د موسی کلا د سيمې نږدې 60,000 استوګنو ته ګټه رسوي.[722]

د پروژې نورې برخې داسې ډيزاين شوې ترڅو په يوه واحد وصل شوي سيستم کې د SEPS پروژې سره وصل کړي. د افغانستان بريښنا شرکت به د عملياتو او ساتنې (O&M) لپاره مسؤليت پر غاړه واخلي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مشتريانو له زياتيدو څخه ډير شوي عوايد او د پيسو ټولولو ښه توان به د افغانستان بريښنا شرکت سره مرسته وکړي ترڅو د اوږد مهال لپاره خپلو کارونو ته ردوام ورکړي.[723] لکه څرنګه چې پورته ويل شوي، د سيګار پلټنو د دې شرکت د ظرفيت او سرچينو په اړه انديښنه ښودلې ترڅو عمليات او ساتنه ترسره کړي.

## د خصوصي سکتور پراختيا

د USAID په وينا، پردې برسيره چې په 2014 کې د افغانستان په امنيت او سياست کې نامعلومتياوې شتون لري، د خصوصي سکتور پانګونه ختمه شوې نده، او حکومت سياسي اراده لري ترڅو د خصوصي سکتور پراختيا هڅولو ته دوام ورکړي.[724] امريکا د ESF، TFBSO، او CERP له لارې د خصوصي سکتور پراختيا ملاتړ کوي.

له 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کال پورې، په افغانستان کې د اقتصادي ودې لپاره امريکا 1.06 ميليارده امريکايي ډالر تخصيص کړي.[725] د USAID د اقتصادي ودې يوه روانه پروژه، چې د ESF له لارې تمويليږي، د تصديو پراختيا له لارې د افغانستان جوړولو سره مرسته (ABADE) ده.

## د تصديو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د تصديو پراختيا له لارې د افغانستان جوړولو سره مرسته | 10/16/2012 | 10/16/2016 | $104,997,656 | $20,479,012 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د USAID د ABADE پروګرام، د ګټورو او په افغانستان کې د ثبت شوي وړو او منځنيو تصديو سره مرستې باندې کار کوي ترڅو د عامه او خصوصي ملګرتيا له لارې (PPAs)، کارونه زيات شي، پانګونه ډيره شي، او د کورنيو محصولاتو او خدمتونو پلور زيات شي. دا کار د دريو برخو له لارې ترسره کوي: د تاييد شوي عامه او خصوصي ملګرتيا تطبيقول؛ د ملګرتيا پيژندل، انتخاب او ملاتړ؛ او د افغانستان له حکومت سره مرسته ترڅو د کارونو لپاره چاپيريال برابر کړي.[726]

USAID راپور ورکړی چې ABADE ستونزه درلوده ترڅو د PPAs د شمير موخو ته ورسيږي؛ او د پروګرام په لمړي کال کې له 90 څخه يووازې 13 PPAs بشپړ شوي. د 2014 له غوښتې وروسته، USAID او ABADE د لنډ مهال لپاره نوې نښه ټاکلې: د جولای تر 1 د 100 PPAs منځ ته راوړل. د 2014 د جولای تر 1 پورې، USAID ته ټولې 101 PPAs وړاندې شوي، لدغو څخه 51 تاييد شوي او نورې 50 د USAID د عمل په تمه دي. د دې پروګرام د

پيل ننګونو ته په کتو سره، پشمول د کارکوونکو ګمارل، دفترونو جوړول، اعلانونه، او د ملګرو د ارزوني اوږد مهاله پروسه، USAID د ټول پروګرام نښو بيا ارزونه ترسره کوي.[727]

## ترانسپورتيشن

د افغانستان د ترانسپورتيشن زيربنا نه شتون داخلي سوداګري، بهرنی تجارت او اقتصادي وده له خنډ سره مخامخ کړې. نړيوال بانک ويلي چې د ترانسپورت سکتور بيارغونه د اقتصاد پراختيا لپاره ډيره مهم ده.[728] د افغانستان د زيربنا کمزوري په ځانګړې توګه د خدمتونو او کرنې سکتورونه له خنډ سره مخامخ کړي، چې اوس په کورني ناخالصو محصولاتو کې مخکښې برخه اخيستونکي دي.[729] د کانونو سکتور يې هم له خنډ سره مخامخ کړی، او د کانونو سکتور په عوايدو باندې د افغانستان حکومت او نړيوال مرستندويان حساب کوي ترڅو د مرستو کموالي ځای ونيسي.[730] پدې ربع کې، امريکا خپلو هڅو ته دوام ورکړی ترڅو د وزارت ظرفيت ته وده ورکړي، عملياتونو او ساتنه ته دوام ورکړي، او د نړيوالو ستندردونو څخه اطاعت وکړي.[731]

## سړکونه

پداسې حال کې چې امريکا په زياتيدونکې توګه د سړکونو د جوړولو او عملياتونو او ساتنې لپاره 2.2 ميليارده امريکايي ډالر برابر کړي دي، او په اوس وخت کې په هر کال کې د عملياتونو او ساتنې هڅو لپاره نږدې 5 ميليونه امريکايي ډالر لګوي، نړيوال بانک ويلي چې د افغانستان 85% سړکونه په کمزوري حالت کې دي او له ډيرو څخه وسايط کار نشي اخيستلای.[732] دامريکا د ترانسپورت وزارت (DOT) په وينا، افغانستان په اوس وخت کې په پوره اندازه مرسته او تخنيکي ظرفيت نلري ترڅو خپل سړکونه او لوی سړکونه وساتي.[733] پردې برسيره، دفعاليت وړ د سړکونو اداري نشتون په ټول افغانستان کې تر ډيرې کچې د سړکونو زيربنا اغيزمنه کړې.[734] که څه هم د 2013 په اګست کې کابينې او ولسمشر د عامه چارو وزارت (MOPW) ته اجازه ورکړې وه ترڅو د سړکونو اداره او سړکونو وجهي صندق جوړ کړي، دغه اداره لا تر اوسه نده تاسيس شوې.[735]

### د سړکونو سکتور دوام

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د سړکونو سکتور راتلونکی دوام | 8/1/2014 | 8/1/2019 | $111,000,000 | $0 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014.

د USAID د سړکونو سکتور دوام (RSS) پروژه څلور مهمې برخې لري:[736]

- 1 فعاليت: بېړني عملياتونه او ساتنه (5 ميليونه امريکايي ډالر) اوس تمه کيږي ترڅو د اپريل پر ځای د تداراکاتو د پروسې ځنډونو له کبله په اګست کې قراردادونه وړاندې شي.[737]
- 2 فعاليت: د افغانستان د عامه چارو وزارت ته تخنيکي مرسته ترڅو د سړکونو اداره او سړکونو وجهي صندق جوړ کړي (په I برخه کې 25 ميليونه امريکايي ډالر: او په II برخه کې 10 ميليونه امريکايي ډالر) تمه کيږي چې اوس د 2014 اپريل پر ځای په اګست کې يو قرارداد وړاندې شي.[738]

### د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې، د سيګار ځانګړو پروژو دفترو USAID ته د امريکا دفاع وزارت په اړه ليکلي چې د سړکونو په پروژو کې يې له يوه ميلیارده امريکايي ډالر څخه زياته پانګونه کړې ده. سيګار ويلي چې دې اداري انديښنه درلوده چې هغه سړکونه چې د امريکا او نورو مرستندويانو لخوا په ډير خطر او لګښتونو سره جوړ شوي، کيدای شي اوس يا په راتلونکي کې په مناسبه توګه ونه ساتل شي او دا چې د ساتنې پر اغيزمنو پلانونو يا ظرفيت کموالي برسيره، اوس هم په افغانستان کې سړکونه جوړيږي. د لا نورو معلوماتو لپاره، د 2 برخه دا پاڼې 46 او 48 وګورئ.

- 3 فعاليت: د افغانستان د عامه چارو وزارت ظرفيت لوړول (38 ميليونه امريکايي ډالر) د اړتياو د روانو ارزونو پر اساس د کار راپور د جوړيدو په حال کې. تمه کيږي ترڅو يو قرارداد د 2015 په نيمايي کې ورانديي شي.[739]
- 4 فعاليت: د سړکونو د عملياتونو او ساتنې فعاليت، (33 ميليونو امريکايي ډالر) د USAID مرسته، د 2015 د جنورئ لپاره وړانديز شوې، کله چې د آسيا پراختيايي بانک د عملياتونو او ساتنې د هڅې کړکې جوړه کړه دا مرسته به د AITF له لارې ولاړه شي.[740]

## د ګرديز او خوست د لوی سړک بيارغونه IV برخه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پاى نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د ګرديز – خوست سړک | 7/10/2014 | 12/30/2015 | $32,760,000 | $0 |

سرچينه: USAID، د سيګار ارزونې د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014.

د 63 ميلو ګرديز او خوست د لوی سړک IV برخې بيارغونه به د سړک 15.5 ميله پاته شوې برخه، پشمول د دوو مهمو پلونو او يو شمير انسدادي ديوالونو، پلچکونو، او اوبو تللو سيستمونه جوړ کړي. د هر ډول هوا لپاره، په قيرو پوښل شوی دا لوی سړک به د خوست او پکتيا ولايتونو ته به له پاکستان، کابل، له حلقوي سړک سره چې کابل، کندهار، او هرات سره وصلوي، دغو مهمو لارو ته لاس رسی ورکړي.[741]

## زده کړه

د امريکا موخه دا ده ترڅو د ظرفيت لوړولو، د زده کړې موادو لپاره د بيرني ځواب ورکولو، ښوونځيو، او د ښوونکو ډيرولو، له لارو د افغانانو لپاره د کيفيت وړ زده کړې لپاره لاس رسی زيات کړي، او د بالغو کسانو لپاره د سواد زده کړې، د کار مهارتونو، او د ځوانانو د روزنې لپاره فرصتونه زيات کړي.[742]

سيګار د هغو معلومات د سموالي په اړه انديښنه لري چې د افغانستان د روزنې په سيستم کې وړانديي شوي. د زده کړې وزارت د زده کړې د معلوماتو د مديريت سيستم (EMIS) څخه د ورستي شته معلوماتو په وينا، افغانستان په 1391 مالي کال کې (د 2012 د مارچ 21 – د 2012 د دسمبر 20) ټول 14,166 ابتداييه، متوسطه، او ثانوي ښوونځي درلودل.[743]

پدې ربع کې، USAID په 1391 د زده کړې وزارت ثبت شوي زده کوونکو شمير په اړه دوه توپير لرونکي معلومات وړانديي کړي. د EMIS معلومات ښيي چې په 1391 مالي کال کې نږدې 7.62 ميليونه زده کوونکي په ابتداييه، متوسطه او ليسې ښوونځيو کې ثبت شوي. له ثبت شوي زده کوونکو څخه، 6.26 مليون حاضر و، پداسې حال کې چې 1.36 مليون غير حاضر و.[744] د زده کړې وزارت يوې نامعلومې سرچينې ثبت شوي شميره لوړه ښودلې، چې په 1391 مالي کال کې 7.78 ميليونه (د EMIS له معلوماتو څخه 160,000 زيات زده کوونکي) په ابتداييه، متوسطه او ليسو کې ثبت و، چې لدغو څخه 6.86 حاضر و او نږدې 922,000 غير حاضر و.[745] د USAID د زده کړې وزارت دريمه سرچينه وړانديي کړې چې په 1392 مالي کال کې د افغانستان د زده کړې په عمومي سيستم کې 8.2 ميليونه زده کوونکي ثبت و. دا شميره د حاضرو او غير حاضرو زده کوونکو په

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه روانه پلټنه په افغانستان کې د زده کړې سکتور سره د امريکا حکومت د مرستې او پراختيا هڅو ارزونه کوي.

**ثبت شوي:** په اکاډميک کال کې د نوي ثبت شوي زده کوونکو ټوله شميره

**حاضر:** په يوه اکاډميک کال کې د هغو زده کوونکو ټوله شميره چې برخه يې اخيستې وي

**غير حاضر:** د هغو زده کوونکو شميره چې د لنډ وخت لپاره غير حاضر وي، مګر بيا هم د ثبت په شميره کې شامل شوي

شميرې باندې نده تقسيم شوې.[746] کله چې دغه راپور رسنيو ته ولاړ د زده کوونکو د اړينو "حاضرو" ورځو تر څو د ټول کال لپاره حاضر حساب شي، معلومه نه وه.

د USAID په وينا، د زده کړې وزارت غير حاضر زده کوونکي د درېو کلونو لپاره د ثبت په ټوله شميره کې شميري، ځکه چې غير حاضر زده کوونکي داسې ګڼل کيږي چې امکان لري هغوی بيرته ښوونځي ته راستانه شي. مګر، د 2013 د سپتمبر د دزد کړې وزارت د زده کړې سکتور ګډې ارزونې سپارښتنه کړې چې د زده کړې وزارت دې خپلو مقرراتو تعديل ورکړې او هغه زده کوونکي چې په دايمي توګه غير حاضر دې ثبت شوي ونه شميرل شي.[747]

د زده کوونکو د زده کړې لاسته راوړنو د ارزونې لپاره، پدې ربع کې، USAID د لمړنيو درجو پروګرام جوړولو ته دوام ورکړی چې پدې کې د زده کوونکو د لوستلو او رياضي ارزونې شاملې دي. USAID د زده کړې د کيفيت ښه کولو لپاره د II پروګرام د څو مرستندويانو په ملاتړ کې برخه اخلې، چې د دې پروګرام له لارې د زده کړې وزارت په ملي کچه د ښوونکو د اعتبار سيستم تطبيقوني ترڅو د ښوونکو لپاره د فعاليت کمې اندازې ستندردونه غوره کړې. په اوس وخت کې د زده کوونکو د لوستلو او رياضي مهارت يا د ښوونکو مهارت لپاره معلومات شتون نلري.[748]

پدې ربع کې د USAID د زده کړې لمړيتوب په پروګرام کې چې د ESF له لارې تمويليږي، دغه شامل دي:

- اساسي زده کړه، سواد زده کړه، تخنيکې-مسلکي ښوونه او روزنه (BELT)
- د افغانستان امريکايي پوهنتون (AUAF)
- د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام (USWFD)

## اساسي زده کړه، سواد زده کړه، تخنيکې-مسلکي ښوونه او روزنه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| اساسي زده کړه، سواد زده کړه، او تخنيکي مسلکي زده کړه- درسي کتابونه | 11/16/2011 | 12/31/2014 | $26,996,813 | $21,955,403 |
| د ښوونکو روزنه | 3/4/2012 | 11/6/2014 | 62,000,000 | 62,000,000 |
| BELT- په ټولنه کې ميشته زده کړه | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |

سرچينې: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 7/10/2014؛ د سيګار بررسی ته د USAID ځواب، 4/14/2014.

د BELT موخه دا ده ترڅو په هغو چې د حکومت له لاس رسی څخه لرې دي په ټولنو کې اساسي زده کړه ښه کړي. BELT څلور برخې لري: د زده کړې وزارت لپاره د ظرفيت لوړول، د ښوونکو روزنه، د 1 تر 6 ټولګيو لپاره د نصاب کتابونو تدارکات، او په ټولنو کې زده کړه.[749] د BELT په ټولنو کې زده کړه (CBE) چټکه او اصلاحي زده کړه برابروي، او زده کوونکو ته اجازه ورکوی ترڅو په لرو پرتو سيمو کې په ښوونځي کې برخه واخلي.[750] پدې ربع کې، USAID او د زده کړې وزارت په ولايتونو کې د CBE ټولګيو تخصيص لپاره په يوه اساس

### د سيګار اندېښنې

د افغانستان په ښوونځيو کې د حاضرو زده کوونکو شميره ډيرې وختونه د افغانستان د روزنې د پرمختګ د شواهدو په توګه ګڼل کيږي. د بيلګې په توګه، د واشنګټن پوست، په يوه مضمون کې چې د 2014 د مې په 30 د ډاکټر راجيو شاه لخوا خپور شوی، د USAID ريس ليکلي، [په افغانستان کې] د زده کړه يو بل روښانه ټکی دی. درې ميليونه انجونې او 5 ميليونه هلکان په ښوونځيو کې ثبت دي.

مګر، د EMIS اعتبار، د زده کړې په وزارت کې د زده کړې د اندازه کولو د تعقيبولو د معلوماتو پيوازينی بانک په توګه د تاييد وړ نده. معلومات پر وخت شتون نلري، او هغه معلومات لکه د ثبت دقيق تناسب، د تکرار اندازه، او د هغو زده کوونکو شميره چې مکتب يې پرې ايښی، شتون نلري. ناامني له ښوونځيو څخه ليدنې محدودوي. د 1390 مالي کال د EMIS د احصايې او تحليل په وروستی راپور کې، د زده کړې وزارت منلي چې په 1390 مالي کال کې يوازې له 1,000 ښوونځيو (د ټولو عمومي ښوونځيو 7%) څخه د معلوماتو تاييد لپاره ليدنه شوې. پردې برسيره، کيدای شي ښوونځي وغواړي ترڅو د خپلو حاضرو زده کوونکو شميره لوړه وښيي، ځکه چې کيدای شي د مرستو لپاره لاس رسی (لکه د EQUP II مرستې) د ثبت له کچو سره وتړل شي.

پدې ربع کې، سيګار موندلي چې په تير ربع کې په EMIS کې د USAID دثبت کارول شوي تعريفونه، په افغانستان کې د ثبت شويو زده کوونکو د ثبت شميره، دوه ځلې شميرل شوي. د ټولو ثبت شوي زده کوونکو پخوانی تعريف، درې شميرې اضافه کړې؛ ثبت شوي، حاضر، او غير حاضر زده کوونکي. مګر، لکه څرنګه چې پدې ربع کې USAID تاييد کړې، د ثبت شوي زده کوونکو هغه شميره چې په تير ربع کې راپور ورکړ شوې، هر زده کوونکی يې دوه ځلې شميرلی. ځکه نو، د ټولو ثبت شوي زده کوونکو شميره چې په تير ربع کې راپور ورکړ شوی، هر زده کوونکی يې دوه ځلې شميرلی.

سرچينې: واشنګټن پوست، "راجيو شاه؛ افغانستان څرنګه په سمه لار وساتل شي،" 5/30/2014؛ د زده کړې وزارت، د زده کړې ګډ سکتور ارزونه 2012، 9/2013؛ USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه ځواب، 3/31/2014 او 6/30/2014؛ د زده کړې وزارت، د EMIS 1390 احصايوي تحليلي راپور، 2012؛ نړيوال بانک، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د زده کړې د کيفيت ښه کولو دويمه پروژې د وړانديز شوي مرستې د SDR 18.9 ميليونو لپاره د پروژې سند، 1/4/2008، USAID، د سيګار د ارزونې په اړه ځواب، 4/12/2014 او 7/9/2014.



**د زده کړې لپاره نړيواله ملګرتيا.** په مسجد کې د زده کړې مرکز، پښته غله کلی، د شهرک ولسوالی، د غور ولايت، د 2014 جنوری.
(د UNICEF عکس)

باندې موافقه کړې، او دې کار د زده کړې وزارت ته اجازه ورکړې ترڅو خپل کلنی کاري پلان بشپړولو باندې پيل وکړي. د زده کړې وزارت د افغانستان په مرکزي ولايتونو کې د نصاب کتابونو رسول هم پيل کړي.[751] مګر، يووازې د نصاب کتابونو رسول د زده کړې سبب نه ګرځي. د 2012 له ساحو څخه د ليدنې راپورونه ښيي چې د نصاب کتابونه ځينې وختونه د ولسواليو په دفترونو کې په ګدامونو کې ساتل کيږي او د مرستو نشتون له کبله ښوونځيو ته نه توزيع کيږي.[752] د راتلونکې ربع په ملي کچه د نصاب کتابونو توزيع به پلټنه وشي.[753]

د ماليې وزارت لخوا د امريکا له مرستو څخه د غير مناسبو ماليو له کبله، BELT اوس هم له USAID څخه د نصاب کتابونو د تادياتو له ځنډ سره مخامخ ده. پدې ربع کې، د ماليې وزارت د بودجې کميټې چاراواکو پريکړه کړې چې هغې ماليې چې د نصاب کتابونو د قرارداد تادياتو له کبله ساتل شوي، هغه به د BELT ځانګړې حساب ته بيرته ورکړ شي؛ دغه تاديات لا تر اوسه ندي ترسره شوي. USAID د زده کړې وزارت د توان له ننګونو سره هم مخامخ ده ترڅو وکولای شي د بودجې پر اساس فعاليتونه پر وخت باندې تطبيق کړي.[754]

## د افغانستان امريکايي پوهنتون

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امريکايي پوهنتون PDI | 8/1/2013 | 7/31/2018 | $40,000,000 | $6,447,328 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د USAID د پنځو کلونو د همکارۍ قرارداد دويمه موافقه د افغانستان له امريکايي پوهنتون لپاره د ليسانس له فارغينو سره د انګليسي ژبې او د روزنې پروګرام ملاتړ ته دوام ورکوي. د دې موافقې موخه دا ده ترڅو د اکاډميک او تخصصي پراختيا پروګرام ځواکمن کړي، د ميرمنو لپاره پروګرام ته پراختيا ورکړي، او له ځانه مالي امکانات زيات کړي.[755]

## د افغانستان د پوهنتون او کاري ځواک څخه د ملاتړ لپاره پراختيايي پروګرام

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا | 1/1/2014 | 12/31/2018 | $91,927,769 | $2,330,336 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د افغانستان د پوهنتونو او کاري ځواک څخه د ملاتړ لپاره پراختيايي پروګرام (USWFD) موخه دا ده ترڅو د چاراواکو د روزنې، د سکالرشيب تمويلولو، او د امريکا او کوريا هيواد پوهنتونونو ترمنځ د همکارۍ آسانتياو برابرولو له لارو د لوړو زدکړو وزارت او د 10 عامه پوهنتونونو د مديريت ظرفيت ښه کړي.[756]

USAID وېلي چې USWFD پروګرام د تطبيقولو لکه په فاکولتو کې د مشرې نشتون، پخواني نصابونو، او نامناسبو تاسيساتو ننګونو سره مخاخ ده. پردې برسيره، د پوهنتونونو د مالي خپلواکی قانون، چې دا به پوهنتونونو ته اجازه ورکړي ترڅو د د خدمتونو لپاره د زده

کوونکو او کاري فيسونو ارزونه ترسره کړي، اوس هم د پارلمان په ولسي جرګې کې له ځنډ سره مخامخ ده.[757] نا امنۍ او ټولټاکنو هم د استخدام، او کارکوونکو غير مناسبې سرچينې هم کيدای شي د تطبيق ترسره کولو لپاره يوه ستونزه وي.[758] د دې پروژې د دويم کال لپاره د فعاليت يوه ارزونه پلان شوې.[759]

## د زده کړې په برخه کې د USAID نور فعال پروګرامونه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د زده کړې لپاره نړيواله ملګرتيا | 10/11/2012 | 3/31/2015 | $2,500,000 | $495,655 |
| د افغانستان تعبيرونه | 6/1/2013 | 5/31/2014 | 380,000 | 380,000 |
| د افغانستان تخنيکي مسلکي انستيتوت | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 475,000 |
| په افغانستان کې د زده کړې خواکمن کول (SEA) | 8/8/2010 | 6/30/2014 | 10,225,847 | 10,205,932 |
| په افغانستان کې د زده کړې خواکمن کول (SEA II) | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29,835,920 | 3,265 |
| د افغانستان د زده کړې سکالرشيپ پروګرام | 8/21/2011 | 7/31/2017 | 7,384,665 | 5,770,465 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

### د سيګار انديښنې

د USAID د افغانستان د مړينې سروې (AMS) پايلو څخه خو ځلې کار اخيستل شوی ترڅو دا وښودل شي چې د افغانستان د روغتيا په سيستم کې د پام وړ پرمختګونه د امريکا د مداخلې د هڅو برخې اخيستنې له کبله دي. د واشنګټن پوسټ په يوه مضمون کې چې د 2014 د مې په 30 خپور شوی، ډاکټر راجيو شاه، د USAID رييس د افغانستان "د ژوند کولو هيلې د ډېر زياتوالي" په اړه ويلي، ترڅو په روغتيا کې د افغانستان پرمختګ وښيي.

مګر، د USAID او د نورو بنسټونو د اټکلونو ترمنځ ډېر زيات واټن شتون لري. په راتلونکې پاڼه کې جدول 3.26 د AMS پايلې د نورو بنسټونو د ژوند کولو هيلې سره پرتله کوي. ډېری بنسټونه د شپږو کلونو په ترڅ کې د ژوند کولو هيلې له دوو تر پنځو کلونو زياتوالی اټکل کوي، پداسې حال کې چې د ورته وخت لپاره د مړينې سروې موندنې د 20 کلونو زياتوالی ښيي.

هغه دليلونه چې ولې د USAID اټکلونه د نورو بنسټونو له اټکلونو سره توپير لري کيدای شي هغه عوامل وي لکه د AMS ناتواني تر څو په جنوبي ولايتونو کې په بشپړه توګه سروې وکړي، او د افغانانو هغه کلتور وي چې نه غواړي ترڅو له بې ګانه و خلکو سره د ښځو او کوچنيانو د مړينې په اړه خبرې وکړي.

سرچينې: واشنګټن پوسټ، "راجيو شاه: افغانستان څرنګه په سمه لار وساتل شي،" 5/30/2014؛ USAID، د افغانستان د مړينې سروې 2010، 11/2011.

## روغتيا

د افغانستان د عامې له وزارت (MOPH) سره د امريکا په مرستو کې، د ظرفيت لوړول، روزنه، په ملي او سيمه ايزه کچو د کيفيت ډاډ فعاليتونه، په ځانګړې توګه په هغو ولايتونو کې چې په جنوب او ختيځ کې دي، چيرته چې تر ډېرې کچې خدمتونه شتون نلري، شامل دي.[760]

د افغانستان د سوکالۍ او پراختيا لپاره د همغږۍ اداره، يوه ملاتړ کوونکې اداره ده چې 128 ملي او نړيوالې غير دولتي سازمانون چې په افغانستان کې کار کوي د دې ادارې غړي دي، پدې ورستيو کې پدې اړه يو راپور خپور کړی، چې په 2014 کې د امنيت سپارل څرنګه د روغتيايي پاملرنې رسول له ځنډ سره مخامخ کړی. پداسې حال کې چې د ملکيانو او اردو قربانيو شمير په ډېريدو دی، افغان ځواکونو تر ډېرې کچې د خپلو ټپيانو وړلو لپاره پر ځمکنې وړلو باندې تکيه کوي او ډېری وختونه د اردو د روغتيا خدمتونو پر ځای له ملکي خدمتونو څخه کار اخلي. پردې برسيره، په 2013 کې په افغانستان کې ملګرو ملتونو د روغتيايي پاملرنې پر تاسيساتو او کارکوونکو باندې 32 بريدونه مستند کړي، او په 2012 کال کې 20 بريدونه ترسره شوي. پدغو ډېريو پيښو کې ګواښونه، او زورونې، او د روغتيايي کارکوونکو اختطافونه او په نښه شوي وژنې شاملې وي.[761]

## د USAID د انسانانو د مرګ سروې موندنې

د USAID د يوې ډېرې ويل شوې په نښه شوې بريا د USAID لخوا تمويل شوې په 2010 کې د افغانستان د انسانانو د مرګ سروې ده، دې سروې موندلې چې له 2002 څخه د افغانستان د وګړو د ژوند کولو هيله تر 20 کلونو پورې له 62 تر 64 پورې ډېره شوې.[762] مګر، نور بنسټونه پدې نظر دي چې دا لاسته راوړنې معمولې دي، او ځينې ماډلونه له 2004 څخه تر 2010

جدول 3.26

**د USAID د ژوند اوسط عمر موندنې د نورو ماډلونو د ژوند کولو هیلې په پرتله (کلونه)**

| | USAID (د افغانستان مړینې سروې) | د CIA نړیوال حقیقت کتاب: | نړیوال بانک (د نړۍ پراختیا نښې) | د ملګرو ملتونو د نفوسو څانګه (د نړۍ نفوسو وراندوینه) | د امریکا د احصایې بیورو (نړیوال معلوماتو اساس) | نړیوال روغتیایي سازمان (نړیوال معلوماتو اساس) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| له 2004 تر 2010 (6 کلونه) د ژوند اوسط عمر زیاتوالی | 20 | 2.2 | 3.0 | 2.6 | 2 | 5 |
| له 1990 تر 2010 (20 کلونه) د ژوند اوسط عمر زیاتوالی | -- | معلومات شتون نلري | 11.0 | 12.0 | 7 | 11 |
| په 2010 کې د ژوند اوسط عمر | 62 | 44.7 | 59.6 | 58.4 | 49 | 60 |
| په 2004 کې د ژوند اوسط عمر | 42 | 42.5 | 56.6 | 55.8 | 47 | 55 |
| په 1990 کې د ژوند اوسط عمر | -- | معلومات شتون نلري | 48.6 | 46.4 | 42 | 49 |

یادونې: شمیرې تقریبي دي. د 6/17/2014 پورې معلومات. د شته معلوماتو پر اساس د 1990، 2000، او 2012 کلونو د روغتیا نړیوال سازمان اټکلونه.

سرچینې: "د CIA نړیوال حقیقت کتاب: افغانستان،" لاس رسی 6/17/2014؛ نړیوال بانک، د نړۍ پراختیا نښې، لاس رسی 6/17/2014؛ د مګلرو ملتونو د نفوس څانګه، د نړۍ نفوسو وړاند وینه، لاس رسی 6/17/2014؛ د امریکا احصایې بیورو، ، نړیوالو معلوماتو اساس، لاس رسی 6/17/2014؛ نړیوال روغتیا سازمان، د نړۍ روغتیا کتنه، لاس رسی 6/17/2014؛ USAID، "د روغتیا پروګرامونه، د روغتیا لنډه کتنه،" لاس رسی 7/6/2013؛ USAID، د افغانستان د مړینې سروې 2010، مهمې موندنې، 12/2011.

پورې د ژوند کولو هیله یووازې له دوو تر دریو کلونو پورې زیاتوالی ښیي. هغه بنسټونه چې د افغانستان د ژوند کولو هیله کېدای شي په 2010 تر 60 پورې زیاتوالی بولې، مګر دغه ټول د ژوند کولو هیله له لوړ اساس څخه شمیري. د بیلګې په توګه، نړیوال بانک، چې په 2010 کې یې د ژوند کولو هیله 59.6 شمیرلې وه، په 2004 کې د 56.6 له اساس څخه پیلیږي، او دا دریو کلونو یوه لاسته راوړنه ده. پردې برسیره، په 1990 کې، نړیوال بانک د ژوند کولو هیله 48.6 ګڼلې وه، دا ښیي چې دا بانک په افغانستان کې د ژوند کولو هیله په هره لسیزه کې له پنځو تر شپږو کلونو وده ښیي، او دا د امریکا د مداخلې په هڅو پورې اړه نلري.[763]

## د USAID مرسته

له 2002 مالي کال څخه تر 2013 مالي کال پورې، د افغانستان روغتیا سکتور ته د بودجې پر اساس او له بودجې څخه دباندې د امریکا مرسته ټوله 1.2 میلیارده امریکایي ډالر ده.[764] له 2014 څخه تر 2018 پورې، د USAID ټوله مرسته به 477 میلیونه امریکایي ډالر وي.[765] د روغتیا وزارت لپاره د بودجې پر اساس مرستو کې د امریکا لخوا په تمویل شوي تاسیساتو کې د کارکوونکو د معاشونو تادیات، مواد او تجهیزات، په خدمت کې روزنه، د تاسیساتو ورې بیارغونې، او نظارت او لارښوونه شامل دي. له بودجې څخه د باندې د مرستې په فعالیتونو کې د روغتیا سیستم ځواکمن کول، د خصوصي سکتور ګډون، او د درملو او بارداری مخې نیولو درمل شامل دي.[766]

## د USAID څارنه

USAID د عامې روغتیا د مرستو او قراردادونو د مدیریت اداري (GCMU) ته مرسته ورکوي، دا اداره مسولیت لري ترڅو په منظمو لیدنو او د تطبیق کوونکو غیر حکومتي سازمانونو د میاشتني راپورونو له لارې د USAID لخوا د تمویل شوي تاسیساتو نظارت ترسره کړي. دواړه غیر حکومتي سازمانونه او د GCMU کارکوونکي د روغتیا تاسیساتو منظم نظارت ترسره کوي او د هغو ناروغانو شمیره چې مهم خدمتونه یې لاسته راوړي، او د برابرو شوي خدمتونو ډول او کیفیت مستند کوي.[767]

USAID د افغانستان د روغتيا معلوماتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د روغتيا مديريت معلوماتو پر سيستم باندې تکيه کوي. د USAID مشرې، مديريت، او حکومتوالې (LMG) پروژه د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي ترڅو د معلوماتو او راپور ورکولو کيفيت ښه کړي. LMG د معلوماتو د کيفيت ارزونې (DQA) وسيلو څخه ملاتړ کړې، چې د هرې مياشتې راپور ورکړ شوي معلومات د روغتيا تاسيساتو د ورته مياشت له معلوماتو سره پرتله کوي، د HMIS له تعريفونو څخه د روغتيا کارکوونکو پوهه اندازه کوي، او له معلوماتو څخه د کار اخيستنې ارزونه کوي. د 2013 له جولای څخه تر دسمبر پورې، له DQA څخه په 416 په غير منظمه توګه غوره شوي د روغتيا په تاسيساتو کې کار اخيستل شوی، او پايلې يې له غير حکومتي سازمانونو سره شريکې شوې. د DQA ارزونه به په منظمه توګه ترسره شي.[768] د LMG د پروګرام د لا نورو معلوماتو لپاره 187 پاڼه وګورئ.

## پوليو يا ګوزڼ

افغانستان له پاکستان او نايجريا سره هغه درې هيوادونه دي چې ګوزڼ اوس هم هلته په پراخه کچه شتون لري.[769] د 2014 تر جولای پورې، په 2014 کې په افغانستان کې د ګوزڼ اوه قضيې تاييد شوې دي، او دا په 2013 کې له 14 څخه، او په 2012 کې له 37 څخه او په 2011 کې له 11 څخه کمې دي.[770] USAID وايي چې د ډيريدونکي نا امنۍ له کبله، د ګوزڼ واکسين کچه اوس هم ټيټه ده.[771] پدې ربع کې، د عامې روغتيا وزارت په جنوبي، جنوب ختيځ، او ختيځو سيمو کې، د ګوزڼ پر وړاندې د اوړي کلنې واکسين کمپاين دويمه دوره پيل کړه، او پدې کمپاين کې د هلمند ولايت شامل نه و ځکه چې د 2014 له فبرورۍ څخه هلته لاس رسی نشته.[772] نږدې 8.9 ميليونه کوچنيان چې عمرونه يې پنځه کلونه يا کم و د دغه واکسين موخه و، پداسې حال کې چې ميليونه کوچنيانو چې عمرونه يې له شپږو مياشتو تر پنځو کلونو پورې و د ويټامين A تابليتونه يې د بدن محافظتي سيستم ځواکمن کولو لپاره لاسته راوړل.[773]

## د USAID د روغتيا پروګرامونه

د USAID د دې ربع د لوړ لومړيتوب روغتيا سکتور په پروګرامونو کې دا شامل دي:[774]

- د روغتيا خدمتونو لپاره د ملګرتيا قراردادونه (PCH)
- د روغتيا پاليسي پروژه (HPP)
- د رهبريت، مديريت، حکومتدارۍ پروژه (LMG)

## د روغتيايي خدمتونو لپاره د ملګرتيا قراردادونه

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي خدمتونو لپاره د ملګرتيا قراردادونه | 7/20/2008 | 1/31/2015 | $236,455,840 | $178,784,131 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

د کوربه هيواد د PCH پروګرام قرارداد د عامې روغتيا وزارت د هڅو ملاتړ کوي ترڅو په 13 ولايتونو کې د روغتيا اساسي خدمتونو بستې (BPHS) او په پنځو ولايتونو کې د روغتونونو اړينو خدمتونو بستې (EPHS) برابر کړي.[775] PCH له 6,000 څخه د زياتو روغتيايي ستيشنونو او له 540 څخه زياتو روغتيايي تاسيساتو، پشمو د روغتونونو او روغتيا مرکزونو له روغتيايي پاملرنو څخه ملاتړ کوي. او دغه پروګرام د ولايتونو په پنځو او يوه ملي روغتون کې د دريمې

### د سيګار تحقيق

د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د مديريت اداره، چې هغو غير حکومتي سازمانونو ته چې د روغتيا تاسيسات پرمخ وړي، نظارت او لارښوونه برابروي، په يوه روان تحقيق کې سيګار د غير حکومتي سازمانونو د بيلونو، د روغتيا ټول شوي تاسيساتو لپاره د مرستو، د رشوت غوښتنو، او د مهال ويش غلطو پاڼو ارزونه ترسره کوي.

**د 2014 د جولای په 7، د راپورونو پر اساس د افغانستان طالبانو د هلمند په ولايت کې د ګوزڼ واکسين بندولو اعلان کړی. له 2012 څخه پاکستاني طالبانو د ګوزڼ واکسين بند کړی.**

سرچينه: د وال ستريټ ژورنال، "د افغانستان طالبانو په جنوبي ولايتونو کې د ګوزڼ واکسين بند کړی،" 7/7/2014.



د مرستندويانو لخوا د ضمانت شوي پروګرام له لارې **يو افغان کوچنی** درمل لاسته راوړي. (د يوناما عکس د فردين واعظي لخوا)

درجې روغتیایي پاملرنې خدمتونو ملاتړ هم کوي. پردې برسیره، PCH په ټولنو کې د دایو د روزنو پروګرام ملاتړ کوي، او د دې پروګرام موخه د مور او کوچني د مړینې کموالی دی.[776]

پدې ربع کې، USAID راپور ورکړی چې د ټولټاکنو په اړه امنیتي ستونزو د روغتیا تاسیسات تړلي او په ناامنه ځایونو کې کارکوونکو ته ګواښ شوی. پردې برسیره، د کورنه هیواد د قرارداد د تدارکاتو اوږد مهالې پروسې د PCH فعالیتونو تطبیقول له ځنډ سره مخامخ کړي، او د غیر حکومتي سازمانونو د BPHS لخوا برابر شوي روغتیایي خدمتونو ښه والي ته اړتیا درلوده.[777]

PCH په هرو شپږو میاشتو کې USAID ته راپور ورکوي.[778] مګر د عامې ورغتیا وزارت په اړه د سیګار د 2013 سپتمبر پلټنې موندلي چې USAID د عملیاتونو د لګښتونو د پوښښ لپاره په هرو 45 ورځو کې له وړاندې زیاتیدونکې مرسته برابروي. د عامې روغتیا په وزارت کې دغه او نورې کورنی کمزورۍ، د PCH پروګرام پر اساس د امریکا مرستې د ضایعاتو له خطر سره مخامخ کوي.[779]

د دغو خطرونو د کمولو لپاره، پدې ربع کې USAID راپور ورکړی چې PCH اوس له بودجې څخه دباندې له مرستو او عامې روغتیا وزارت د قراردادونو د مدیریت اداري (GCMU) لخوا تطبیقیږي. GCMU د مخکنیو مرستو لپاره او لدغو مرستو څخه د کار اخیستنې لپاره غوښتنې وړاندې کوي. USAID د دې پروسې نظارت کوي او د دې لپاره یې یو خپلواکه حساب په مرکزي بانک چې ورته لاس رسی لري، پرانیستی دی. خپلواک پلټونکي هم د PCH پلټنه کوي. ارنست اینډ یانګ د عامې روغتیا وزارت یوه ارزونه ترسره کړې، او د هغوی د سپارښتنو د تطبیقولو په پروسه کې دی. USAID د عامې روغتیا وزارت د سپارښتنو د حل لارو پیدا کولو د پرمختګ بیاکتنه کوي، او د روژې له میاشتې وروسته دویمه بیاکتنه پلان کوي.[780]

## د روغتیا پالیسی پروژه

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټولیز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتیایي پالیسی پروژه | 4/2012 | 1/2015 | $28,000,000 | $18,418,498 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/22/2014.

د روغتیا پالیسی پروژه (PPH) د ډیزاین، خبرو، او د روغتون د عامه او خصوصي ملکرتیا د مدیریت له لارې د عامې روغتیا وزارت ظرفیت لوړوي. د دې پروژې موخه دا هم ده ترڅو د روغتیایي سرچینو مالي چارې او مدیریت ځواکمن کړي، د رغتیا سکتور په فعالیتونو کې د جندر د ونډې ملاتړ وکړي، او د سیمه ایزو خصوصي سازمانونو ظرفیت ته وده ورکړي ترڅو د افغانستان له حکومت سره د انفرادي خلکو او ټولنو د ګټې لپاره په چلندونو کې بدلون راوړي.[781]

پدې ربع کې، USAID ویلي چې په ټولټاکنو پروې اړوندې ناامنی د نړیوالې ټولنې تخنیکي مرستې راتګ ځنډولی، او د څو ورځو لپاره یې د HPP دفتر تړلی و. HPP د روغتون د عامه او خصوصي ملګرتیاو د سندونو او سیمه ایزو فرعي قراردادیانو د ارزونې لپاره د عامې روغتیا وزارت د تایید په تمه ده ترڅو مواد لاسته راوړي او د میندو او کوچنیانو د روغتیا وسیلو ته وده ورکړي.[782]

پر دې ننګونو برسیره، پدې ربع کې HPP د عامه روغتیا د اقتصادي روغتیا او مالي چارو ریاست (HEFD) ملاتړ وکړ ترڅو د لګښت د مدیریت معلوماتو سیستم پیل کړي، چې د ملي روغتیا د لګښتونو د منظمو راپور ورکولو ملاتړ کوي. له پیل څخه وروسته، HPP له نوموړي

رياست څخه ملاتړ وکړ ترڅو 51 غير حکومتي سازمانونو ته د دې سيستم په اړه روزنه ورکړي. HPP د روغتون کارکوونکو ته د کم اړين ستندردونو په اړه، او د روغتيا کارکوونکو ته د جندر پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه، او د عامې روغتيا وزارت ولايتي کارکوونکو ته د چلند د بدلون/شخصي اړيکو په اړه روزنه ورکړه.[783]

## د مشرۍ، مديريت، او حکومتولي پروژه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| مشرۍ، مديريت، او حکومتوالی/ساحوي ملاتړ | 9/1/2012 | 10/31/2014 | $32,000,000 | $22,826,010 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 7/10/2014؛ د سيګار ارزونې ته د USAID ځواب، 7/11/2014.

د LMG پروژه د د افغانستان د روغتيا او زده کړې په سيستمونو کې د عامې روغتيا له وزارت او د زده کړې له وزارت سره په مرکز او ولايتونو کې کار کوي ترڅو د حکومتوالی ظرفيت ته وده ورکړي، حساب ورکول ښه کړي، او د بودجې پر اساس مرستې مديريت سره مرسته وکړي.[784]

پدې ربع کې، USAID ويلي چې LMG په مرکز، ولايتونو او په تاسيساتو کې له معلوماتو څخه د کار اخيستنې او د شواهدو پر اساس د پريکړې اخيستلو په اړه يو شمير ورکشاپونه جوړ کړي. LMG د روغتيا په اساسي پاملرنه، د معلوماتو کيفيت، او د روغتون په مديريت کې د روغتيايي پاملرنې کارکوونکو روزنې ته دوام ورکړی. د استادانو د روزنې اوه سيمه ايز کورسونه جوړ شوي، او USAID ويلي چې په ټولنو کې د روغتيا کارکوونکو (CHW) روزونکي او په ټولنو کې د روغتيايي پاملرنې افسران به په ټول هيواد کې خپلې روزنې CHWs ته ورسوي. LMG په غوره شوي ولايتونو کې د روغتيا د کيفيت ښه والي پروګرام هم پيل کړی.[785]

USAID پدې ربع کې د عامې روغتيا وزارت سره د کارکولو د يو شمير ننګونو په اړه، پشمول د لوړې کچې بيروکراسي، د مشرانو ډير بوخت مهال ويش، او بې ځايه غوښتنې چې د تاييد شوي کاري پلان تطبيقول ځنډوي، په اړه هم ويلي دي.[786]

## د USAID د روغتيا نور فعاله پروګرامونه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 6/30/2013 پورې ټوليز لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د فارمسي سيستم تقويه کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $14,365,800 |
| د ګوزن له منځه وړلو فعاليتونه | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 10,750,000 | 9,415,102 |
| BT = د ساحې مرسته | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 4,600,000 | 1,252,370 |
| د پوهنتون څيرنه = د ساحې مرسته | 9/30/2009 | 9/29/2014 | 13,950,000 | 12,950,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/10/2014.

# 4
# د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو د نظارت فعالیتونو منځپانګې


**د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه** **192**

**د نظارت روان فعالیتونه** **196**


**عکس په تیره پاڼه کې**
د سیګار کارکوونکوي په لښکر ګاه کې د هلمند له والي سره تر غونډې وروسته هکلیکوپتر ته پورته کیږي. (د امریکا د بحري قول اردو عکس)

# د نورو ادارو نظارت

د سیګار د صلاحیت قانون لدې ادارې څخه غوښتنه کوي ترڅو د بیارغونې د پروګرامونو د اداري ستونزو په اړه په پوره توګه د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته خبر ورکړي، او د سیګار د نظارت کارونو او د امریکا د بیارغونې د هڅو په اړه، د هر مالي کال له پای څخه وروسته د 30 ورځو په ترڅ کې کانګرس ته راپور ورکړي. په هر ربع کې سیګار له نورو ادارو څخه د بشپړ شویو او روانو نظارت فعالیتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. پدې برخه کې دغه نوي معلومات شامل دي.

توضیحات په هغه توګه دي لکه چې وړاندي شوي، او واړه بدلونونه لري ترڅو د دې راپور له نورو برخو سره مطابقت وساتل شي: د پوره نوم پر ځای د اختصار توري؛ ستندرد لویو ټکو کارول، د ربط نښه، د تنقیط علامه، غوره املا، او د دریم کس پر ځای د لمړي کس کارول.

په افغانستان کې دغې ادارې د نظارت فعالیتونه ترسره کوي او پایلې یې سیګار ته وړاندې کوي:

- د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD OIG)
- د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (State OIG)
- د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د اردو پلټنې اداره (USAAA)
- د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

جدول 4.1 د بیارغونې کارونو په اړوند د نظارت د هغو پروژو لست دی چې پدې ربع کې برخه اخیستونکو ادارو د بشپړ شوي په توګه راپور ورکړي.

جدول 4.1

**د 2014 د جون تر 30 پورې، د امریکا د نورو ادارو د نظارت وروستي بشپړ شوي فعالیتونه**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیته | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2014-072 | 5/19/2014 | د امریکا اردو او ایتلاف هڅې ترڅو د افغانستان د ملي پولیسو ملاتړ لپاره اغیزمنې او د دوام وړ روغتیايي پاملرنې ته وده ورکړي |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | GAO-14-528C | 6/13/2014 | د افغانستان لیږد: د قرارداد ملاتړ کمولو لپاره په افغانستان کې د امریکا ځواکونو هڅو په اړه خبرې |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | GAO-14-680T | 6/10/2014 | افغانستان: د امریکا مرستو نظارت او حساب ورکول |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | GAO-14-475C | 5/16/2014 | د افغانستان لیږد: په افغانستان کې د امریکا دفاع وزارت د مشورې پر ماموریت د امریکا ځواکونو کموالي اغیز |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | GAO-14-191SU | 4/4/2014 | د افغانستان تجهیزاتو کموالی: پدغه برخه کې پرمختګ شوی، مګر د پریکړو په اخیستلو کې ښه کنترولونه کیدای شي د بې ځایه لګښتونو مخه ونیسي |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | GAO-14-438R | 4/1/2014 | افغانستان: د امریکا نوې ملکي – نظامی ستراتیژیک کاري چوکاټ کې بدلونونه د امریکا ونډې رول ښیي |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | F-306-14-002-S | 6/19/2014 | د افغانستان د تره خیل بریښنا فابریکې د عملیاتونو دوام ارزونه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | F-306-14-003-P | 6/10/2014 | په افغانستان کې د USAID له ملکي افغانانو سره د مرستې پروګرام پلټنه |

سرچینې: DOD OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/19/2014؛ State OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/23/2014؛ GAO، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/19/2014؛ USAAA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 6/17/2014؛ USAID OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/16/2014.

## د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان بیارغونې په اړه یو راپور خپور کړی.

### د امریکا اردو او د ایتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پولیسو لپاره فعاله او دوامداره روغتیايي پاملرنه جوړه کړي

(راپور شمیره DODIG-2014-072، د 2014 د مې په 19 خپور شوی)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر موندلي چې د ثابت او څرخې وزر الوتکو، C-208 او Mi-17 څخه په کار اخیستنې سره د افغانستان هوایي ځواک د قربانیانو د وړلو وړتیاوې جوړوي. د افغانستان هوایي ځواک پدې کال کې د قربانیانو په وړلو کې ډېر پرمختګ کړی، د قربانیانو وړل یې زیات کړي او د غبرګون وخت یې ښه شوی. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د اسلامي جمهوري حکومت د ادارو ترمنځ د همکار ښې بیلګې موندلي چې دې کار د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د روغتیا په سیستم او د افغانستان ملي پولیسو (ANP) د روغتیا د مستقیم ملاتړ په پراختیا کې مثبته اغیز لرلی ده.

پر موندل شوي پرمختګونو برسیره، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر موندلي چې ځینې ننګونې لا پاته دي. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر موندلي چې د امریکا او د ایتلاف پلانونه او د مشورې هڅې د افغانستان ملي پولیسو په دوامداره توګه د روغتیا پر وړتیا باندې کار ندی کړی، ترڅو د ټیپي کیدلو اغیزمنه ځای او د محاربې قربانیانو لپاره د لارې په ترڅ کې پاملرنه برابر کړي. پردې برسیره، د روغتیا مشورې سرچینې په پوره اندازه شتون نلري یا په ځینو حالتونو کې، هغه مهارت او روزنه نلری ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د روغتیا د وړتیا له پراختیا سره مرسته وکړي.

د افغانستان ملي پولیس په پوره اندازه ډاکټران یا د اړتیا وړ هغه تجهیزات او مواد نلري ترڅو د ټپي پولیسو کارکوونکو لپاره مناسبه روغتیایي پاملرنه برابره کړي. د افغانستان ملي پولیسو د سرطبیب دفتر د پراختیا اضافي مرستې ته اړتیا لري ترڅو د افغانستان د کورنیو چارو په وزارت (MOI) کې د روغتیایي فعالیتونو لپاره اغیزمنه نظارت او اداره برابره کړي. د افغانستان ملي پولیسو په روغتون کې د روغتیایي کارکوونکو د کموالي په اړه د لمړیتوب کارونو ته اړتیا لري ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د زیاتې شمیرې قربانیانو لپاره ملاتړ برابر شي او تر څو دا ډاډ ترلاسه شي چې د دواخانو د کارونو لپاره په پوره اندازه کارکوونکي شتون ولري. پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر موندلي چې د افغانستان ملي پولیسو د روغتیا لوژستیک سیستم تر یوې اندازې اغیز لري او ډیرې پراختیا ته اړتیا لري ترڅو دا وګوري چې د ناروغانو د پاملرنې د اړتیا پر اساس، روغتایي مواد او درملنه شتون ولري.

## د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د منځنی ختیځ د سیمه ایزو عملیاتونو د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان بیارغونې په اړه کوم راپور ندی خپور کړی.

## د امریکا حکومت د حساب ورکولو وزارت

پدې ربع کې، د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر د افغانستان د بیارغونې په اړه پنځه راپورونه خپاره کړي.

## د افغانستان لیږد: په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو د هڅو په اړه ترڅو د قراردادیانو ملاتړ کم کړي یو څو خبري

(راپور شمیره GAO-14-528C ، د 2014 د جون په 13 خپور شوی)

د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د قرارداد ملاتړ لپاره په ملیاردونو امریکایي ډالر مصرف کړي او په افغانستان کې د خپلو سرتیرو ملاتړ لپاره د ډیرې قراردادیانو په کار ګمارنې ته دوام ورکوي. لکه څرنګه چې د امریکا دفاع وزارت د خپلو ځواکونو کمولو ته دوام ورکوي، چې د 2014 په دسمبر کې به بشپړ شي، دا وزارت باید د قراردادیانو پر کمولو باندې هم پیل وکړي. د دې راپور په مهمو پوښتنو کې دا شامل دي: (1) ترکومې کچې د امریکا دفاع وزارت هغه لوستونه چې له عراق څخه زده شوي په افغانستان کې د قراردادیانو او د تجهیزاتو په کمولو کې ورڅخه کار اخلي؛ (2) د قراردادیانو د کاري ځواک او اړوندو تجهیزاتو کمولو لپاره د امریکا دفاع وزرات او په افغانستان کې د امریکا ځواکونو (USFOR-A) لخوا تاسیس شوي پروسې؛ (3) د امریکا دفاع وزارت د قرارداد ملاتړ د کمولو د لګښتونو لپاره څرنګه پریکړې کوي؛ او (4) په افغانستان کې د امریکا ځواکونو کومه لار غوره کړې ترڅو له 2014وروسته له قراردادیانو څخه د کار اخیستلو لپاره پلان جوړ کړي.

## افغانستان: د امریکا د مرستو نظارت او حساب ورکول

(راپور شمیره GAO-14-680T ، د 2014 د جون په 10 خپور شوی)

له 2003 څخه، د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر او نورو په افغانستان کې د امریکا د هڅو په اړه یو شمیر ننګونې پیژندلي دي، پشمول د دغو: د امنیتي چاپیریال خطرونه، د فساد ډیروالی، او د خدماتو رسولو او د مرستندویانو لخوا تمویل شوي پروژو د دوام لپاره د افغانستان حکومت محدوده ظرفیت. د 2002 او 2013 مالي کلونو ترمنځ، د امریکا ادارو د افغانستان بیارغونې لپاره نږدې 100 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. د کانګرس نظارت د مرستې لپاره، د امریکا

حکومت د حساب ورکولو دفتر له 2003 څخه په افغانستان کې د امریکا د هڅو په اړه له 70 څخه ډیرې لیکنې خپرې کړي. دا شهادت د دغو لیکنو د مهمو موندنو لنډیز وړاندي کوي او ورباندې خبرې کوي: (1) په افغانستان کې د عملیاتو په اړوند مهمې ننګونې، (2) په افغانستان کې د امریکا د هڅو په اړه د نظارت او حساب ورکول مهمې مسلې، او (3) لکه څرنګه چې په افغانستان کې امریکا د ملکیانو په مشري سپارلو ته دوام ورکوي بیړني پلان کولو ته اړتیا. پداسي حال کې چې د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر کومې نوي سپارښتنې ندي وړاندي کړي، مګر په تیرو راپورونو کې یې یو شمیر سپارښتنې وړاندي کړې چې موخې یې د امریکا ادارو د نظارت ښه کول او په افغانستان کې د امریکا د مرستو حساب ورکول دي. د امریکا ادارو عموماً لدغو سپارښتنو سره موافقه کړې او د حلولو لپاره یې ګامونه اخیستې یا پلان لري ترڅو ګامونه واخلي.

## د افغانستان امنیتي چارو لیږد: د امریکا ځواکونو کمیدل په افغانستان کې د امریکا د دفاع وزارت په مشورتې ماموریت باندې اغیز کوي

(راپور شمیره. GAO-14-475C، د 2014 د مې په 16 خپور شوی)

د امریکا د پلان یوه برخه دا ده ترڅو د 2014 تر دسمبر پورې په افغانستان کې د محاربې ماموریت پای ته ورسوي، د امریکا دفاع وزارت د 2014 تر فبروری پورې د ځواکونو شمیره د 34,000 ځواکونو شمیرې کچې ته راکموي. له 2014 وروسته، د امریکا پاتې ځواکونه به د افغانستان ځواکونو ته مشوره ورکوي، د تروریزم ضد فعالیتونه به ترسره کوي، او د امریکا له نورو ادارو څخه به ملاتړ کوي. د دې راپور په مهمو پوښتنو کې دغه شامل دي: (1) لکه څرنګه چې د امریکا دفاع وزارت په راتلونکي کال کې ځواکونه کموي، تر کومې کچې یې د امریکا د ځواکونو ترکیب او ماموریتونه پیژندلي دي؛ (2) لکه څرنګه چې کموالی دوام مومي، د امریکا دفاع وزارت تر کومې کچې د امریکا د پاته ځواکونو لپاره چې په مشورې او اضافي ماموریتونو کې به بوخت وي د ملاتړ او امنیت اړتیاوي پیژندلي دي (3) د مشورې او نورو ماموریتونو د ملاتړ او امنیت لپاره د امریکا دفاع وزارت له کومو ننګونو سره مخامخ دی، که شتون ولري، او تر کومې کچې یې ګامونه اخیستې دي ترڅو دغه ننګونې کمې کړي؟

## د افغانستان د تجهیزاتو کمول: پرمختګونه لاسته راغلي، مګر په پریکړو کې ښه کنترولونه کولای شي د غیر ضروري لګښتونو خطر کم کړي

(راپور شمیره. GAO-14-191SU، د 2014 د اپریل په 4 خپور شوی)

د امریکا دفاع وزارت ویلي چې له افغانستان څخه د نږدې 90,000 تجهیزاتو کانتینرونو او 50,000 وسایطو ایستلو لپاره به لږ تر لږه 5.7 میلیارده امریکایي ډالرو ته اړتیا وي. په افغانستان کې د زیاتې شمیرې پایګاوو او ستونزمنو حالتونو ته په پام سره، یو اغیزمنه او په کم لګښت کمول کیدای شي د امریکا دفاع وزارت په هغو معلوماتو پورې اړه ولري چې په افغانستان کې څومره تجهیزات لري او د دغو تجهیزاتو د کمولو لپاره د ګټې وړ پریکړې وکړي. د دې راپور په مهمو پوښتنو کې دغه شامل دي: (1) تر کومې کچې د امریکا دفاع وزارت د پایګاوو په تړلو کې طرزالعملونه، پشمول د تجهیزاتو محاسبه، د قوماندانی تاسیس شوي موخې او مهال ویشونه پوره کوي؛ (2) تر کومې کچې د افغانستان د تجهیزاتو کمول د قوماندانی تاسیس شوي موخې او مهال ویشونه د امریکا دفاع وزارت د تاسیساتو او پروسو لخوا ملاتړ کیږي؛ او (3) تر کومې کچې د امریکا دفاع وزارت له لګښتونو او نورو معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو دا وګوري چې د تجهیزاتو کمولو لپاره د ګټې وړ پریکړې وکړي؟

## افغانستان: د امریکا ملکي - نظامي نوي ستراتیژیک کاري چوکاټ کې بدلونونه د امریکا د ونډې رول ښیي

(راپور شمیره. GAO-14-438E، د 2014 د اپریل په 1 کې خپور شوی)

دا راپور د 2013 د اګست کاري چوکاټ نسخه د 2012 د اکتوبر له نسخې سره پرتله کوي، او د دواړو ترمنځ بدلونونه تشریح کوي. که څه هم د افغانستان لپاره د امریکا ملکي – نظامي ستراتیژیک کاري چوکاټ د 2012 اکتوبر او د 2013 د اګست نسخې، ځینې ورته والي لري، مګر دواړه نسخې په ځینو برخو کې سره توپیرونه لري. دغه توپیرونه د نورو شیانو په منځ کې د 2014 تر پایه د افغانستان د امنیت مسولیت د افغانستان امنیتي بنسټونو او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیت په سپارلو باندې د امریکا ډیر ټینګار، او د سنتي ډیپلوماتیک او پراختیایي ماډلونو لور ته د امریکا د پالیسی تګ استاریتوب کوي. د کاري چوکاټ دواړې نسخې په افغانستان کې د امریکا د ملي موخو په اړه د امریکا د هڅو د څلورو برخو په اړه خبري کوي، چې لمړی برخه یې امنیت ده، او د لمړی برخې په توګه د نورو دریو برخو بنسټ جوړوي، نور درې "ستونونه،" حکومتولي، د قانون حاکمیت، او ټولنیزه اقتصادي پراختیا ده. دواړه نسخې د ورته مسلو په اړه خبري کوي. د دواړو نسخو په توپیرونو کې دا لاندې مسلې شامل دي:

- د 2013 د اګست په نسخه کې، د کاري چوکاټ فعالیت او اعلامیه د امریکا د ملي موخو په اړه تعدیل شوي ترڅو د سپارلو په وخت کې او له سپارلو وروسته د امریکا په ملکي او اردو هڅو کې دا بدلونونه وښیي.
- د 2013 اګست په نسخه کې د سپارلو په وخت کې د امریکا او افغانستان د ملګرتیا په اړه نوي معلومات شتون لري.
- د 2013 د اګست په نسخه کې د سپارلو په اړه د هر دریو ستراتیژیک ستونونو لپاره، حکومتولي، د قانون حاکمیت، او د ټولنیزې اقتصادي پراختیا لپاره نوې فرعي برخې شاملې دي، او دا برخې د امریکا پر موخو او لومړیتوبونو باندې د امریکا د سرچینو کموالی او شتون ارزونه کوي.
- د 2013 اګست نسخه په افغانستان کې د امریکا حکومت راتلونکي شتون په اړه کم جزییات وړاندې کوي، او دا د نامعلوماتیا ښکارندوي ده او له 2014 وروسته د امریکا پر ستراتیژی اغیز لري.
- د 2013 د اګست نسخه د پرمختګ اندازه کولو په اړه یوه برخه د ملکی – اردو همکاری په اړه په یوې نوې برخې بدلوي.
- د 2013 اګست په کاري چوکاټ کې د ستراتیژیکو خطرونو یو لست او هغه عوامل چې کیدای شي دا خطرونه کم کړي، شتون نلري.

## د امریکا اردو د پلټنې اداره

پدې ربع کې د امریکا اردو د پلټنې ادارې د افغانستان د بیارغونې په اړه کومه پلټنه نده بشپړه کړې.

## د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیارغونې په اړه دوه راپورونه بشپړ کړي دي.

## د افغانستان د تره خیل د بریښنا فابریکې د عملیاتونو دوام ارزونه

( راپور شمیره. F-306-14-002-S، د 2014 د جون په 19 کې خپور شوی)

د ارزونې موخه:

- آیا د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) د بریښنا له فابریکې څخه په دوامداره توګه کار اخلي او ساتنه یې کوي ترڅو پدغو تاسیساتو کې د USAID پانګونه خوندي کړي.

## د افغانستان د ملکي افغانانو سره د USAID مرستې پروګرام پلټنه

(راپور شمیره. F-306-14-003-P، د 2014 د جون په 10 خپور شوی)

د پلټنې موخه:

- آیا د افغانستان د جګړې قربانیانو ته د USAID مرسته هغو کسانو ته رسیدلې چې ورته اړتیا لري او آیا تمه کیدونکی اغیز یې درلود.

## د نظارت روان فعالیتونه

د 2014 د جون تر 30 پورې، برخه اخیستونکو ادارو د افغانستان د بیارغونې په اړه د 24 روانو نظارتي فعالیتونو راپور ورکړی. دغه راپور ورکړ شوي فعالیتونه د دې جدول 4.2 لست کې راغلي او د ادارې پر اساس په لاندې برخو کې تشریح شوي.

جدول 4.2

**د 2014 د جون تر 30 پورې، د امریکا نورو ادارو د نظارت روانې پلټنې**

| اداره | د پروژې شمیره | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000RE-0141.000 | 4/7/2014 | په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور |
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D00SPO-0129.000 | 3/6/2014 | د امریکا او ایتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک ساتنې دوام ته پراختیا ورکړ شي، ارزونه |
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000AS-0111.000 | 2/12/2014 | د کاري امر W58RGZ-09-D-0130-0102 پراساس د Mi-17 د پیلوټ ځای بدلونونو د پلټنې دوام |
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2014-D000FS-0088.000 | 12/24/2013 | د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت سره د امریکا دفاع وزارت لخوا د مستقیمې برابر شوې مرستې په اړه کورني کنټرولونه |
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د امریکا حکومت د هغو هڅو ارزونه ترڅو د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت څخه د ملاتړ لپاره د امنیتي همکارۍ او مرستې فعالیتونه د امریکا دفاع له وزارت څخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت صلاحیت ته وسپاري |
| د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د کاري امر W58RGZ-09-D-0130-0102 پر اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای بدلونونه |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 14AUD034 | 2/11/2014 | د امریکا بهرنیو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو انتخاب، ګمارلو، روزنې، او نظارت مسؤلیتونو پلټنه |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 14AUD018 | 1/27/2014 | د نړیوال خوندیتوب خدمتونو دیپلوماتیک امنیت بیورو قرارداد کاري امر 10 – د کابل سفارت امنیتي ځواک، پلټنه |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 14AUD014 | 1/17/2014 | په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد تړلو پروسې پلټنه |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 13AUD082 | 6/20/2013 | د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو بیورو له افغانستان سره د مخدره توکو پر وړاندې مرستې پلټنه |
| د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 13AUD52 | 2/15/2013 | په بیت المقدس او افغانستان کې د متحرک او ځایي امنیت خدمتونو لپاره د نړیوال خوندیتوب خدمتونو دیپلوماتیک امنیت بیورو قرارداد کاري امرونو 2، 9، او 11 پلټنه |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 321031 | 7/24/2014 | په بهر کې د کمزورو نښو خوندي کول |

په راتلونکې پاڼه کې دوام لري

جدول 4.2 (دوام لري)

**د 2014 د جون تر 30 پورې، د امریکا د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې شمیره | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 351951 | 6/17/2014 | د اردو او بحري ځواکونو اوږد مهالو تجهیزاتو بیرته جوړولو مسولیت لګښتونه او اړتیاو ارزونه |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 351917 | 4/11/2014 | په بیړنیو عملیاتونو کې د قراردادیانو تعقیبولو لپاره سیستمونه |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 100012 | 3/10/2014 | د امریکا قراردادي غوره توب |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 100003 | 2/4/2014 | د سیمه ایزو کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو کمول |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 320997 | 10/22/2013 | په افغانستان کې د امریکا ملکي شتون |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 320990 | 7/24/2013 | په کابل کې د امریکا سفارت د بیارغونې هڅې |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 320985 | 6/26/2013 | په بهر کې له قراردادي کارکوونکو څخه کار اخیستل |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 320978 | 5/29/2013 | د امریکا بهرنیو چارو وزارت د مرستو او همکارۍ موافقو مدیریت |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 351819 | 5/9/2013 | د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته د امریکا دفاع وزارت سپارل |
| د حکومت حساب ورکولو دفتر | 351805 | 3/1/2013 | د امریکا دفاع وزارت کانتینرونو مدیریت |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF100414 | 3/10/2014 | په افغانستان کې د USAID له حکومت څخه حکومت ته د مرستې مالي مدیریت کنترولونو ارزونه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101712 | 10/25/2011 | په افغانستان کې USAID ته د امریکا دفاع وزارت د CERP برابرې شوي مرستو پلټنې تعقیبول |

سرچینې: DOD OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/19/2014؛ State OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/23/2014؛ GAO، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/19/2014؛ USAAA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 6/17/2014؛ USAID OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/16/2014.

## د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

د امریکا دفاع وزارت په بهر کې د خپلو بیړنیو عملیاتونو (OCO) ترسره کولو لپاره اوس هم له ډیرو ننګونو سره مخامخ دی. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د دغو ننګونو او لوړ خطرونو پر اساس لمړیتوبونه پیژندلي دي. په 2014 مالي کال کې، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر نظارت په بهر کې پر بیړنیو عملیاتونو باندې کار کوي او د ادارې ډیرې سرچینې په افغانستان کې د عملیاتونو ملاتړ کوي. په افغانستان کې د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر تر ډیري کچې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وجهي صندق، اردو ساختماني کارونو، د کارکوونکو خوندیتوب، او د هغو قراردادونو چې د ایتلاف ځواکونو ملاتړ کوي د ادارې او نظارت د اداره کولو او ترسره کولو پر کارونو باندې کار کاوو. پردې برسیره، په افغانستان کې د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د نظارت په کارونو کې په افغانستان کې د ځواکونو کمیدل او د عملیاتونو سپارلو موضوعګانې شاملې دي.

یو لوړ لمړیتوب اوس هم د اخیستلو او قرارداد کولو پروسو نظارت دی، چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) پر روزنې، تجهیز او دوام باندې کار کوي. د امریکا دفاع وزارت پلان شوې نظارتي هڅې د افغانستان امنیتي ځواکونو د تجهیز کولو لپاره لکه د څرخې وزر الوتکي، د قراردادونو د ادارې او نظارت په اړه دي. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د دې وزارت د هڅو ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو ته روزنه ورکړي او تجهیز کړي هم ارزونې ترسره کولو ته دوام ورکوي.

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په مشرۍ د سویلي آسیا د پلان کولو ګډه ډله د فیدرال او د امریکا دفاع وزارت په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو په اړه د نظارت فعالیتونو په همغږۍ او ټکر مخه نیولو کې مرسته کوي. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د سویلي آسیا لپاره د 2014 مالي کال د هر اړخیز نظارت پلان د خپلې برخې ترسره کولو ته دوام ورکوي.

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د آزادی د دومدارو روانو عملیاتونو (OEF) په اړوند نظارت د مناسب حساب ورکول؛ د غیر مناسبو تادیاتو ؛ د قرارداد اداري او مدیریت پشمول د ساختماني پروژو؛ د سپارلو پلان کول؛ په افغانستان کې لوژستیکي توزیع؛ ستني عملیاتونه، روغتیایي پاملرنه؛ او د اخیستلو پلان کول او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو پر مرستو د کنترولونو په اړه ده.

## په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور

(د پروژې شمیره. D000RE-041.000، د 2014 د اپریل په 7 پیل شوې)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه ځانګړې دوامداره ستونزې په هغې پلټنې کې موندلې چې راپور یې د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر، د اردو د پلټنې ادارې، او د هوایي ځواکونو د پلټنې ادارې لخوا خپور شوی.

## د امریکا او ایتلاف هڅې تر څو د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک او ساتنې دوام ته پراختیا ورکړي، ارزونه

(د پروژې شمیره. D2014-D00SPO-0129.000، د 2014 د مارچ په 6 پیل شوې)

د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د امریکا او ایتلاف ځواکونو لخوا د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک، اړتیاو، او ساتنې جوړ شوي سیستمونو د پلان کولو او ترسره کولو ارزونه کوي. په ځانګړې توګه، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان لري ترڅو دغه ارزونې وکړي:

- آیا د امریکا او ایتلاف موخې، پلانونه، او لارښوونې او سرچینې پوره دي ترڅو د لوژستیک، اړتیا توکو، او ساتنې سیستمونو ته په بریا سره پراختیا ورکړي او په 2014 کې یې د افغانستان ملي پولیسو ته وسپاري
- امریکا او ایتلاف پلان لري ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک او ساتنې پروسې د افغانانو مشرۍ ته وسپاري او د اړتیا توکو په سپارلو کې د ځنډ اغیز کم کړي
- آیا د امریکا او ایتلاف پلانونو او سرچینې به په بریا سره د افغانستان ملي پولیسو لوژستیک، اړتیا توکو، او ساتنې سیستمونو د دوام ملاتړ وکړي او له 2014 وروسته پراختیا ته دوام ورکړي.

## د کاري امر W58RGZ-09-D-0130-0102 پر اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای د بدلونونو د پلټنې دوام

(د پروژې شمیره. D2014-D000AS-0111.000، د 2014 کال د فبرورۍ په 12 پیل شوې)

دا د دې شمیرې D2013-D000AS-0097.000 پروژې دوام دی، "د کاري امر W58RGZ-09-D-0130-0102 پر اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای د بدلونونه" چې د 2013 په فبرورۍ کې پیل شوې. د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې د امریکا دفاع وزارت چارواکو د فیدرال او د امریکا دفاع وزارت د مقرراتو او پالیسیو پر اساس د دې قرارداد W58RGZ-09-D-0130، د کاري امر 0102، یې په مناسبه توګه وړاندې کړی او دایمي رسول او دایمي اندازه یې اداره کړې. دغه قرارداد د امریکا دفاع وزارت په ملکیت د Mi-17 د الوتکې د بدلون لپاره و. تیره پروژه (D2013-D000AS-0097.000) تر ډیرې کچې د کاري امر 0102 پر اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای د بدلونونو د قرارداد د اداره کولو په اړه ده. دا پروژه به تر هرڅه وړاندې د کاري امر 0102 د وړاندې دکولو په اړه کار وکړي.

### د امریکا دفاع وزارت لخوا د افغانستان جمهوري اسلامي حکومت ته د مستقیمې مرستې برابرولو په اړوند کورني کنترولونه

(د پروژې شمیره. D2014-D000FS-0088.000، د 2013 د دسمبر په 24 پیل شوې)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آیا د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه هغه کنترولونه لري ترڅو دا وګوري چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره مستقیمه برابر شوې مرستې لپاره مالي پروسه شفافه او مسولانه ده. د افغانستان د امنیت سپارلو ګډې قوماندانی (CSTC-A) د دې پلټنې غوښتنه کړې.

### د امریکا حکومت د هغو هڅو ارزونه ترڅو د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت د ملاتړ لپاره د امنیتي همکارۍ او مرستې فعالیتونه د امریکا له دفاع وزارت څخه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت صلاحیت ته وسپارل شي

(د پروژې شمیره. 2013-D00SPO-0181.000، د 2013 د جون په 13 پیل شوې)

د امریکا دفاع وزارت د هغو پلانونو او فعالیتونو ارزونه کوي چې تر اوسه ترسره شوي یا بشپړ شوي ترڅو په افغانستان کې د امنیت همکارۍ او مرستې فعالیتونه د امریکا له دفاع وزارت څخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت صلاحیت ته وسپارل شي، او ترڅو د امنیتي همکاریو د اوسنی لارښوونې او امنیتي مرستې د مقرراتو پر اساس چې کیدای شي اړوند وي، هغې سپارښتنې وړاندې کړي ترڅو د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته د دغو دندو سپارل آسانه یا ښه کړي. د دې فعالیتونو ځانګړې موخې دا دې ترڅو دا وګوري چې آیا:

- د امریکا حکومت موخې، پلانونه، او لارښوونې مناسبې دي او په افغانستان کې او یو تجربه لرونکی کس ګمارل شوی ترڅو په افغانستان کې د CSTC-A امنیتي مرستې فعالیتونه د امریکا دفاع وزارت له صلاحیت څخه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې د امنیتي همکارۍ یوه سازمان ته وسپاري.
- د امریکا ځواکونو لخوا رواني هڅې ترڅو د افغانستان جمهوري حکومت ته امنیتي مرسته برابره کړي تر ډیرې کچې په افغانستان کې د امریکا ځواکونو (USFOR-A) د کمولو تطبیق او د نړیوالې امنیتي همکارۍ له ځواک (ISAF) او د آیساف له ګډې قوماندانی (IJC) څخه د ناټو تر صلاحیت لاندې یوې سازماني قوماندانی ته د سپارلو له کبله اغیزمنې شوي

### د کاري امر W58RGZ-09D-0130-0102 پر اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای بدلونونه

(د پروژې شمیره. D2013-D000AS-0097.000، د 2013 د فبروری په 8 پیل شوې)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د Mi-17 د بیارغونې او د پیلوټ ځای بدلونونه (د پروژې شمیره D2012-D000AS-0075.000). پدې راتلونکې پلټنه کې به د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا وګوري چې آیا د امریکا دفاع وزارت چاراواکو د امریکا دفاع وزارت په ملکیت د Mi-17 د بدلیدونکي الوتکې د بدلون لپاره د فیدرال او امریکا دفاع وزارت د مقرراتو او پالیسو پر اساس په مناسبه توګه د اوږد مهاله رسولو، او اوږد مهاله اندازو قرارداد W58RGZ-09-D-0130، کاري امر 0102، اداره کړی. د تیرې پروژې پر اساس، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د پاکستان په ملکیت د Mi-17 بدلیدونکي الوتکې

د بیارغونې خدمتونو او سامانونو د تدارکاتو ارزونه ترسره کړه، چې د تعدیل شوي کاري ځواک 0102 پر اساس وړاندې شوی و.

## د منځني ختیځ د سیمو عملیاتونو لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان بیارغونې په اړه پنځه رواني پروژې لري.

### د امریکا بهرنیو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو د انتخابولو، ګمارلو، روزنې او نظارت مسولیتونو پلټنه

(د پروژې شمیره. 14AUD034، د 2014 د فبروری په 11 پیل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې تر کومې کچې د وزارت د مرستې افسر استازي (GORs) انتخاب شوي، ګمارل شوي، او روزل شوي ترڅو په بریالیتوب سره د مرستو ټاکل شوي اداري کارونه او د نظارت مسولیتونه ترسره کړي.

### د کابل سفارت د امنیتي ځواک د نړیوال خوندیتوب خدمتونو دیپلوماتیک امنیتي بیورو قرارداد کاري امر 10 پلټنه

(د پروژې شمیره. 14AUD018، د 2014 د جنوری په 27 پیل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې آیا د امریکا بهرنیو چارو وزارت د کابل سفارت د امنیتي ځواک لپاره د نړیوال خوندیتوب خدمتونو (WPS) د کاري امر اداره او نظارت بریالی و.

### په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد د تړلو پروسې پلټنه

(د پروژې شمیره. 14AUD014، د 2014 د جنوری په 17 پیل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې آیا د امریکا بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د کورنیو او سیمه ایزو قراردادونو د تړلو په وخت کې، تایید شوي طرزالعملونه تعقیبوي.

### له افغانستان سره د مخدره توکو پر وړاندې د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو چارو بیورو د مرستې پلټنه

(د پروژې شمیره. 13AUD082، د 2013 د جون په 20 پیل شوې)

د دې پلټنې موخه دا ده ترڅو په افغانستان کې د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو بیورو (INL) د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرام د مدیریت او نظارت ارزونه وکړي، او دا ارزونه ترسره کړي چې آیا INL خپلو دوامدارو موخو ته رسیدلې او دا چې آیا INL د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرام د مستقیمې مرستې د مدیریت لپاره له مناسبو کورني کنترولونو څخه کار اخیستی دی.

## په بیت المقدس او افغانستان کې د متحرک او ځایي امنیت خدمتونو لپاره د نړیوال خوندیتوب خدمتونو (WPS) ډیپلوماتیک امنیت بیورو قرارداد کاري امر 2، 9، او 11

(د پروژې شمیره. 13AUD52، د 2013 د فبرورۍ په 15 پیل شو)

د پلټنې ټولیزه موخه دا ده ترڅو دا وګوري چې آیا د WPS د قرارداد کاري امرونه 2، 9، او 11 په اړوند د وزارت اداره او نظارت بریالي و. په ځانګړې توګه، د پلټنې ټیم به دا وګوري چې آیا قراردادي خپل فعالیتونه د قرارداد له مقرراتو او شرطونو سره سم ترسره کوي، د قراردادي له کارونو څخه نظارت کیږي، او د بیل بیاکتنې او تایید طرزالعملونه شتون لري ترڅو د لګښتونو سموالی او بشپړوالی یقیني شي.

## د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر

پدې ربع کې د امریکا حکومت د حساب ورکول دفتر د افغانستان بیارغونې پورې اړوند 11 روانې پروژې لري.

## په بهر کې د کمزورو نښو خوندي کول

(د پروژې شمیره. 321031، د 2014 د جولای په 24 پیل شوې)

د بهر په ډیپلوماتیکي تاسیساتو کې د امریکا ګمارل شوي کارکوونکي اوس هم د خپل خوندیتوب او امنیت له ګواښ سره، پشمول د پدې ورستي کلونو کې د لوړ خطر په موقعیتونو کې د ډیرو بریدونو له خطر سره مخامخ دي. په ځانګړې توګه، هغه استوګن ځایونه، د تفریح ځایونه او ښوونځي چې ددغو کارکوونکو او د هغوی د کورنیو لخوا ورڅخه کار اخیستل کیږي کیدای شي د "کمزورې نښې" ښه بیلګه وي. (1) د امریکا بهرنیو چارو وزارت په بهر کې د ماموریت رییس د صلاحیت پر اساس د استوګن ځایونو او نور کمزورو نښو لپاره ګواښونه او خطرونه څرنګه اداره کوي؟ (2) تر کومې کچې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د استوګن ځایونو او نور کمزور نښو لپاره د امنیت ستندردونه د دغو تاسیساتو پر وړاندې د ګواښونو او خطرونو لپاره د حل لارې لري. (3) تر کومې کچې د استوګن ځایونو او کمزورو نښو لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت پالیسی او طرزالعملونه د امنیت کمزورۍ لپاره، که شتون ولري، د حل لارې لري.

## د اردو او بحري ځواکونو د ټولو تجهیزاتو د لګښتونو او اړتیاوو بیرته ټاکل شوی مسولیت

(د پروژې شمیره. 351951، د 2014 د جون په 17 پیل شوې)

لکه څرنګه چې له افغانستان څخه تجهیزات بیرته راوړل کیږي، د امریکا اردو او بحري ځواکونو قول اردو د ځوکلونو او څو ملیاردونو امریکایي ډالرو له هڅو سره مخامخ دي ترڅو دغه تجهیزات بیرته د محاربې چمتو هغه حالت ته راوړي، چې د "بیرته جوړولو" په نوم یادیږي. د کانګرس د دفاع کمیټې پدې اړه اندیښنه لري چې د بیرته جوړولو مسولیت به څومره لګښت ولري، او د حکومت د حساب ورکولو له دفتر څخه یې غوښتنه کړې ترڅو پدې اړه تحقیق وکړي او راپور ورکړي. موخې: (1) اردو او د بحري ځواکونو قول اردو د بیرته جوړولو د اټکل په مسولیتونو کې تر کومې د بیرته جوړولو له دوامداره تعریف څخه کار اخلي. (2) د اردو او د بحري ځواکونو د بیرته جوړولو د اټکلونو په مسولیت کې د لګښتونو شامل ډولونه. (3) د اردو او بحري ځواکونو د ټولو اټکلونو د جوړولو یو تحلیل، ترڅو پدغو کې د پلان شوي سرچینې مرستې شاملې شي. (4) کومه بله مسله چې د حکومت حساب ورکولو دفتر یې مناسبه ګڼي.

## د هغو سیستمونو تعقیبول چې په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو قراردادونو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي

(د پروژې شمیره. 351917، د 2014 د اپریل په 11 پیل شوې)

په 2013 مالي کال کې، کانګرس د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID ته ماموریت ورکړی ترڅو د راتلونکو بیړنیو عملیاتونو لپاره چې له امریکا څخه بهر د محاربې عملیاتونه وي د ملاتړ قرارداد د معلوماتو ټولولو په اړه لارښوونه خپره کړي. مهمې پوښتنې: (1) له کوم سیستم څخه، که شتون ولري، اداري کار اخلي ترڅو هغه قراردادیان او سرچینې اداره کړي چې د هر سیستم دوام لپاره ورته اړتیا ده؛ (2) تر کومې کچې سیستمونو یو بل سره د کار وړ دي، د مطابقت وړ د معلوماتو له ستندرد څخه کار اخلي، او قانوني اړتیاوې پوره کوي؛ (3) تر کومې کچې آیا سیستمونه په بیړني ځایونو کې کارکوونکو ته اړین معلومات برابروي ترڅو قراردادیان اداره کړي؛ (4) کوم ګامونه، که وي، اداري اخلي ترڅو دا وګوري چې دغه سیستمونه د قراردادیانو د اداري لپاره د هغوی وړتیا ډیروي؟

## د امریکا قراردادي غوره توب

(د پروژې شمیره. 100012، د 2014 د مارچ په 10 پیل شوې)

په 2014 مالي کال کې، کانګرس د حکومت حساب ورکولو دفتر ته لارښوونه کړې ترڅو په بهر کې د امریکا د مرکزي قوماندانی د مسولیت په ساحه کې د اردو ساختماني پروژو لپاره د امریکایي قراردادیانو د اوسني قانوني غوره توب د پراختیا د احتمالي ګټو او ستونزو ارزونه وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د امریکا دفاع وزارت د امریکایي قراردادیانو لپاره د اردو ساختماني پروژو په هغو ځایونو کې چیرته چې دې وزارت دغسي غوره توب تطبیق کړی، له کومو ستونزو سره مخامخ شوی یا بریالی شوی؟ (2) د اردو په ساختماني پروګرامونو کې د امریکایي قراردادیانو د غوره توب لپاره، د امریکا مرکزي قوماندانی د مسولیت د ساحې په هیوادونو کې د جغرافیایي ساحې پراخولو احتمالي ګټې کومې دي؟ (3) د اردو په ساختماني پروګرامونو کې د امریکایي قراردادیانو د غوره توب لپاره، د امریکا مرکزي قوماندانی د مسولیت د ساحې په هیوادونو کې د جغرافیایي ساحې پراخولو احتمالي ستونزې کومې دي؟

## د سیمه ایزو ګمارل شوي کارکوونکو پر وړاندې ګواښونو کمول

(د پروژې شمیره. 100003، د 2014 د فبروری 4 مه پیل شوې)

د امریکا ادارو له 44,000 څخه ډیر سیمه ایز ګمارل شوي کارکوونکي (LES) د بهرني خدمت وګړي او د امریکا وګړي، د ټولې نړی په کچه په څه د باندې 270 پوستونو کې ګمارلي دي. پدې پوستونو کې LES د امریکا د شتون مهمه برخه ده، چې ډیری وختونه یو لړ پروګرامي، امنیتي، د نظارت، ساتنې او نورې دندې سرته رسوي. مګر، له امریکا سره د هغوی تړاو له کبله، کیدای شي LES د ځورونې، ګواښ او مرګ ګواښونو سره مخامخ شي. LES ته ګواښونه په ځانګړي توګه په هغو هیوادونو کې لکه افغانستان، عراق، پاکستان، او یمن کې ډیر دي چیرته چې تروریستي شبکې او تاوتریخوالي افراطي ډلې فعال شتون لري. دا ډول ګواښونه کیدای شي د امریکا لخوا د ګمارنې او ساتنې هڅې له خنډ سره مخامخ کړي. د حکومت حساب ورکولو له دفتر څخه غوښتنه شوې ترڅو د هغو LES لپاره چې د لوړ خطر په پوستونو کې کار کوي د ګواښونو کمولو لپاره د امریکا حکومت د هڅو نظارت او معلوماتو

شریکولو بیا کتنه وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د هغو ګواښونو ډول او کچه څه ده چې LES د تروریسي شبکو او نورو افراطي ډلو لخوا، پشمول د ګواښونو او بریدونو شمیره ورسره مخامخ دي؟ (2) تر کومې کچې د امریکا ادارو هغه میکانیزمونه تاسیس کړي ترڅو د LES پر وړاندې په اغیزمنه او پر وخت باندې د ګواښونو په اړه معلومات ټول کړي او توزیع کړي؟ (3) کوم ګامونه، که وي، د امریکا ادارو اخیستي ترڅو د لوړ خطر په پوستونو کې د LES پر وړاندې ګواښ کم کړي او د دغو ګواښونو پروړاندې د کمولو لپاره کوم خنډونه شتون لري؟ (4) د لوړ خطر په پوستونو کې دغو ګواښونو او بریدونو څرنګه د LES په استخدامولو او ساتلو اغیز کړی دی؟

## په افغانستان کې د امریکا ملکي شتون.

(د پروژې شمیره. 320997، د 2013 د اکتوبر په 22 پیل شوې)

په افغانستان کې د امریکا ملکي ادارې د 2014 په پای کې په افغانستان کې له ډیرې زیات نظامي شتون څخه د ملکي شتون لپار چې مشري به یې د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا کیږي د سپارلو پلان کولو په حال کې دي. د حکومت حساب ورکولو دفتر به دغه ارزونې وکړي: (1) د سپارلو لپار ملکي ادارې څرنګه پلان جوړوي، پشمول د له سپارلو وروسته پروګرامونه او کارکوونکي، امنیت، او د هغوی ملاتړ لپاره لوژستیکي اړتیاوې؛ (2) له سپارلو وروسته په افغانستان کې د ملکیانو شتون اټکل شوي لګښتونه؛ او (3) هغه عوامل چې کیدای شي پدغو پلان کولو او اړوندو اټکلونو لګښت باندې اغیز وکړي.

## په کابل کې د امریکا سفارت ساختماني هڅې

(د پروژې شمیره. 320990، د 2013 د جولای په 24 پیل شوې)

له 2009 څخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نږدې 700 ملیونو امریکایي ډالرو په ارزښت دوه قراردادونه وړاندې کړي ترڅو په افغانستان کې د امریکا د کابل په سفارت کې اضافي استوګن ځایونه او د دفتر تاسیسات جوړ کړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت اوس لومړی قرارداد پای ته رسولی او د دویم قرارداد اندازه، ارزښت او مهال ویش یې غزولې. مهمې پوښتنې: (1) له 2009 څخه د امریکا د کابل د نوي سفارت په تاسیساتو کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت کوم پرمختګونه کړې دي، کوم عوامل د کومې اندازې، لګښت، او محال ویش په بدلونونو کې برخه لري؟ (2) تر کومې کچې اوسنی پراختیا له اټکل شوي اړتیا سره برابره ده؟

## په بهر کې له بهرنیو قراردادي کارکوونکو څخه کار اخیستل

(د پروژې شمیره. 320985، د 2014 د جون په 26 پیل شوې)

امریکا پر قراردادیانو تکیه کوي ترڅو په بهر کې بیلابیلا خدمات برابر کړي. سره لدې چې د امریکا حکومت ټولو قراردادونو لپاره له قاچاق شوي کارکوونکو څخه کار اخیستل منع دي، اوس هم د هغو بهرنیو کارکوونکو د خوندیتوب په اړه اندیښنې شته چې د امریکایي قراردادیانو لخوا استخدام شوي، څکه چې په ځینو کوربه هیوادونو کې شته طریقې د امریکا له ستندردونو سره توپیر لري. مهمې پوښتنې: (1) له امریکا څخه بهر د کارونو لپاره د بهرني کارکوونکو د استخدامولو لپاره د امریکا حکومت د قراردادیانو طریقې کومې دي؟ (2) له امریکا څخه بهر د امریکا حکومت قراردادیانو لخوا استخدام شوي کارکوونکو د خوندیتوب لپاره د امریکا ادارې کومې حقوقي او نورې ادارې پیژني؟ (3) تر کومې کچې آیا د فیدرال ادارې د دغو صلاحیتونو لپاره نظارت او پلې کول برابروي؟

## د امریکا بهرنیو چارو وزارت د مرستو او د همکارۍ موافقو مدیریت

(د پروژې شمیره. 320978، د 2013 د مې په 29 پیل شوې)

مرستې او د همکارۍ موافقې هغه مهمې وسیلې دي چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت یې د بهرنۍ پالیسۍ د پرمختګ لپاره ورڅخه کار اخلي. په 2012 مالي کال کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت په ټوله نړۍ کې نږدې 1.6 میلیارده امریکایي ډالر مرستې او د همکارۍ موافقې غیر حکومتي سازمانونو او نورو تطبیق کوونکو ملګرو ته وړاندې کړې. مهمې پوښتنې: (1) د امریکا بهرنیو چارو وزارت کومې پالیسۍ او طرزالعملونه لري ترڅو د وړاندې شوي مرستو او د همکارۍ موافقو مدیریت او نظارت وکړي؛ او (2) تر کومې کچې د امریکا بهرنیو چارو وزارت کورني کنټرولونه مناسب ډاډ برابروي چې په غوره شوي هیوادونو کې لدغو مرستو څخه د موخو لپاره کار اخیستل کیږي؟

## د افغان عامه خوندیتوب ځواک ته د امریکا دفاع وزارت سپارلو لګښتونه

(د پروژې شمیره. 351819، د 2013 د مې په 9 پیل شوې)

افغان عامه خوندیتوب ځواک (APPF) د 2012 په مارچ کې د امنیتي مسولیتون, په غاړه اخیستل پیل کړل. پخوا خصوصي امنیتي قرارداد کوونکو (PSCs) د اردو پایګاو د امنیت مسولیت درلود، او د 2013 تر مارچ پورې باید په APPF یا د اردو په کارکوونکو بدل شوي وای. مهمې پوښتنې: آیا ترکومې کچې: (1) د امریکا دفاع وزارت له خصوصي امنیتي قرارداد کوونکو څخه APPF ته سپارل تطبیق کړي؛ (2) APPF ته د سپارلو په اړوند د امریکا دفاع وزارت د لګښت اټکلونه جوړ کړي؛ او کوم ګامونه یې اخیستي ترڅو دغه لګښتونه کم کړي (3) APPF ته د سپارلو له پایلې څخه د امریکا دفاع وزارت د امریکا کارکوونکو پر وړاندې د اوسني او احتمالي امنیتي خطرونو او لوژستیک ارزونه کړې او د خطرونو کمولو لپاره یې ګامونه اخیستي؟

## د امریکا دفاع وزارت د کانتینرونو مدیریت

(د پروژې شمیره. 351805، د 2013 د مارچ په 1 پیل شوې)

د ترانسپورټ کانتینرونو مدیریت د امریکا دفاع وزارت پر وړاندې د اوږد مهال یوه ننګونه ده. د حکومت د حساب ورکولو دفتر اټکل کوي چې د امریکا دفاع وزارت له 2003 څخه تر 2013 پورې له 1 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د ساتنې فیسونه تادیه کړي، دا هغه فیسونه دي چې په عراق او افغانستان کې د عملیاتونو په وخت کې له سوداګریزو ترانسپورټي شرکتونو سره تر قرارداد شوي مهال ویش وروسته کانتینر ساتل کیږي. مهمې پوښتنې: (1) تر کومې کچې د افغانستان په ساحه کې د ترانسپورټ کانتینرونو په اړوند د امریکا دفاع وزارت د سمون ګامونه اخیستي ترڅو د کانتینرونو د مدیریت ننګونو لپاره د حل لار پیدا کړي؟ (2) تر کومې کچې د امریکا دفاع وزارت د ساتنې فیسونو د زیاتیدو په اړه د سمون ګامونو ارزونه ترسره کړې ده؟

## د امریکا اردو د پلټنې اداره

پدې ربع کې، د امریکا اردو د پلټنې اداره د بیارغونې نوښتونو په اړه کومه روانه پلټنه نلري.

## د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر د بیارغونې نوښتونو په اړه دوې رواني پلټنې لري.

### له حکومت څخه حکومت ته په افغانستان کې د USAID د مالي مدیریت کنترولونو ارزونه

(د پروژې شمیره. FF100414، د 2014 د مارچ په 10 پیل شوې)

د ارزونې موخه:

- آیا په افغانستان کې د USAID له حکومت څخه حکومت ته د مرستې په اړوند د مالي مدیریت کنترولونه په اغیزمنه توګه ډیزان شوي او کار کوي؟

### په افغانستان کې د USAID لپاره د CERP برابره شوې مرستې په اړه د امریکا دفاع وزارت د پلټنې کتنه

(د پروژې شمیره. FF101712، د 2011 د اکتوبر په 25 پیل شوې)

موخه:

- ترڅو دا وکتل شي چې آیا په افغانستان کې USAID ته د امریکا دفاع وزارت لخوا د CERP برابره شوې مرستې څخه د ټاکل شوي موخو لپاره کار اخیستل شوی، او له وضع شوي قوانینو او مقرراتو څخه اطاعت کوي.

# ضميمې او د پايليکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| **ضميمه الف** | **208** |
| **ضميمه ب** | **212** |
| **ضميمه ج** | **214** |
| **ضميمه د** | **220** |
| **ضميمه هـ** | **227** |
| **پايليکونه** | **234** |


**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو استازيتوب کوي څو د بيا رغونې د فعاليتونو لپاره حساب ورکونه او نظارت برابر کړي. د ټاپې د مرکز په پورتنۍ برخه کې عبارت په درى دی او معنی یی د افغانستان د بيا رغونی لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی (سيګار) دی. د مهر د مرکز په لاندنۍ اړخ کې چې کومه اصطلاح ده هغه په پښتو ژبه ده او ورته معنې لري.

# ضميمې او
# پايليکونه

# ضميمه الف

## قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دې راپور مخونه د سيګار لاندې ورکوونکي قانون اړتياو پورې تړلي او درې مياشتني راپور ورکوونې ته متقابل رجعت دی، د ملي دفاع واکمنۍ قانون د 2008 مالي کال لپاره، Pub L. 110-181، 1229 § (جدول A.1).

جدول A.1

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| **د P.L. 110-181، 1229 § په اساس د سيګار درې مياشتنی راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه** | | | |
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د دا ډول پروګرامونو او عملياتو د اداري پورې اړوندو ستونزو او نيمګړتياو په اړه د امريکا د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو ته په خپلواک او هدفمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعاليتونو د اړتيا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | روان؛ درې مياشتنی راپورونه | بشپړ راپور |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکړي او د هغوی تر | عمومي څارنې لاندې وي | بشپړ راپور |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغونې څارنه – دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله معنی په ا فغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونه هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو څارنه وکړي او د کنترول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، د (A) څخه تر (G) لاندې فرعي برخو په شمول | د تخصيص شوې/ موجود فنډونو بياکتنه<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو بياکتنه چې اختصاص شوې/ موجود فنډونه کاروي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويوموجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار نظارت بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د بيا رغونې د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او خيراتونو لخوا تمويل شوي وي. | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د هغو قراردادونو کتنه چې اختصاص شوي او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلي معلوماتو د ليږدولو نظارت او کتنه | د اختصاص شويوموجود بوديجو د داخلي او خارجي ليږد کتنه | ضميمه ب |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بسپنو د کارولو ثبتونو (ريکارډ) سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسې بسپنې/[و] پلټنې او تحقيقات اسان کړي | د پلټنې تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه ج<br>ضميمه د |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ايالاتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او بياکتنه څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |

جدول A.1 (دوام لري)

| د عامه قانون برخه | د سیگار توانمنوونکې ژبه | د سیگار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| **د P.L. 110-181، 1229 § په اساس د سیگار درې میاشتنۍ راپور ورکولو شرایطو ته متقابل مراجعه** | | | |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د ډیرو تادیو تحقیق لکه د دوه ځل بیل او کوم احتمالي غیراخلاقي یا غیرقانوني اعمالو د فدرالي کارمندانو، قراردادیانو یا اړوند نهادونو په واسطه، او د دا ډول راپورونو راجع کول لکه څنگه چې اړین وي، د عدلیې وزارت ته ترڅو د اضافي تحقیقاتو، تعقیب او فنډونو بیرته لاسته راوړنې یا جبران څخه اطمینان لاسته راشي | د تحقیقاتو ترسره کول او راپور کول څرنگه چې تشریح شوي دي | تحقیقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت پورې اړوند نورې دندې – عمومي پلټونکی باید داسې سیسټمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی یې د (1) پاراګراف لاندې د وظیفو د ترسره کولو لپاره مناسب گڼي | د سیسټمونو، پروسیژرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي پلټونکي د 1978 کال د لایحې په اساس د عمومي پلټونکې دندې – سربیره پر دې،. . .عمومي پلټونکی باید د عمومي پلټونکي د 1978 قانون لاندې د عمومي پلټونکیو وظیفې او مسوولیتونه هم ولري. | هغه وظیفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږی کول – عمومي پلټونکی باید خپل کارونه د لاندې کسانو سره همغږی او د دوی همکاري ترلاسه کړي: (الف) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنیو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (ج) د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې عمومي پلټونکی. | د DoD، DoS او USAID عمومي پلټونکو سره همغږي | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچینې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه د مرستې غوښتنه کول – که چیرته عمومي پلټونکی د فیدرالي حکومت د هر وزارت، ادارې، یا موسسې څخه د مرستې او معلوماتو غوښتنه وکړي، نو د اړوندې ادارې مشر په هغه صورت کې چې د عمومي پلټونکي غوښتنه د حاکمو قوانینو په خلاف نه وي، مسولیت لري چې یاده مرسته یا معلومات ورته چمتو کړي. | د غوښتل شوي ملاتړ تمه | بشپړ راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د مسترد شوو مرستو په اړه راپور ورکول – هرکله چې د عمومي پلټونکي په واسطه معلومات یا مرسته وغوښتل شي، د عمومي پلټونکي قضاوت سره سم دي، که په نامناسب ډول رد یا چمتو نه کړی شي، نو عمومي پلټونکی باید پیښې د بهرنیو چارو وزیر یا دفاع وزیر ته راپور کړي، څنگه چې مناسب وي، او پرته د ځنډ څخه اړوند د کانگریس کمیټې ته | راپور نه دی ورکړل شوی | موجود نه دی |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې میاشتنې راپورونه – د هر مالي کال د دریو میاشتو د پای ته رسیدو څخه تر 30 ورځو پورې، عمومي پلټونکی باید د کانگرس اړوندو کمیټو ته یو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د مخکینۍ ورته راپور د وخت څخه د دې ربوټ تر مودې پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعالیتونو د هغو پروگرامونو او عملیاتو لاندې چې بودیجه او پیسې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي یوه خلاصه وړاندې کړي. په افغانستان کې د بیارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لگول شوو او عایداتو په کړون باید د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوې وي، او باید د لاندې ټکو درلودنکې وي - | راپور - د هر کال د درې میاشتو د پای ته رسیدو څخه 30 ورځې وروسته<br><br>د عمومي پلټونکي د فعالیتونو خلاصه وړاندې کوي<br><br>او د ژمنه شوي مرستو، لگښتونو او عایداتو په اړه تفصیلي معلومات ورکوي. | بشپړ راپور<br>ضمیمه ب |

جدول A.1 (دوام لري)

| د 181-110 .P.L، 1229 § په اساس د سيګار درې مياشتنۍ راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
